BBC

Ketabton.com



(c) ketabton.com: The Digital Library

# دکتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| دکتاب نوم : | ژوندی خاطرې |
| | په تیرو نهو لسیزو کې دافغانستان تاریخ |
| لیکوال : | ډاکټرعبدالعلي ارغنداوي |
| خپرندوی: | بي بي سي د پښتو څانګه |
| همکاري: | دافغانستان له پاره د بي بي سي د تعلیمي ډرامو پروژه |
| دکمپیوترسمبالوونکي : | اجمل سنګریار او ایمل سنګریار |
| دپشتی انځور: | محمدحسن پاوند |
| دچاپ ځای : | پبلک آرټ پریس ،پېښور |
| لومړی چاپ | ۱۹۹۷ |

۱۱ - د شاه محمود خان په صدارت کې ... ۸۸

۱۲ - د سردار محمد داؤد خان صدارت ۹۶

۱۳ - د سردار محمد داوخان صدارت او عمراني... ۱۰۳

۱۴ - د سردار محمد داؤد خان استعفی ۱۱۱

**شپږم څپرکی**

۱۵ - انتقالي دوره ۱۲۱

۱۶ -اساسی قانون ۱۲۹

۱۷ - داولسي جرګې انتخابات ۱۳۷

۱۸ - د خلق ډیموکراتیک ګوند ۱۴۵

۱۹ - اسلامي حرکتونه ۱۵۴

۲۰ کابل پوهنتون د سیاسی فعالیتونو ډګر ۱۶۳

۲۱ -آزاد مطبوعات او جریدې ۱۷۲

۲۲ - قومی جوړښت ۱۸۰

**اووم څپرکی**

۲۳ - د داؤد خان کودتا او جمهوریت ۱۹۰

۲۴ - د جمهوریت دوره او مخالف حرکتونه ۱۹۸

۲۵ اقتصادی پالیسي او اصلاحات اراضی ۲۰۶

۲۶ - د هلمند اوبه او پروژه ۲۱۴

۲۷ - حزب انقلاب ملي او لویه جرګه ۲۲۳

## فهرست


۲۸- د پښتونستان مسئله ۲۳۱

۲۹- د افغانستان خارجي پالیسي ۲٤۱

### اتم څپرکی

۳۰-د ثور کودتا او د داؤد خان سقوط ۲٥۱

۳۱- د خلق حکومت او خپل منځی اختلافونه ۲٦۰

۳۲- اصلاحات اراضی ۲٦۹

۳۳- د حکومت په مقابل کې مخالفتونه ۲۷۷

۳٤- د نور محمد تره کی سقوط ۲۸٥

۳٥- د حفیظ الله امین قدرت ته رسیدل ۲۹٤

### نهم څپرکی

۳٦- پر افغانستان د روس یرغل ۳۰٤

۳۷- ولی روسانو پر افغانستان یرغل وکړ ؟ ۳۱۲

۳۸-د شوروی اتحاد د قواوو پر ضد پاڅون ۳۲۱

۳۹- داخلي مقاومت او په پاکستان کې... ۳۲۹

٤۰- په حکومت او ګوند کې اختلاف ۳۳۸

٤۱- د ژنیولوز نامه ۳٤٦

٤۲- د تنی کودتا ۳٥٤

٤۳- د ملګرو ملتونو د سولې پروسې ناکامي ۳٦٤

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

د افغانستان د شفاهي تاریخ پروژه په اول سر کې د بي بي سي د فارسي او پښتو څانګې ترمنځ یوه ګډه پروژه وه. داسې په نظر کې نیول شوي وو چې د راډیو له پاره یوه سلسله پروګرامونه جوړ شي او وروسته د کتاب په شکل چاپ شي.

لومړنیو کسانو چې د دې پروژې نظر وړاندې کړ د بي بي سي د ختیځې خپرونې پخوانی مرستیال مشر ډیویډ پیج، د پښتو څانګې پخوانی مشر ګورډن آدم، د فارسي څانګې مشر باقر معین او د فارسي څانګې بهروز آفاق تبریزی او د پښتو څانګې علي ارغنداوی وو.

څنګه چې په بي بي سي کې کلیدي لوبغاړي همیشه تبدیلیږي، نورو ځایونو ته ځي، ورته بیل مسئولیتونه ورکړل شي او په داسې کارونو مشغول شي چې یو مخ جلاوي. وروسته پښتو څانګې فیصله وکړه چې دا پروژه یوازې پیل کړي. علي ارغنداوی افغانستان، پاکستان، هند او یورپ ته ولیږل شو او د افغانستان په چارو کې یې د مهمو شخصیتونو سره مرکې وکړې. د امریکا په متحده ایالاتو او مسکو کې نورې مرکې د پښتو څانګې پخوانی مرستیال مشر نبی مصداق او د پښتو څانګې مقیمو همکارانو وکړې. د پروګرامونو په جوړولو او کره کتنه کې په

لومړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# يو څو خبرې

افغانستان چې د آسيا په زړه کې پروت دی د پيړيو په اوږدو کې يې د منځنۍ ختيځ او منځنۍ آسيا هيوادونه د هند د نيمې وچې سره نښلولي وو. دا هيواد چې د لويو لارو پر سر پروت و ورڅخه د سوداګرۍ لارې تيرې شوې وې. د سوداګرۍ او ترانزيتي اهميت تر څنګ افغانستان په ستراتيژيک لحاظ هم ډېر مهم ؤ نو ځکه ورته د تاريخ په اوږدو کې د هند د دروازې نوم ورکړل شوی و. د هند نيمې وچې ته د انګليس تر ورتګ وړاندې ټول يرغلګر قوتونه د افغانستان د لويو درو او لارو څخه هندوستان ته ورغلي دي. د همدې اهميت له کبله افغانستان د ګاونډيو هيوادونو او لويو طاقتونو د مداخلې ډګر و ګرځيده چې په نتيجه کې يې نا آرامي منځ ته راغله او کورنۍ جګړې پيل شوې.

د نولسمې پيړۍ په منځنيو لسيزو کې په افغانستان کې مرکزي حکومت يا د منځه تللی ؤ او يا خو به ډېر کمزوری ؤ او په بېلو بېلو سيمو کې به جلا جلا حکومتونه وو. نو دی حالت بهرنۍ مداخلې ته لاره هواره کړه او افغانستان د برتانوي امپراتورۍ او تزاري روسيې تر منځ د پيشقدمۍ ډګر وګرځيده. دواړو امپراتوريو پر افغانستان جګړې تحميل کړې او د دې هيواد خاوره يې د خپلو امپراتوريو برخه وګرځوله. د هند برتانوي حکومت د تزاري روسيې څخه په ويره کې ؤ چې د افغانستان د لارې به پر هند بريد وکړي. د غه ويره وه چې بالاخره د هند برتانوي حکومت فيصله وکړه چې د افغانستان ختيځې برخې جلا کړي او د

## ژوندۍ خاطرې

ځ. هغه څو ځله په پنجشير کې د قوماندان احمد شاه مسعود سره وکتل او د مجاهدينو سره يې لار جوړه کړه. په دې پروسه او د حکومت په انتقال کې د هغه رول ډېر مهم ؤ نو ځکه ما ډېره هڅه وکړه چې ورسره خبرې وکړم. وعده يې راکړه چې خبرو ته به تيار وي خو کله چې زه د جينوا څخه بيرته لېرې هغه بنارته ورغلم چيرې چې ده ژوند کاوه ځان يې تېر کړ او خبرو ته حاضر نشو.

په برتانيه کې د بل هر اروپايي هيواد په پرتله د خلق د ډيموکراتيک گوند د وزيرانو شمير ډېر دی. په دې وزيرانو کې د ماليې پخوانی وزير عبدالکريم ميثاق هم شامل دی چې د خلق په ډيموکراتيک گوند کې د سياسي بيرو غړی پاتې شوی دی او اوس په لندن کې ژوند کوي. هغه په ډېره خوښۍ حاضر شو چې د شفاهي تاريخ په پروگرام کې خبرې وکړي. ده د خلق د ډيموکراتيک گوند پر تاريخ او نورو موضوعگانو خبرې وکړې چې ثبت شوو خبرو يې درې ساعتونه ونيول. ده په دې خبرو کې د حفيظ الله امين او نور محمد تره کی د هغه اختلاف خبرې وکړې چې په نتيجه کې يې نور محمد تره کی ووژل شو او حفيظ الله امين قدرت ته ورسيد. د ده خبرې د سليمان لايق په شان وې او په انتقادي توگه يې ټولو موضوعگانو ته ځواب ووايه.

د افغانستان د شاهي کورنۍ د غړو څخه سردار عزيز نعيم چې د پخواني پاچا محمد ظاهرشاه زوم او د محمد داؤد خان وراره دی په لندن کې اوسي. د جمهور رئيس محمد داؤد خان په وخت کې هغه په لندن کې د افغانستان د سفارت لومړی سکرتر ؤ خو کله چې د محمد داؤد خان حکومت د منځه ولاړ نو دی هم په برتانيه کې مهاجر شو. عزيز نعيم د لومړي سر څخه د يوه مورخ په صفت د افغانستان د

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو څو خبرې

شفاهي تاریخ د پروګرام په پلان او غونډو کې ګډون کړی و. دی د افغانستان په شاهي کورنۍ او جریانونو کې ښه فعال پاته شوی دی نو ځکه یې مرکې د پروګرام له پاره ښې په زړه پورې او دلچسپه وې او په ټول پروګرام کې ښې ګټورې ثابتې شوې.

باید ووایم چې په نړۍ کې ډېرو افغانانو چې د افغانستان د چارو سره یې اړیکې درلودې د شفاهي تاریخ په پروګرام کې علاقه وښوده او مرکو ته حاضر شول. د ډېرو سره مخامخ خبرې او د ډېرو نورو سره تلیفوني مرکې وشوې.

په پای کې باید ووایم چې د افغانستان د شفاهي تاریخ په مرکو کې د پښتو څانګې د پخواني مرستیال مشر نبي مصداق او په کابل، پېښور او مسکو کې د بي بي سي د پښتو څانګې د همکارانو هریوه: مرحوم میرویس جلیل، حامد علمي، رحیم الله یوسفزي او داؤد جنبش همکارۍ د ستاینې وړ دي.

د پښتو څانګې د مشرې صفیه حلیم هلې ځلې او مرسته د پوره یادونې وړ ده چې د دې په سپارښت د دې کتاب چاپ تر لاس لاندې ونیول شو. د پخواني شوروي هیوادونو او جنوب غربي آسیا ته د بي بي سي د خپرونو د سیمه ایز مشر ډیویډ مورټون څخه مننه کیږي چې د کتاب د نشر له پاره یې مالي مرسته او نورې آسانتیاوې برابرې کړې. د پښتو، فارسي او مرکزي آسیا د مجلې د مشر باقر معین توصیه چې د کتاب د شکل او چاپ په برخه کې یې کړې ده ډېر ارزښت لري. د پښتو ژبې د پیاوړي لیکوال حبیب الله رفیع څخه مننه کیږي چې د دې کتاب متن یې صحیح کړی او چاپ ته برابر کړی دی.

په پای کې باید ووایم چې په پېښور کې د بي بي سي د ښوونې او روزنې د

## ژوندۍ خاطرې

ته دا احوال په همدغه ورځ رسېدلی وي. خو د څېرې څخه يې نه معلومېده چې د کومو ستونزو سره مخامخ دی.

په کابل کې حالات سم نه وو او لاره يې هم خوندي نه ښکاريده. د شفاهي تاريخ له پاره د پوهاندرباني خبرې ضروري وې نو ځکه مې فيصله وکړه چې بايد کابل ته ولاړ شم. د جلال آباد څخه د نورو مسافرو سره يو ځاى په واړه سرويس موټر کې کابل ته ولاړم. تر دې وخت پورې لا سوځلي موټرونه او د سره پوځ ټانکونه د سړک پر غاړه او د کابل په سيند د جلال آباد او کابل د لويې لارې په اوږدو کې ډېر ځايونه پراته وو.

د يوې خوا سړک خراب ؤ او د بلې خوا ورځې هم لنډې وې نو ځکه ماسپښين قضا کابل ته ورسيدو. د کابل څېره بدله وه هغه پخوانى کابل نه ؤ چې پنځلس کاله وړاندې ما ليدلى ؤ او د لويديځو هيوادونو توريستان او د گاونډي پاکستان څخه به ورته سيلانيان راروان وو. اوس د کابل بازارونه خالي وو او يوازې د کابل د سيند پر غاړه لږه گڼه گوڼه وه. د خلکو څېرې الوتې وې او د هر چا سره ويره وه چې جگړه ونه نښلي. ښه لوړ مازيگر بازارونه خالي وو. په لومړي سر کې ما فکر کاوه چې په کابل کې به ټول مهم خلک په اسانۍ سره وموندل شي او په لږ وخت کې به مرکې پوره شي. څه چې ما فکر کړی و هغسې ونه شول. کابل د بيروت په شان ويشلى ښارؤ او هغه خلک چې د شفاهي تاريخ د مرکو له پاره په کار وو په آساني سره نه پيدا کېدل.

د ډاکټر نجيب الله د حکومت ډېر غړي په کابل کې نه وو ځينې نور چې بيا په کابل کې وو خبرو ته حاضر نه وو. په کابل کې مى د بي بي سي د مقيمو همکارانو

# يو څو خبرې

هريوه مرحوم ميرويس جليل او حامد علمي په مرستـه وکولای شـول چې د ډېرو مشرانو سره مرکې وکړم خو يوازې د جمهور رئيس رباني سره ليدل گران کار ؤ. هغه په دغـو ورځو کې د اهل حل وعقـد د شورا له خـوا جمـهور رئيس ټاکل شوی ؤ او کارونه يې ډېر وو. تر ډېرو هلو ځلو وروسته او د حامد علمی په مرسته مې وکولای شول چې د جمهوري رياست د دفتر څخه وخت واخلو.

بله ورځ سهار وختي د جمهوري رياست دروازې ته ورغلو او د جمهوري رياست محافظانو راته وويل چې د باندې انتظار وکړو. سخت ساړه او د تورې څيلې ټکنی يخ ؤ. زموږ د طالع څخه په همدې سهار د جنرال عبدالرشيد دوستم د يوه قومندان اسد مار خور چې په بالاحصار کې يې قواوې پرتې وې او د حکومتی قواوو تر منځ د درنو وسلو جگړه پيل شـوه. په دې وخت کې د جـمهـوري ارگ د دروازی د باندې ولاړيو چې هره لحظه د راکټونو او توپونو د گوليـو د لگيدلو خطره وه. تر ډېر څنډه وروسته اجازه راکړل شوه چې په جمهوري ارگ کې د ننه د لکشا ته ولاړ شو. په دې وخت کې مرمی يوې خوا بلې خـوا ته تيـريدلې. د جمـهوري ارگ په انگړ کې يوه عسکر راته وويل چې په ناجوگانو کې مرمی نه گورې چې لگيږي. د لاس په اشاره يې پوه کړو چې بايد د ديوال په بغل کې ولاړ شـو. د جمـهور رئيس په دفـتر کې تر لږ وخت انـتظار وروسـتـه چې د درنو وسلـو ډزې کيـدلې راته وويل شـول چې اسـتـاد رباني به مازيگر مصاحبې ته وخت ولري.

په همدې مازيگر چې د جمهور رئيس وياند عزيز مراد راسره ؤ په دلکشا مانۍ کې يې جـمـهـور رئيس رباني ته وروسـتم. که څه هم هغـه وزگـارنـه ؤ ولې د ژونديو خاطرو په پروگرام کې يې ډېره عـلاقـه وښودله او د خپلو خبرو او مصاحبې په ترځ

(c) Ketabton.com: The Digital Library

# یو څو خبرې

چې د هغوی پروپاګنډ ورته ډېر نقصان ورساوه.

په غربي هيوادونو او يورپ کې هم د پخواني پاچا محمد ظاهر شاه په شمول د پخوانيو حکومتونو چارواکي او هغه کسان اوسي چې د افغانستان په چارو کې يې فعاله ونډه اخيستې ده. د پخواني پاچا او د هغه د زوم سردار عبدالولي سره څو ځله خبرې وشوې چې په يوه مناسب وخت کې د خپلو تجربو په هکله خبرې وکړي. تر ډېر ځنډوروسته د پښتو څانګې نبي مصداق روم ته ورغلی سردار عبدالولي خو خبرو ته هېڅ حاضر نشو ولې پخواني پاچا د ژونديو خاطرو د پروګرام له پاره خبرې وکړې، خو د هغه خبرې ځنګه چې زمونږ غوښتنه وه هغومره اوږدې او هراړخيزه نه وې. خو بيا هم په پروګرام کې ډېرې ارزښتناکې تمامې شوې چې وروسته په فارسي کې هم ورڅخه کار واخيستل شو.

د ثور د کودتا او د حفيظ الله امين د مرګ په هکله ډول ډول راپورونه ورکړل شوي دي، خو کله چې زه په آلمان کې د مصاحبو په کار لګياوم خبرشوم چې د پخواني جمهور رئيس حفيظ الله امين ميرمن آلمان ته راغلې ده. سمدستي مې لارې چارې ولټولې چې ورسره د شفاهي تاريخ د پروګرام له پاره مرکه وکړم. د امنيتي ملحوظاتو له کبله ورسره ليدل ګران وو خو د هغې د يوه نږدې دوست د اطلاعاتو او کلتور د وزارت د پخواني معين علي ګل پيوند په مرسته مې وکولای شول چې ورسره مصاحبه وکړم. په مصاحبه کې ميرمن امين د هغې ورځې خبرې وکړې چې ۱۹۷۸ کال د ثور د مياشتې پر شپږمه نيټه د نور محمد تره کی او ببرک کارمل تر بندي کيدلو وروسته حفيظ الله امين پوځيانو ته د يرغل امر ورکړ. دې د هغې شپې خبرې هم وکړې چې د حفيظ الله امين د درې مياشتنۍ جمهوري

# یو څو خبرې

یې په لاس کې وو. سید قاسم رشتیا په خپله تر نیمه پیړۍ ډېر وخت افغانستان ته خدمت کړی دی. ده په مطبوعاتو کې په ډېر ځوان سن کار پیل کړ چې وروسته بیا د مطبوعاتو وزارت ته هم ورسید. رشتیا صاحب په جینوا کې ژوند کوي او اوس هم په تحقیق لگیا دی. د افغانستان د شفاهي تاریخ پر ټوله دوره د هغه مرکه او خبرې مستندې او د خپلو سترگو لیدلي حال ؤ. ده ته دامیر حبیب الله خان د وخت څخه ترهمدا اوسه پورې هر څه وریاد وو. همدا دلیل ؤ چې ورسره خبرې دومره اوږدې شوې چې ساعتونه یې ونیول. د هلمند پروژه داسې یوه موضوع ده چې ډېر افغانان ورکې معلومات نه لري او ځینې نورو ته بیا ښه واضح نه ده. رشتیا صاحب ټوله پروژه تشریح کړه او ویې ویل چې دا یوه کامیابه او گټوره پروژه وه. د هغه په مرسته مې وکولای شول چې د اعلیحضرت امان الله د زوی سردار احسان الله خان سره وگورم چې په جینوا کې ژوند کوي. ده د خپل پلار ټولې خاطرې را یادې کړې او په سویس کې یې د یوه غره نوم واخیستی او ویې ویل هر کله چې به مونږ د خپل پلار سره یو ځای سویس ته راغلو ده به ویل چې د دغه غره او کابل ارتفاع یو شان ده. ده همدا ډول د دوهمې نړیوالې جگړې د پښتنو بندیانو خبرې وکړې چې د برطانوي پوځ څخه آلمانیانو په مدیترانه کې نیولي وو او په ایتالیه کې د جگړې بندیان وو چې اعلیحضرت امان الله خان به هره اوونۍ یو څو تنه خپل کورته را دعوتول او د وطن خبرې به یې ورسره کولې. سردار احسان الله خان د افغانستان د تاریخ سره ډېره مینه درلوده او ویل یې چې د خپل پلار ژوند لیک او د افغانستان تاریخ لیکي.

د ډاکټر نجیب الله د بهرنیو چارو وزیر عبدالوکیل هم په سویس کې ؤ. هغه د ملگرو ملتونو د سولې په پروسه کې چې واک مجاهدینو ته انتقال کړي ډېر فعال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی ځپرکی

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱

# د امیر حبیب الله خان حکومت

د افغانستان لرغونی هیواد چې په زرونو کلونه زوړ تاریخ لري ورباندې د نورو تر څنګ د مغولو، انګلیس او روس تاړاکونه تیر شوي دي باید هېر نه کړو چې افغانانو په ډېره مېړانه او تلفاتو د خپل هیواد څخه دفاع کړې، یرغلګر او د نورو لاس پوڅي یې مجبور کړي دي چې افغانستان خوشې او د قدرت څخه لاس واخلي. خو دا خبره د یادونې وړ ده چې په همدې حالاتو کې د بشري تلفاتو تر څنګ پر افغانستان داسې معاهدې تحمیل شوې دي چې په نتیجه کې یې افغانستان ځینې برخې د لاسه ورکړې دي. د دا ډول لوزنامو ښه مثال د ډیورنډ معاهده ده چې د امیر عبدالرحمن خان او برتانوي امپراتورۍ تر منځ لاس لیک شوه. د امیر عبدالرحمن خان تر مرګ وروسته د هغه زوی سردار حبیب الله خان پاچا شو. سید شمس الدین مجروح ته چې هغه وختونه وریاد دي وایي چې په هغه وخت کې پوره امن او آرامي وه:

د امیر شهید په وخت کې په افغانستان کې استقرار او آرامي ډېره وه، امنیت ؤ. دا امنیت او استقرار د امیر عبدالرحمن خان (د ده د پلار) د عملیاتو برکت ؤ چې هغه په افغانستان کې یوه شدیده او قوي دیکتاتوري تېره کړې وه چې هر څه یې مثلاً په اصطلاح فیوډال قدرتونه ورته وایې دا خانان او ملکان په افغانستان کې او دا مدعیان د قدرت دا یې ټول د منځه وړي وو. یو مرکزي حکومت جوړ شوی ؤ چې ډېر قوي ؤ. د هغوی په برکت باندې د امیر حبیب الله خان په دوره کې آرامي وه او وچلیدی یو څه موده. البته دا د داخلي اصلاحاتو په لحاظ چندان څه شی نه ؤ یوازې د حبیبیې مکتب هغه جوړ کی هغه هم قابل د تذکر دی ښه کار ؤ او بعضې سړکونه جوړ شول، په افغانستان کې ځینې فابریکې لکه د برق او بعضې نورې فابریکې جوړې شوې. عسکري که څه هم د امیر عبدالرحمن خان په وخت کې منځ ته راغلې وه خو ده تقویه ورکړه. دا کارونه کیدل خو مملکت د ترقۍ خوا ته بیول او واقعاً یو صنعتي انقلاب په ملک کې راوستل داسې کار موجود نه ؤ.

ولې نور حرکتونه موجود وو چې برتانوي هندته یې اندیښنه پیدا کړې وه چې د ډیورنډ معاهده به افغانان ونه مني. افغان مؤرخ پوهاند حسن کاکړ وایي چې په ۱۹۰۵ عیسوي کال کې کابل ته د لویس ډبلیوډین سفر د همدې اندیښنې له کبله شوی و:

د ډیورنډ کرښه چې په ۱۸۹۳ کال کې پر امیر باندې تپل شوې وه دا دوی داسې بلله چې دغه معاهده د شخص امیر عبدالرحمن خان سره امضا

شوې ده چې اوس مړ شوی دی. د ده وارثان امیر حبیب الله خان او نور به دغه معاهده ونه مني او له دې امله به د برتانوي هند له پاره په سرحدي سیمو کې په قبایلو کې مشکلات خلق کړي. نو په داسې حال کې چې هغوی د روسیې څخه کاملاً مطمئن نه وو او په دغو سیمو کې یې ډیر عملیات وکړه غوښتل یې چې خپل نفوذ قایم کړي. دوی غوښتل چې پر امیر باندی فشار راوړي یعنی دغه معاهده دوی تثبیت کړي او هغه قرارداد ونه چې امیر عبدالرحمن خان د انګلیسانو سره کړي دي هغه ومني او په دې معنی اوس چې عبدالرحمن خان نه ؤ نو دوی فکر کاوه په افغانستان کې چې هلته یوه ډیره لویه پارټۍ پیدا شوې وه چې هغوی خارجي خپلواکي هم غوښته او د انګلیسانو دغه تسلط ته یې بیخي خاتمه ورکوله هغه ډیره قوي وه. په هغه کې شخص نصر الله خان او عین الدوله امان الله خان چې د امیر حبیب الله خان زوی ؤ شامل وو هغوی د دې نه مطمئن نه وو نو غوښتل یې چې کابل ته راشي او امیر په دې متقاعد کړي چې دغه شرایط او دغه قرارداد ونه د پخوا په څېر، د امیرعبدالرحمن په څېر ومني. د هم دغو ملاحظو له امله وو چې ډین یې کابل ته واستاوه او غوښتل یې چې هغه نور شیان هم پر امیر باندې تحمیل کړي مګر امیر په دې باندې ټینګار کاوه چې هغه معاهدې چې د ده د پلار سره شوې دي د پخوا په شان قابل د اعتبار دي او د نورو معاهدو ضرورت نشته او هغوی په دې باندې قانع شول او سفر ته یې بیرته خاتمه ورکړه.

که څه هم د ډین په معاهده کې پخوانۍ موافقې ومنل شوې ولې په قبایلي

سيمو کې د برتانوي هند ستونزې هم هغه شان پاته شوې او د نورو سره يو ځاى د چکنوور ملا صاحب هم خپل فعاليتونه جاري وساتل. سناتور غلام نبي چکنوري چې د چکنوور د ملا صاحب زوى دى وايي چې د ده پلار غزاوې جاري ساتلې وې:

د چکنوور ملا صاحب هم دا غزاوى جاري ساتلې وى. نو هغه، وخت په وخت باندې د انگريزانو سره جهادونه کړي دي. قومي او اولسي لښکرې به يې جمع کولې او دا روحيه به يې هم په خلکو کې ژوندۍ ساتله او عملاً به يې غزاوې کولې. د انگريزانو سره هغه د مومندو په ساحه کې، د ډيرۍ، شوقدر، سبحان خوړ او کړپې په حدودو کې متعددې غزا گانې کړې دي په مختلفو تاريخونو کې په ۱۳۱۲ هـ ش کې چې د ده سره خپل پيروان وو او د هډې صاحب سره يې يو ځاى په غزا کې برخه اخيستې ده. په هم هغه وختونو کې وخت په وخت باندى قومي شاعرانو چاربيتى ويلې دي چې يوه دا ده:

د چکنوور ملا اختيار وکه — د غزا نيت يې په تلوار وکه
کور په کور وگرزيد مهمند باندې — ويل راځئ غزا وکو په خوند باندې
مهمند و واړو اتفاق وکو — هر سړى دا رنگه طلاق وکو
زمور په دغه بسم الله شه — د خداى رحمت په دى ملا شه.

که د يوې خوا د قبايلي او نورو افغانانو مبارزى د انگريزانو پر ضد جاري وې د بلې خوا په کابل کې هم د امير حبيب الله خان پر ضد د مشروطه خواهانو فعاليت روان ؤ. د مشروطه خواهانو مشر مولوي محمد سرور واصف و چې د عزيز الله واصفى اکاؤ او دى وايي چې د هغوى هدف شاهي مشروطه ؤ:

مولوي محمد سرور خان واصف د مشروطه خواهانو د حزب رئيس ؤ.
او هغه یو حزب ؤ چې مطابق د اسلامي قوانينو سره وپادشاه ته يې ځينې شروط ايښي وو چې پاچا به د خدای تعالی د اوامرو پابندي کوي او د ملت په شورا به کار کوي او دی به په مشروطه شکل باندې نظام چلوي. نو په هغه وخت کې يې مولوي محمد سرور خان واصف چې واده يې لا نه ؤ کړی په توپ کې الوزاوه نو ده پر توپ باندی يو شعر وليکئ:

ترک مال و ترک جان و ترک سر        در ره مشروطه اول منزل است

(د مال، ځان او سر څخه تيريدل د مشروطيت په لاره کې لومړی منزل دی).

همدا وخت ؤ چې لومړی نړيواله جګړه ولګيدله چې ورکی برتانيه هم شامله وه. د هند وايسرای امير حبيب الله خان ته په يوه ليک کې د دې جګړې اطلاع ورکړه او ورڅخه يې وغوښتل چې بيطرفه پاته شي:

اعليحضرتا! زه غواړم چې تاسې ته اطلاع درکړم چې په يورپ کې جګړه ده، اتريش او هنګری د سربستان په مقابل کې جګړه اعلان کړې ده او جرمني هم د روس او فرانسې سره دښمني پيل کړې ده څنګه چې د فرانسې او برتانيې ګټې يو د بله تړلې دي نو د برتانيې او المان ترمنځ هم دښمني پيل شوې ده. د ډېر د تړون له مخې تاسې منلې ده چې په خارجي اړيکو کې به د برتانيې توصيه منئ نو ځکه زه اوس تاسې ته توصيه کوم چې په دې جګړه کې بيطرفه پاتې شئ!

ترکيه چې هم په جګړه کې داخل وه د هغه هيواد سلطان امير حبيب الله

خان ته بلنه ورکړه چې په جګړه کې داخل شي او په خاصه بيا پښتانه قبايل تشويق کړي چې د برتانوي هند پر ضـد راپورته شي. امـيـر د ترکـيـې د سلطان ليک ته څرګند جواب ورنکړ ولې د برتانوي هند وايسراى ته يې وليکل چې تر هغه وختـه چې افغانستان په سوله او امنيت کې وي نو زه به هم د برتانيې سره د شوو لوزنامو درناوى وکړم، که څه هم امير حبيب الله خان بيطرفه پاته شو ولى د محمود طرزي په شان نور افغانان د انګريزانو خلاف وو. افغان مؤرخ سيد قاسم رشتيا ته چې امير حبيب الله خان ورياد دى وايي چې دا بيطرفي د افغانانو په ګټه وه:

ټولو افغانانو غوښتل چې انګريزان ليرې شي، انګريزان ورک شي او انګريزان شکست وخوري، مـا تې وخوري نو د دې له پاره ګـويا دوى طرفداران د دې وو چې افغانستان د ترکانو او جرمنانو سره موافقه وکړي. هغه ګروپ چې د دې مخالف ؤ هغوى غوښتل چې بيطرفي وساتي هغوى لږ وو لاکن په عمل کې د هغوى موقف د افغانستان په ګټه ثابت شو. يعنى محمود طرزي او سراج الاخبار د انګريزانو سره مخالف وو او انګريزانو هم تجويز وکړى چى دا اخبار په سرحد کى بند شي دا د دې له پاره وو ځکه چې د هندوستان خلک يې راپورته کول. نو د دى جهته دا ويلاى شو چې سراج الاخبار په دې حصه کې ډير رول درلودى چې خلک د جرمنانو او ترکانو طرفداره کړي لاکن حکومت ځان په هغه سياست چې ټاکلى يې ؤ په هغه سياست ټينګار وکړ. نو په اخر کې ګويا هغه سياست موفق شو. جرمنانو شکست وخوړى او افغانستان دغسې سلامت پاته شو.

د همدا ډول مخالفتونو په ترڅ کې امیر حبیب الله خان د لغمان په کله گوش کې ووژل شو سید شمس الدین مجروح ته چې دا وختونه وریاد دي وایي چې په ښکاره سره دا یو سیاسي قتل ؤ:

د امیر شهید مرگ یقیناً یو سیاسي مرگ ؤ هغه پلان شوی مرگ ؤ. امیر شهید د عمومي جنگ په وخت کې افغانستان د جنگ څخه بیرون وساته بعضی خلکو خصوصاً زلمو او منورینو غوښتل چې افغانستان باید په جنگ کې شامل شي، افغانستان باید د انگریزانو څخه خپل استقلال واخلي. افواهات دي ترکومه حده پورې صحیح ده او یا نه ده داسې وایي چې امان الله خان د امیر حبیب الله خان د زوی په حیث او یا مثلاً د شهزاده په حیث دی پکې شامل ؤ. سردار محمد نادرخان چې سپه سالارؤ او محمود بیگ طرزي او خود سردار نصرالله خان نایب السطنة چې د صدر اعظم په حیث یې کار کاوه او تقریباً د افغانستان ټول کارونه د هغه په لاس کې وو د خپل ورور په وخت کې. وایي چې دا په دې توطئه کې شریک وو دوی غوښتل چې یو جنگ وشي او استقلال د افغانستان لاس ته راشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوهم څپرکی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۲

# امیر امان الله او خپلواک افغانستان
## د سردار نصرالله خان لنډه دوره
## د امیر امان الله واکداري او
## د استقلال جګړه

د امیر حبیب الله خان تر مرګ وروسته سمدستي په هغه ورځ په جلال آباد کې غونډه جوړه شوه. عزیز نعیم چې د افغانستان د شاهي کورنۍ غړی دی د دې غونډې له یوه برخه وال سره خبرې کړې دي او وایي:

سلطان احمد خان شیرزوی چې ډیر وخت د افغانستان وزیر خارجه ؤ او د دې ورځې مشاهد او واقعات یې په خپلو سترګو لیدلي دي ماته په خپله

دا قصه کړې ده چې د امیر حبیب الله خان تر شهادت وروسته د دربار خلک د جلال آباد په شاهي باغ کې را ټول شوي وو. سردار نصرالله خان نایب السلطنة او سردار عنایت الله خان معین السلطنة هم حاضر وو چې ناڅاپه خبر راورسیدی چې د امیر حبیب الله خان جنازه د درونټی د پله څخه را تیره شوه. په دې مجلس کې دا موضوع مطرح شوه چې د اسلام په اساس باید د پاچا د ښخولو د مخه نوی پاچا وټاکل شي سلطان احمد خان وویل چې هغه او نورو تعلیم یافته ځوانانو غوښتل چې سردار عنایت الله خان پاچا شي ځکه چې هغه وزیر معارف او د عصري نظر خاوند ؤ ولې شاغاسي علي احمد خان چې وزیر داخله ؤ د نایب السلطنة لاس یې مچ کړی او ویې ویل چې زه تاسی د پاچا په توگه منم او تر هغه وروسته ټولو د هغه په پیروی د سردار نصرالله خان بیعت وکړی.

په دې وخت کې سردار امان الله خان چې تر معین السلطنة سردار عنایت الله خان کشر ؤ په کابل کې پاته او د چارو مسئول ؤ. هغه امیر نصرالله خان ونه مانه او په خپله یې خپل ځان پاچا وباله. دا چې هغه څنگه وکولای شول چې د امیر نصر الله څخه چې شهزاده گان او روحانیون یې ملگری وو واک ترلاسه کي پوهاند حسن کاکړ وایي چې هغه لا پخوا کار کړی ؤ:

مخکې له مخکې ده کار کړی ؤ هم دغه ؤ چې په مجرد دې چې دا خبر ده ته ورسیدی دا اعلان یې وکړی چې یو دا چې د خپل پلار قاتل به وژني او بل دا چې خارجي استقلال به اخلي چې انگریزانو د ده د نیکه امیر عبدالرحمن په وخت کې تصرف کړی ؤ هغه به اخلي او په عین حال کې یې

د دي مقصد د عملي کولو له پاره عساکرو ته شپږ روپۍ اضافه معاش ورکړی. یعني د څورلسو روپیو څخه شلو روپیو ته ورسیدی چې بیا وروسته یې ورته کم کئ هم دغه شیان وو چې د فعتاً د ده محبوبیت په کابل کې ډېر شو او لا هم د پخوا څخه زیات شو او امیر نصرالله خان چې په جلال آباد کې ؤ د ده په مقابل کې مقاومت ونه کړ اوبله دا چې امیر نصرالله خان اساساً د قتل و قتال او د وژنی طرفدار نه ؤ او غوښتل یې چې د امیر حبیب الله تر قتل وروسته دغه قتل وقتال ونه اوسي ده زرځان تسلیم کړ او که نه مقاومت یې کولای شو.

مقاومت ونه شو، سردار امان الله خان د امیر نصرالله خان تر استعفی وروسته په ټول افغانستان کې ومنل شو او د کابل د عیدگاه په جامع جومات کې د پاچا په توگه اعلان شو او د شور بازار د حضرت لخوا چې په شاه آغا مشهور ؤ بگړۍ ور وتړل شوه. په همدې سره د هغه موقف نور هم مضبوط شو او سمدستي یې د هغو کسانو محاکمه پیل کړه چې وریاندې د امیر حبیب الله خان د قتل شک ؤ. سردار نصر الله خان هم په لاس درلودلو ملامت وگڼل شو او وریاندې د ټول عمر د بند سزا وخیژول شوه. ډگرمن شاه علی رضا د قاتل په توگه اعلان او په اعدام محکوم شو. نادر خان او د هغه ورونه چې لږ وخت تر توقیف لاندی وو ورته په عزت یو ځل بیا وکتل شوه او مقامونه ورکړل شول. د بیعت تر لاسه کولو وروسته امیر امان الله خان د هند وایسرای ته د امیر حبیب الله خان د شهادت او د هغه د واک اخیستلو په هکله یو لیک ورولیږئ:

تر احترام وروسته غواړم چې تاسی د برتانوي حکومت د هند وایسرای

ته په ډېره خواښینی سره اطلاع درکوم چې زما پلار اعلیحضرت سراج الملة والدین امیر حبیب الله خان په غیر قانوني او غیر عادلانه توګه په لغمان کې په ۱۳۳۷ هـ ق کال کې د جمادي الاول په اتلسمه نیټه ووژل شو. زما اکا سردار نصرالله خان چې ناحقه په جلال آباد کې واک غصب کړی ؤ او ځان یې امیر اعلان کړی ؤ اوس یې ما ته بیعت کړی دی او د تخت څخه لیرې شوی دی. سردار عنایت الله، سردار حیات الله او د شاهي کورنۍ نورو غړو چې سردار نصرالله خان ته یې بیعت کړی ؤ هغه یې غیر قانوني وباله او اوس یې ما ته بیعت را کړ او زه یې د امیر او پاچا په توګه ومنلم.

که څه هم دبرطانوي هند وایسرای سمدستي جواب ورنکړ ولی څه وخت وروسته یې چې د لندن سره سلا او مشوره کړې وه د امیر د لیک جواب ورولیږئ:

تر احترام وروسته. ستاسی لیک راورسیدئ، ستاسی د پلار سراج الملة والدین اعلیحضرت حبیب الله خان د بې وخته مړینې په خبر ډیر پریشانه شوم. برتانوي حکومت چې د افغانستان سره د پخوانۍ دوستۍ له کبله یو ځای ؤ اوس په یوه ګډ غم کې ورسره شریک دی. ستاسې څخه مننه کوم چې ما ته مو اطلاع راکړه چې تاسې د کابل د خلکو لخوا په پاچهي منل شوي یاست او سردار نصرالله خان واک پریښی او ستاسې ورونږ بیعت درکړی دی.

ویل کیږي چې روحانیون او ځینې نور کسان چې د سردار نصرالله خان ملګري وو ناراضه شول او ځینی بیا وایي چې هم دا دلیل ؤ چې اعلیحضرت امان

الله خان سمدستي د استقلال اعلان وکړ تر څو د خلکو ملاتړ تر لاسه کړي، خو افغان مؤرخ سید قاسم رشتیا د دې خبرې سره موافقه نه لري:

دا یوازې د دوی پروپاګنډ دی او چندان معنی نلري امان الله خان خپل د سرداری په وخت کې د خلکو سره ډیر تماسونه درلودل او افکار یې هم دې خوا ته متوجه وو او د انګریزانو قوت دوی ته معلوم و ولاکن بیا هم د ده مشاورانو د دې معلومات درلودل چې په دې وخت کې انګریزان تر ټولو وختو ضعیفه وو ځکه چې د جنګ څخه خلاص شوي وو او د خلکو اعصاب ګویا د سولې خوا ته متوجه وو او عسکر رخصت شوي وو او په هندوستان کې ډیر عسکر موجود نه وو عسکر ټول په اروپا کې وو. ګویا دا یو حساب شوی پلان ؤ او لاکن بیا ډیر یو شجاعانه حرکت ؤ.

دا حرکت لومړی په تورخم او لنډي کوتل کې پیل شو علاقه دار عبدالودود خان چې د شینوارو او سیدونکی دی دا وخت وریاد دی :

داسی مې یاد دي چې قسم مې دې نه وي چې لنډي کوتل ته راورسیدل انګریزان په لنډي کوتل پریوتل، د کونړ څخه مسریا جان پاچا دی خدای وبخښي ماهلته ورسره سبق وایه، چکنوورکی د چکنوور ملا صاحب مبارک، په مهمندوکی ماصل خان نومیده مشر ؤ د ټولو مهمندو، دوی به راسپاره شول د انګریزانو سره به جنګیدل په لنډي کوتل کې.

د انګریزانو د احضاراتو سره یو ځای په ټول افغانستان کې سفر بري اعلان شوه. سپه سالار صالح محمد خان مشرقي، سردار عبدالقدوس خان کندهار او سپه سالار محمد نادر خان جنوبي ته ولیږل شول تر څو د برتانوي فوځ مقابله وکړي. په

جنوبي کې د سپه سالار محمد نادر خان او د هغه د ورونو په مشرتوب افغانانو انګلیسي پوځونه مجبور کړل چې تل او وانه خوشي کړي او په دې سیمه کې افغانانو ته پوره بریالیتوب تر لاسه شو. په کندهار کې هم د انګلیسي فوځونو مخه ونیوله شوه. په ننګرهار کې د جنرال صالح محمد خان په مشر توب د هغه فوځ ونه کولای شول چې د برتانیې د هوایي قوې سره مقابله وکړي. سناتور غلام نبی چکنووري وایي چې نظامي شیرازه خوره شوې وه ولې اولسي مقاومت جاري ؤ:

نو هغه نظامی شیرازه خوره شوه بیا د چکنوور ملا صاحب او نور د هغه وخت مشران د قومونو او علما او روحانیون د ټول ننګرهار دا راجمع شول مګر چون دلته دا مهمند دره کې جنګ ؤ او د چکنوور د ملا صاحب ځای ؤ او دلته د ده اثر او رسوخ هم ډیر ؤ او بل په غزا ګانو کې د ده شهرت زیات ؤ نو ده خطونه ولیږل او د قومونو او د سرحدونو دا خلک را جمع شول. انګریزانو پیش قدمي وکړه پر تورخم باندې واوښتل او ډکه یې ونیوله. په دغه وخت کې د چکنوور ملا صاحب په خپله باندې د تورخم په سپینه ځوکه کې چې د ده خپله مورچه وه د خپلو غازیانو سره یو ځای هلته ؤ. مګر چون انګریزانو پیش قدمي وکړه نو هغه عقب نشیني وکړه او د هزار نو په کلي کې چې د ډکې نه په څو میله فاصله کې غرب ته پروت دی هلته یې ډېره ونیوله او هلته یې یله جاري خلک را غونډ کړل نو دغلته هم یو شاعر وایي:

چې ملا صاحب ورته ډېره ونیوله په هزارنو کی یې ښکاره ونیوله

عــمــر مـــاصـل ورسـره مل ؤ  انــګـریز د دوی د لاســه دل ؤ

په کونړ او چترال کې د میرزمان خان په مشرتوب افغانانو وکولای شول چې په برتانوي هند کې ځینې سیمې تر لاسه کړي چې تر ډیره وخته یې ساتلې وې. هاشم زماني چې د میرزمان خان زوی دی وایي چې دا هېره شوې د جهاد څلورمه جبهه وه:

دکونړ مـجاهدینو او غـازیانو د اسـمـار او ناړۍ د لارې پرانګریزي تأسیساتو سختې حملې وکړې او د یو سلو اته ویشتو شهیدانو په ورکولو سره یې د آرنوی، لمبرېټ او ګډ درې مهمې سیمې تر لاسه کړې او د چترال په سیمه کې یې داسې پرمختګ شروع کړ چې چترال یې محاصره کړ. دا جبهه که څه هم مؤرخینو هېره کړې ده. خو د صالح محمد خان په مشرۍ د خیبر د لوی محاذ ناکامي یې تلافي کړې ده.

څنګه چې په کونړ او پکتیا کې د افغانانو فشار جاري ؤ برتانوي الوتکو کابل بمباري کړ. سید قاسم رشتیا ته دا بمباري ورياده ده:

طیارې ډیرې کښته راغلې یوازې د ارګ پر اطرافو چې اوس د کابل هوټل دی دلته ګدامونه وو او طویلې وې او اسان وو. پر هغوی باندې یې څو بمونه واچول. په دغه وخت کې چې طیارې د چهلستون څخه تیریدې، زموږ کور په چهلستون کې ؤ او دلته شپږ بجې د سهار وې او یو وار زما مور وه او کـه بل څوک پیدا شوه په غیږ کې یې ونیولم او تاخانې ته یې کښته کړم. ما ویل څه شی دي؟ څه خبره ده ؟دوی ویل جهاز هوایي. هر څه چې یې وکتل جهاز هوایي معلوم نشو لاکن تمامه ورځ ګویا موږ بیریدلو

(c) Aiktabton.com: The Digital Library



چې د لته بیا جهاز هوایي راځي او پرمونږ باندی بمونه اچوي.

ځینې باور لري چې افغانستـان د برتانوي الوتکو فشاراو برتانوي هند بیا د خپلو ستراتیژیکو سیاسی او اقتصادی اړتیاو له کبله مجبور شول چې اور بند ومني او د لوزنامو په ترڅ کې د افغانستان استقلال ومنل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۳
# د امیر امان الله خان ریفورمونه او د یورپ سفر

د افغانستان په معاصر تاریخ کې امیر امان الله خان لومړی پاچا ؤ چې ریفورمونه یې پیل کړل. ولی د دغه ریفورمونه د ځینو عواملو له کبله د مخالفت او نا کامۍ سره مخامخ شول. سید شمس الدین مجروح وایي چې په لومړي سر کې مخالفت نه و:

په ابتدا کې خو د امان لله خان د ریفورمونو سره مخالفت نه ؤ. مخصوصاً امان الله خان چې اعلان د استقلال وکړ، دی ډیر محبوب او مقبول شخصیت ؤ په افغانستان کې. عوامو د افغانستان ده ته واقعاً په ډېره درنه سترګه کتل. امان الله خان په افغانستان کې نور ډیر اصلاحات راوستل ډیر مشهور واقع شول. په افغانستان کې عصري مکتب یوازې

حبیبیه چې ما مخکې ورته اشاره وکړه جوړه وه. دوه ابتدايي معارف اجباري کړ او په ټول افغانستان کې په کلو کې په قصباتو کې په ښارونو کې په اطرافو کې په ولایاتو په هر ځای کې عصري مکتبونه بیرته شول.

د دې عصري مکتبونو په لړ کې د کندهار په شالمار ښوونځی کې هم د تلګراف مکتب پرانیستل شو. مدیر جیلانی خان الکوزی چې د تیلګراف د ښوونځی زده کوونکی ؤ، د امیر امان الله خان سره لیدلي دي:

اعلیحضرت امان الله خان چې کندرهار ته تشریف راوړی موږ په هغه وخت کې په مکتب تیلګراف کې وو موږ لس کسه وو چې د مکتب څخه یې ورکړي وو تیلګراف ته. چې د تیلګراف فن موږ زده کړو. نو زموږ دوه معلمان وو هغوی موږ ته د تیلګراف فن راښووی. اعلیحضرت امان الله خان چې راغی کندهار ته د شالمار په مکتب کې یې زموږ څخه امتحان واخیستی نیمی یې کړو زموږ ټولګی یې پر دوو برخو وویشه یوه ډله یې یوې خوا او بله ډله یې بلې خوا ته کښینولو یو سیم یې کش کړی هلته ماشین ترلی ؤ چې دا ټکهاری د ماشین کیدئ نو یو مضمون یې نوشته کړی هغه موږ مخابره کوی. هغه چې موږ مخابره کړی هغه بلې خوا هغه ونیوئ. هغه چې یی ولیدئ، بیا یې دلته دغه متن ولیدی. هغه صحیح ؤ. نو موږ ته یې انعام را کړ لس کسو ته د سړي پر سر دری دری سوه کابلۍ چې دا په هغه وخت خورا ډیرې پیسې وې او زموږ معلم ته یې زر کابلۍ ورکړې.

د ښوونځیو تر څنګ دولتي چارو ته هم توجه اړول شوی وه. سید شمس

الدین مجروح وايي چې تر دې د مخه دولتي تشکیلات نه وو موجود:

تشکیلات دولتي منځ ته راغله مخکې دا تشکیلات نه وو. په منظم او عصري صورت باندې وزارتونه پیدا شول. تقسیم کار وشو. تقسیم عمل وشو. په افغانستان کې مثلاً حساب و کتاب مثلا په افغانستان کې د اول ځل له پاره بودجه جوړه شوه. بل ښځو ته تعلیم ورکړل شو، یا سهم ورکړل شو، مثلاً ښځې د حجاب څخه راووتې. د ده په پروګرام کې خدمات عسکري اجباري شول د افغانستان په تبعهؤ باندې. د نفوسو په لحاظ باندې، په هغه وخت کې خلکو ورته هشت نفري ویل.

د اداري چارو تر څنګ د افغانستان تاریخي عنعناتو او لویې جرګې ته هم پوره توجه شوې وه. عزیزالله واصفي چې د جمهور رئیس داؤد خان په وخت کې د لویې جرګې مشرؤ وايي چې د اعلیحضرت امان الله خان په لویه جرګه کې پوره آزادي موجوده وه:

تاسې ګورئ چې په هغه جرګه کې په نام د مولوی عبدالحمید پنجشیري په خپله د اعلیحضرت امان الله سره مواجه دی په عین لویه جرګه کې چې دی سوالونه کوي او اعلیحضرت امان الله خان د هغه ځوابونه وايي. په دې کې هیڅ شک نشته چی دا علیحضرت امان الله خان په دوره کې یوه مدني دوره شروع شوه او علماؤ د هغه وخت چې هغه ډیر محافظه کار شخصیتونه وو او باید هم وای او تر اوسه همدغسې ده. دا توافق په مابین کې د یوې مترقي او موډرنې ډلې او د یوې محافظه کارې ډلې ډیر مشکل په نظر بریښي اوس هم او په آینده کې هم داسې نه چې

تنها په افغانستان کې بلکه په ټول جهان کې د مدنيت او محافظه کارۍ په منځ کې يو ډېر عظيم تفاوت موجود وي. نو دا ابتداء د اعليحضرت امان الله خان په وخت کې شروع شوه ځکه ده په آني وخت کې غوښتل چې افغانستان د مدنيت وشاهراه ته د اروپايانو په پيروۍ باندې مخ ته بوزي تاسې معيار د ډيمرکراسۍ او لويې جرګې د افغانستان د هغه ځخه فهمولای شئ او دا نه وايم چې آيا په دې جرګه کې مولوي صاحب عبدالحميد پنجشيري حق په جانب ؤ او که امان الله خان دا د قضاوت خبره ده. مګر تاسې کولای شئ چې يو روش د پاچا په لويه جرګه کې د يوه ملا په مقابل کې ياد نورو وکيلانو په مقابل کې چې په خپله ده انتخاب کړي وو وګورئ. داسې معلومېدلای شي چې يو پاچا په کوم ملاطفت په کومه نرمۍ او په کوم شرافت باندې د خپلو خلکو سره خبرې کوي.

اعليحضرت امان الله خان نه يوازې په لويه جرګه کې بلکه د باندې هم د ډېر نرم چلند خاوند ؤ. سيد قاسم رشتيا چې په هغه وخت کې د لږ عمر ؤ او بې لايسنسه موټرې روان کړی ؤ د کابل په دارالامان کې د اعليحضرت امان الله خان سره مخامخ شو:

زه شپاړس کلن وم او زما پلار يو موټر درلودی هغه موټر مې نوی زده کړی ؤ. په جادهٔ دارالامان کې مې چکر واهه د خپل د اکا د زوی سره. يو وار د ده موټر تېر شو موږ موټر يوې خوا ته کړئ، دی ولاړئ او بير ته راغی او دا ځراغونه يې پرسترګو رابرابر وله. ما موټر ودراوه. ده هم موټر ودراوه کښته شو. موږ هم کښته شولو. ما سلام وکړ او زما د اکا زوی سلام وکړ.

PROPERTY OF ACKU 7139

ده وویل چې موټروانی کوئ لایسنس لرئ؟ اجازه نامه لرئ ؟ زه نه پوهېدم چې اجازه نامه څه شی ده. ما ورته وویل چې یه نه یې لرم، هغه راته وویل ما چې ستا موټروانی ولیدله نبه موټروان یې. موټروانی کولای شې لاکن سبا ورشه په وزارت دربار کې هلته یو باشي دی باشي ته وو ایه چې ماته یو لایسنس راکړه! هغه ستا څخه امتحان اخلي. سبا چې زه ورغلم ده په خپله هدایت ورکړی ؤ او نفر موجود ؤ نفر ماته وویل چې راشه دموټروانی امتحان راکړه. دغه ځای چې اوس کتابخانه عامه د کابل ده. دلته گویا موټرخانه دولتي وه. په دې میدان کې یې زما څخه امتحان واخیستئ.

اعلیحضرت امان الله خان علاقه درلوده چې د نورو هیوادونو په شان افغانستان هم پر خپلو پښو ولاړ هیواد وي. په همدې غرض هغه فیصله وکړه چې د اروپایي هیوادونو مدنیت وگوري او د هغوی د تجربو څخه گټه پورته کړي. پوهاند حسن کاکړ وایي چې د یورپ سفر ډېرې ښې گټې درلودې ولې لږ شانې اوږد او وځنډیدئ:

دا سفر د یو پاچا له پاره چې هغه په خپله صدراعظم هم ونه لري شپږ میاشتې غیاب او په سفر باندې تگ د مصلحت نه لیرې کار دی. مگر دا چې د بلې خوا ځینې ډېرې ښې گټې هم لري نو د اسلامي افغانستان د یوه مستقل واکمن په حیث اروپا ته د اعلیحضرت امان الله خان مسافرت ډېر گټور ؤ. واقعاً اول په اسلامي حکومتونو کې یې ډېر زیات استقبال وشو. په مصر کې یې نهایت زیات استقبال وشو. په خپله هندوستان کې یې هم ډېر قوي استقبال وشو. اما په دې سفر پیسې هم مصرف شولې اما په

عمومي کې ده ته ډیرو مملکتونو دومره تحفې ورکړې دغه تحفې چې د دغه سفر څخه ده ته راغلې په مراتبو ډیرې وې نظر هغه ته چې د ده په سفر خرڅې شوې وې اماغټه خبره فقط داوه چې افغانستان د نیا ته د یوه واکمن مملکت په حیث معرفي شو . اما منفي خوا یې فقط همدغه ده چې اعلیحضرت امان الله خان په حیث د یوه فرد درجه اول واکمن د افغانستان د شپږ و میاشتو له پاره په داسې حال کې چې په داخل کې هم وضع ښه نه وه او نا رضایت موجود ؤ ولاړ شي او بیا راشي دفعتاً دوې میاشتې وروسته په اصلاحاتو باندې پیل وکړ او داسې اصلاحات چې تر هغه لومړنۍ مرحلې نه زیات اساسي او پارونکي وو دا د مصلحت نه د یوه واکمن له پاره لیرې خبره وه.

ولې د اعلیحضرت امان الله خان زوی سردار احسان الله خان چې اوس په سویس کې هستوګنه لري وایي چې د دې سفر ځنډ د مجبورۍ خبره وه:

اول هغه غوښتل چې فقط دری څلور هیوادونه وګوري مګر مجبور ؤ چې نور مملکتونه وګوري، کله یې چې د فرانسې، انګلستان او ایتالیې لیدنه کوله نورو هیوادونو هم بلنه ورکړه. هغه د ترکیې او ایران په شان هیوادونو چې و افغانستان ته نژدې پراته دي غوښتنې نشوای ردولای. د اعلیحضرت امان الله خان له دې سفر څخه هدف ګرزیدل نه وو هغه غوښتل چې د افغانستان د پرمختګ له پاره صنعتي لارې ولټوي.

که څه هم اعلیحضرت امان الله خان په خپلو لومړیو کلونو کې ډیر اصلاحات منځ ته راوړه ولې د یورپ تر سفر وروسته یې په نورو داسې اصلاحاتو

لاس پورې کړې چې ډېرو ته د منلو نه وو. عـزیز نعـیم چې ښه مؤرخ او د خـپل پلار سردار محمد نعیم خان څخه یې هم اورېدلي دي وایي چې اعلیحضرت امان الله خان د داسې ځوانانو تر تأثیر لاندې راغلی ؤ چې د اولس سره یې آشنایي نه لرله:

اعلیحضرت امان الله خان په یوه حرکت کې شامل ؤ چې هغه د افغانستان د ځوانانو جنبش ؤ. دا ځوانان د ترکیې د ځوانانو د جنبش تر تأثیر لاندې راغلي وو هغوی د افغانستان له پاره په خپلو زړونو کې هیلې او ارزوګانې درلودې. ولې دا ځوانان د ښارونو وو او کلي یې نه وو لیدلي. دا ځوانان د هغو هیوادونو تر تأثیر لاندې هم وو چېرې چې یې زده کړه او تحصیلات کړي وو. چې په خاصه د یورپ هیوادونه د یادونې وړ دي. د هغوی خیال ؤ چې د ترقی معنی اروپایي کېدل دي. حتی په هغه دوره کې لویو زمامدارانو لکه اعلیحضر امان الله خان، کمال اتاترک او رضا شاه هم کله چې ریفورمونه معرفي کړل د هغوی مقصد اروپایی کیدل وو. هغوی عیني او ذهني شرایط په نظر کې ونه نیول او داسې تحولات یې منځ ته راوړل چې د محیط د هضم کیدلو نه وو.

سید قاسم رشتیا وایي چې وروستي او د دویمې دورې ریفورمونه شکلي او د خلکو د عنعناتو سره برابر نه وو:

په دویمه دوره کې داسې اصلاحات منځ ته راغلل چې زیاترو یې شکلي شکل درلودئ او داسې عجولانه ماهیت یې درلودئ او د خلکو دعنعناتو سره یې ټکر وخوړئ. او ژر د امان الله خان سلطنت پای ته ورسیدی او سقوط یې وکړ.

# ٤
# د اعلیحضرت امان الله سقوط

د اعلیحضرت امان الله خان د ریفورمونو سره مخالفت پیدا شو او ځینې خلک را پورته شول دا چې هغه ولې ونه کولای شول چې دا بغاوتونه ارام کړي سید شمس الدین مجروح وايي چې د هغه شاته پوره قوت نهٔ موجود :

قوت یې شاته چې مثلاً عسکر واوسي یا مثلاً لویه پارتۍ یا حزب یا ډله واوسي چون دا په افغانستان کې موجود نهوو او مخصوصاً دا بعضې اصلاحات چې شوي په دنیا کې مثلاً په مشرق کې اکثراً په قوت باندې شوي دي په د یکتاتورۍ زور باندې شوي دي په عسکري زور باندې شوي دي ده له هغه زور نه هم کار نه اخیستـه ،هغه زور ورسره نهٔ او لهذا له داخلي مخالفت سره مواجه شو او تر کومه حده پورې چې خلک فکر کوي

افواهات دي له انگريزانو سره يا مثلاً بعضی نورو گاونډيانو سره هم د ده د قدرت او د ده د نهضت نه تشويش موجود ؤ وايي هغوی هم گوتې وهلې چې په افغانستان کې دانظام له منځه لاړ شي نو داخلي انقلاب را پيدا شو.

داخلي انقلاب په لومړي ځل په پکتيا کې پيدا شو پروفيسر رسول امين وايي چې د هغه پلار د دې پاڅون د آرامولو په غرض وزلېږل شوی و:

په ۱۹۲٤ کال کې گوډ ملا په خوست کې باغی شو نو د هغه له پاره بيا مير زمان خان ته امان الله خان وويل چې ته دا د کونړ خلک بوزه او دا گوډ ملا ووهه نو په دې جگړې کې زما پلار هم تلی ؤ بيا گوډ ملا هغوی وواهه او ويې نيو رايې وستی کابل ته بيا زما پلار يوه قصه کوله په اسونو باندې څو ک سواره وو څو ک پياده روان وو چهلستون ته و لاړو او مير زمان خان بيا ارگ ته ولاړئ او وايي بيا د هغې خوا څخه چې گوډ ملا مونږ راوستئ نو بيا د هغه نه وروسته دا کار چې وشو امان الله خان بيا دانظامي رتبې ورکړې چې په هغه وخت کې ملکي رتبې وې تاسو ته به معلوم وي مير زمان خان ته يې دواړې ورکړې.

خو د اعليحضرت امان الله خان د يورپ تر سفر وروسته نارضايتې ډېره شوه او په لومړي ځل شينواري پر جلال آباد ور وختل چې ورکی علاقه دار شينواری هم شامل ؤ:

زمونږ د اسپين ږيري ورغله زه ورسره کيناستمه پير مبارک دغسې قرار تکيه وهلې وه په چوکۍ کې، نو زمونږ سپين ږيرو ورته عرض وکړ چې

صاحبه میرزمان خان سره د لښکره د کنړه راغی او جلال آباد یې ونیوئ.
جلال آباد یې ونیو او دغه دې موږ ته دعا وکړه، نور غر یې ونکړ پیر
مبارک داسې لاس وروخو ځوئ داسې اشاره یې وکړه چې اشاره یې څنګه
داسې وکړه یو دم زموږ خلکو بیرغونه واچول ویل ورځئ پرې وروره په دا
ځای کې چې وو د جلال آباد نه یې هم وشړل پورې بهسود باندې یې هم تیر
کړل منځ کې سیندؤ په دې باندې یې هم ورتیر کړل د میر زمان خان نه مرګ
هم پکې وشو ډیر یې ووژل بیا نو پس د هغه نه بهسود او دا کلې والادا
زموږ خلکو را تالا کړل وریژې او غوړي او دا به یې راوړه موږ ته ملا یانو
پرې فتوی را کړه ویل دا اوس حلال شوي دي او راوړئ خورئ بیامو تیپر نه
خواړه بیا مو هغه وریژې خوړلې.

په نورو ځایونو کې هم مخالفت په زیاتیدو شو. ختر تهولو لوی پاڅون په کوهدامن کې د حبیب الله خان کلکاني په مشر توب چې په افغانستان کې په ځینو کې د بچه سقاو په نوم پیژندل شوی دی، را پیدا شو. سید شمس الدین مجروح وایي چې د بچه سقاو تر څنګ د قدرت مدعیان نور او حتی د اعلیحضرت امان الله خان در باریان هم ورسره ملګری وو:

په خپله دغه شیر جان او محمد صدیق خان فرقه مشر، یو وزیر دربار
ؤ هغه بل په پکتیا کې مشغول ؤ په کار باندې د سپه سالار محمد نادر خان
په مقابل کې نو داسې د دې خلکو لاس ؤ. د قدرت په مدعیانو کې یوازي
محمد صدیق خان، شیر جان خان یا دا خلک نه وو نور خلک هم وو پکې یو
د هغه جملې نه دغه حضرت صاحب ؤ، د شوربازار د حضرت صاحب کشر

وروړ پخپله مشر وروړ يې نه کشر وروړ يې چې هغه مثلاً هلته په دغه کې ويلي ؤ اول ملاقات کې چې په باغ بالا کې شوی ؤ دی وړاندې شوی ؤ که دی مخکې کړو معین سلطنة دې نه وي دی به پاچا کړو بیا هغه خانه نشین شو بندي غوندې شو داسې بعضې دا سردارانو کې دا سردار حیات الله خان دامیر حبیب الله خان زوی هغه هم دسقاو سره لار لرله عین د امان الله خان په وخت کې پټ پټ يې خبرې ور سره کولې مثلا محمد ولي خان دا خلکو داسې فکر کاوه چې دوی به يو جمهوریت جوړ کاندې محمد ولي خان وزیر دفاع او وزیر حربیه د امان الله خان و.

په افغانستان کې ډیر خلک باور لري چې د اعلیحضرت امان الله خان په رالویدلو کې د انګریزانو لوی لاس او خلک يې پارولي وو. پوهاند حسن کاکړ چې د افغانستان د چارو په هکله د انګریزانو آرشیف لیدلی دی وايي چې په دې هکله يې رسمي اسناد نه دي لیدلي:

مخصوصاً په دغه شرقي قومونو کې يوه سلسله تحریکات روان وو او د غبار په کتاب کې هم واضح دي چې ډیرو ملایانو تحریکات کول اما دا چې سړی وو ايي دغه خپله حکومت د انګلیسانو یعنی حکومت د هندوستان دوی استولي لیږلي دا ماته ثابته نه ده، معلومه نه ده او ممکن ده کړي يې وي ممکن نه يې وي کړي مګر داسې په رسمي ډول سره په دا اوراقو کې ماته داسې شواهد چې وښيي چې حکومت دانګلیس د اعلیحضرت امان الله خان په راچپه کولو کې سهم لري او اقدام يې کړی وی ماته معلوم نه ده او باید دا وویل شي چې امیر امان الله خان چې د سفر

ځخه را وګرځیده مخصوصاً په انګلستان کې هم حکومتی عمالوهم خلکو د اعلیحضرت امان الله خان استقبال نظر هربل مملکت ته زیات کړی ؤ اعلیحضرت امان الله خان هم د دوی ددغه ښه استقبال ځخه نهایت مشکور ؤ حکومت هند بر تانوي اساساً د اعلیحضرت امان الله خان د اصلاحاتو مخالف نه ؤ او هغوی هم یعني واقعاً په دې باندې خوښ وو چې په افغانستان کې د غسې اصلاحات راشي افغانستان چې د هغه پخواني ذهنیت سره ژوند کاوه او په نوي دنیا کې داخل شی ددې اصلاحاتو هغوی مخالف نه وو.

د افغانستان شمالی ګاونډی شوروي اتحاد چې په اولو کلونو کې د اعلیحضرت امان الله خان سره د مرستې وعده کړې وه په سختو ورځو کې ترې وا وښتئ، سید قاسم رښتیا وایي چې دبچه سقاو د حملې په وخت کې یې د امان الله خان د پوځي مرستې غوښتنه ونه منله:

دامان الله خان په آخري ورځو کې چې بچه سقاو په کابل کې حمله کړې وه د دوی ځخه طیارې او پیلوټان درخواست کړي وو لاکن دوی دا خبره ونه منله وروسته چې بیا په قندرهار کې ؤ یو نفر نماینده د روسانو راغی او خواهش یې وکړ چې تاسو ځه شی غواړئ؟ امان الله خان خپل نظریات وویل لاکن دوی ولاړل او هغه یوازنی د تیلګراف ماشین چې له ځان سره یې راوړی ؤ هغه یې بیرته یوړئ امان الله خان هر ځه تهینګار وکړ چې هغه وساتي چې وکولای شی ددنیا دخلکو سره رابطه قایمه کړي هغه یې د ځان سره یوړئ نو وروسته چې غلام صدیق خان مسکو ته ولاړ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلام نبي خان دې ته حاضر شوئ و چې بيا دلته افغانان چې وو، په هغه وخت کې په روسيه کې ډير وو، هغوی سره يو ځاى کړي او دلته مزار شريف ته داخل شي روسانو که څه هم په اول کې خپل ځو تنه عسکر له دوی سره يو ځاى کړي وو د دوی مقصد د امان الله خان مؤفقيت نه ؤ هغه وخت چې دوی خپل عسکر بيرته وغوښتل هغه وخت لا امان الله خان په غزني کې ؤ ددې نه معلوميږي چې روسانو هيڅ يوه آرزو نه درلوده چې امان الله خان بيرته په افغانستان کې راشي او بلکه د دوی له پاره حبيب الله کلکاني د دوی په نظر بهتر کانديد ؤ.

د روسانو او نورو داخلي مخالفتونو سره سره د اعليحضرت امان الله خان قواوو وکولای شول چې په اول کې حبيب الله خان او د هغه ملګر وته ماتې ورکړي جنرال هاشم خان کاکړ هم په دې جګړو کې شامل او ځلور سوه تنه يې يرغمل نيولي وو:

پلار مې دې خداى وبخښي يو فقير سړى ؤ راته وويل چې امان الله خان ته لاړ شه او ورته ووايه چې د سقاو له زوی سره وجګړې ته چمتو يم، زه امان الله خان ته ورغلم او هغه رانه زما د قطعې پوښتنه وکړه خو ما ورته وويل چې زه د پوليسو د نوي ښوونځي زده کوونکی يم او دوه اوښي مې را سره دي او کومه قطعه راسره نشته! امان الله خان هغه نورو کسانو ته چې دده په دربار کې ناست وو اشاره وکړه او وويل چې دوی هم د خدمت دعوی لري. ما ورته وويل چې له ما سره دې لاړ شي بيا د عزالدوله کورته لاړو او يو توپ مو واخيست او په تيل وهلو تيل وهلو مو شهر اراته ورساوه،

دجگړی په ترڅ کې ما د سقاو دزوی څلور سوه پلویان یرغمل ونیول او امان الله خان ته مې ودرول بیا دبرتانیې سفارت ته ورغلو چیرته چې د سقاو زوی سنګرنیولی ؤ امان الله خان خپل د دربار وزیر یعقوب جان ته وویل چې کیدای شي چې د سقاو زوی د برتانیې له سفیر سره خبرې کړې وي چې سفیر راته کومه بله بلاجوړه نه کړي ماامان الله خان ته یو لیک ولیکئ او ورته مې وویل چی یا به د سقاو زوی له دې ځای څخه وشړم او یا به ځان ورباندې و وژنم هم هغه ؤ چې په شپړو بجو د سقاو زوی بیرته شمالي خواته وتښتید خو دوهم ځل کله چې د سقاو زوی بیا حمله وکړه زه ناروغ وم نائب سالار عبدالوکیل خان یې ولیږئ او هغه د سقاویانو له خوا ووژل شو.

**د حبیب الله خان دوهمې حملې اعلیحضرت امان الله خان مجبور کړی چې تخت خوشی کړي او د قندهار او هند دلارې په ایتالیا کې مهاجر شي، په مهاجرت کې هم د اعلیحضرت امان الله خان په زړه کې د خپلو خلکو مینه پاته وه د هغه زوی سردار احسان الله خان وايي چې د ایتالیې د حکومت څخه یې وغوښتل چې پښتانه بندیان د هغه په کور کې واوسي:**

د جگړې په وخت کې جرمنیانو یو زیات شمیر پښتانه بوځیان بندیان کړي وو همدغه پښتانه انګریزانو او امریکایانو د روم په جنوب کې د ځان سره کښته کړی وو چې د جرمنیانو او ایتالویانو پر ضد وجنګیږي د هغو شمیر د سلو او یو سلو شلو تنو تر منځ وو اعلیحضرت امان الله خان د ایتالیې د دولت څخه وغوښتل چې پښتنو بندیانو ته اجازه ورکړي چې د

ده په کور کې واوسېږي د ایتالیې حکومت د هغه دا غوښتنه ونه منله خو ځلورو تنو پښتنو بندیانو ته به یې اجازه ورکوله، چې د جمعې په ورځ زموږ کور ته راشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم څپرکی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۵

# امیر حبیب الله خان کلکانی

کله چې اعلیحضرت امان الله خان د کابل څخه ووتئ نو خپل وروړ سردار عنایت الله خان ته یې د چارووا ک ورو سپارئ هغه هم دری ورځې وروسته مستعفي شو او پهٔ الوتکه کې د کابل څخه ووتی ، د سردار عنایت الله خان د وتلو سره سم حبیب الله خان کلکاني په کابل کې وا ک ته ورسیدئ. د پوهاند فاضل خان پلار جنرال محمد صدیق خان چې د حبیب الله خان کلکانی سپه سالار او آکایی شیر جان خان چې د دربار وزیر ؤ وایي چې حبیب الله خان یو شجاع او سخی پاچا ؤ:

د امیر حبیب الله خان په هکله باید تاسو ته ووایم چې امیر حبیب الله

خان زړه ور، سخي، ځوانمرد او راستکار سړی ؤ خلک وايي چې دوه داړه ماران وو چې په خلکو باندې يې داړې اچولې او د حکومت له خوا اعلان شوی وو چې که دوی مړه يا ژوندي ونيول شي حکومت به د دوی گرفتار کوونکو ته انعام ورکړي امير حبيب الله په کابل کې عسکر ؤ او کله چې خپل کور ته روان ؤ دې داړه مارانو د هغه لار ونيوله خو د امير حبيب الله په لاس ووژل شول او امير حبيب الله د دوی سرونه حکومت ته ورکړل خو ځکه چې دوخت په حکومت کې فساد او رشوت عام وو او د حکومت مامورينو له ليوانو سره غوښې خوړلې او له شپنو سره يې چيغې وهلې نو حبيب الله ته يې انعام ورنه کړ او هغه يې د قاتل په نامه بندي کړ خو حبيب الله له بندي خانې څخه وتښتيدئ او د حکومت پر ضد يې بغاوت وکړ او هغه ځای ته ورسيد چې مور ټول ورباندې خبريو.

**په کابل کې حکومت مضبوط شو او د ښار معتبرين چې داعليحضرت امان الله خان طرفداره وو بنديان شول په دې بنديانو کې جنرال هاشم خان کاکړ هم شامل ؤ چې په اول سر کې يې حبيب الله خان کلکاني ته ماتې ورکړې وه:**

کله چې سقاو پاچاهي وگټله نو سقويانو زه او د کابل نور معتبرين بنديان کړو او مور يې ملک محسن ته چې د سقاو والي ؤ ودرولو هلته يو مدير ؤ چې زما سره يې پېژندگلوي لرله هغه ملک محسن ته وويل چې ستا سو هغه لومړنۍ ماتې د همدغه سړي له لاسه وه، ملک محسن راته په خندا شو او ويې ويل چک دې واچوه چې مور ستا بگيلان يو بيا يې ډوډۍ راته وغوښتله اوله ما سره يې ښه دار مدار وکړ.

د کابل د نورو خلکو تر څنګ د سید قاسم رښتیا پلار او اکا ګان هم بندیان شوي وو :

دوی بندیان وو زما اکا د بچه سقاو تر آخره پورې ګویا په بندي خانه کې ؤ زما پلار هم ډېر وخت په بندي خانه کې ؤ او زموږ نور اقارب هم بندیان شول او زموږ کورونه ضبط شول، سر کار ضبط کړل او موږ ته یې دوې کوټې راکړې وې چې ټول فامیل په هغه کې ګوزاره کوله او زه د سن له لحاظه د ټولو نه مشروم ګویا سرپرست زه وم هغه ورځ چې دوی بندیان کیدل زما اکا ماته وویل چې اوس نو دا ته د دې کورنۍ سړی یې او ته باید د دوی سر پرستي وکړې او په هغه وخت کې ګویا زما وظیفه داوه چې دا ټولې ښځې، کوچنیان ټول باید وساتم او د دوی حراست زما په غاړه ؤ او په دې لاره کې مې ډېر جنجالونه ولیدل د بچه سقاو سپاهیانو کله کله تقاضا کوله چې ماته داشی راوړه دا شی راوړه ما ویل ټول خو په هغه کورونو کې دي چې تاسو ضبط کړي دي ټول قلف او کلي او تاسې مهر ولاک کړي دي نو له کومه ځایه یې زه راوړم! ورشه دباندې د خپلو خپلوانو څخه یې راوړه، پیسه راوړه کله کله زما خوابدیده او کله ما د دوی په ټوپک باندې لاس اچوئ هغوی به ویل چې اوس غواړې چې اوس یو ډز وکړم.

که په سید قاسم رښتیا څه بود نشول خو د سرپرسي سایکس په قول حکومت وکولای شول چې د کابل د نورو خلکو څخه پیسې واخلي:

غاصب د کابل د غني او شتمنو او سیدونکو څخه په زور او جبر پیسې

واخیستلې او په دې پیسو یې دوولس زره کسان د کوهستان څخه عسکرۍ ته استخدام کړل. د دې قوا وو په زور هغه وکولای شول چې په جنوب غرب کې هزاره ګانو او په ختیځه برخه کې تګاویانو ته په ډیرو تلفاتو سره ماتې ورکړي.

پوهاند فاضل خان چې د خپلو مشرانو څخه اوریدلي دي وایي چې د امیر حبیب الله خان په وخت کې د کابل امنیت ډیر ټینګ ؤ:

تر هغه ځایه پورې چې ما له خپلو مشرانو څخه اوریدلي دي د حبیب الله خان په وخت کې امنیت ډیر ټینګ ؤ ویل کیږي چې پل خشتي ته نژدې د چایو شال غلا شوی ؤ سید حسین هم هلته ودریدئ او د هغه سړي شال یې ورته بیرته پیدا کړ او د غله غوږ یې ورته میخ کړ امنیت هغسی چې د امیر حبیب الله خان په وخت کې ټینګ ؤ د نادرخان د راتلو په اول سر کې نه ؤ د نادر خان په وخت کې ټول سفارتونه لوټ شول مګر د امیر حبیب الله خان په وخت کې یو هم لوټ نه شو.

سید قاسم رښتیا وایي چې د هغه حکومت په وخت کې افغاني ارزښتونو ته پوره توجه شوې وه او زیاتوي چې د هغوی د ناموسدارۍ د سپلین د پوره قدر وړ دی:

زیاتر چې قابل د قدر دي چې دوی په ناموس کې ډیر ګویا په د قت سره ناموسدارۍ ساتلي دي او هیڅ یو تجاوز په ټول وخت کې نه دی شوی او نه دوی خلکو ته آزار ورکړی بلکه د امان الله خان خویندې چې کورنۍ یې په ارګ کی وو او ټول ښځې او هلکان وو او بچه سقاو په دوهمه ورځ

دوی ته وویل چې خپل خپلوان و غواړئ چې تاسې بوزي او نفريې مقرر کړل چې هر يو خپلو خپلوانو ته وسپاري.

**سید شمس الدين مجروح چې په همدا وخت کابل ته تللی دی په دربار کې ګډون کړی ؤ او وايي چې د کوهدامن خلک هم په دې حالاتو خوښ نه وو:**

د کابل ښاريې نیولی ؤ په لاس کې يې ؤ او د کوهدامن خلک يې مجهز کړي وو، مسلح کړي وو هغه هم عوام د کوهدامن زه پخپله په دغه وختونو کې کابل ته تللی یم نو دی می هم ولیدی په يو تقريب باندې هلته پيښې شوی وو، په خپله د کوهدامن خانانو مشرانو مثقف خلکو پوه خلکو تشويش لاره خوشحاله نه وو په دې کار سره پوهيدل چې د دې عاقبت ډير بد دی نو په ننګرهار کې جنګ ؤ د سقاو په مقابل کې په قندهار کې د سقاو په مقابل کې جنګ ؤ په مزار کې د سقاو په مقابل کې جنګ روان ؤ تمام افغانستان نه ؤ منلی، يو کابل ؤ او يوڅه د کوهدامن خلک يې مسلح کړي وو هغه خوا دې خوا يې ډزول را ډزول څه بيچاره ګان پکې مړه شول څه پکې د منځه لاړل څو دی هم له منځه لاړ.

**عبدالاحد خان کرزی وايي چې د سقاوي په ټوله دوره کې په قندهار کې د سقاويانو پر ضد جګړه روانه وه او د هغوی کلی کرز د مقاومت مرکز او د هغه پلار په دی مقاومت کې لويه ونډه اخيستې وه:**

دا خونو د قندهار اکثره سپين ږيري په دغه سقاوي انقلاب کې داخل وو او مرکز يې هم د غه کرز ؤ په هغه وخت کې د ښار د باندې نژدې ښار ته يو کلی کرز ؤ اعاشه يې ټوله د هغه ځای څخه کيدله چې بيا زموږ پلار په

دې انقـلاب کـې ډېر سـهم درلودئ مـوږ چې قندهار ونيـوئ بيـرتـه مـو د سقاويانو څخه قندهار تسليم کړئ اڅکزي او نور قومونه د قندهار چې راغلل قندهار يې ونيوئ د قندهار په خزانه کې شپيته زره افغانۍ د پرتې وې د هغه رسيد موږ کابل ته ورووړئ چې د غه شپيته زره افغانۍ په خزانه کې شته ټوله اسلحه چې په هغه وخت کې وه يو کارتوس هم نه شو بې ځايه نه په خـود ارگ کـې چې په هغـه وخت کې ډېر کـافـي سـامـان وو دا فـرش وظرف يوشي بې ځايه نه شو.

ځينو افغانانو او روحانيونو په دې جگړو کې برخه وانه خيستـه ، سناتور غلام نبي چکنووري وايي چې سقاوي ښه ورياده ده او د چکنوور ملا صاحب وويل چې دا د مـسلمـانانو تر منځ جگړه او مـسلمـان کـشي ده نو ځکه يې حصـه وانه خيسته:

دومره مې ياد يږي لږ لږ په هغه وخت کې ډېر خلک ورله راغلل قومي خلک، خو دوی وويل چې دا خپله د مسلمانانو په منځ کې مسلمان کشي ده هغه په دې کې حصه نه ده اخيستې مگر دومره وو چې دا راته لږ لږ ياد دي چې سردار محمد هاشم خان چې د پيښور په لاره باندې راغی د هغه ځای نه راغی خانقاه ته راغی او له هغه سره يې يوه شپه وکړه او هغه بيا ورته وويل چې که ته جرگې کوې مرکې کوې جنگ مه کوه جرگه وکړه او لويه جرگه وکړه، دې ننگرهار کې لويه جرگه جوړه کړه مگر هغه د کوم چا په ځای کې يې مه جوړوه د خان ملک او د ميا او ملا په ځای کې يې مه جوړوه ځکه چې بيا دغه کيږي ته د هډې صاحب په زيارت کې جرگې وکړه

لویه جرگه ځکه چې هغه یو روحاني او جهادي شخصیت دی او هلته به
ستا جرگه ممکن کامیابه شي او بد اثر به ونه کړي په هم هغه توصیه باندې
یې دهډې صاحب په زیارت کې جرگه وکړه، لویه جرگه یې وکړله مگر دغه
ځومره انقلاب چې ؤ دی په خپل کور کې ؤ هیڅ چیرته نه ؤ خوځیدلی او
هیڅ یې په دې کې حصه او برخه نه وه اخیستلې.

د سردار محمد هاشم خان نور ورونه لاپخوا د جنرل محمد نادرخان په
مشرتوب پکتیا ته ورسیدل او هلته یې د حبیب الله خان کلکاني پر ضد په فعالیت
لاس پورې کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم څپرکی

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ٦

# محمد نادرشاه

## په پکتیا او کابل کې د حبیب الله خان کلکانی

## د قواوو سره جګړې

محمد نادر خان د اروپا څخه برتانوي هند ته ورسیدئ او هلته یې په فعالیت لاس پورې کړ. محمد حکیم آریوبي چې د ځاځیو اوسیدونکی دی وایي چې محمد نادر خان او د هغه ورونه د مرستې په غرض د هغوی کورته ورغلي وو:

زما پلار او نیکه په ځائیو او پکتیا کې وو، نو بیا اعلیحضرت شهید راغی او د هغه ورونه راغلل. پکتیا ته راغلل او په پکتیا کې زموږ کره راغلل نو هغوی زما د پلار او نیکه او زموږ د قوم ځخه ځینې غوښتنې لرلې او هغوی ویل موږ راغلي یو تاسو ته، ستاسې ځخه کومک غواړو یو کومک دغه دی چې موږ تاسې ته راغلي یو چې په کابل کې چې کوم حکومت راغلی دی دا حکومت یو سالم حکومت نه دی او یو قانوني حکومت نه دی دا نورو راوستی دی د بیگانهؤ ورسره لاس دی نو که تاسې زموږ سره کومک وکړئ چې دا حکومت نسکور شي. بیا به یو قانوني حکومت منځ ته راشي نو هلته زما پلار او نیکه او زموږ کورنۍ اعلیحضرت شهید او ورونو ته وویل چې دا خبره زموږ په قوم پورې اړه لري نو زه به د خپلو قومي مشرانو سره مشوره وکړم، هغه یوه غونډه وکړه یوه جرگه یې وکړه هغه هلته په قوم کې ډیر مؤثریت لرلو نو هغه قومي مشرانو دا خبره خوښه کړه او له هم هغې ورځې ځخه چې دا خبره فیصله شوه په سبا یې زموږ دقومونو او د پکتیا د ځینو نورو خلکو لښکرد پکتیا ځخه د کابل پر خوا روان شول.

تر پکتیا وروسته اصلي هدف کابل ؤ او د دې عملیاتو مشري د مارشال شاه ولیخان پر غاړه وه. د دې عملیاتو په هکله مارشال شاه ولیخان په خپلو

یادابښتونو کې وایي چې د کابل په غرونو کې مې خپلې قواوې ځای پر ځای کړې وې:

د میزان پر شپاړسمه نیټه چې د ۱۹۲۹ عیسوي کال د اکتوبر نهمه نیټه وه د وروستۍ حملې تیاري ونیول شوه. د شپې په لسو بجو ماوزیرو ته امروکړ چې د زنبورک پر غره ډولونه ووهئ د شیر دروازې او آسمایي پر غره هم ډولونه ووهل شول د سپاه سالار محمد نادر خان څخه تر اجازې او ډیرو سلامشورو وروسته مې پر ارگ د اور امر ورکړ او تر سختې بمبارۍ وروسته حبیب الله او د هغه ملگري د ارگ د شمالي دروازې څخه کوهدامن ته وتښتیدل.

په دې وخت کې د محمد نادر خان او د هغه د ورونو کورنۍ په کابل کې پاتې وې. عزیز نعیم چې د محمد نادر خان د ورور سردار محمد عزیز سکه لمسی دی وایي چې د هغه پلار په سقاوي کې د پنځلسو کالو او په کابل کې پاته ؤ:

زما پلار د بچه سقاو په وخت کې یو څورلس کلن پنځلس کلن ځوان ؤ او د سقاوي د سلطنت په وروستیو میاشتو کې که څه هم سقاو زموږ کورنۍ ډیره ونه ځورله مگر کله چې اعلیحضرت نادرشاه وکابل ته راغی او د سقاو پر ضد یې قیام وکړ په دې وخت کې زموږ کورنۍ هم تر نظارت لاندې راغله او په هغه ورځ چې مارشال شاه ولیخان وکابل ته راغلئ نو په

دي وخت کې جګړه وروستۍ مرحلې ته ورسیده. سقاو زموږ د کورنۍ غړي د انساني سپر په توګه استعمال کړل او اعلیحضرت نادرشاه ته یې هم اطلاع ورکړه چې که نادر خان سقاو د خپلې حملې هدف وګرځوي نو دوی به پر خپله کورنۍ حمله کوي او اعلیحضرت نادرشاه سقاو ته پیغام ولیږئ چې اصلي موضوع د دوی کورنۍ نه ده بلکه موضوع د افغانستان خاورې ته نجات ورکول دي. د حملې په وخت کې یوه ګولۍ زما د پلار داوړې څخه تیره شوه اما کوم آسیب ورته ونه رسیدئ.

فرقه مشر هاشم خان کاکړ د سردار نعیم خان تر څنګ د هغوی د کورنۍ نور غړي هم راویستلي دي:

د سقاو زوی کابل ته راغی نو کله چې نادر خان د کابل د نیولو له پاره راغی د ده د کورنۍ ټول غړي په کابل کې بندیان وو. نادر خان فیض محمد او عبدالغنی خان ولیږل چې د ده د کورنۍ غړي ورته راولي. خو د شاوخوا څخه د مردکو باران وو هغوی په دې بریالي نشول. زه ورغلم او هغوی مې راوایستل او هغوی څلور ورځې کم دوې میاشتې زما په کورکې پاته شول. زما او د نادر خان ښې اړیکې وې او هغه په ما اعتماد لاره او زما سره یې مشورې کولې.

په افغانستان کې ځینې خلک په دې عقیده دي چې په لومړي سر کې

محمد نادر خان د امان الله خان په نوم په فعالیت بوخت ؤ خو عزیز نعیم په دې عقیده نه دی:

خبره داسې ده هغه څه چې ما د خپلو لویانو د خولې څخه اوریدلي دي ځکه ما اعلیحضرت نادر خان نه ؤ لیدلی ولې چې اعلیحضرت نادر خان زما تر پیدا کیدلو د مخه په شهادت رسیدلی ؤ. نو د خپلې کورنۍ د لویانو لکه د سردار هاشم خان او د ده د امثالو د خولې چې ما اوریدلي دي د نادر خان مقصد افغانستان ته نجات ورکول و یعني مقصد یې د پاچهۍ نیول او تخت و تاج نه ؤ او کله چې یې کابل ونیوئ واضح یې وویل چې زه د تخت و تاج د نیولو له پاره نه یم راغلی بلکه افغانستان ته د نجات ورکولو له پاره راغلی یم او هغه څوک چې د افغانستان خلک و مني هغه سړی باید قدرت په لاس کې واخلي. که هغه په خپله امان الله خان وي او که یې د کورنۍ بل تن وي. اما د هغه وخت د شرایطو په رڼا کې امان الله خان د افغانستان د خلکو اعتماد د لاسه ورکړی ؤ او هغه شرایط دا دي: اول دا چې پرده یې د کفر تور لګولی ؤ او بل دا چې دی د افغانستان څخه ولاړئ یعنی افغانستان یې په اور کې پرینبودئ او دی په خپله ووتئ ګویا د ده دې ګام دی د خلکو په وړاندې بې اعتماده کړ او لکه په امان الله خان چې خلک بې باوره شوي وو نادرخان باید ژر راغلی وای او کابل یې نیولی

وای اما نادر خان دا ونه ویل چې زه د امان الله مخالف یم او له دې امله ځینو خلکو چې د نادر خان سره یې مرسته کوله هغوی داسې فکر کاوه چې نادر خان د امان الله خان له پاره کار کوي چې په پای کې نادر خان مجبور شو چې ووایي چې نه خو د امان الله خان پر ضد یم او نه خو د امان الله خان طرفداره یم، او کله چې یې کابل ونیوئ نو خلکو ده ته مبارکي ورکړه اما ده وویل چې د صاحب دې مبارک شي نو د هغه وخت تر شرایطو لاندې یې تخت په شوق سره قبول نه کړ که څه هم هغه یې په اکراه قبول کړ څو چې وکولای شي په افغانستان کې آرامي را منځ ته کړي. هغه څه چې ما د سردار محمد هاشم خان د خولې څخه اوریدلي دي نادر خان تر پایه پورې د دې آرزو نه درلوده چې پاچهي د ده په کور کې د میراث په توګه پاتې شي. خو ده وویل چې دی به تر یوه وخته پورې پاچا وي او بیا به د پاچهۍ څخه لاس واخلي او لویه جرګه به غونډه جوړوي او کوم څوک به د افغانستان د مشر په توګه ټاکي. سردار محمد هاشم خان به ویل چې مامشوره ورکوله چې دا کار چې تاسې کوئ ډیر د وخت څخه وړاندې دی او دا شیان په فکر کې مه نیسئ او باید ترلسو پنځلسو کالو پورې تاسې د افغانستان د پاچا په توګه پاتې شئ تر څو چې اوضاع ارامه شي. اما وروسته اوضاع بل ډول شوه.

اوضاع آرامه شوه او د ولایتونو څخه بیعت تر لاسه شو. نادر خان په کابل کې یوه لویه جرګه را وغوښته تر څو د هیواد مشر وټاکي. ډاکټر احسان روستا مل تره کی چې په کابل پوهنتون کې د سیاسي علومو استاد او د کابینې وزیر پاته شوی دی وایي چې په دې جرګه کې محمد نادر خان ته د سلطنت د قبلولو دعوت ورکړل شو:

په کابل کې د لویې جرګې په نامه یو مجلس تنظیم شو او په هغه کې د اماني دورې دوه تنه سابقه وزیران چې په جرګه کې شامل وو د جنرال نادر خان د اظهاراتو په مقابل کې چې ګواکي دی د سلطنت ارزو نلري د جرګې د اعضاؤ په نماینده ګۍ جنرال نادر خان د سلطنت د مقام د قبلولو له پاره په تاکید سره دعوت کړ د جرګې نورو اعضاؤ دغه پیشنهاد په چکچکو سره تأئید کړ. جنرال نادرخان د سلطنت پر تخت تر کښېنستلو پس د افغانستان د والیانو او لویو حاکمانو د جلبولو له پاره د مملکت په ولایاتو کې د ماکیاولي د سیاست څخه کار واخیست. د خارجي جرایدو په حواله د سقاویانو د تښتیدلو څخه وروسته کله چې اعلیحضرت محمد نادر شاه دوی ته د مجازاتو د عفوی وعده ورکړه نو حبیب الله او سید حسین د خپلو یوولسو کسو طرفدارانو سره خپل ځانونه تسلیم کړل. خو دوی په یو زرو نه سوه دیرش کال کی د مارچ په آخر کې ووژل شو.

په دی کسانو کې د فاضل خان پلار هم شامل ؤ چې په اعدام محکوم شو. د کورنۍ نور غړي یې بندیان شول چې ورکی د هغه وړوکی ورور هم شامل ؤ:

کله چې زما پلار شهید شو زما ورور محمد کاظم خان چې لا ماشوم ؤ بندي او هلته په بندیخانه کې ځلمیتوب ته ورسیدئ. موږ چا ښوونځیو ته نه پرېښودلو او خلکو زموږ د دوستۍ څخه ډډه کوله.

سید قاسم رښتیا وایی چې دا کار قصدي نه ؤ او یوازې د کسات اخیستلو او غچ ویره وه:

په لومړیو کلونو کې داسې فکر ؤ چې هغه کسان چې د دوی کورنۍ ګویا وژل شوې دي دوی حتماً د انتقام د رویه امکان لري چې داسې حرکات وکړي د دوی سخت ګیري همدا وه چې ګویا دوی کوښښ کاوه چې دوی په مکتب کې نه وي چې هلکان تحریک نه کړي مقصد دا نه ؤ چې دوی تعلیم و نه وایي. مګر د ظاهر شاه په دوره کې وضعیت بدل شو او اکثرو تعلیم وکړ. فاضل خان او د دوی کورنۍ او آقای واله او دغو کسانو چې تعلیمات کړي دي. هغو ټولو دغه د محمد هاشم خان په دوره کې ګویا خپل تعلیمات شروع کړي دي.

# ۷

# د محمد نادرشاه اداره او خارجي اړيکې

کله چې د محمد نادر شاه اداره ټينګه شوه نو د هيواد داخلي چارو ته يې پوره پاملرنه وکړه. ډاکټر احسان روستا تره کی وايي چې محمد نادر شاه په دې برخه کې په جدي اقداماتو لاس پورې کړ:

اعليحضرت محمد نادر خان په عين حال کې د مملکت داداري، مالي او نظامي چارو په تنظيم کې په جدي اقداماتو لاس پورې کړئ او د افغانستان د سياسي اصولو په جوړولو کې يې چې د اماني دورې د اساسي اصولو يو تعديل شوی متن ؤ د مملکت اداره په مرکزي سيستم

تنظیم کړله خو دغه اصول اساسي عملاً د پاچا په لاس کې وو نادر خان

خپل خارجي روابط په ښه توګه ټینګ کړي وو او په لنډه موده کې یې د

مملکت په خارجي او داخلي ساحو کې ځیني اساسي او مډرن اقدامات په

نظر کې ونیول.

په دې اقداماتو کې د پوځ بیا تنظیمېدل او په نوي پوځي تنظیم کې د جلبیانو را غوښتل او خوش رضایي عسکر شامل وو، د جلبیانو د خدمت وخت دوه کاله ولې خوش رضایي کار د ټول عمر ؤ په دې دوره کې د امان الله خان پالیسي پرېښودل شوه او پر سرحدي قومونو عسکري جبري نه وه ولې د ضرورت په وخت کې به قبایل مجبور وو چې په پوځي برخه کې مرسته وکړي. اداري، قضایي او تعلیمي برخو ته هم پوره پاملرنه شوې وه، عزیز نعیم وایي چې اعلیحضرت محمد نادرشاه په پوره احتیاط ګامونه پورته کړل او تندرونه وو:

اعلیحضرت نادر خان اصلاً یو محافظه کار سړی ؤ که څه هم د تحول او ریفورم طرفدار ؤ اما هغه یې دوطن د شرایطو په چوکاټ کې غوښتل عملي کړي، د اعلیحضرت امان الله خان د پاچاهۍ دوه کاله مخکې د حبیبیې لیسې فارغ التحصیلان و جامعې ته وړاندې شول اما پوهنتون نه ؤ چې دوی هلته عالي تحصیلات ترسره کړي. بیا یې د دارالامان ماڼۍ جوړه کړه یا مثلاً فابریکې یې جوړې کړې اما د هغوی اقتصادي اړتیا وو

ته یې فکر ونه شو او هیڅ یوې فابریکې په تولیداتو پیل نشو کولای او له دې امله د نادرخان په وخت کې د ملک د ودانولو بنسټ ته فکر وشو، پوهنتون تأسیس شو، بانک ملي تأسیس شو، مکتبونو ته توسعه ورکړل شوه، شمال او جنوب یو د بل سره وصل شول او په ځلورو کالو کې یې دودانولو بنسټ کېښېښود او په خارجي سیاست کې دی واقعیتبین ؤ او ایډیالست نه ؤ ده ویل چې انګریزان په دې منطقه کې پراته دي او هغه موږ په زور سره نشولیږې کولای او له دې امله مجبور یو چې موږ ګوزاره ورسره وکړو.

د داخلي چارو تر څنګ بهرنیو اړیکو ته هم توجه واړول شوه د برتانیې امپراتورې چې د افغانستان سره یې نږدې اړیکې لرلې محمد نادر خان خپل ورور شاه ولي خان د لندن دربار ته د خپل استازي په توګه ولیږئ او د اعلیحضرت محمد نادرخان دا لیک یې د برتانیې پاچا ته وړاندې کړی:

په ډېرې خوښۍ سره باید د خپل لومړي لیک په ترڅ کې تاسې اعلیحضرت ته چې د نړیوالې سولې مینه وال یاست اطلاع درکړم چې په افغانستان کې انقلاب پای ته رسیدلی دی، زه ډاډه یم چې دا اعلان به ستاسې د خوښۍ سبب وګرځي څنګه چې تاسې اعلیحضرت ته معلومه ده چې افغانستان په تیرو کلونو کې د برتانوي حکومت سره نږدې او دوستانه

اړيکې لرلې دي چې د دې ثبوت د نړيوالې لومړی جګړې په وخت کې چې حالات نامعلومه و د افغانستان بې طرفه پاتې کيدل وو ستاسې سره د خپلې صادقانه دوستۍ په ترغ کې خپل سکنی ورور شاه ولي خان چې د هيواد د قرارۍ په هڅوکې يې برخه اخيستې ده د خپل خاص استازي او وزير مختار په توګه ستاسې دربار ته معرفي کوم.

مارشال شاه ولی خان په لندن کې د وزير مختار په توګه ومنل شو او د برتانيې دپاچا له خوا ريچرد ميکناکي په کابل کې د استازي په توګه د يوه ليک په ترغ کې واعليحضرت محمد نادر خان ته وروپيژندل شو :

په ډيرې خوښۍ ستاسی د ورور شاه ولي خان په لاس يو ليک چې د خاص استازي او وزير مختار په توګه مو معرفی کړی دی، را ورسيد. په افغانستان کې د آرامۍ په جوړيدلو او ستاسې په برياليتوب چې پر تخت کښيناستلی ياست درته مبارکی وايم، دا ليک به د ريچرد ميکناکي په لاس درورسيږي چې ستاسې په دربار کې به زما نماينده وي چې زما ور باندې پوره باور دی.

ښوونې او روزنې ته د توجه په ترغ کې محمد نادرشاه انجمن ادبي ته هم پوره پاملرنه کړې وه، سيد قاسم رښتيا هلته د سالنامی په کار لګيا ؤ او وايي چې اعليحضرت محمد نادرشاه هميشه د هغوی څارنه کوله:

په انجمن ادبي کې مؤظف وم چې دا سالنامه جوړه کړم هلته نادر خان په خپله هره ورغ راتلی مطبعې ته او دا عکسونه او دا چاپ د سالنامې یې کتی هغه وخت زه هلته موجود وم چې دی راغی، زه ورسره صوفي عبدالحمید خان معرفي کړم ده زما څخه پوښتنه وکړه چې « پدرت کیست ؟ » ما وویل چې سید حبیب خان مستوفي. ده وویل چې: آه ته خو زما وراره یې خوشحاله شوم چې ته دومره رسیدلی یې چې په خارجي لسان باندې تکلم کوې، دلته اصلاحات کوې، دلته اخبار چاپوې! په دې سالنامه کې دلته یو عکس ؤ د موسولوني هغه یوه صفحه عکس ؤ د عکس لاندې ما لیکلي وو موسولونی دیکتاتور ایتالیا. ده چې هغه وکتئ زما څخه یې پوښتنه وکړه چې دیکتاتور څه معنی ؟ ما وویل چې صاحب اختیار صاحب قدرت. ویې ویل نه درست نه دی دیکتاتور هغه یو نفر ته وایي چې په خپل سروي او دا یو دشنام دی یو کنځا دی دا باید ایسته کړې! ده قلم واخیست ویې لیکل « موسولوني رئیس وزراء ایتالیا ».

د محمد نادر شاه دوره لنډه وه، سید شمس الدین مجروح چې په دې وخت کې د حکومت مامور پاته شوی دی وایي که هغه ډیر وخت پاته شوی وای نو په افغانستان کې به ډیر پرمختګ راغلی وای:

محمد نادر خان که څو کاله زیات پاتی شوی وای، یقیناً افغانستان به

زيات ترقي کړې واى، زيات اصلاحات به پکى شوي وو ځکه دى ډير محتاط روان ؤ، ډير پوهيده، مثلاً پوهيده چې د قوم په روحيه باندې برابر نه و نو دا ډول اصلاحاتو ته يې ډيره زيات عجله نه کوله او د بلې خوانه د خپل محبوبيت او دې نه يې هم استفاده کوله يواځې په زور او يا په وهلو ټکولو او په وژلو باندې متکي نه ؤ او دا وهل او ټکول او بندي کيدل پس د ده د مرګه زيات وشول، په افغانستان کې يو نوع فشار د حکومت را پيدا شو، د ده په خپله ډير ښه حکومت ؤ، ولې متاسفانه چې ډير ژر له منځه ولاړى او موفق نه شو چې هغه ټول اصلاحات وکړي اما په هر حال د ده په وخت کې يا د ده د وخت نه وروسته هغه اصلاحات چې تر نظر لاندې وو په ډير تدريجي صورت باندې، په ډير عادلانه صورت باندې منځ ته راغلل مثلاً د ښځو مکاتب او مدارس شروع شول، د ښځو مثلاً حقوقو باندې فکر وشو، قوانين ليکل مثلاً بيرته مروج شول، بيرته منځ ته راغلل، قانون اساسي بيرته وليکل شو، تثبيت شو او سره د دې هم د افغانستان حيثيت په خارجي دنياکې د هغه معرفي کول د هغه نماينده ګي کول په ښه شان باندې دا کارونه وشول او دا ډير مفيد وو.

د نورو چارو تر څنګ اعليحضرت محمد نادرشاه د خپلو مخالفانو ليرې کولو ته هم مخ واړاوه يو د دې مخالفانو څخه غلام نبي خان چرخي ؤ چې

د اعليحضرت امان الله خان ملګرئ ؤ او د کابل په ارګ کې د محمد نادر خان په امر ووژل شو. تر دې وروسته د چرخي کورنۍ او د شاهي کورنۍ تر منځ بدې پیل شوه ، ليون يي پولادا چې په افغانستان کې ډير وخت پاته شوی دی وايي چې دا د افغاني بديو ناوړه شکل ؤ. د عزيز نعيم نيکه سردار محمد عزيز خان چې هم په دې بدۍ کې وژل شوی دی وايي چې اروپا يانو دی قصو ته رومانتيکه بڼه ورکړيده:

پولادا ودې موضوع ته يوه رومانتيکي بڼه ورکړې ده ځکه زموږ د کورنۍ او د چرخي د کورنۍ ترمنځ پخوا کومه دښمني موجوده نه وه منتها هغه اختلاف چې موجود ؤ هغه دا وو چې چرخي د افغاني ځوانانو سره ارتباط درلودی ځکه دوی له تندروه دريځ څخه پيروي کوله او اعليحضرت محمد نادر شاه د ميانه رودريځ څخه پيروي کوله او د هغه وخت د شرايطو په رڼا کې يې ومحافظه کارۍ ته ترجيح ورکوله او نه تندروۍ ته ځکه بله چاره نه وه ولی چې د هغه تندروۍ په نتيجه کې افغانستان بيا تر ديرشو کالو پورې تر شا ولويدئ. د محافظه کارۍ څخه زما مقصد دا دی چې تحول به منځ ته راوړي اما د موجوده شرايطو په چوکاټ کې او له همدې امله د غلام نبی خان د قتل موضوع د کورني اختلاف سره اړيکي نه لري او داسې مثال لري لکه څو تنه چې د يوه دولت پر ضد قيام وکړي نو خوامخوا هغوی په قتل رسيږي خو بايد دوی په

عادلانه ډول محاکمه شوي وای یعنې د غلام نبي خان قتل یو ډول افراط ؤ مو ږ باید اعتراف وکړو چې د ده په قتل کې افراط شوی دی اما قتل د کورنۍ دښمنۍ په نتیجه کې نه ؤ اما تر دې پیښې وروسته کورنۍ دښمني پیدا شوه چې په نتیجه کې یې زما نیکه سردار محمد عزیز خان او وروسته اعلیحضرت نادر خان هم په شهادت ورسیدل.

اعلیحضرت محمد نادر شاه چې په کابل کې د ښوونځیو فارغ التحصیلانو ته د مراسمو په ترځ کې د جایزو په ورکولو لګیاؤ د عبدالخالق له خوا چې غلام نبی خان چرخي خپل زوی منلی ؤ ووژل شو، په دې وخت کې د محمد نادرشاه زوی د افغانستان پخوانی پاچا محمد ظاهر شاه هم حاضر ؤ او وایي چې دا ډیرې ترخې خاطرې دي او زما پلار زما په مخ کې په شهادت ورسیدئ:

زما ډیرې ترخې خاطرې دي، زما پلار زما په مخ کې شهید شو نو زما به څه احساس وي او څه کیدای شوای، هغه ما ته هر څه ؤ، هم مې پاچا ؤ، هم مې پلار خو کله چې د سلطنت تکلیف زما په اوږو شو که څه هم ما ته ډېر دروند بار ؤ او زه دې دروند بار ته چمتو نه وم خو بیامې هم هغه ومنئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم څپرکی

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۸

# د محمد نادر شاه قتل او د محمد ظاهر شاه پاچاکیدل

کله چې محمد نادر شاه ووژل شو نو په دې وخت کې د قتل عام ویره وه سید قاسم رشتیا وایي چې سردار شاه محمود خان په پوره حوصله د مرګ ژوبلې مخه ونیوله:

زلمي خان نائب سالار چې خپلې وفاداری یې حکومت سره، د پاچا سره ښکاره کړې وې پیشنهاد یې کړی ؤ چې دا ټول که قاتلان نه دي ټول کافران دي او د پاچا دښمنان دي او دا مکتبیان باید ټول ووژل شي نو بیا

شاه محمود خان بیرته ګرځیدلی ؤاو وې ویل قطعاً دا کار مه کوئ قطعاً اجازه نه ورکوم چې په یوه باندې لاس پورته کړئ!

درمرجان خان ځاځي چې د څلورم ټولګی شاګرد او په هغه ځای کې حاضر ؤ دا ټول حالات په خپله لیدلي دي:

دغه زموږ ووړکي دا مکتبونه چې ټول دلته پاتې شول چار چاپیره عسکرو یو وارې غبرګ وکړ، زموږ سر بلندخان نائب سالار نومیده ځاځی ؤ دغه بړغ وکړ چې راونیسئ دا ووړکي پرې نږدئ داسې چار چاپیره شول دا عسکر ویې نیولو ټول دا څوک چې وتښتیدل په هره لیار وتښتیدل هغه لاړ هغه ځینی چې پاتې شول هغه همدغسې چې بویې تلو بویې تلو په هغه جمله کې زه هم وم بیا یې ننباسلو د دلکشا یوه سالون ته په دا دهلیز کې یې ټول ننباسلو هلته یې حصار کړلو بیا خپله سر بلند خان امر وکړ چې دا ووړکي را وباسئ ټول یو د م مړه کړئ چار ماري یې کړئ. بیا هغه خبر شول شاه محمود خان وویل چې نه داسې کار مه کوئ د ټولو ووړکو ګناه نه ده دا به د یوه ګناه وي په ټولو ووړکو باندی غرض مه لرئ هم دلته دې وي تر څو چې زه نفر پیدا کړم. بیا هم هغه وو چې دوی پسی کوشش وکړلو، پورته شول هغه نفر یې ونیو هغه نفر یې چې ونیولو بندی یې کړلو دا نور نفر په دلکشا کې بند پاتې شول هم هغه بندي خانه کې د دلکشا په کوټه کې نو

هم هغه ؤ چې پس له تقريباً نهو لسو بجو د شپې امر راغی چې هغه خلک چې تاسې بنديان کړي دي هغه ووړکي د مکتبو تاسې هغه پرېږدئ مونږ خپل مدعي پيدا کړی و مونيولو.

سيد قاسم رښتيا وايي کله چې دا معلومه شوه چې نادر شاه خپل ژوند د لاسه ورکړی دی نو سردار شاه محمود خان سمدستي محمدظاهر خان د پاچا په توگه اعلان کړی:

په عين وخت کې محمد هاشم خان د ښکاري لارې د افتتاح له پاره سمت شمال ته تلی ؤ د ځينې وزيرانو سره او شاه محمود خان دلته وکيل د صدر اعظم ؤ او دلته گوياوختی چې نادر خان شهيد شو دوی ته معلومه شوه چې مړ دی هلته گويا ځينو کسانو دا فکر کاوه چې شاه محمود خان ځان پاچا کوي لاکن دی را پورته شوی ؤ او ظاهر شاه ته يې ويلی ووچې پاچا ته يې تا ته بيعت کوم. ظاهر شاه ويلي و چې زما لوی يې زما مشر يې. ده ويل نه دا خبره نه کيږي ته د نادرشاه زوی او حق د سلطنت ستا دی او زه تا ته بيعت کوم ستا نوکريم. عسکر هم د ده په لاس کې وو که ده غوښتل چې پاچا شي هيڅ په دې کې شک نه ؤ چې سبا به د ده پاچاهي اعلان شوی وای.

سردار شاه محمود خان چې د صدر اعظم وکيل او د دفاعی چارو وزير ؤ

کولای شول چې په خپله پاچا شي دا چې هغه ولې د خپل ځان په نسبت ظاهر شاه ته ترجیح ورکړې ده په دې هکله د سردار شاه محمود خان زوی محمود غازي وایي چې د هغه اکا ګانو او پلار د وطن سره قوي علاقه لرله:

زما پلار شاه محمود خان غازي په کابل کې وزیر دفاع ؤ او د صدارت چارې یې هم په لاس کې وې وطندوستي او د آرامۍ سره علاقه د اعلیحضرت نادرشاه د ورونو سره دومره قوي وه چې قدرت طلبي یې یوه خوا پریښې وه او سلطنت یې اصلي وارث ته ورکړ د دې خود ګذرۍ نتیجه آرامي وه چې وروسته افغانستان ته راغله.

سردار محمد هاشم خان چې د نادرشاه په وخت کې صدراعظم مقرر شوی ؤ هم هغسې پاته شو ، سید قاسم رښتیا وایي چې د محمد نادرشاه ځای د هغه زوی محمد ظاهر شاه ته ورسیدئ نور هر څه د پخوا په شان پاته شول:

دا تقسیمات چې وروسته وو هغه ته دوی تغیر ورنه کړ، ظاهر شاه په عوض د نادر شاه راغی او شاه محمود خان وزیر حربیه پاته شو عسکر د ده په لاس کې وو او د محمد هاشم خان ملکي حکومت او صدارت په لاس کې ؤ او لاکن پس له دې د محمد هاشم خان قدرت په زیاتیدو کې ؤ او دلته ګویا دوی ټولو حکومت په لاس واخیست شاه محمود خان تجرید شو عسکریې په لاس کې وو لاکن شاه محمود خان شریف سړی ؤ او شاه

محمود خان گویا مداخله نه کوله دلته محمد هاشم خان یوائې د یکتاتور منځ ته راغی ځکه چې د نادر خان قتل هم واقع شوی ؤ. دغه بدگماني هم زیاته وه او د امنیت مسئله هم وه ده یو پولیسي حکومت جوړ کړ او دلته د دې له پاره یوه بل عامل هم کومک وکړ دلته دوهم جنګ شروع شو او دلته هم یادول په کار دي چې په مملکت کې باید انضباط زیات شي او بل دلته د هتلر افکارو په افغانستان کې هم تر یوې اندازې تاثیر درلودئ چې دیکتاتوري ګویا یو مود د ورځې ؤ هلته هتلر ؤ هلته موسولوني ؤ هلته فرانکو ؤ.

د محمد هاشم خان حکومت نه یوائې په کابل کې بلکه په ولایتونو کې هم پوره انضباط راوستی ؤ د ولایتونو څخه مخور کسان چې د قدرت خاوندان وو په کابل کې د منصبونو په پلمه ساتل شوي وو په دې کسانو کې د عبدالاحد کرزي پلار معین خیروجان هم شامل ؤ:

نو د هغه وخت سیاست به دغه تقاضا کوله نو ظاهراً خو هلته سناتور ؤ هلته ؤ معاش یې درلودئ ډیر ښه په عزت وا و په نهایت کې د هغه وخت دامنیت او استقرار له پاره د دې له پاره چې مملکت آرام وي ډیر خلک هلته په کابل کې وو مثلاً مشاور صاحب سید احمد خان هلته ؤ، نائب سالار صاحب محمد انور خان ؤ، معین صاحب عبدالرشید خان چې هغه هم بیا

په وزارت داخله کې معین ؤ هغه هلته ؤ د هر ولایت داسې کسان په اعیان کې وو او په بعضې چوکیو کې وو چې تقریباً دوی اعزازي هلته وو هلته اوسیدل اما داسې بې اجازې د حکومت یعني د شخص محمد هاشم خان بې اجازې خپلو وطنو ته نشو تلای زموږ پلار هم همیشه اجازه اخیستله یوه میاشت دوې میاشتې چې به راتلئ قندهار ته له شخص محمد هاشم خان څخه به یې اجازه اخیستله ،د صدر اعظم صاحب څخه بیا به راتلئ قندهار ته.

که د ولایتونو مخور کسان کابل ته راوستل شوی وو همدا ډول د کابل متنفذین ولایتونو ته تبعید شول په دې کسانو کې استاد خلیل الله خلیلي هم شامل ؤ چې د حبیب الله خان کلکاني په حکومت کې لوی مامور پاته شوی دی. خو د هغه زوی معتصم بالله خلیلي وایي چې د صافیانو د پاڅیدلو له کبله د هغه پلار تر نظارت لاندې نیول شوی ؤ:

پلار مې د هاشم خان په وخت کې چې هاشم خان صدر اعظم ؤ په افغانستان کې په هغه وخت کې بندي شو ، د هاشم خان په وخت کې بیاقندهار ته تبعید شو ولې چې دصافیانو قوم جګ شوی وو په کنړو کې صافیان او دوی داسې فکر کوي چې هاشم خان چې البته دا صافیان د وزیر عبدالرحیم خان له خوا یا د استاد خلیلي له خوا تحریک شوي دي په هغه

اساس هم نائب سالار عبدالرحیم خان یې بندي کړئ او هم زما پلار یې بندي کړ، پس له هغه یې بیا تبعید کړ په قندهار کې.

**که څه هم محمد ظاهر شاه په دی وخت کې پاچا ؤ ولې د هېواد چارې د هغه اکا گانو په مخه بیولې، عزیز نعیم وایي چې دا واضح خبره ده په دې وخت کې ظاهر شاه ځوان او د خپلو آکاگانو مشورې ته احتیاج ؤ:**

دا خو یوه ښکاره خبره ده کله چې ظاهر شاه په تخت کښیناست نو ده رهنمایی ته ضرورت درلود او که داسې یو قوي لارښود موجود نه وای په افغانستان کې به بیا انارشي را منځ ته شوې وای. د سردار هاشم خان په باب وایي چې د ده دوره یوه تاریکه او د استبداد دوره وه او کوم پرمختګ ونه شو، د تاریخ د یو شاگرد په حیث که څوک د هغه وخت شرایط په نظر کې ونیسي نو مور ویلی شو چې د ده دوره هم د ملک دودانۍ له پاره د اساس ایښودلو یوه دوره بلل کیدای شي او په همدې وخت کې د کابل پوهنتون پراختیا مومي او معارف دوه چنده کیږي البته دا منو چې یوه برخه خلک پاماله شول خو د هغه برسیره د افغانستان د ودانو لو بنسټ کیښودل شو او د شاه محمود خان له پاره یې زمینه برابره کړه چې د دیموکراسۍ لومړۍ خښته کښیږدي د بلې خوا په دې وخت کې په دریمه نړۍ کې یوائې یو محدود شمیر مستقل هیواد ونه موجود وو او که مور

نیاز پاچا د مصر مستثنی کړو چې یوه نسبی دیموکراسي یې درلودله په بل ملک کې دیموکراسی موجوده نه وه یعنی آزاد مطبوعات، سیاسی احزاب موجود نه وو. درست دي چې په افغانستان کې آزاد پارلمان، سیاسي احزاب موجود نه وو اما د خلکو او حکومت تر منځ یو دیالوګ موجود ؤ او په غیر مستقیم ډول یې د خلکو افکار درک کول او د هغه په اساس یې ګامونه پورته کول.

د خلکو سره د دیالوګ تر څنګ د هیواد نورو چارو ته هم توجه شوې وه سید شمس الدین مجروح وایي چې د هغه په وخت کې ډیر اصلاحات منځ ته راغلي دي:

د سردار محمد هاشم خان په دوره کې باوجود د دې چې هغه په خپله سخت ګیره سړی ؤ د یکتاتور مزاجه سړی ؤ، دې کې شک نشته. ولې په افغانستان کې یې ډیر کار وکړ، ډیر اصلاحات وشول اصلاحات په دې معنی چې د ترقۍ خواته، د صنعت خواته، د آبادۍ خواته، د سړکونو جوړولو خواته په دې لحاظ باندې ډېر پیشرفت وشو په افغانستان کې مخصوصاً هغه د امان الله خان په مقابل کې عکس العمل د ښځود مکتب په هکله په دغه وخت کې د ښځو مکتب بیرته منځ ته راغی او د ښځو مثلاً رفع حجاب ،د ښځو آزادي او د ښځو حتی په رایو اخستلو کې

شامیلیدل د محمد ظاهر شاه په وخت کې منځ ته راغله او د همدې لحاظه دافغانستان په تاریخ کې ډیر قابل قدردی. زه باید تاسې ته ووایم چې همیشه په افغانستان کې حکومتونه ښه یا بد دي په دې کې شک نشته دی چې دیموکراتیک حکومتونه نه وو او ډېر مثلاً سړی ووایي چې ټول به پاک او منزه خلک وو داسې هم نه وو همیشه دافغانستان حکومت د خپلو متعصبو او ناپوهه عوامو خواصو څخه خواص په سطح کې د روحانیونو او ملایانو او په سطح دعوام خانان او ملکان، د دې نه دی د دواړو څخه ډیر پیشرفته تر او مترقی تر ؤ او دې نه زیات منورتر ؤ دافغانستان هر حکومت همیشه کوشش کاوه چې دوی استخدام کاندې، له دوی نه استفاده وکاندې دوی له ځان سره ملګري کاندې، خپل قدرت هم وساتي او داخپل مطالب چې اصلاحات د افغانستان دي دا مخکې بوزي، دا کار یې همیشه کړی دی او داخلک یې اکثره استعمال کړي هم دي.

# ۹

# په دویمه نړیواله جګړه کې د افغانستان بیطرفي

کله چې په یورپ کې دوهمه نړیواله جګړه ولګیده نو په دې وخت کې دبرتانوي امپراتورۍ او المان اړیکې د افغانستان سره ډیرې او نژدې وې یعني په ستراتیژیک لحاظ افغانستان دبرتانوي هند او شوروي اتحاد ددوو لویو قدرتونو ترمنځ واقع شوی ؤ .پوهاند حسن کاکړ وایي چې په همدا وخت کې کوم بل دریم ګړی هیوادنه ؤ چې دافغانستان سره مرسته وکړي:

دلته باید په نظر کې ونیول شي چې دافغانستان عمومي حالت داسې ؤچې یعني ددوو لویو اروپایي قدرتونو ترمنځ واقع ؤچې یو شوروي اتحاد

په شمال کې او بل هندبرتانوي په هندوستان کې وو او داسې یو بل دریم
ګړی قوت چې د افغانستان حفاظت وکولای شي لکه ملل متحد که څه هم
د ملل جامعه وه اما هغه دومره قوي نه وه، په ۱۹۳۷ کې چې پر ایتوپیا
باندې ایتالیا حمله وکړه د هغې اهمیت له منځه لاړ. لهذا د افغانستان
د پاره د اخارجي سیاست ډیر زیات مهم شو په دې معنی چې څنګه د دوو
لویو قدرتونو په منځ کې د غه خپل خپلواک بیطرفه حیثیت وساتلی شي
دا ډیره غټه او مهمه خبره وه او په دې کې نولومړنی شی چې محمد هاشم
خان او د ده ډیرو نژدې مصاحبینو فیصله وکړه دا وه چې مونږ له یوې
خوا به امنیت د مملکت ساتو اما په خارجي سیاست کې چې د افغانستان
واکمني وساتي د افغانستان بشپړ تیایي حالت وساتي یوه فیصله چې
دوی وکړه فقط دا وه چې مملکت ته باید انکشاف ورکړو او د نورو خارجي
مملکتونو په سرمایې او کومک سره اما د هغو حساسیتونو سره چې
د همسایه مملکتونو کې مخصوصاً د اتحاد شوروي او هندبرتانوي په مقابل
کې یې لرل په نظر کې ونیول شی د دوی کوشش داؤ چې یو افغانستان
بیطرفه وساتل شي او له بلې خوا څخه کومکونه، کریډیتونه د انکشافي
پروژو د پاره له هغو مملکتونو څخه واخیستل شي چې همسایه نه وي.
المان داسې یو هیواد ؤ چې پرمخ تللی ؤ او د افغانستان همسایه نه ؤ نو

همدا وجه وه چې د المان په مرسته په افغانستان کې ډېرې پروژې فعاله شوې.

پوهاند ګل جانان ظریف چې د المان په فرانکفورت کې د پوهنتون استاد دی او ډیر وخت په هغه هیواد کی پاته شوی دی د دې مرستو په هکله پوره مطالعات کړي دي:

ددوهم نړیوال جنګ د پیل دمخه دافغانستان او المان ترمنځ په تجارتي او تخنیکي اړیکو کې دلیدووړ آسانتیا وې پیښې شوې وې دافغانستان اومه مواد المان دنړیوال تجارتی بازار دنرخ څخه په لوړه بیه اخیستل او هم یې افغانستان ته د ۵۵ میلیونو مارکو د کریدټ ورکولو سره موافقه وکړه او په افغانستان کې ترټولو زیات المانی متخصصین چې په ۱۹۳٦ کې یې شمېر ۱۷۰ تنو ته رسیده دفني پرسونل په توګه استخدام شول.

پوهاند حسن کاکړ چې پر همدې دوره د پوره مطالعې خاوند دی وایي چې د المان دا مرسته دخدای په جات نه وه:

هغوی هم دخدای په جات کومک نه کاوه هغوی داقتصادي مقصد په اړخ کې یا د هغه اقتصادي کومک له لارې سیاسي مطالب هم مخکې بیول چې په هغو کې غټه خبره فقط دا وه چې دوزیرستان لوی عالم میرزا علي خان چې په فقیر ایپي باندې مشهور ؤ له هغه سره یې مرستې وکړلې او هغه یې تحریک کاوه دانګلیسانو په مقابل کې عمومي پالیسي همدغه

وه چې دغـه دسرحـد قبـايل چې پښتـانه دي تحـريک کـړي ويې پاروي په مقابل دهندبرتانوي کې.

**خو په سرحد کې دفقيـرايپي تـرڅنگ نور قبـايل لا پخـوا دملي آزادۍ په جذبه راپاريدلي وو او پـه جگړو بوخت وو ولې دبرتانوي پوځ افسـر کـرنل محـمد شـريف خـان چې په همـدې وخت کـې دفقـيـر ايپي سـره په جگړه بوختو وايي چې دهغوی سره محوري قدرتونه ملگري وو:**

په وزيرستان کې فقير صاحب له دا اکسز پاور (محوري قواوې) به يې ورته ويل که نه جرمني او جاپان او ايټلي، اوريدل به مو داسې چې هغه له يې دومره لوی رقم ورکـاوه چې هغـه بيـا توپې هم جوړې کـړې او هغـه دا فـيصله وکړه چې انگريز له شکست به زه په دې ورکـړم چې د« دته خيلو» کلاترې نه واخلم نو په دغه ورځو کې زمـا پوستنگ (مـقرري) په دته خيلو کې واو درې ميـاشتـې په جون - جولای - اگست کې مونږه کلابند وو او دې حد ته خبـره ورسيـده چې راشن مـاشن به مونږ ته دهوا نه راغـورځيـده ليکن په ټول نارترن کمانډ (شمالي قومندانۍ) کې چې د هغې هيډکواټر، په پينډۍ کـې ؤ پاراشـوټس نـه ؤ نومـونږ لـه به يې دا اوړه، دانې، چای، چيني وغيـره دابه يې دهوانه فـري (يله) راغـورځول نتـيجـه يې دا شـوه چې هغه به چې ځمکې باندې را خلاص شول هغه به خواره شول په هر حال مونږ

سره یوه وړه غونډې توپه وه او ایپي فقیر صاحب سره څلور وې هغې له به په لس کسه باندې یو ګډېږه دریمه ورځ فی کس له لس کارتوس په دوهمه ورځ باندې ورکول کیدل. او دا دفقیر صاحب سره لکه څنګه ما چې ددې خبرې په سرکې وویل د هغه سره پیسه وه او هغه به په دې باندې سودا کولی شوه او هغه پیسه به ورله د ایټلي، جرمني او دجاپان د طرف نه راتله.

په همدا ډول حالاتو کې چې دنړۍ لوی قدرتونه چې په دې سیمه کې پوره فعاله وو افغانستان تر سخت فشار لاندې ؤ خو عزیز نعیم وایي چې افغاني مشرانو خپله ګټه په بیطرفۍ او د قواؤ په توازن کې لیدلې وه:

افغانستان ددوارو خواوو ترمنځ خپله ګټه دقوې په توازن یعنې بیطرفۍ کې لیدله بیا هم ددوهمې نړیوالې جګړې په وخت کې افغانستان بیطرفي غوره کړه داخل دافغانستان ګاونډي هیوادونه برتانوي هند او شوروی اتحاد رقیبان نه وو بلکه متحد او یو دبل ملګري وونو که چیرې افغانستان طرف نیولی وای نو د ایران په شان یوه برخه به یې دشوروي اتحاد او بله برخه به یې دبرتانیې تر تأثیر لاندې راغلې وای نو ځکه افغانستان دا تشخیص وکړ چې په دوهمه نړیواله جګړه کې بیطرفه پاته شي ځنې موضوع ګانې پیښې شوې چې دافغانستان بیطرفي ته خطر متوجه کړي که څه هم په سطح کې اوضاع عادي وه ولې تر سطحې

لاندې وضع غیر عادي وه مختلفو حکومتونو تلاش کاوه چې افغانستان په خپله طرفدارۍ په جنګ کې راګډ کړي یوه موضوع هم والماني او ایټالوي استادانو او متخصصانو ته بهانه ګیري وه کوم چې په افغانستان کې په کار لګیا وو دمتحدینو په عقیده دامتخصصان په اصل کې متخصصان نه وو بلکه استخباراتي ماموران وو او ښايي دجرمني په ګټه کار وکړي نو ځکه دهغوی د ویستلو غوښتنه وشوه افغانستان دا غوښتنه په اول کې ونه منله ولې تر ډېر فشار وروسته یې دا موضوع لويې جرګې ته وړاندې کړله او لویې جرګې فیصله وکړه چې تضمین ورکړل شي تر څو د جرمني او ایټالیې اتباع خپلو کورونو ته په سلامتۍ ورسول شي. دافغانستان حکومت ته دا تضمین ورکړل شو او وروسته داکسان خپلو کورونو ته سلامت ولیږل شول.

سیدقاسم رښتیا چې په همدا وخت کې په کابل رادیو کې دنشراتو مشرؤ وایي چې افغانستان په دې ټینګار سره په نړۍ کې دلوی نوم خاوند شو:

داکسان مونږ هیڅکله تاسو ته نه تسلیموو او که تاسې هرڅه چې ووایئ داکار نه کوو دا ټینګار دافغانستان له پاره یولوی نوم په دنیا کې قایم کړ. ځکه چې هیڅ یوبل مملکت داسې یو کار نه ووکړی په داسې وخت کې چې انګریز او روس دواړه یو خوا ته وو په آخر د جنګ دوی

مجبور شول چې خپل پیشنهاد ته تغیر ورکړي.

پوهاند ګل جانان ظریف وایي چې د اکسان د بر تانوي هند او ترکیې له لارې خپلو هیوادونو ته ولیږل شول او هغو المانانو ته چې دا وختونه وریاد دي اوس هم د افغانانو ممنون دی:

آلماني او ایتالوي متخصصین د هند او ترکیې له لارې و خپلو هیوادو ته ستانه شول په دې هکله باید وویل شي چې په ځینو خصوصي او عامو غونډو کې المانیان د افغانانو د دې دریغ په درناوي او قدرداني یادونه کوي او ستایي یې او د افغانانو د دې میړني او جسور موقف نیونې احساس په تیره په مسنو اشخاصو کې زیات لیدل کیږي باید علاوه شي چې د نړۍ تردوهم جنګ وروسته د المان او افغانستان ترمنځ نژدې اړیکې موجودې وې چې علمي او تخنیکي همکارۍ لکه د کابل، بن او بوخم د پوهنتونو ترمنځ توامیت او د افغاني پرسونل روزنه د یولړ انکشافي پروژو چې د سروبي، ماهیپر د بریښنا او د پکتیا د کرکرنې پروژې پکې شاملې وې او د افغانستان او آلمان د رعیتیانو اتباعو له پاره د یو بل هیواد ته د آزاد تګ او د ویزې نه موجودیت یې ځینې مثالونه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱۰

## د هاشم خان استعفی او د شاه محمود خان حکومت

سردار محمد هاشم د خپل حکومت په اوږده دوره کې په ټول هیواد کې ریښې ټینګې کړې وې. پوښتنه داده چې په دا ډول حالاتو کې دی ولې استعفی ته مجبورشو عزیز نعیم وایي چې د هغه صحت ښه نه ؤ:

> د سردار محمد هاشم خان حکومت اول اوولس کاله دوام وکی اوولس کاله د هر حکومت له پاره اوږد وخت دی. سر دار محمد هاشم د افغانستان په ډیر بد وخت کې صدراعظم ؤ. د دوهمې نړیوالې جګړې په وخت کې د افغانستان ټول کارونه د سردار محمد هاشم خان په لاس کې وو. هغه ته د

جنګ نه وړاندې د زړه تکليف وروپېښ شوی ؤ او د تداوۍ له پاره جرمني ته ولاړئ. په هغه وخت کې ډاکټرانو ورته وويل چې د کار فشار کم کړي. د جهاني جنګ وړاندې سردار محمد هاشم خان د همدې تکليف په اساس غوښتل چې استعفی ورکړي، ولې پاچا ونه منل او ځنې ويې غوښتل چې د جګړې په وخت کې د صدارت وظيفې ته دوام ورکړي. د جنګ په وخت کې هم وروباندې د زړه حمله راغله او شپږ مياشتې په شفاخانه کې بستري ؤ.زما په ياد دي چې ده وويل هر کله چې جنګ خلاص شي زه به هم د صدارت د کار څخه لاس واخلم.

سيد قاسم رښتيا وايي چې په نړۍ کې آزادي راغلې وه نو همدا وجه وه چې شاهي خاندان فيصله وکړه چې محمد هاشم خان کار پرېږدي.

تغيير د اوضاع په دنيا کې همداسې ايجابول چې بايد په افغانستان کې تغيير پيدا شي نو په هغه سيستم کې محمد هاشم نور ګنجايش نه درلودئ په دنيا کې آزادي راغلې وه، په دنيا کې نوي دولتونه راغلي وو، نوې آزادۍ راغلې وې، حقوق بشر راغلي وو، دلته پر افغانستان دا تأثير خوامخوا راتلئ. دلته د شاهي خاندان مشورتي کورنۍ فيصله وکړه چې محمد هاشم خان کار پرېږدي او شاه محمود خان صدارت واخلي او دلته شاه محمود خان د يوه نوي پروګرام سره يو ځای راغلئ. پروګرام يې دا وو

هغه ټول بنديان چې سردار محمد هاشم خان بندي کړي وو او څوارلس کاله

يې تير کړي وو خوشي کړل او هغوی ته يې کارونه ورکړل.

که د يوې خوا سياسي بنديان خوشي شول او آزادي راوستل شوه ولې د بلې خوا سيد شمس الدين مجروح وايي چې په عمراني برخه کې رکود ؤ او څه پرمختګ ونه شو:

يقيناً د ده دوره د فعاليت په لحاظ باندې په افغانستان کې د آبادۍ په لحاظ يو رکود پيښ ؤ. د هغه يو دليل خو البته لکه مخکې چې ما وويل د يو شخص په سجيې، خلق او مشيت پورې هم تعلق لري او د بلې خوا شرايط هم د ملک په اقتصادي مشکلاتو پورې اړه لري. مثلاً په دا آخر کې چې څه لږ حرکتونه پيدا شول په خارجي کومکونو او امدادونو باندې زيات ه اتکا وشوه. د هغې نه يو څه راووتل. مگر په دغه دوره کې څنګه چې د ده د شخصيت نه توقع کيده څه ونه شوه. البته شک نشته سړی آرام سړی ؤ، نرم سړی ؤ يقيناً اولسي سړی ؤ او ښه سلوک يې کاوه د خلکو سره يې په دار مدار باندې ژوندون کاوه، باوجود چې تصادمونه هم پېښ شول، په دې آخر کې د ده د دورې د منورينو سره . يو څه شوق يې لاره چې کوم تحول د ديموکراسۍ په لحاظ په افغانستان کې راشي او يو نوی نهضت پيدا شي اخبارونه وي، شورا زياته فعاله اوسي، مؤثره اوسي. د

افغانستان په حوادثو کې يې دې کارونو ته موقع ورکړه.

**شاه محمود خان ته دا نظر چې ديموکراسي راوستل شي ځنګه پيدا شوی ؤ، عبدالحميد مبارز چې په دې وختونو کې پوره فعال پاته شوی ؤ وايي چې د امريکا تر سفر وروسته دا نظر ور پيدا شو:**

امريکا ته تر اووه مياشتنی سفر وروسته، کله چې شاه محمود خان بيرته افغانستان ته راوګرځيدئ تر هغه وروسته يې اول ډيموکراسۍ ته هڅه وکړه په همدې ترغ کې يوه سلسله جريدې را ووتلې چې مرحوم عبدالرحمن محمودي د «ندای خلق» د جريدې امتياز واخيستئ، غلام محمد غبار د «وطن» د جريدې امتياز واخيستئ، ګل پاچا الفت د «اولس» د جريدې امتياز واخيستئ او مرحوم فيض محمد انګار د جريدې امتياز تر لاسه کئ. دې جريدو په کابل کې خپل آزاد نشريات پيل کړل او د ويونکو شمير يې زښت ډېر ؤ. د دې ټولو جرايدو هدف ډيموکراسي او مشروطه شاهي وه. د هغوی تلاش دا وو چې حکومت د سلطنت څخه بيل کړي. د شورا په اوومه دوره کې آزادي وه. هلته يو اقليت موجود ؤ چې په دې اقليت کې مير غلام محمد غبار، ډاکټر عبدالرحمن محمودي، محمد کريم نزيهي، محمد علم ورد ک، د دوشي سخي امين، د کندهار عبدالحی حبيبی او د مزار څخه خال محمد خسته

داسې یو اقلیت ؤ چې د حکومت د طرفدار اکثریت په مقابل کې دریدلي
وو. دې اقلیت د آزادۍ طرفداري کوله او د حکومت د ځینو پروژو سره یې
همیشه مخالفت کاوه.

د مطبوعاتو د آزادۍ سره هیڅ مخالفت نه درلودئ. سید قاسم رښتیا چې
په همدې وخت کې د مطبوعاتو مستقل رئیس ؤ هم په دې آزادۍ کې ونډه اخیستې
ده:

مطبوعات زما په پیشنهاد آزاد شول ، د شاه محمود خان په دوهم
کال چې صلاح الدین خان سلجوقي په سفارت مقرر شو زه د هغه په عوض
کې رئیس مطبوعات شوم. په دې وخت کې زما هم آرزو دا وه، هغه چې شاه
محمود خان آمادګي لري د دې له پاره چې د ډیموکراسۍ په ساحه کې
**قدمونه واخلي په هغه کې ما برخه واخیسته.** هغه ؤ چې ما پیشنهادونه
کول او دا پیشنهادونه هغه منل. **دلته پیشنهاد وشو** چې یو قانون
مطبوعات جوړ شي او آزاد اخبارونه منځ ته راشي ده هم **قبول کړل. په**
مجلس وزرا کې تیر شول. مجلس وزرا بحث وکړ او ټول حیران وو چې
څرنګه کیږي د مخه د نشر سانسور نه وي. تر نشر دمخه د سانسور
ستونزه حل شوه. بیا د بلدیې (ښاروالي) انتخابات وو. ما عرض وکړ چې
ټول خلک د بلدیې انتخابات کوي په یوه کوټه کې کښیني بیا وایي چې

پلانکی د بلديې رئيس دی. ما وويل چې خلک پوهيږي بايد موقع ورکړو چې په خپله نفر وټاکي ده قبول کړه فرمان يې وليکئ او د بلديې انتخابات وشول. غلام محمد خان فرهاد د بلديې رئيس شو.

پوهاند احمد جاويد چې د کابل پوهنتون رئيس پاته شوی دی په دې وخت کې د پوهنتون شاگرد ؤ وايي چې د دې قانون په اساس آزادې جريدې راووتلې:

د دې قانون په اساس ډيرى غير دولتي جريدې خپرې شوې چې يوه هم ندای خلق ده. د ندای خلق مؤسس ډاکټر عبدالرحمن محمودي او مسوول مدير يې عبدالحميد مبارز ؤ. ندای خلق د خلق د جريدی سره چې د حزب ديموکراتيک خلق ارگان ؤ هيڅ ارتباط نه لري. دا جريده پس له نه ويشت شمارو توقيف شوه. بله د وطن جريده ده چې مؤسس يې مير غلام محمد غبار او مسوول مدير يې محمد علي خروش او وريسې محمد صديق فرهنگ ؤ. دا جريده پس له اته ويشتو شمارو توقيف شوه. د خلق جريده ډيره جذباتي احساساتي او توندروه او د وطن جريده معتدله، استدلالي او محافظه کاره وه دې دوو جريدو د افغانستان په سياسي ژوند کې ډير اهم رول درلودی.

په افغانستان کې سياسي فعاليت په ډيريدو ؤ. ډاکټر عبدالصمد حامد چې ډير کلونه په افغانستان کې د صدرات معاؤن ؤ وايي چې په لومړي ځل د

افغانستان پوهانو ته امیدواري پیدا شوې وه:

د لومړي ځل له پاره د افغانستان د پوهانو په منځ کې یوه امیدواري پیدا شوې وه او خوش بیني او جذبه. چې نوی حرکت به وي داسې یو نظام به وي چې په خپله افغانان به د خپل ژوند په باره کې تصمیم نیسي. خپل وطن به ابادوي. د مثال په توګه مثلاً مونږ شاګردان وو ډیر خلک به داوطلبانه تلل د چاده میوند د جوړیدلو له پاره کورونه به یې نړول چې جاده جوړه شي. داو طلبانه به پکې کار کیده. ټولو ته دا ضمني وظیفه بلل کیده. د اوومې دورې شورا چې منځ ته راغله نستباً آزاد انتخابات وو او د افغانستان د سیاسي فعالو حلقو خلق هم پکې شامل وو، دا یوه بله مایه د امیدواری وه. اول ځل غیر دولتي خصوصي آزاد اخبارونه ووتل او دانشرات د هم هغه وخت په سویه زما په فکر د قدر وړ وو.

**ډاکټر احمد عبدالرحیم زی چې د خپل ورور عبدالملک خان عبدالرحیمزی تر بندي کیدلو وروسته په اطریش کې پاته شو په همدې وخت کې د کابل پوهنتون محصل او د شاه محمود خان خدمتونه یې د قدر وړ بللي دي:**

زه باید ووایم چې مرحوم شاه محمود خان په هغه وخت کې ډیر خدمت کړی ؤ بالخاصه تر یوې اندازې چې ځوانانو ته یې موقع ورکړې وه چې خپل افکار آزاد اعلان کړي. د ده په دوره کې یو تحول راغلی ؤ او تصادف هم

زمـوږ نیک ؤ چې په دې دوره کـې موږ په پوهنتون کـې وو. زه په خـپله په فـاکولتـهٔ حقوق کې وم. موږ ته په اول وار کې موقـع راکړه شوه. ښاروال د کـابل انتـخابیدئ مـوږ باید په کـابـل کې گرځیـدای خلکو ته مو توضیح ورکولای چې د ښاروال اهمیت څه دی. پس له هغه څخه انتخابات د شورا راغلل چې مرحوم غبار او مرحوم محمودي په اوله دوره کې انتـخاب شول یوه څـورلس نیم زره او بل یې تقـریبـاً دیارلس نیم زره رایې په کـابـل کـې واخیـستې، دوی په پارلمان کې پـه شورا کې د هغه وخت وکیلان وو په دې توګو کې چې وو د فاکولتې محصلینو ته موقـع ورکړه شوې وه چې خلکو ته تبلیغ وکړي.

# ۱۱

# د شاه محمود خان په صدرات کې ډيموکراسي او سياسي ګوندونه

کله چې شاه محمود خان فيصله وکړه چې ډيموکراسي راولي نو په دې وخت کې سياسي ګوندونو او د محصلانو اتحاديې په فعاليت پيل وکړ ولې ويښ ځلميانو لا پخوا خپلې ډلې جوړې کړې وې او په پوره فعاليت بوخت وو ، پوهاند عبدالشکور رشاد چې د ويښ ځلميانو يو فعال غړی ؤ وايي چې د ويښو ځلميانو مرام ملي وحدت ؤ:

دويښ ځلميانو په مرامنامه کې مهمه نقطه دا وه چې وحدت ملي

تأمین شي په افغانستان کې اوله بله طرفه دوی کوشش کاوه چې اقتصادي منابع په پراخه پیمانه باندې په کارولویږي، وده وکړي، بندونه جوړشي، ولې وکښلی شي او فابریکې راشي، فابریکې جوړې شي د دې دپاره ددوی مبارزه وه چې خلک په کاربانديې ولويږي او دبیکارۍ مخه ونیوله شي دغه رنګه ددوی په اهدافو کې دعلم او تعلیم، تدریس وتحصیل مسئله وه دوی غوښتل چې په هر ځای کې په هر کلي کې دهاتي مکتبونه جوړ شي او حتی د دهاتي مکتب نظر تقریباً ددوی نظر ؤ چې بیا وروسته دولت هغه تعمیل کړ نو د تعلیم خپرونه وه البته ځینې مواد نورهم وو ورسره مثلاً په هغه وخت کې د پښتونستان حرکت نوکی په شدت کې ؤ ددغه سره ددوی همنوایي موجوده وه اوغوښتل یې چې هغه غصب شوې ځکې چې دوخت دحکمران یعني انګلیس په لاس کې پاته شوې وې هغه ته حق دخوداراديت ورکړشي که دوی وغواړي چې دافغانستان سره ملحق شي او یا دا چې په خپله دیو حکومت تشکیل وغواړی یا داچې له پاکستانه سره ګډشي دایی هم په اهدافو کې وه.

ځینې خلک بیا وایي چې د ویښو ځلمیانو په جوړیدلو کې سردار محمد داؤد خان مرسته کړېده ولې جیلاني خان الکوزی چې دویښو ځلمیانو غړی او ډېر کلونه یې په بندکې تیر کړي دي داخبره نه مني:

په داؤد خان په دې کې لاس نه درلودئ زمونږ سره داؤدخان کوم لاس نه درلود فقط دونه وو چې داؤد خان لا یو وخت مونږ وروغوښتلو زمونږ دبعضې ملګرو سره یې خبرې وکړې چې تاسې داسې کارونه کوئ. مونږ وویل په هغه درواغ دي چې خلکو تاته ویلي دي مونږ نور کارونه نه دي کړي . داؤد خان زمونږ سره کوم ارتباط نه درلود پس له هغه چې مونږ دقندهار خلک بندیان شولو زمونږ بعضې خلک چې هلته په کمیته مرکزي کښې وو هغه حکومت تطمیع کړل نو هغه خلک که دهغو سره کار درلودئ مونږ په هغه نه یو خبر زمونږ له داؤد خان سره کوم کار نه ؤ زمونږ مرکز وینې په قندهار کې ؤ، مونږ دغه وو او هغه نفري چې زمونږ وو په کابل کې هغه حکومت تطمیع کړل مونږ یې بندي خانې ته کش کړو، دوی ته یې چوکۍ ورکړې پس له څلورو پنځو کالو چې یې مونږ ایله کړو زمونږ څخه یې معافي غوښتله دهغه څخه ما پوښتنه وکړه چې مونږ دې ولې بندیان کړو مونږ خو په هغه وخت کې هم ویل چې مونږ بې ګناه یو پس له هغې چې دوی ایله کړو ور ویې غوښتلو چې ستاسو په خصوص کې اشتباه شوې ده هیڅ شی نه ؤ په مابین کې.

په افغانستان کې د خلق د دیموکراتیک حکومت مؤسس او مشر نور محمد تره کي ادعا کوله چې نوموړی د ویښو ځلمیانو مؤسس او مشر ؤ جیلانی

خان الکوزي وايي چې :

دا خبره بلکل صحیح نه ده بلکه هغه چې دی موسس نهٔ بلکې د ويښ ځلميانو سره يې څه دغه هم وکړه يعنی د ويښ ځلميانو سره يې وفا ونه کړه دی په هغو څلورو کسانو کې وو چې حکومت ته ور تسليم شوي دي په دغه يې آتشه مطبوعاتي په امريکا کې مقرر کړ.

د ويښو ځلميانو تر څنګ د وطن حزب په کابل او د افغانستان په ځينو ځايونو کې د مير غلام محمد غبار په مشرتوب ريښې ټينګې کړې وې، ډاکټر عبدالرحمن محمودي هم د ندای خلق ترنوم لاندې منورين راټول کړي وو. ډاکټر عبدالاحمد عبدالرحيم زی چې د محصلانو د اتحاد يې غړی ؤ د ډاکټر محمودي او نورو مشرانو سره ليدلي دي او وايي چې د هغوی اساسات محلي وو:

اول کې د دوی اساسات چې وو محلي وو عمومي نه وو، ويښ ځلميان چې وو زيا تره يې د پښتو خوا ته توجه وه او دا نور چې وو، وطن چې ؤ په مسايلو د سوسياليستي کې لږ فکر کاوه او خپله دا رهبران يې، خدای دې اوس وبخښي مثلاً ډاکتر محمودي ؤ دا ځينی نفر وو ډير احساساتي وو. په احساساتو کې سړی داسې قضاوتونه سياسي چې کوي عموماً لږ ذره کي موازنه پريږدي او يو وارې مونږ، تاسو ته مثلاً وايم مونږ په ليسه استقلال کې يو کنفرانس داير کړ په هغه کې مرحوم محمودي خبرې

وکولې او ما خپله له دې سره خبرې وکړې له غبار سره وغږېدم ورته ومې
ویل: چې تاسې هر څه چې وایئ تاسې وکیلان د پارلمان یاستئ تاسې
مصئوونیت لرئ او اول کې چې مونږ دا شروع کووکه داسې لوی لوی
خیزونه اچوو هدف ته نه رسیږو مونږ غوښتل چې یوه اساسنامه د اتحادیې
د محصلینو جوړه کړو ، مونږ پیشنهاد کړه پوهنتون ته او دا اساسنامه چې
مونږ د مختلفو هیوادو څخه چې زمونږ څخه وړاندې وو مثلاً تجربه یې
درلوده مثلاً لکه مصر غوندې نورو ځایو غوندې مونږ اساسنامه د هغه په
اساس سره ترتیب کړه او هغه مو وړاندې کړه ریاست د پوهنتون ته او
زمینه مونږ ته مساعده شوې وه چې موږه یوه اتحادیه د محصلینو عملي
کړو ، زه خلپه د حقوقو فاکولتې له خوا څخه په دې کې نماینده وم او له طرف
د طب څخه مثلاً په هغه وخت کې حسن شرق وچې تاسې یې نوم اوریدلی
دی ، ځینې له ساینس څخه وو له نورو څخه وو مثلاً غلام علی آئینۀ د
فاکولتې د ساینس دا ټول نفر وو چې باید په دې مسایلو کې بحث سره
وکړي ، متأسفانه ځینې نفر زمونږ چې وو ، دوی خپل هم له دې حیثه د
کار نه وو چې دوی خپل شخصي اغراض نسبت د ټولنې ، نسبت د
محصلینو مسؤلیتونو او ارزوګانو ته ترجیح ورکړه په دې وخت کې وو چې
دا موفق نه شو مثلاً وکیلان د پارلمان وو چې انتخاب شوي وو هغوی

غوښتل چې ځانته تولنه جوړه کړي، په محصلينو کې ځانته يو تعداد ولري چې هغوی د دوی خوله او ژبه وي نور مثلاً د حکومت له خوا څخه وو خو د داؤد خان په هغه وخت کې ؤ مثلاً نفريې ليدل هغو ته يې هدايت ورکاوه خو صدارت ته هم نفر تلل چې هدايت يې اخيسته د خلکو څخه او راتله په اتحاديه د محصيلنو کې به دوی خبرې کولې نو اتحاديه د محصلينو يې غوښته چې يو منطقه د پريکتس خپله جوړه کړي د غه خبره وه چې گويا زموږ موقعيت يې ضعيف کړ په هغه وخت کې.

ولې عبدالحميد مبارز چې د ډاکتر محمودي نژدې ملگری او د محصلانو د اتحادېې غړی ؤ وايي چې اتحاديې په خپله د آزادو ډلو سره اړيکې ومونډلې:

د محصلينو اتحاديې د هغو آزادو ډلو سره اړيکې پيدا کړې چې د مير غلام محمد غبار، محمودي او ويښو ځلميانو په شاو خوا راټول شوي وو دې کسانو هم زيار ويستئ چې د دې ځوانانو د هلوځلو څخه د ډيموکراسۍ په لاره کې کار واخلي ځکه چې د پوهنتون څخه د سياسي غونډو مرکز جوړ شوی ؤ په دې وخت کې حکومت د دې کنفرانسونو او غونډو څخه په بيره کې شو په تيره بيا په هغو کنفرانسونو کې چې ومحمودي ته بلنه ورکړل شوې وه دا هغه وخت ؤ چې حکومت په سياسي غونډو باندې بنديز ولگوئ او يو شمير محصلين يې هم ورسره بنديان کړل.

پوهاند احمد جاوید هم په دې فعالیتونو کې رول لوبولی دی او وایي چې سردار محمد داؤد خان د محصلینو د اتحادیې د لارې هڅه کوله چې شاه محمود خان راوغورځوي:

داؤد خان چې د شاه محمود خان سره مخالف ؤ د ملی کلوپ او د محصلینو د اتحادیې په تشکیل سره غوښته چې شاه محمود خان د قدرت نه وغورځوي او مجبوریې کړي چې د دیموکراسۍ د ادعانه منصرف شي. په همدې لحاظ آزادې جریدې پرله پسې بندې او توقیف شوې او د انتخاباتو د رسیدو په وخت کې دولت خپلې پالیسۍ ته تغییر ورکړ او د ملي شخصیتونو د انتخاب کیدلو مانع شو په همدې لحاظ یې له محمودي او غبار سره نه یوازې مخالفت شروع کړی بلکهٔ د دوی د انتخابیدلو ممانعت یې وکړ په همدې مناسبت په کابل کې یوه لویه مظاهره وشوه. مظاهره کوونکي چې پکې محصلین هم وو د آزادۍ غوښتلو په نارو او شعارو دارګ خواته روان شول، زه په خپله په دې وخت کې هم هلته وم او د صحنې شاهد او ناظر وم د هرچا د خولې نه د محمودي او غبار نومونه په ډیر احترام او احساساتو سره اوریدل کیدل هیڅ کله ما داسې فضا چې د ملي او صمیمي حقیقي جذباتو څخه ډکه وي نه وه لیدلې خلکو په ډېره مینه او هیجان سره محمودي او غبار په اوږو پورته کولو سره فریادونه وهل او د دیموکراسۍ او آزادۍ په زنده باد ویلو سره یې خپل

احساسات څرګند کړل، ټول مظاهره کوونکي د ارګ د دروازې په څنګ کې په مسالمت آمیز ډول راټول شول هم هلته یې د ارګ له نماینده سره خبرې کولې د دولت پولیسو او عسکري سوارکارانو دجمعیت په منځ کې حملې وکړې او غوښتل یې چې خلک پراګنده کړي ډیر خلک ټپیان شول او دځوانانو او محصلینو حتی عامه خلکو احساسات جریحه دار شول داورځ دډیموکراسۍ پای ؤ.

# ۱۲

## د سردار محمد داؤد خان صدارت

عبدالحمید مبارز وايي چې د شاه محمود خان په وخت کې د يموکراسي په ښه توگه مخ په وړاندې روانه وه ولې د سردار محمد داؤد خان د فعاليت له کبله شاه محمود خان مجبور شو چې استعفی ورکړي:

د ډيموکراسۍ اوله دوره په ښه توگه مخ په وړاندې روانه وه، منورين او روشنفکران په دې عقيده وو چې د شاه محمود خان حکومت تقويه شي ترڅو د شاه محمود خان د نفوذ له لارې د يموکراسي خپل وروستي پړاوونه تير کړي ولې سردار محمد داؤد خان غوښتل چې حکومت لاس ته راوړي او يو شمير محصلانو د هغه سره اړيکې درلودې په دې جمله کې حسن

شرق او دهغـه نور ملګري شـامل وو او دهغوی هڅـه دا وه چې ژر دسـردار شـاه مـحـمـود خـان حکومت سقـوط وکړي او دسـردار مـحـمـد داؤد خـان حکومت وا ک واخلي، دتاريخ يو واقـعـيت دادی چې په هغـه مـهـال کـې دکابل والي عبدالحکیم شاه عـالمي ؤ او په ځينو ځايو کې ده په خپلو خلکو دتليـفـون پايې چپـه کـولې او ويل به يې چې دا مـحـصلينو او دغـبـار او محمودي طرفدارانو چپه کړې دي او په مملکت کې بې نظمي راولي په دې وخت کـې هغـوی ته بل چانس هم مـيـسـر شـو چی د ډاکـتـر مـصـدق قيـام دشهنشـاه ايران په مقابل کـې منځ ته راغی او په هغه ځـای کې يو تغيـير را وستل شو دې تغيير دافغانسـتـان پر ډيموکراسۍ بداثـر وکړ او په مقاماتو کې داسې انګيزه پيـدا شوه چې نه دا چې په افغانسـتـان کې دا يران حالات رامنځ ته شي.

**د ايران حـالت رامنځ ته نشـو خو دافـغـان ملت پخواني مـسئـول مدير قـدرت الله حدا دوايي چې بې باکي شروع شـوې وه او دکـودتا په تورځينې کـسـان ونيـول شـول:**

ضـمناً هر چيـرته داسې لږ بی باکی هم شروع شوې وه او له بلې خوانه شـاه محمـود خان هم کله کله په دې متـردد شـو چې هلتـه د ګوسـوار د زوی خبره پيدا شوه دخواجه محمدنعيم خان چی يو کـودتا غوندې يو شي ؤ چې دنوروز په ورځ يې داخلک ونيول او په هغه کې ډير خلک وو. ګل جان خان ورد ک ؤ په هغـه وخت کـې، حتی دمـايارو کـورنۍ هم ورسـره شـريکه وه نو

دوی ډاریده چې دغسې یوه کودتا څه شی ونه شي نو دغه ټول دلایل داؤد خان راټول کړل او دغه یې سلطنت ته وویل او خلک یې په دې قانع کړل چې دشاه محمود خان نه نوره خرابیږي او نن یا سبا به دا سړی له منځه لاړ شي ده غوښتل چې یو څه محکم حکومت راشي چې مبادا دا سلطنت هم له منځه لاړ نشي.

په دی وخت کې دمحمد ظاهر شاه نفوذ ډیر شوی ؤ ، سیدقاسم رښتیا وایي چې ظاهرشاه نه غوښتل چې سردار محمد داؤد خان صدر اعظم شي او د شاهي خاندان دباندې کاندید په نظر کې نیول شوی ؤ :

اعلیحضرت دلته زیاتر نفوذ درلود په دی دوره دشاه محمود خان کې په خپله ظاهر شاه گویا ډیر زیا تر نفوذ درلود ، په ټولو مسایلو کې داخل ؤ دلته بیا دوی فیصله کوله چې دا خانداني وضعیت ته دوام ورکړي یا هغه قطع کړی دلته یو کاندید هم راغلی ؤ چی هغه ملک یار گویا کاندید ؤ دصدارت لاکن بیا وروسته بیا ده قبوله نه کړه دلته داؤدخان چی اعلیحضرت نه غوښتل چی داؤد خان راشي ده فکر کاوه چی داؤد خان دا مسایل ډیر شدید گویا د پیچیدگی سره مخامخ کوي خصوصاً د پښتونستان مسئله لاکن اعلیحضرت بل څوک کاندید پیدا نه کړ او داؤد خان صدراعظم شو.

که څه هم ځینې باور لري چې دشاه محمود خان په لیرې کولو کې دسردار محمد داؤدخان لوی لاس ؤ. ولې عزیز نعیم موافقه نه لري او وایي چې زه په خپله

ددې کورنۍ دیوه غړي په توګه په اطمینان سره ویلی شم چې سردار محمد داؤد خان دشاه محمود خان په مقابل کې هیڅ ډول توطئه نه ده کړې:

زه ددې کورنۍ دیوه غړي په توګه تاسو ته اطمینان درکوم چې داؤدخان دشاه محمودخان په مقابل کې دهیڅ ډول توطئې څخه کار نه دی اخیستی ولې دکار دطرز او طریقې له مخې یې دسردار شاه محمودخان سره موافقه نه لرله او همدا وجه وه چې دوه ځله یې دحکومت څخه استعفی ورکړه ولې یو شمیر عناصر موجود وو چې سردار شاه محمودخان ته به یې ویل چې سردار محمد داؤد خان تخریب کوي کلونه تیر شول سردار شاه محمودخان استعفی ورکړه او سردار محمد داؤد خان صدراعظم شو. یو وخت دسردار محمد داؤد خان لور ته دسردار شاه محمود خان دزوی له پاره مرکه ورغلې وه سردار محمد داؤد خان په دې عبارت دسردار شاه محمودخان خانمې ته وویل چې زه حیران یم چې سپه سالار صاحب څنګه دا خواهش کوي باید امر وکړي.

که دیوې خوا داخلي حالاتو دسردار محمد داؤد خان راتګ ته لاره هواره کړې وه ولې نړیوال حالات هم بې اثره نه وو ډاکتر عبدالصمدحامد وایي چې دسوړ جنګ جریان هم دسردار محمد داؤد خان دراتګ عامل بلل کیدای شي:

مخصوصاً د دوهم عمومي جنګ څخه وروسته داخلي او بین المللي او منطقوي عوامل سره ډیر میشته دي، نښتي دي او یو له بله نه جلا کیږي. زه تصور کوم چې دسوړ جنګ جریان او زموږ په منطقه کې د پښتونستان

مسئله چې زموږ او د پاکستان ترمنځ يې جنجال خلق کړی ؤ او د امريکې د سياست چې د ډالس وزير خارجې له خوا طرح کېده چې بايد شوروي حتی المقدور په دنيا کې او بيا زموږ په منطقه کې محاصره وي دا دې باعث گرځېدلی چې يوه نوع خارجي نوې لاره يوه نوع نوې موقف گيري دې منځ ته راشي او په دغه نوې موقف گيری کې شايد شاه محمود خان داسې معلومېده چې صحيح سړی نه وي، داؤد خان په دې نوي ترتيب کې به دغه موقف په وړاندې بيايي او دی نوي موقف کې د يموکراسی او آزادۍ ته مجال نه ؤ او په دې چې شوروی سره چې نژدې کېدل شوروي يو ديکتاتوري نظام هلته ؤ نو شايد داسې فکر کېده چې په افغانستان کې هم بايد يو قوي لاس وي شايد عامل يې دا شی وي زه گومان نه کوم چې داخلي عوامل دومره مهم شوي وای چې د هغه په اساس د ډيموکراسۍ حرکت معطل شوی وای په دې چې سره دځينې آزادي گانو بيا دافغانستان په ټولنه کې د روشنفکرانو نفوذ او د سياسي فعالو خلکو نفوذ دومره زيات نه ؤ چې ددې نه دافغانستان د هغه وخت د قدرت مرکز ته د خطر احساس موجود شي.

سردار محمد داؤد خان واک ته ورسيدئ په دې وخت کې افغانستان په پوځي لحاظ کمزوری او اقتصادي مرستي ته هم ضرورت ؤ د دې مرستو لويه برخه په لومړي ځل د شوروي اتحاد څخه تر لاسه شوه، دافغانستان ممتاز ډيپلومات عبدالرحمن پژواک چې ډير کلونه په ملگرو ملتونو کې دافغانستان نماينده پاته

شوی دی وايي چې نه ځله په حساب، د امريکا څخه د مرستې غوښتنه وشوه:

اولينه مراجعه د افغانستان و امريکايانو ته د سردار محمد داؤد خان مرحوم په وخت کې وشوه چې د افغانستان د پروژو سره هم کومک وکړي تعميراتي، د سړکونو او دی خبرو. او هم د تسليحاتو په باره کې د اسلحې په باره کې څه کومک د افغانستان سره د دفاع د پاره وکړي د دې د پاره نه کرتې مراجعه وشوه، امريکايانو ته شپږ کرتې، زه په هغه وخت کې مدير عمومي سياسي وم په وزارت خارجه کې زما په واسطه د حکومت په هدايت مراجعه وشوه امريکايانو ته. او پس له هغه نه دوه وارې د سردار محمد نعيم خان چې معاون د صدارت او وزير خارجه هم ؤ هغه او د ده ورور مرحوم سردار محمد داؤد خان چې صدر اعظم ؤ دوی شخصاً ور ته مراجعات وکړل لاکن د دوی له خوا نه کوم کومک ونه شو چې کومک ونه شو افغانستان مجبور شو چې د بل ځای نه دا کومکونه لاس ته راولي په دې وخت کې ؤ چې د روسانو نه د اخواهش وشو هغو موافقه وکړه چې مونږ دا کومکونه کوو.

ځينې کسان باور لري چې سردار محمد داؤدخان د پلان گذارۍ سيستم رامنځ ته کړ چې د شوروي اتحاد څخه د تقليد يوه نښه وه ولې ډاکټر عبدالصمد حامد وايي چې تر داؤدخان وړاندې هم د پلان گذارۍ سيستم په نظر کې نيول شوی ؤ:

پخوا د دې چې داؤد خان راشي لا د شاه محمود خان په دوره کې

عبدالمجید خان زابلي چی د اقتصاد ملي دګروپونو مشرۇ هغه په یوه سلسله مقالو کې دپلان ګذارۍ سیستم د مزایاوو په هکله خپل نظر او توضیحات ورکړي وو هغه سره هم دا نظرۇ او یو مرکزي قوي قدرت چې مرکزی قوت ددولت دپاره څوک چی غواړي هغې کې د اقتصاد رهنمایي مهم جزدی ددې لحاظه داؤدخان دې شي ته توجه کړې وه لیکن زه فکر کوم چې دشوروي مستقیم تأثیر به البته نهۇ لیکن یو نوع تقلیدي اثر به موجود ۇ چې هغه کې پلان ګذاري دغه کیږي لیکن دشوروي ترڅنګ دهندتأثیر ۇ چې هغوی هم یو نوع پلان ګذاري سیستم لاره، وروسته ناصر دوی چې منځ ته راغلل چی هغوی سره هم افغانستان نژدې اړیکې لرلې هغوی هم یو نوع دسوسیالیزم پروګرام تعقیباوه چې دهغه خصوصیت هم داسې ۇ نو یواځې شوروي دنمونې په حیث نهۇ لیکن کوم کمپ کې چې افغانستان قرار لاره چی هغه دباندونګ دولتونه وو یا دغیر وابسته دولتونو حرکت، نهضت وو چی دهغوی په موسسینو کې افغانستان هم ۇدا ټولی چپې سوسیالستي اقتصادي پالیسی تعقیبولې. لکه هند، لکه مصر، لکه افغانستان لکه اندونیزیا ترسوکارنو یوګوسلاویا تر ټیټو لاندې ټول داهم پکې وو.

# ۱۳
# د سردار محمد داوخان صدارت او عمراني چاري

کله چي سردار محمد داؤدخان صدر اعظم شو نو اداري چارو او دهیواد عمران ته توجه واړول شوه. سید شمس الدین مجروح چي لوړ رتبه وزیر پاته شوی دی وایي چې سردار محمد داؤد خان جدي ؤ او عمراني چاروته یې ښه توجه کړې وه:

کاریگر سړی ؤ د فعالیت او عمران په لحاظ باندې په ملک کې زیات کار وشو، لاکن د طبیعت په لحاظ باندې یې له خپل تره سره کم فرق لاره،

محمد هاشم خان سره، سخت ګیره سړی ؤ عسکري مزاجه سړی ؤ او ټول کارونه یې چې وکړه ورکې قابل افتخار کارونه هم دي دافغانستان اردو جوړول دي، عسکر قوي کول دي او ډېر ښه عسکري ماشین جوړ شو آبادي ډېره وشوه، سړکونه او عمارتونه او بعضې نور اصلاحات اداري او دامنځ ته راغلل، دې کې هیڅ شک نشته.

ډاکټر محمدحسن شرق چې د سردار محمد داؤد خان نږدی ملګری او دصدارت په وخت کې د قلم مخصوص مدیر پاتې شوی دی د دې دورې په فعالیتونو پوره خبر دی:

دمثال په ډول زه تاسو ته ویلی شم کله چې په ۱۳۳۲ کال کې محمد داؤد صدر اعظم شو په ټول افغانستان کې یوولس کیلو متره قیر ریزي شوی سړک موجود ؤ او کله یې چې د ۱۳٤۱ کال په پای کې استعفی وکړه نو په هغه وخت کې په افغانستان کې دوه زره کیلو متره قیرریزي شوی سړک موجود ؤ، دښوونې او روزنې په برخه کې تاسو ته وایم کله چې سردار محمد داؤد خان صدراعظم شو په پوهنتون کې د محصلینو شمېر یوازې څلور سوه تنو ته رسیدئ خود محمدداؤد دصدارت دلس کلنې دورې په وروستي کال کې په پوهنتون کې دمحصلانو شمیر درې زره تنو ته زیات شو په اقتصادي ډګر کې دافغانیو ارزښت لوړ شو چې د یوه امریکایي ډالر نرخ ۳۸ افغانیو ته راښکته شو.

سردار محمد داؤد خان مالی او اقتصادي چاری عبدالملک خان عبدالرحیم

زي ته سپارلي وې چې خپله زده کړه يې په ترکيه کې کړې وه عبدالملک خان وکولای شول چې د هېواد مالي او اقتصادي چارې په ښه توګه سمبالې کړي ولې دی وزارت دومره دوام ونکړ او د کودتا په تور په زندان کې واچول شو. زموږ همکار يعقوب کاکړ تر ليرې کيدو لږ وخت وړاندې عبدالرحيم زي په لندن کې ليدلی ؤ:

ښاغلی عبدالملک عبدالرحيمزی د افغانستان وزير ماليه د امريکا څخه کابل ته د تلو په وخت کې د يو دوو ورځو د پاره په لندن کې پاته شو ښاغلی حکيمي د ده مرستيال ؤ ما ته يې په بانک کې تيلفون وکړ چې که زه هوټل ته ورشم او د ښاغلی عبدالرحيم زي سره ووينم. عبدالرحيم زي زما څخه غوښتنه وکړه چې که د لندن و تاريخي ځايونو ته لکه د انګلستان بانک ته دی بوزم خو لومړی يی غوښتنه وکړه چې که يو ترکي رستورانت ته يی د ډوډۍ له پاره بوزم هغه ؤ چی دی مې په لندن کې د استانبول نامي رستورانت ته د غرمې ډوډۍ له پاره بوتلئ ډوډۍ ترخوړلو وروسته موږ بيرته هوټل ته ولاړو خو کله چې هوټل ته ورسيدو ډاکټر نجيب الله د افغانستان سفير په هوټل کې د ده د ملاقات له پاره راغلی ؤ عبدالرحيم زي زما څخه معذرت وغوښت چې اوس مصروف يم او که خدای وکړي بيا به بل وخت د لندن تاريخی ځايونه ګورو، د وداع په وخت کې د ده مرستيال ښاغلي حکيمي په خصوصي توګه راته وويل چې ښايي وکابل ته تر رسيدو وروسته به دی د وزارت چوکۍ د لاسه ورکړي هغسې هم وشوه کله

چې دی کابل ته ورسیدی موقوفه شو.

دعبدالملک خان کشر ورور عبدالاحمد عبدالرحیم زی چې په ویانا کې په زده کړه بوخت ؤ وایي چې سردار محمد داؤد خان هغه هم په خپل پروګرام کې نیولی ؤ:

داؤد خان چې دلته راغلی ؤ ماته یې وویل چې ما په خپل پروګرام کې د پولیسو په څانګه کې نیولی یې که ته په پولیسو کې وې په خاصه دلچسپه ده او پس له هغه څخه چې تنها هم راسره وړغیدئ وې ویل چې ته به راځې افغانستان ته باید یواځې پولیس مدنظر ونه نیسې بلکه سیستم د اداري دافغانستان چې وزارت داخله دی ټول مدنظر ونیسې او وروسته چې دلته یحیی خان طرزي سفیر شوی ؤهغه راڅخه خواهش وکړ چې تاسې به افغانستان ته له خیره راځئ زما اوس آخري دوری دسفارت دي زه وزیر هم وم سفیر هم یم زه قسم درته خورم چې زه اعلیحضرت ته دا ټول لیکم له محمود حبیبي سره می هم خبرې وکړې وایي هغه هم آماده دی تاسې هم ولاړشئ تاسې ته لویې چوکی دي هلته، لوی مسوؤلیت دی، ما مخ ورته راواړاوه ماویل نظر خو دې ډیر ښه دی اما یوشی دی چې ماته یې په مونشن کې وویل چې تاسې لاړشئ ویانا ته چې پاچا له تاسې نه خطر حس کاوه اوس څنګه یو دم ماته افغانستان ضرورت لري چې هلته یې خطر راڅخه حس کاوه او دوهم سوال زما دادی چې زما ورونه په زندان کې دي چې هغو دومره وطن ته کار وکاوه زه دهغو دپښو خاوروته هم نشم

رسیدلی هغوی یې داسې تقدیر کړل نو ما به څنګه تقدیر کړي په دی کاروکې. دامې ورته وویل . دطرزی په خپله خدای دې وبخښې اوس که ژوندی نه وي اوښکې یې په سترګوکې راغلې، ماته یې وویل چې دا بدبختي دافغانستان ده نه دتاسې چې داسې حال راغلی دی، **ما وویل** هغه مسؤلین دې خدای ته جواب ورکوي.

داوخت ؤ چې دشوروې سره اړیکې ښې شوې دشوروي اتحاد په مرسته په افغانستان کې ډیرو پروژو په فعالیت پیل وکړ. د پروژو تر څنګ په پوځی ډګر کې هم دشوروی مرسته ډیره شوه دسردارد محمد داؤد خان مخالفان وایي چې همدا وخت ؤ چې په افغانستان کې د شوروي نفوذ پیل شو ولې قدرت الله حداد وایي چې هغه مجبوره ؤ او بله لاره یې نه درلوده:

په دې وخت کې دا دامریکې کومک له پاکستان سره زیات شو نظامي او اقتصادي نو افغانستان ته په یوه حساب تقریباً بله لاره نه وه پاتې ځکه چې هم دمملکت دودانۍ دپاره هم دچلیدلو دپاره اوهم مثلاً یو چا سره چې مونږ اوس یوه دعوه شروع کړله دهغه اوددې مملکت دومره زیات تفاوت داټولې خبرې وې چې دا مشورت یې ورکاوه که روسان بې له قیدوشرطه له افغانستان سره کومک کوي نوودې کړي نو په دې خاطر داؤدخان یوه لویه جرګه دایره کړله چې په لویه جرګه کې دغه دبې قید و شرطه سیاسي خبره راغله او روسانو داومنله چې مونږ دابې قید و شرطه کومک کوو نو له هغه ځایه څخه دا کومکونه شروع شول نو داچې یعنی که

ظاهرخان او داؤدخان دانه غوښتل چې روسان دې افغانستان ته راشي زه په دې حصه کې دوی دواړه ملامت نه بولم په دې چې یعنی هغه نیکسن د امریکا مرستیال جمهور رئیس چې راغلی ؤ افغانستان ته دغه خبره یې کړې وه چې دا افغانستان خلک ټول غله دي او دا خبره تر اوسه پورې دافغانانو له زړه نه ده وتلې کومک یې هم ونه کړ نو په دغه ترتیب سره یعني ظاهرخان او داؤد خان به ډیرې غلطۍ درلودې په هغه کې هیڅ شک نشته مگر دغه آرزو به یې نه درلوده او دا یو مجبوریت ؤ او بالآخره پاکستان په مونږه لاره وتړله دغه لاره د ترانزیت وتړل شوه مالونه په بندر کې پاته شول په کراچۍ کې، دغلته د خلکو صادراتی مالونه چې وو په زرهاوو ټنه ممیز او نور شیان دا ټول خراب شول تجارت بیخي سقوط وکړ ختی هغه څوک چې تولید یې کاوه لکه دهقانان هغه بیکاره پاته شول نو دلته خو یې صاحب مور. پاک دیوال ته ودرولو دا بالکل طبیعي خبره ده چې مثلاً که ټولې دروازې سړی په ځان باندې تړلې ووینې نو سړی له کړکۍ خیز کوي چاره نشته.

دسردار محمد داؤد خان په وخت کې دشوروي سره اړیکې ښې ولې دپاکستان سره اړیکې خرابې شوې، دافغانستان پخوانی جمهور رئیس پروفیسر صبغت الله مجددي وایي چې دی هم د شوروي دمخالفت له کبله په زندان کې اچول شوی ؤ:

داؤد خان صدراعظم ؤ نو په هغه وخت کې دروسانو نفوذ هم هلته

شروع شوی ؤ ، په افغانستان کې دوی خپل نفوذ وړاندې کړی ؤ او ددوی نماینده ګان او متخصصین او انجنیران او ډاکتران داراتلل نو فعالیت ددوی شروع شو دمسلمانانو په مقابل کې بیا کمونیستانوزه تهدید کړم د سنه ۱۹۵۹ په اوایلو کې یعنی چې سنه ۱۳۳۸ وه په هغه وخت کې یې تهدید کړم دا ببرک کارمل او خیبر راغئ دده دخولې نه یې ماته احوال راکړچې تاسې یواځینی سړی یئ په افغانستان کې چې زمونږ په مقابل کې تاسو کارکوئ او تبلیغات کوئ که موږ سره جوړ شې نو چې هر څه غواړې مونږ تاسو ته حاضر یو چې دریې کړو هم هغه ؤ چې خبره یې جوړه کړه حکومت ته یې وویل چې دا خروسچوف راځي افغانستان ته خروسچوف وژني او حکومت بدون د کومې محاکمې او پوښتنې نه دحوت میاشت وو چې دکوره یې راوویستم بندي یې کړم په یوه تیاره کوټه کې یې واچولم چې په یو کال کې مالرنه دی لیدلی په دری نیم کاله کې مې خپل اولاد هم نه ؤ لیدلی.

سیدقاسم رښتیا چې د سردار محمد داؤدخان په وخت کې د کابینې غړی او دمطبوعاتو مستقل رئیس پاتی شوی دی وایي چې په دې دوره کې اجتماعي چارو ته دومره توجه نه وه شوی:

زه په اخري کلو کې وزیر وم دمطبوعاتو ، رئیس مستقل د مطبوعاتو وم په کابینې کې وم او د داؤد خان په وخت کې اقتصادي مسایلو ترجیح درلوده او سیاست داخلي خصوصاً اجتماعي چارو ته

چندان توجه نه وه. مور هم گویا په کابینه کې پر هغه باندې ډیرې خبرې نه وې کړې یوازې یې دښځې دحجاب په حصه کې یو ابتکار وکړ، په هغه کې هم بې له دې چې له چاسره مشوره وکړي ده په خپله کړي وو او هغه گویا په آخره کې کامیاب شو او تر یوې اندازې پورې هغه خوب، هغه آرزو چې امان الله خان درلوده دیرش کاله وروسته د داؤدخان په ذریعه بیا عملي شوه لاکن په اجتماعي مسایلو کې داؤدخان تر آخره پورې په لس کاله کې چې صدراعظم ؤ په دې حصه کې کوم داسې یو گام نه دی اخیستی.

دافغانستان دچارولیکوال لویس دوپری په خپل کتاب کې وایي چې دافغانستان په تاریخ کې دا دوره بې حده مهمه او ۱۹۵۹ کال دیادولو وړ دی دهمدې کال په جشن کې شاهي کورنۍ او دحکومت غړي دخپلو میرمنو سره یوځای راوتلی وو چې ورکې ښځوته اجازه ورکړل شوې وه چې خپلې چادرۍ لیرې کړي .که په کابل کې دا پروگرام کامیابه ؤ ولې په کندهار کې دپوره مخالفت سره مخامخ شو، بلوا جوړه شوه چې ورکې ډیر خلک مړه او ډیر نور بندیان شول.

# ۱٤

# د سردار محمد داود خان استعفی

ډاکټر عبدالصمد حامد وايي چې دافغانستان خلکوته دډيموکراسۍ ورځې وريا دې وې او نوريې دډيکتاتورۍ زغم نه درلودئ.

په افغانستان کې څه بدلون راغلی ؤ پس له دې چې دشاه محمود خان لنډه دوره ختمه شوه په داؤدخان باندې داتور لګيدلی ؤ چی عامل دډيموکراسۍ د شنډيدلو دی ؤ نو کوم هغه خلک چې د ډيموکراسۍ سره يې علاقه لرله يا يې له سياسي آزادی سره علاقه لرله دوی پرداؤدخان باندې نشو تړليدلی بيرته چې يو حرکت راشي دوهم په خارجي سياست

کې هم تقریباً بدلون راغلی ؤ مرحله شدیده دسوړ جنګ چې محصور کول دشوروی په منطقه کې ؤ هغه دوره نسبتاً پای ته رسیدلې او شوروي بیر ته فعالیده نو دلته هم د داؤدخان شخصیت ته ډیر ضرورت نه ؤ او دریم عامل به دا وو چې په اداري مسئله کې هم ورو ورو کنټرول دلاسه تلو ځینې وقایع شوي وو په سرحدي مسایلو کې دباجوړ مسئله وه ځینی خلک وژل کیدل ، امنیت خرابیدئ داشیان به ددې باعث ګرځیدل. لیکن زه فکر کوم چې دلته په خپله پخواني پاچا هم علاقه لرله چې یو دده په وخت کې نسبتاً داسې آزاده دوره دې راشي چې دخلکو سیاسي آزادۍ ترلاسه شي او په دې افتخار کې دی هم شامل شي او هلته زه شخصي معلومات هم لرم چې په دې کې ده ډیر وخت نه پخپله هم تماسونه دخلکو سره نیول.

**د ډاکټر حامد تر ځنګ نور خلک هم باور لري چې دافغانستان پخواني پاچا محمدظاهرشاه په خپله علاقه لرله چې دیکتاتوري ختمه او ډیموکراسي ته لاره خلاصه کړي خو دی په خپله وایي چې دافغانستان نورو شاهانو هم په دې لاره کې هڅه کړیده:**

باید تاسې ته ووایم چې نه یواځې زما په دور کې بلکه هروخت او په هره زمانه کې او په خاصه توګه په دې وروستیو وختو کې دافغانستان دباچاهانو سره دا خیال ؤ چې په هیواد کې ډیموکراسي او اصلاحات

راشي خو هغو ته شرايط مساعد نه وو زما د پاچاهۍ په دوره کې د تعليم يافته ځوانانو شمير په هيواد کې زيات شو او دوی وکولای شول چې د دغو هيلو د پرمختګ په لور کې کار وکړي او په دې ترتيب سره د هيواد اساسي قانون جوړ شو او د ډيموکراسۍ دور پيل شو او د هيواد درې ګونې قواوې سره جلا شوې او دا يو نيک اقدام و ځينې ګوت نيونه کوي چې دا شرايط هسې هم را تلل خو که بهرنۍ تحريکات د دې سبب شي چې يو نيک اقدام له مينځه لاړ شي دا بيله خبره ده.

سيد قاسم رښتيا وايي چې د داؤد خان د صدارت د دورې په پای کې نارضايتي راغلې وه:

په آخر د دورې د داؤدخان کی دا افکار پيدا شوي وو، دا نهضتونه پيدا شوي وو نارضايتي ډېره وه، چې ولې په افغانستان کې دا اصلاحات نه راځي؟ ولې په افغانستان کې آزادي نه راځي؟ ولی په افغانستان کې آزادي د بيان نه راځي؟ ولې د آزادې شوری انتخابات نشته؟ نو دلته دا په صورت محرک موجود ؤ لاکن ظاهر شوی نه ؤ دلته دوه کارونه هم وشول چې ظاهرشاه يې مجبور کړ چې داؤدخان ليرې کړي يو دليل دا وو چې ده د پښتونستان په حصه کې ده داسې قدمونه واخيستل چې بالاخره په قطع مناسبات منجر شول د افغانستان او پاکستان ترمنځ او دلته په دې هم

کفایت و نه کا په داخلي صحنه کې هم ګویا وضعیت ډیر نازک شو ځکه
چې د خلکو شکایتونه زیات وو چې داؤد خان ګویا چا ته موقع نه ورکوي او
ګویا په محدوده حلقه کې محصور دی.

د داخلي پالیسۍ ترڅنګ د ګاونډیو هیوادونو سره اړیکې مهمې وې،
سیدشمس الدین مجروح وایي چې دافغانستان او پاکستان تر منځ سړه جګړه روانه
وه او دا ترتیب نور نه چلیدئ:

په هغه باندې دوه دلیله وو یو دا دی چې دافغانستان او پاکستان
ترمنځ اختلاف او جنګ سرد روان وو او د پاکستان رادیو او اخبارونو
دافغانستان په شخصي نظام باندې حملې کولې، راډیوګانو ورپسې
خبرې کولې په خلکو کې یو قسم عکس العمل پیدا شو دنظام په مقابل
کې او د دنیا سره هم زموږ روابط، ارتباطات وو قرضې مو غوښتلې،
پیسې مو غوښتلې، کومکونه موغوښتل نو هغوی هم داسې فکر کوئ
چې داکو مکونه له ملتونو سره کیږي یوائې دحکومتونو او داشخاصو
سره خونه کیږي که نه باید یو داسې نماینده ګي وکړای شي یو څوک چې
خارجي کومکونه غواړي یا خارجي روابط ساتي یا خارجي معاملات
کوي په اصطلاح نو په دې لحاظ دخارج په لحاظ او دداخل په لحاظ باندې
یو تحول ته ضرورت لیدل کیدئ ددې ضرورت تشخیص وشو او ددې

ضرورت تشخیص په خپله ظاهرشاه کړی ؤد دې تشخیص ضرورت ته داؤدخان هم ملتفت و دا مسایل وو په هغه وخت کې زه وزیر وم یو څو کسه وزیران وو زیات نه ؤ په هغه جمله کې یو زه وم، یو ډاکټر محمد یوسف خان ؤ ډاکټر علي احمدخان وزیر معارف ؤ او علي محمد خان دا یو پنځه شپږ کسه وو چې پردې باندې کله چې سردار محمد نعیم خان وزیر خارجه ؤ په هغه وخت کې او معاون صدارت هم ؤ د سردار محمد داؤد خان کشر ورور دا پنځه شپږ کسه کله کله په دې باندې راغونډیدو د محمد داؤدخان په کاله کې یا د محمد نعیم خان په کاله کې او په دې مو خبرې کولې چې دا تحول راولو. په څه صورت یې راولو سردار محمد داؤدخان په دې شکل ؤ چې په افغانستان کې به لویه جرگه راغونډه کړو خلکو ته به وواېو چې تاسو څه غواړئ پاچاهي غواړئ؟ په څه ترتیب یې غواړئ؟ یا جمهوریت غواړئ؟ پاچاهي دي نه وی جمهوریت دې وي په دې صراحت باندې په دې اندازه هرڅه چې خلکو وویل هغسې به وکړو.

داسې ښکاري چې پر جمهوري نظام دلویې جرگې فیصله عملي نه وه سیدشمس الدین مجروح هم د دې خبرې سره موافق دی او وایې چې دا خبره یو مخ عملي نه وه یوازنی عملي کار داؤ چې شاهي مشروطه حکومت او داساسي قانون مسوده جوړه شي:

زما یاد یږي ملګرو زمانه تائید کړی دی دا یوازې زما نظر نه ؤ لاکن زه په دې عقیده یم چې اول کرت د پاره دا نظر ما ورته ووایه نورو ملګرو زما تائید وکړو زه په دې پوهیدم چې دا خبره صحیح نه ده که تاسې محض غواړئ چې خلکو ته یو ظاهر داري وکړئ نو لویه جرګه به راغونډه کړئ تول به ووایئ تخت و بخت برقرار، موږ پاچاهي غواړو داسې یو شی به ترې نه راوځي. که تاسې رښتیا غواړئ یو حرکت وکړئ د قانون اساسي یوه مسوده جوړه کړئ چې په هغه کې مثلاً د شوری قدرت او صلاحیت معلوم وي او د صدراعظم مسئوولیت د شوری په مقابل کې معلوم وي را یه اعتماد واخلي شوری یې تائید وکاندې که شوری یې تائید نه کاوه برطرف کیږي به. پاچاهي او حکومت بیل کړئ په نور مملکت کې ډیرې خلاګانې قانوني شته دي دا قوانین راغونډ شي په دې باندې باید کار وشي او د غسې یو قانون اساسي اول وړاندې کړئ او که خلکو قبول کړ تر هغه وروسته به اصلاحات شروع شي د قانون اساسي د مسودې کمیټه وه په هغه کې زه د کمیټې رئیس وم او په هغه کې متخصصین هم وو د حقوق اساسي حتی یو خارجي مشاور هم مونږ لاره د فرانسی نه مو دعوت کړی ؤ لوی سړی ؤ پوه سړی ؤ، حتی د الجزایر پر قانون باندې یې هم کار کړی ؤ له بعضې نورو اسلامي ممالکو سره هم آشنا ؤ هغه مو غوښتی ؤ. بیا دا قانون

اساسي چې جوړ شو دقانون اساسي خو يو هدف دا ؤ د پاچاهي كورنۍ
څخه بايد صدر اعظم ونه اوسي كه صدراعظم دپاچا سره تعلق ولري
مشكل دى چې خلک هغه بيا مسوول كاندې برطرفه يا دمحاكمې لاندې
ونيسي نو سردار محمد داؤدخان مستعفي شو خوشحاله نه ؤ خوشحاله په
دې نه ؤ چې سردارمحمد داؤدخان دا فكرنه كاوه چې گني دى دپاچاهي
كورنۍ په حيث باندې تر دې تعريف لاندې راشي چې دى د پاچا د كورنۍ
دى. ډاكټر يوسف خان او داخلک منځ ته راغلل او زه دوزير عدليې په
حيث دقانون اساسي دكميټې درئيس په حيث باندې تعيين شوم او په دوو
كالو كې مو داشې تكميل كړ.

سردار محمد داؤدخان مستعفي شو ، عبدالحميد مبارز چې په همدې وخت
كې د مطبوعاتو په وزارت كې لوړ رتبه مامور ؤ وايي چې يوه ورځ وروسته دخپلو
نورو همكارانو سره يوځاى دسردار محمد نعيم خان كورته ورغى:

هغه ورځ چې سردار محمد داؤدخان دصدارت د مقامه استعفى وكړه
په داسبا ورځ عبدالرشيد لطيفي، مولانا ارشاد ، محمد ابراهيم عباسي او
زه په خپله دسردار محمد نعيم خان كورته ورغلو چې دبهرنيو چارو وزير ؤ
داچې دافغانستان مطبوعات دبهرنيو چارو دوزارت تر اداري او كنټرول
لاندې وو دبلې خوا دده وظيفه هم پاى ته رسيدلې وه نو دښاغلي لطيفي

دغوښتنې سره سم موږ و محمد نعیم خان ته ورغلو سردار محمد نعیم خان وموږ ته په خپله هرڅه روښانه کړه ده وموږ ته وویل چې افغانستان ته ټوله دنیا دیوه فیوډالي شاهي نه پر ته په بل نظرنه ګوري موږ ددې دپاره چې ددې مونارشي نه چې په فیوډالي بنسټ ولاړه ده خلاص شو نو پریکړه مو وکړه چې حکومت استعفی وکړي او داساسي قانون د جوړولو او وړاندې کولو دپاره لاره خلاصه شي چې په هیواد کې یوډول دیموکراسي رامنځ ته شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږم څپرکی

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱۵

## انتقالي دوره

که څه هم اعلیحضرت امان الله خان او وروسته بیا محمدنادرشاه اساسي قانون جوړ کړ او ترهمدې دورې پورې پاته ؤ ولی عزیز نعیم وایي چې دا اساسي قانون د وروستي وخت د تقاضاؤ سره برابر نه ؤ:

> د ۱۹۳۱ ع کال اساسي قانون د یو وخت له پاره جوړ شوی ؤ او د وروستي وخت د تقاضا وو سره برابر نه ؤ د دې کبله دا احساس همیشه د سردار محمد داؤد خان سره موجود ؤ که چېرې د لوړ څخه حرکت رانشي او د کښته څخه منځ ته راشي نو هغه به په ډېر بد شکل منځ ته راشي دا

دلیل ؤ چې سردار داؤدخان به همیشه د خپلو وزیرانو سره صلاح مشورې او خبرې کولې نو همدا دلیل ؤ چې سردار داؤدخان اعلیحضرت محمدظاهرشاه ته وړاندیز وکړ چې شاهي مشروطه نظام جوړشي او دیوه اساسي قانون په رڼاکې سلطنت او حکومت سره جلا شي ډېر وخت د دې وړاندیزونو جواب ونه ویل شو نو ځکه سردار محمد داؤدخان مستعفي شو په هر حال د هغه استعفی ومنل شوه او د نوي صدراعظم په هکله یې نظر وغوښتل شو یو دهغو کسانو ځخه چې داؤدخان د خپل جانشین په توګه معرفي کړی ؤ چې د دې کار تر عهده وتلی شي هغه ډاکټر محمد یوسف ؤ. او وروسته ډاکټر یوسف خان دې کارته وګومارل شو خو کله چې نوی حکومت جوړ شو یوه بله پالیسي یې غوره کړه په تبلیغاتو کې د داؤدخان پر ضد خبرې وې او پخوانی دوره د استبداد د دورې په نوم یاده شوه او د ډاکټر یوسف حکومت دډیموکراسی عصرو بلل شو.

عبدالحمید مبارز چې ډاکتر محمدیوسف دنژدې پیژندئ وایي چې د هغه دلیاقت له کبله نوموړی دې مقام ته ورسیدئ:

ډاکټر محمد یوسف دسردار محمد داؤدخان د اولې دورې یو ډیر پوه اولایق وزیر ؤ دی پیژندل شوی شخصیت ؤ، بل داچې دی دسردارمحمد داؤد او دپاچا د ډاډور سړی ؤ. له دې کبله په هغه مهال فکر کیدئ چې

ددوو کسانو څخه به بنايي چې يو دصدر اعظمۍ د پاره وټاکل شي چې يو ډاکټر يوسف او بل سړی ډاکټر محمدظاهر ؤ فکر کوم چې ډاکټرظاهر دابلنه ونه منله خو ډاکټر يوسف دابلنه ومنله چې صدراعظم شي.

ډاکټر محمديوسف خان وايي چې پخواني صدراعظمان دسلطنتي کورنۍ خلک وو او په دې کارسره نورهم دهغه کارگران شوی ؤ:

انتقالي دوره زما دپاره آسان کارنه ؤ ،زما دمخه صدراعظمان دسلطنتي کورنۍ څخه وو او دا دهغوی دقدرت اصلي منبع وه کله چې داساسي قانون په اساس حکومت د سلطنتي کورنۍ څخه جلا شونو صدراعظم بايد دحزبي لارې او دخلکو په ملاتړ راغلی وای ولې په هغه وخت کې احزاب نه وو او ملي پشتيباني په منظم ډول نه وه موجوده دانتقالي حکومت دقدرت يوائينی منبع دهغوی کار او دسلطنت اعتماد ؤ خوبايد داخبره وکړو چې په دی لاره کې مشکلات موجود وو په دې دوره کې پاچا تجويز وکړ چې اساسي قانون جوړ شي نو په دې لاره کې يې مسووليت زما په غاړه راواچاوه چې په انتقالي دوره کې اساسي قانون جوړ کړو هغه مسئلې لکه لويه جرگه چې په شاه پورې مربوط وي سرته يې ورسولې او لويه جرگه يې راوغوښته.

پوهاند جاويد وايي چې خلک ځکه خوشحاله وو چې دصدارت څوکۍ

د شاهي کورنۍ د انحصار څخه را وتلې وه:

د انتقالي دورې په راتګ خلق د دې امله خوشحال وو چې نوی قانون اساسي منځ ته راغی په دې موجب د حکومت تصدي یا د صدارت څوکۍ د شاهي کورنۍ څخه خلاص او خلقو ته وسپارل شوه یعني دولت د حکومت څخه جلا شو څرنګه چې تاسې خبر یاست د میزان په نهم په ۱۳٤۳ کال کې د افغانستان نوی اساسي قانون تصویب شو.

ډاکټر عبدالصمد حامد چې د دې اساسي قانون د جوړېدلو د کمیټې غړی ؤ وایي چې په اساسي قانون کې افغاني دود او د عصر غوښتنې په نظر کې نیول شوې وې:

په دې قانون اساسي کې کوشش کېده چې د یوې خوا نه د افغانستان ثقافتي او د خلکو د علاقې او واقعیتونو په بنا باید هر نظام چې راځي د اسلام په اصولو ولاړ نظام وي د بلې خوا نه د افغانستان نورې عنعنې چې په هغه کې شاهي سیستم ؤ او لویه جرګه وه د دې شانو ته هم ځای ورکړ شي او یو چوکاټ د دغه خصوصیت په چوکاټ کې طرح شي د بلې خوا نه باید د دې قانون اساسي په چوکاټ کې نوي اوضاع د جهان او د سبا ضرورتونو ته هم باید مثبت ځوابونه ورکړل شي او داسې یوه لاره دې پیدا شي چې د اسلام د اصولو په چوکاټ کې خلکو ته په سیاسي فعالیت کې د

ونډې اخیستلو مجال میسر شي بې له دې چې په دې بهانه یا هغې بهانه
یوې خاصې طبقې ته د قدرت انحصار یا اجاره ور تر لاسه شي. دا اصلي
تفکر ؤ چې ددې تفکر نتیجه داوه چې د یوې خوانه باید آزادي ګانې راشي
د بلې خوانه دې شاهي کورنۍ په سیاست کې ونډه وانخلي خپله پاچاته
البته وظایف ترغاړه شوي وو.

دا اساسي قانون په هغه لویه جرګه کې تصویب شو چې په ۱۳۴۳ هـ ش
کال کې د میزان په میاشت کې راغوښتل شوې وه ډاکټر محمد یوسف خان وایي
چې دا لویه جرګه آزاده او ورکې مداخله نه ده شوې:

تاسو ته معلومه ده چې لویه جرګه زموږ عنعنوي مؤسسه ده او لوی
کارونه باید په لویه جرګه کې اجرا شي نن ورځ هم زه دلویې جرګې
طرفداریم چې په افغانستان کې جوړه شي او د نن ورځې مسئلې حل کړي
په هغه وخت کې یوه آزاده لویه جرګه انتخاب شوه د حکومت مداخله ډیره
کمه وه په حقیقت کې موږ هیڅ مداخله ونه کړه که چیرې مداخله شوې وي
نو په هغه زه نه یم خبر په دې جرګه کې د هیواد په هکله ډیرې آزادانه خبرې
وشوې په دې لویه جرګه کې اساسي قانون درایو په اکثریت پاس شو.

د نوي اساسي قانون له مخې انتخابات سر ته ورسیدل اولسي جرګه جوړه
شوه او ډاکټر محمدیوسف خان د صدراعظم په توګه وټاکل شو ترڅو د پارلمان څخه

داعتماد رایه ترلاسه کړي. میرمن معصومه وردک په دې وخت کې په اولسي جرگه کې یوه فعاله وکیله وه:

په شوری کې کوشش کیدئ چې رایی علني وي او مستقیمې وي، حکومت ته چې رایې ورکول کیږي باید علني او مستقیمې وي مگر ځینی چپیان وو چې هغوی کوشش کاوه چې رایې سري وي. ولې هغو دمخه، پیش له انتخاباتو څخه هغو دحکومت سره تماس نه نیولي وو چې که تاسې موږ سره کومک وکړئ چې وکیلان شو بیا په رایه کې ستاسو سره موږ کومک کوو مگر ظاهراً موږ له تاسو سره مخالفت کوو نو په دې خاطر دغه موضوع شوه چې رایي علني وي یا سري وي پر دغه موضوع باندې یو کش مکش ؤ په شوری کې عسکر راغلل د ننه شوراته، وکیلانو وویل چې عسکرو او پولیسو ته ضرورت نشته باید دوی ووځي بیا فیصله وشوه چې ښه رایه به سري وي او حکومت دې راشي سامعین دې رانشي د ننه په شوری کې دباندې به لاوډسپیکرونه ودرول شي خلک به خپلې خبرې وکړي کله چې سهار موږ راغلو په شوری کې ناست وو چې فیرونه شروع شول او د دریم دعقرب حادثه وشوه.

ډاکټر محمدیوسف خان وایي چې دده په مقابل کې فعالیت کمونیستانو او هغو کسانو پیل کړی ؤ چې اساسي قانون یې په گټه نه ؤ:

تاسو ته معلومه ده کله چې زه د وخت د پاچا له خوا د صدراعظم په توګه انتخاب شوم باید د ملي شورى څخه مې د اعتماد رایه ترلاسه کړې واى کله چې د نوي اساسي قانون له مخې اولسي جرګه او مشرانو جرګه جوړه شوه نو په د غه وخت کې په پارلمان کې تحریکات او لاس وهنه پیل شوه د اتحریک د هغو کسانو له خوا پیل شو چې اساسي قانون یې په تاوان او یا دا چې زه یې په شخصي او یا د کورنۍ په تاوان وم. تاسو ته باید و وایم په هغه ورځ چې زما حکومت د اولسي جرګې څخه د اعتماد رایه غوښته د اولسي جرګې دروازې خلاصې وې هغه محصلین چې د کمونستانو له خواا غواشوي وود اولسې جرګې تالار اشغال کړ او حکومت ته یې موقع ورنه کړه چې د اعتماد رایه واخلي اما یوه ورځ وروسته زه اولسي جرګې ته ورغلم خپل پروګرام مې وړاندې کړ او د کابینې لست مې وړاندې کړی بی له څو کمونستو وکیلانو ټولې اولسي جرګې د اعتماد رایه راکړه.

که د شورى په تالار کې ډاکټر یوسف خان وکولای شول چې د اعتماد رایه ترلاسه کړي ولې د باندې مظاهرې جوړې او د ۳ عقرب پېښه منځ ته راغله چې ورکې څو کسان ووژل شول زمونږ ملګرى اسحق نګارګر په دې وخت کې د پوهنتون استاد او دا ورځې وریادې دي:

کله چې د دریم د عقرب پېښه رامنځ ته شوه او د ډاکټر یوسف خان

حکومت له پښو وغورځیده میوندوال د کابینې په جوړولو مامور شو نو په هغه وخت کې د پوهنتون دځوانانو په منځ کې داسې ډېر تاوتریخوالی لیدل کیده نو میوندوال په خپله کابل پوهنتون ته راغی توره دریشي یې اغوستې وه او دځوانانو له تودو احساساتو سره مخامخ شو او هغوته یې په خطاب کې وویل چې دی به د دریم د عقرب د پیښې مسئولین محاکمه کاندې خو وروسته چې د مسئولینو دا محاکمه ونه شوه نو د پوهنتون ځینی استادان لاړل هلته په صدارت کې یې له میوندوال صاحب سره خبرې وکړې بیا له هغه نه وروسته بیرته د پوهنتون او حکومت مناسبات سره ګډوډ شول او هم هغه مظاهرې او اعتصابات له سره پیل شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ١٦

# اساسي قانون

د ١٣٤٣ کال اساسي قانون داسې یو سند ؤ چې ورکې ډیموکراسي او شاهي مشروطه نظام تضمین شوي ؤ په دې اساسي قانون کې اجرائیه، مقننه او قضائیه قواوې بیلې شوې او پاچا دملي حاکمیت دښکارندوی په توګه وپیژندل شو، داکتر احسان روستا مل تره کی چې یو حقوقدان او دعدلیې وزیر پاتې شوی دی وایي چې دایو پرمخ تللی اساسي قانون ؤ:

دا اساسي قانون دانکشاف په لور دملکونو دمقتضیاتو او شرایطو په

نظرکې نیولو سره دډیموکراسۍ او دبشري حقوقو اکثر اصلونو ته په متن کې ځای ورکړی دی خو دډیرو اړخونو له نظره دجامعې دسیاسي شعور دتکامل له سطحې څخه پورته او دهغه وخت دحاکمه هیئت د سیاسي حوصلې او روحیې نه تریو حده پورې خارج ؤ څرنګه چې په عملي توګه دا ناسازګاري دهغو تعرضاتو او صدماتو په مقابل کې چې پر اساسي قانون باندې وارد شوي دمقاومت دنه کولو په شکل ظاهر شو په بل عبارت د ۱۹٦٤ کال اساسي قانون په داسې شرایطو کې وضع اونافذ شو چې افغاني جامعې دډیموکراسۍ او دهغه دحدبندۍ سره چې ددې سند په وسیله صورت موندلی ؤ په عمل کې پیژندنه درلوده دبیان دآزادۍ نشتوالی، دآزادو جرایدو داجازې عدم موجودیت، داجتماعاتو منع، دسیاسي اوصنفي جمعیتونو نشتوالي، دانساني حقوقو محدودیت، دشخصي مصوونیت نشتوالی، دقضایي مصوونیت نشتوالی او نور دافغاني جامعې مدني او سیاسي فضا ددغه اساسي قانون دانفاذ نه مخکې مختصر تصویر ښیي زما په عقیده ښخوا تردې چې دغه اساسي قانون چې ځینې مهمو موادو یې دلسو کلونو په موده کې د تطبیق امکان پیدا نه کړ تنظیم او نافذ شي لازمه وه چې د ۱۹۳۰ کال داساسي قانون په چوکاټ کې متناسبه او لازمه تیاری نیول کیدای او هغه آزادي او حقوق

چې د ۱۹۳۰ کال د اساسي قانون په چوکاټ کې د خلکو د پاره پیژندل شوی وو په واقعي او عملي توگه رعایت کیدای او برعکس هغه مواد چې د عصر له مقتضیاتو سره یې سازگاري نه درلوده له نظره غورځیدلي وای.

د نا سازگاریو ترڅنگ د ځینو خلکو په خیال په دې اساسي قانون کې د نهمې مادې په اساس پاچا ته ډیر واک ورکړل شوی ؤ. ډاکټر عبدالصمد حامد چې د دې اساسي قانون مسوده جوړه کړې ده وایي چې بله لاره نه وه موجوده:

ځینو خلکو پر دغه نهمې مادې باندي تنقید کاوه، لیکن د افغانستان د هغه وخت دوضعې په بنا چې نه احزاب موجود وو او نه نورې سیاسي بنیې موجودې وې چې هغوی د خلکو د ارادې تمثیل وکړي نو قدرتي بله لاره نه وه غیر له دې چې د سلطنت مقام ته چې عنعنوي ریشه یې لرله ځیني مهم صلاحیتونه لکه اعلان حرب، یا د شوری انحلال یا د لویې جرگې راغوښتنه وسپارل شي مخصوصاً چې اوس گورو چې څومره مشکلات منونږ دې شیانو کی لرو دا چې هره نوی مرجع باید د خلکو له خوا د قبول ورگرځیدلې وای او هغه باید تجربه شوی وای د دې لحاظه دا قانون اساسي مناسبه ؤ لیکن بدبختانه په عمل کې د قانون اساسي د تطبیق کیدلو د پاره بیا کوم کارونه چې باید شوي وای هغه موجود نه وو اول مشکل داؤ چې د افغانستان د سوابقو د لحاظه مدرن تنظیمي سازمانونه موجود نه وو لکه

احزاب او نورې اتحادیې چې دوی دې بیا دسیاسي مرامونو دتحقق دپاره هڅه وکړي او که انحراف چیرته ترلاسه کیږي دهغې په مقابل کې مقاومت وکړي او دوهم هغه ټکي چې دقانون اساسي په طرح کې موجود وو چې په لویه جرګه کې بیا بدبختانه حذف شول هغه دا وو چې باید داحزابو قانون د تقنیني فـرمـان په واسطه دانتـقـالي دورې دحکومت په واسطه لکه دمطبوعاتو دقانون او لکه نوروقوانینو غوندې داجتماعاتو او انتخاباتو قـوانین غـوندې باید داحـزابو قـانون هم وتلی وای چې اول انتـخـابات داحزابو دموجودیت په اساس منځ ته راغلي وای بدبختـانه پـه هر غـرض چې وو دا قـانون بیا حـذف شـو داسې مـحول شـو چې باید داحزابو قـانون دلومړی شوری له خوا وټاکل شي اوهلته هم لکه چې معلومه ده بیا عوامل داسې راغلل چې قانون تر اخره پورې پاس نه شو چې نو نتیجه یې زما په نظر داشوه چې پټ په غیـر مشروع توګه هغه ډلې چې خارجي ارتباطات یې لرل هغوی فعال وو او نور مجال ددې پیدا نشو چې نورې سیاسي ډلې موجودې شي. په آخره کې اخواني حرکتونه هم چې شروع شول هغوی هم تقریباً په عدم مشروعیت کې دعکس العمل په بنا منځ ته راغلل.

**خو پوهاند جاوید ددې اساسي قانون دځینو موادو سره پوره موافقه لري:**

ددې قـانون په څلورویشتـمه مـاده کې راغلي دي چې دپادشاه زوی،

لور، ورور، خور او د دوی ښځې مېړونه او زامن او لوڼې او د پادشا تره او د تره زامن پادشاهي کورنۍ ده. د دولت په رسمي تشکیلاتو کې پادشاهي کورنۍ په پادشاه او ملکه پسې جوخت ځای نیسي د پادشاهي کورنۍ لګښت د پادشاهي لګښتونو په بودجه کې ټاکل کیږي، لقبونه یوائې د پادچاهي کورنۍ له پاره دي او د قانون د حکمونو سره سم ټاکل کیږي د پادشاهي کورنۍ غړي په سیاسي ګوندونو کې ګډون نه کوي او د غه وظیفې په غاړه نه اخلي یو صدارت عظمی یا وزارت دوهم د شوری غړیتوب دریم د ستری محکمی غړیتوب. د پادشاهي کورنۍ غړي خپل حیثیت د پادشاهي کورنۍ د غړو په صفت ترځو چې ژوندي وي ساتي. داخبره یا دا ماده چې یو ډیموکراتیک او مترقي ټکی ؤ دننه په هیواد کې او په بهرنیو محافلو کې د ډیر تود استقبال سره مخامخ شوه متأسفانه سردار داؤدخان په دې مصوبه خوښ نه ؤ.

عزیز نعیم د اساسي قانون دې مادی ته د شک په سترګه کتلي او وايي چې داماده دهغه د پلار او اکا سردار محمد نعیم خان او سردار محمد داؤدخان د منزوي کیدلو په غرض راوړل شوی وه:

د ځینو افواهاتو او خبرو څخه داسې معلومیږي چې ښایي اعلیحضرت دځینو تلقیناتو تر تأثیر لاندې راغلی وي او د سردار محمد

داؤدخان او دهغه دټیم موجودیت یې ځان ته خطریاله او یا کیدای شي

چې دسردارمحمد داؤدخان د دورې ترقي او پیشرفت حسادت ته هڅولی

وي په هر صورت وروسته داسې معلومه شوه چې بنا یي هغی ډلې چې

داساسي قانون مسوده جوړه کړه اعلیحضرت هڅولی وي چې سردار

داؤدخان او سردار محمدنعیم خان منزوي کړي.

د دې اساسي قانون په یوه بله ماده کې ویل شوي دي چې پاچا غیر مسؤول

او واجب الاحترام دی. ډاکټر عبدالصمدحامد وایي چې دا ماده یوه لفظی اشتباه او

باید داسې نه وای:

تنقید ددې لحاظه کیده چې یو د اسلامي نقطې نظره په دې چې هلته

هیڅ انسان کامل مصئونیت نه لري هرڅوک دخپل عمل مسؤول دی او

مخصوصاً صلاحیتونه چې دپاچا سره وي باید مسؤولیت هم ولري دلته

زما په نظر یوه لفظي اشتباه وه مسؤلیتونه دوه خیل مسوؤلیتونه دي یو

سیاسي مسوؤلیتونه دی او یو اخلاقي او ایماني اوقسماً جزايي

مسوؤلیتونه دي. دلته خبره دسیاسي مسؤولیتونو نه وه، سیاسي

مسوؤلیت معمولاً حکومتونه لري چې بیا ترې سلب اعتماد کیږي او دبل

حکومت په واسطه تعویضیږي او دسلطنت په باره کې نو دا مسوؤلیت نه

تطبیقیږي په دې چې داسې نه کیږي چې دیو پاچا څخه سلب اعتماد وشي

بیا بل پاچا دې راشي دا مشکلات لري لیکن په قانون اساسي کې داسې ویل شوي وو چې پاچا د دې صلاحیتونو نه چې په نهمه ماده کې وو د دې قانون اساسي او د نورو قوانینو په چوکاټ کې ترې استفاده کوي او هلته بیا توضیح شوي وو چې مثلاً توشیح د قوانینو دې څنګه وشي؟ اعلان د حرب دې څنګه وشي؟ لویه جرګه دې څنګه دایره شي؟ صدر اعظم دې څنګه تعینیږي؟ دا شیان ټول وو یعني په محدودیت کې وو اما سره د دې هم زما په نظر زه او س اعتراف کوم چې بهتره به دا وای چې د غه ماده اصلاً موجوده نه وای.

عزیز نعیم وايي چې په دې اساسي قانون کې د پاچا اختیارات ډیر او په عمل کې ډیموکراسي نه وه:

دې اساسي قانون په عوض د دې چې په رښتیا یوه د یموکراسي منځ ته راوړي، چې یو مشروطه سلطنت منځ ته راوړي په دې اساسي قانون کې نه په فرضیه کې وینو او نه یې په عمل کې د دې قانون په اساس پاچا ته د صدر اعظم د تعیین، د مشرانو د جرګې د دریمې برخې د انتصاب، د سترې محکمې د قاضیانو او قاضي- القضات د تعینولو او د شورى د انحلال او داسې نورو واک ورکړل شوی ؤ کله چې صلاحیت د ومره وي نو باید مسوؤلیت هم موجود وي خو په قانون اساسي کې پاچا غیر مسؤول او

واجب الاحترام ؤ، صلاحیت د پاچا سره ؤ او صدراعظم صلاحیت نه درلودئ، بلې خوا که وګورو د احزابو، د ولایتي جرګو، د بلدیې او مطبوعاتو قانونه پاس شول ولې پاچا توشیح نه کړل، ډیموکراسی نه په عمل کې وه نه په فرضیه کې.

# ۱۷

# د اولسي جرګې انتخابات

عبدالرحیم هاتف چې په دې وخت کې د اولسي جرګې وکیل پاتې شوی دی، وایي چې دا انتخابات تر ډېرې اندازې آزاد او ورکې مستقیمه مداخله نه وه:

هغه انتخابات چې ما په خپله لیدلي دي په ښاروکې، تقریباً تر ډېرې اندازې بې مداخلې وو. مستقیمه مداخله د هغه زمانې حکومت نه پکې درلوده. غیر مستقیم البته سفارشونه به یې ضرور کړي وي او دا د هغه زمانې پر محلي حکومتو باندې د رنه هم تمامیدله. دا چې د ښارستانو څخه دباندې په اولسوالیو کې څنګه جریان ؤ په هغه کې سړی پوره تضمین نه

شي کولای چې هغه به هم بې د خله ووکه به نه وومګر ضرور په هغوی کې
په لومړی سرکې هم په بعدي دوره کې هم څه مداخلې شوې دي، په هغه
شکل باندې چې سربیره د هغو مداخلو سره سړی په حساب کې ونیسی تر
پخوانیو دوړو مترقي وو.

میرمن معصومه وردک چې د قندهار د معروف ښځه وکیله شوې وه وړپسې
ویل کیدل چې د حکومت په مرسته راغلې ده، ولې دا په خپله دا خبره نه مني:

برخلاف ماته حتی د دولت له خوا په لوړه سطحه خبر راکړل شو چې ته
څنګه قندهار ته ځې؟ هلته خو تلل ډیر خطرناک دي، مخصوصاً هغه چې
دمخ لوڅي په وخت کې په قندهار کې مظاهره وشوه او خلک بندیان شول،
ددې ښځه حتی حکومت هم هراس درلودئ چې نه ویل کیږي ماته کوم
خطر هلته پیدا نه شي مګر خوشبختانه زما قومي ځای په قندهار کې واو
په لویه جرګه کې زما شناخت ؤ چې زه په لویه جرګه کې وم هلته مې خبرې
وکړې په ځینې موضوعاتو باندې هغو ډېرلو خپل تأثیر اچولی ؤ او ضمناً
زما خپل قومي ارتباط ؤ نو زه راغلم اما حکومت او حتی په سطح
دحکومت نه پورته دا تشویش موجود ؤ چې که دا ولاړه شي قندهار ته نه
ویل کیږي چې کوم عکس العمل قندهار یان ورښکاره نه کړي.

دافغانستان پارلمان دا ولسي جرګې او مشرانو جرګې ښځه جوړ شوی ؤ د

اولسي جرگې ټول غړي انتخابي ولې د مشرانو جرگې یوه دریمه سناتوران د پاچا له خوا انتخاب شوي وو. د اولسي جرگې صلاحیت هم ډیر ؤ او حکومت مجبور ؤ چې رایه اعتماد ترې ترلاسه کړي او په خپلو ټولو مهمو چارو کې د شورى موافقه ولري عبدالاحد کرزی چې د اولسي جرگې معین پاته شوی دی وایي چې په اولسي جرگه کې نورې وړې جرگه گۍ هم موجودې وې:

شوری په خپله یعنی د اولسي جرگې په نامه چې یادیدله ځانته یې جرگه گۍ درلودې هغه جرگه گۍ به د پارلمان له مابینه انتخابیدلې مثلاً د تقنین جرگه وه د قوانینو کمسیون، مالی او بودجه ؤ د غسې د وزارت خارجی کمسیون ؤ هر کمسیون ته به د هر ولایت یو یو نفر ورتلئ په ټولو کمسیونو به تقسیم ؤ بیا ټولې لایحې اصولنامې یا بعضې قرار دادونه بودجې هریو چې به راتله هم به مطابق د قانون هغه خپل مربوط کمسیون ته ورتله هغو به وارد واره غور پرکاوه وزیران به یې راغوښتل هغه مربوط وزیران به یې راغوښتل مثال د بودجې کمسیون به د مالیې وزیر راغوښتئ د هغه څخه به یې خپل معلومات کاوه یا هر وزیر به یې را غوښتئ د هر وزارت بودجه به ځان ته راتله د هغو څخه معلومات به یې کاوه چې دا بودجه تاسو څنگه ترتیب کړې ده دې ته څه ضرورت لرئ وزیران هم راتلل ډیر په احترامانه وضعیت به پوښتنې ځینې کیدلې هغو به هم په احترامانه

وضعیت د ډیموکراسۍ سره موافق جوابونه ویل بیا به مربوط کمسیون دا ترتیب کړل خپله فیصله به یې وکړه عمومي مجلس ته به راتله په مجلس کې نو عمده او مهمو مسایلو ته به خپله حکومت راتلئ صدراعظم به یې جواب وایه وزیران به ورسره وو او په داسې کوچنیو موضوعاتو کې هغه مربوط وزیر به راتلئ هغه جواب وایه دفاع به یې کوله خپلې طرحې د خپل قرارداد یا دخپلې بودجې دهرشي جواب به هغو وایه یعني ټول شیان به په ډیموکراتیک اساس برابر وو د دیموکراسۍ د اصولو سره به موافق وو هلته دوې جلسې دسوال وې یوه د استیضاح وه بله دسوال وجواب وپر سوال جواب باندې به رای گیري نه کېدله یعنی دسوال په جلسه کې به دحکومت څخه دیوشي سوال کیدئ او یوه مهمه موضوع که به پیښه شوه په هغه کې به یې له حکومت نه استیضاح کوله بیابه رایه گیري باندې کیدله قانون داؤ چې که به پارلمان تأئید کړی وای دا دحکومت دصدراعظم جوابونه صحیح ؤ خلاص ؤ حکومت او که یې تائید کړې نه وای حکومت سلب اعتماد ؤ.

په دې وخت کې چې ډاکتر عبدالصمد حامد دصدراعظم مرستیال او دپلان وزیر ؤ وایي چې داولسي جرگې غونډې ته ورغلی دی ولې داتگ په آرام خاطر نه ؤ:

هر وزير يا هر حکومت چې شــوری تــه تلئ پــه آرام خـــاطر نــه تلئ.

احساس د نا آرامۍ به ورسره ؤ او دا د ما په نظر ښه شی دی چې يو حکومت هم ځان دومره مقتدر ونه ګڼي چې قاطع تصميم ونيسي او مونږ هم چې تلو تنقيـد په مونږ باندې کيـده او په استـدلال کې هم کله کله له مونږ سره ډير مشکلات وو، وکيـلان که څه هم د تحصيـل له لحاظه اکثر سويه يې جګه نه وه ليکن له دوی سره د کور او کلي تجربه موجوده وه او دوی پوهيدل چې د يو خاص اداري تصميم په عمل کې په نهايت کې څه نتيجه ورکوي او څه نقايص لري د دې لحاظه ډير وخت لګيده چې موږ به ملتفت کيدو او د غه مو کول. زه شخصاً په وزارت پلان کې چې وم نو د پلان خصوصيت داسې ؤ چې دې سره ټولو وکيلانو علاقه نيوله او علاقه هم په دې چې زما محل ته څه شي ورکول کېږي او ولې لږ دي د دې د پاره قناعت ورکول هم مشکل شی وليکن سره د دې هم ما ډيره ښه تجربه لرله په عمومي مجلس کې وزيرانو ته چانس د خبرو لږؤ. معمولاً رئيس د حکومت خبرې کولې ولې کمسيونونو ته به مونږ تلو زما په خيال هوا او فضا اکثراً مثبته وه.

د اولسي جـرګې وکـيـلانو د قـانون ترڅنګ د هيـواد پر نورو چارو هم نظر ساتلی ؤ. ننګ يوسفزی چې د پارلمان وکيل ؤ وايي چې محمود حبيبي د اصلاح د ورځپاڼې د کارتون پر سرسلب اعتماد او د خپل کار څخه ليرې شو:

محمود حبیبی خو په دې لیرې شو چې هغه په هغه وخت کې د اطلاعاتو او کلتور وزیر ؤ او اصلاح د حکومت سرکاري ورځپانه وه او په اصلاح کې یو داسې کارتون یا کاریکاتور چې مونږ ورته وایو هغه چاپ شو چې په هغې کې د اسلام د ستر پیغمبر توهین شوی ؤ د هغه سپکاوی شوی ؤ او پارلمان په دې خبره باندې بد وګڼل او د دې په وجه باندې پارلمان دا سړی لیرې کړ او مات یې کړ او ویې وغورځاوه.

داسې ښکاري چې پارلمان پوره تجربه نلرله ډاکټر عبدالصمد حامد وایي چې خبرې ډیرې ولی فیصلې کمې وې:

واقعاً ډیرې خبرې کیدی تصمیمونه ډیر لږ نیول کیدل مثلاً پر حکومت باندې چې را یه اعتماد کیده شل ورځې خبرې کیدې زما په خیال د دری هفتې پورې هم خبرې اوږدیدې یا قوانین به کله کله نه پاس کیدل یا قراردادونه به نه امضأ کیدل لیکن زه وایم چې په یوه تولنه کې په خپله د دیموکراسۍ مشق داهم یو قوي ملي ارزښت دی چې خپل قیمت لري د دې زده کول او د دې نقش بیله قیمته نه کیږي داسې نه کیږي چې سړی دې هم غازي شي هم شهید شي او هم صحیح سالم کور ته دې راشي قراردادونه دې هم زر روشي او قوانین دې هم زر تصویب شي، خلک دې هم تعامل زده کړي او د افغانستان قانون اساسي و دیموکراسي هم زما په نظر

دافغانستان دخلکو د ارادې نه نشئت نه دی کړی بلکه خارجي سیاست په
دې کې لاس لاره.

که څه هم په نورو هیوادونو کې دا ډول مشکلات موجود وي ولې وصدر
اعظم ته داعتماد رایه دومره وخت نه نیسي خو عبدالرحیم هاتف دځینې
نیمگړتیاؤ پړه پر اساسي قانون اړوي او وایي چې داساسي قانون دتصویب په وخت
کې لږ کمی پاتې ؤ:

یوه خبره داده چې یو څو نقیصې په خپله دقانون اساسي دتصویب په
وخت کې پاته وې یوه داخبره ده چې مثلاً احزاب نه وو په افغانستان کې او
دوه سوه شپاړس نماینده گان په اولسي جرگه کې فقط دری تنه ددست چپي
طرفه څخه په یوه حزب کې موجود وو چې نو دوه سوه دیارلس حزبه کیږي
یعنی هر فرد یو حزب ؤ هغو خپل نظر مستقل وایه او که به دچا سره په
تماس کې راتلئ څه معامله به یې کوله گذشت به یې کاوه او پر یو شي
باندې به یې توافق کاوه نو دا خو را درنه معامله وه دحکومتو دپاره چې
ددغه شوری سره خپل کار پر مخ باندې بوزي په شوری کې په قانون
اساسي کې یوه بله گونگې فقره چې ددوو ژبو رسمیت ؤ او دهغه حدود نه ؤ
معلوم په وروسته کې دلویو جنجالو او دلویو معرکو سبب شوه حتی تر
اوسه پورې هم سرې دهغه آثار لیدلای شي. او داچې حزبونه نه وو ځینې

خلکو چې د دې خبرې چندانې رعايت نه کاوه چې د دې عواقب به څه شی وي مونږ منتظر شوو دې ته چې د احزابو قانون راوځي که نه راوځی د دې رعايت يې نه کاوه د قانون اساسي پر اجمال باندې يې حزبونه بنا کړه خصوصاً د ست چپي ګروپونو د هغو د عمل په نتيجه کې په خپله بيا د ست راستي مذهبي ګروپونه د شورى څخه د باندې ايجاد شول او د غو دواړو انکشاف وکړ د قانون احزاب د نيستى په نسبت باندې په افغانستان کې نيشنالستى، ليبرالستى او نور ملي احزاب، معتدل يا وسطي احزاب منځ ته رانه غله او هغو د پاچاو استيذان او اشارې ته کتل نو هغه خلا تر اوسه پورې باقي پاته ده او دا تر اوسه پورې چې تاسې په افغانستان کې جنجالونه وينئ، د هغه دوو افراطو دوو قطبو د جنګونو نتيجه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱۸

## د خلق ډیموکراتیک گوند

که څه هم په افغانستان کې دحزبونو قانون نه ؤ ولې د ۱۳٤۳ کال په اساسي قانون کې دحزبونو خبره شوې وه د دې قانون په نظر کې نیولو سره دخلق ديموکراتيک گوند دنورمحمد تره کي په مشرتوب په فعاليت پيل وکئ او لومړی کنگره يې په ۱۳٤۳ کال کې جوړه شوه. دافغانستان پخواني صدراعظم سلطانعلي کشتمند په دې کنگره کې گډون کړی ؤ:

موسسه کنگره چې د ۱۹٦٥ کال دجنورۍ دمياشتې په لومړی نيټه جوړه شوه په هغه کې د رابلل شوو دير شو تنو څخه اووه ويشت کسانو

ګډون کړی ؤ چې يو دهغو څخه زه هم وم. په نوموړې کنګره کې اووه تنه دمرکزي کميټې داصلي غړو په حيث او څلور تنه دمرکزي کميټې دعلی البدل غړو په حيث وټاکل شول چې زه هم يو دمرکزي کميټې د اصلي غړو څخه وم زه په لومړۍ کنګره کې دټاکل کېدو څخه وروسته بيا تر هغې ورځې پورې چې دګوند څخه مې استعفی کوله همدغه مقام مې درلودئ.

دافغانستان دخلق ديموکراتيک ګوند هغه وخت تأسيس شو چې دسياسي ګوندونو او سازمانونو دجوړيدو دپاره عيني امکانات او زمينې رامنځ ته شوي وې، د ۱۹٦٤ کال په اساسي قانون کې يو لړ ډيموکراتيکې آزادۍ وړاندې کړی شوې نو په همدې اساس سره ديو لړ تدارکي کارونو څخه وروسته دافغانستان دخلق ديموکراتيک ګوند تاسيس کړی شو البته دهمدې ګوند دتأسيسيدو څخه هدف لکه څرنګه چې دهغه په اساسنامه کې راغلی وو دافغانستان اولس ته خدمت، دټولنې دزحمتکشې طبقې دحقوقو دفاع داولس دملي حقوقو تأمين، اقتصادي پرمختګ، دخلکو دژوند دسطحې لوړول او داسې نور کارونه وو.

په دې کنګره کې نور محمد تره کی عمومي منشي او ببرک کارمل دوهم منشي وټاکل شول ځينې وايي چې دهمدې وخت څخه دمشرتوب پر سر دهغوی تر

منځ اختلاف پیل شو. سلیمان لایق چې د مؤسسې کنګرې غړی دی داخبره نه مني:

مونږ دغسې کوم اختلاف په هغه وخت کې د دوی ترمنځ نه لیدئ تره کی د هغه اووه ویشت نفري غونډې په ترځ کې چې مونږ لومړنی کنګره ورته وایو دخپل حزب په اتفاق آرا سره د کنګرې عمومي منشي، دحزب عمومي منشي وټاکل شو او کارمل هغه ته د دوهم منشي په حیث وټاکل شو، په هغه ځای کې یو سړی چې اوس زمونږ ترمنځ نشته یو محترم سړی طاهر بدخشي هغه دریمې رایې واخیستې په هغه ځای کې دهغې کنګرې مشهور خلک چې اوس لاژوندي دي دستګیر پنجشېری، صالح محمدزیری، ډاکټرشاه ولی، نوراحمدنور، سلطانعلی کشتمند او دغه کسان دي زه شخصاً هم البته په هغه کنګره کې وم.

عبدالکریم میثاق چې هم په دې کنګره کې ګډون کړی ؤ وایي چې دحزب د تأسیس په وخت کې درهبرۍ پر سر رقابت پیل شو:

کله چې د خلق دیموکراتیک ګوند تأسیس شو په دې ګوند کې ددریو کسانو ترمنځ پر رهبرۍ باندې رقابت ؤ، دا کسان د نورمحمد تره کي، ببرک کارمل او طاهر بدخشي څخه عبارت وو دا رقابت په دې شکل وو چې هر یوه کوشش کاوه چې د مرکزي کمیټې غړي دځان طرفداره کړي او خپل موقف په حزب کې مضبوط کړي، اساسي اختلاف په ظاهري توګه پر

رهبرۍ ؤ او په اصولو کې کوم اختلاف نه ؤ موجود البته نورمحمد تره کی
په تدریج سره دا ادعا وکړه چې هغه په ببرک کارمل باندې سیاسي اعتماد
نه لري نو ځکه نشي کولای چې دهغه سره په یوه رهبرۍ کې کار وکړي.
نور محمد تره کی په هغه وخت کې دحزب عمومي منشي ؤ او دهمدې بې
اعتمادۍ په اساس چې هغه راپورته کړه حزب د ١٣٤٦ کال دثور په
میاشت کې پردوو برخو خلق او پرچم وویشل شو.

دخلق د گوند تر ویشلو وروسته نور محمد تره کی دخلق او ببرک کارمل
دخلق دبلې برخې چې وروسته د پرچم په نوم یاد شو، مشر شو که څه هم دا گوند
ویشلی ؤ ولې تگ لاره یې یوه وه. سلیمان لایق وایي چې دهغوی ایډیالوژي ملي
او دیموکراتیکه وه:

گوند یوه ملي دیموکراتیکه ایډیالوژي غوره کړه که څه هم وروسته په
گوند کې مارکسیستي لینینستي تعلمیات پراخ شول چې په لکچرونو کې
په تدریسي حوزو دحزب کې چې طبیعی ده هر حزب دغه ډول فعالیتونه
لري په کلتوري فعالیتونو کې مارکسیستي لیننستي تعلمیات تبلیغ او
ترویج شول لیکن حزب په خپله کوم مرام هم چې له هغه نه پاته دی هغه یو
کمونستي مرام نه دی په هغه ځای کې راه رشد غیرسرمایه داري
داقتصاد په حیث منل شوې دی چې طبیعی ده دا یو کمونیستی پروگرام نه

شي کیدای داقتصاد د پاره او نه شوای کیدای او همداسې په سیاسي

عرصه کې ملي ډیموکراتیک حکومت ملي په دې معنی چې هغه ضد

استعماري او ضد امپریالیستي دا توجیه به ځینې کیده او ډیموکراتیک

په دې معنی چې هغه د فیوډالي نظام پر ضد چې په هغه زمانه کې

داستبداد مظهر باله کیده دهغه پر ضد توجیه کیدای شي نو ملي

ډیموکراسي زمونږ سیاست ؤ او په هغه گوند کې په هغه وخت کې د داسې

یو دولت پیشبیني کېدله چې په هغه کې یوه پراخه جبهه حکومت وکړي په

دې پراخې جبهې کې کارگران ، دهقانان او ملي سوداگر او دغسې وطنپال

روحانیون ،روشنفکران ، کسبه او دجامعې ټول اجتماعی اقشار په نظر

کې نیول شوي وو.

خو عبدالکریم میثاق وایي چې د گوند دتأسیس په ورځ په څرگنده سره معلومه شوه چې داگوند چپي او دسوسیالیزم طرفدار دی:

په کنگره کې کله چې خبرې پیل شوې او ځینې خلکو بیانیې ورکړې

کله چې نوبت نورمحمدتره کي ته ورسیدئ نو هغه له خپل میز څخه یو

سور ټوکر راوویست او دا سور ټوکر یې د خپل میز پر سر هوار کړ او

وروسته یې په خبرو پیل وکړ کله چې نور محمد تره کي دا سور ټوکر په

خپل میز هوار اوه نو په دغه وخت کې د کنگرې دغړو له خوا په تودو

احساساتو هر کلي وشو. نو ددې خبرې څخه داسې څرګندېږي چې دکنګرې ایدیالوژي چپه وه او دافغانستان د پاره يې سوسیالیزم غوښتئ.

پوهاند رسول امين چې دنور محمد تره کي سره له نژدې پيژندل وايي چې هغوی دشوروي تر کنترول لاندې وو:

اول چې ما تره کی ولیدی ما داسې فکر کاوه چې یاره ځینی شیونه په تره کي کې زما خوښ شول او هغه داوو چې تره کی هم تو کې کوي زه هم توکې کوم په دغه توکو کې یعنی سطح يو شان ته وه بيا وروسته چې مادی لیده دی په مسایلو ګرېده دی په ډيرو زړو نسخو ګرېده ما تره کي ته وويل چې تاسې که فکر کوئ چې په شوروي کې کوم شی کيږي دا علمي دي او په نورو ځایونو کې چې کيږي دا غیر علمي دي علمي نه دي. بیا زما يوه واقعه د ده یاده ده چې بحث شو دکتاب په څه محتوی باندې ما ورته وويل تره کي صاحب دا ته چې وايې داسې نه دي دا عبارات نو ځکه ما ويل خپله باندې مارکس وايي چې زړه جامعه دهغې عنعنات او دودونه دا دهرې جامعې هرنسل ته انتقالیږي او ددې نه خلاصیدل ډير مشکل دي نو ده وويل چې دا تا په کوم کتاب کې لوستي دي ما ورته دکتاب نوم واخیستی، ده وويل دا په کوم ځای کې چاپ شوی دی ما وويل په لندن کې چاپ شوی دی نو ده ماته وويل چې ښه ته د امپریالستانو چاپ شوي

کتابونه کورې ځکه دې مازغه خراب شوي دي البته دا يو ډير لوى بحث دى ليکن يو شى چې د تره کي او د دوى د خبرونه ماته نتيجه معلومه شوه هغه دا وه چې دوى د شوروى اتحاد د کمونست گوند تر ډېر کنترول لاندې وو.

سليمان لايق وايى چې زموږ پاليسي د امپرياليستي هيوادونو ضد او د سوسياليستى هيوادونو سره د همکارى په رڼا کې پرمخ بيول کيدله:

په دې برخه کې زموږ سياست د استعمار او امپرياليزم پرضد توجيه کيده چې د هغې زمانې ډير گرم شعارونه وو د غه نو طبيعي ده چې د سوسيالستي هيوادونو سره د نزديکت، همدردۍ او همکارۍ او د هغوى د حمايې او د تفاهم د جلبولو يو سياست تعقيبيده ليکن په طرحو کې کومه داسې طرح هم موجوده نه وه چې هغلته بايد مشخصاً څوک په موږ باندې زموږ پر گوند باندې وکولى شي دا اتهام ولگوي چې دوى گواکې په تعبدي طور سره له کوم طرف سره اختلاف او له کوم طرف سره توافق درلود. مگر طبيعي ده چې په هغه مرام کې ويل شوي وو چې د جهان تر ټولو ستر تضاد زموږه په وخت کې د سوسياليزم او سرمايدارۍ ترمنځ تضاد دى نو طبيعي ده چې د سوسياليستي مکتب حمايت شوى و او د سرمايه دارۍ د نيا سره اختلاف نظر افاده شوى ؤ په دې لحاظ ؤ چې

ځینې کسانو هم ډېره عجله وکړه چې زمونږ حزب د یو کمونستي حزب په توګه باندې مارک کړي. بدبختانه چې ډیر وختی په دغه پیشرفته غرب کې په همدغه انګلستان کې چې ستاسې راډیو له هغه ځای نه ټول جهان ته خپرونې کوي دوی کله چې په هغه زمانه کې یو څه چپ ګرايي به وشوه دخپلو ملي منافعو پر اساس به حزب یوه موضعګیري وکړه پر ضد داستعمار او خصوصاً چې به دامپریالیزم کلمات به یې پکې یاد کړل نو ددغه پیشرفته غرب دقهر او دغضب مورد به ګرځیدل او هغوی دانه زغمل چې دې حزبونو ته داویخښبي هغوی ددغه ملیتونو په بدبختۍ باندې هیڅ وخت ژور فکر نه کاوه چې دلته لوږه ده، دلته فقر دی دلته انسان تحقیر شوی دی، دلته یوه جامعه ده چې هغه هم غواړي چې خپله شتمني، خپل امکانات په کار واچوي نو دوی به دشوروي اتحاد سره او دغسې د سوسیالستي هیوادونو سره دنزدیکت او دهمکارۍ تفاهم په خپلو دښمنیو باندې توجیه کاوه چې دا ګویا ددوی سره دښمني ده زمونږ حزب لکه مخکې چې مو تاسو ته وویل طبیعي ده چې په هغه ځای کې مارکسیزم لیننیزم او علمي سوسیالیزم مطالعه کیده دا دغو هیوادونو ته وغرب ته دا انتباه ورکړه چې ګوره زمونږ حزب یو کمونست حزب دی تر پایه پورې مونږ ونشو کولای چې ځان ددې اتهامه خلاص کړو چې مونږ

ورورجانه یو کمونستي کوندنه یو بلکه مونږ داسې یو کوند یو چې یوه سلسله اقتصادي ریفورمونه چې هغه سوسیالیزم ته نژدې دي نسبت سرمایه دارۍ ته دهغه طرفداري کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱۹

# اسلامي حرکتونه

د ډیره پخوا څخه اسلامي حرکتونه موجود وو ولې منظم سیاسي شکل یې نه درلودئ یو د دې حرکتونو څخه هم ډیر وړاندې پیل شوی ؤ چې ورکې مولوي محمد یونس خالص هم شامل ؤ ولې دهغوی هدف د مدرسو جوړول او د شاګردانو روزنه وه:

زمونږ یو تنظیم په نوم دحزب التوابین باندې جوړ کړلو او هغه تنظیم کې ګهیځ صاحب دې خدای وبخښي هغه هم شامل شولو هدایت صاحب دې خدای وبخښي هغه هم زمونږ سره شامل شو لو او دهغه اصلي هدف دا

ؤ چې په عام معارف باندې سلطه پیدا کړي نه په داسې عام معارف باندې
چې هغه د حکومت په چوکاټ کې وي بلکه د هغه نه بهر مدارس جوړ کړي
او هغه هلکان وروزي یو د بل سره یې آشنا کړي چې د سیمو ځوانان سره په
خپل مینځو کې آشنا شي او د سیمو ځوانان واسلامي رشد ته ورسیږي او
دوطن او وطنوالو دپاره د قدر وړ خدمتونه وکړای شي.

داوخت ؤ چې دافغانستان په هر گوټ کې اسلامي سیاسي خیالات را پیدا شوي وو ، دافغانستان جمهور رئیس استاد برهان الدین رباني وایي کله چې هغوی په بدخشان کې په متوسطه ښوونځي کې په زده کړه بوخت ؤ ورسره دا ډول افکار پیدا شول او تل به د طاهر بدخشي سره یوځای په مطالعاتو بوخت ؤ ولې کله چې په پغمان کې ابوحنیفه لیسې ته شامل شو دلته دیوې بلې دنیا سره مخامخ شو:

البته په دې ځای کې مونږ دیوې سلسلې بلې دنیا او ډیرو کتابونو
سره مخامخ شولو په دې وخت کې په افغانستان کې چپي او کمونیستي
جنبشونه پیل شوي وو یوولسم او دوولسم صنف ته چې ورسیدو ومولیدل
چې نوي شبان دي نوي ځوانان او نوي افکار وو په دې وخت کې زمونږ
غوږونو ته د مارکسیزم او کمونیزم خبرې لږلږ را ورسیدې دا وخت ؤ چې
اسلامي افکار د مارکسیزم سره مخامخ شول په دې وخت کې مونږ دخپلو
محدودو معلوماتو په واسطه کوښښ کاوه چې د مارکسیزم سره مقابله

وکړو په دې وخت کې تهذيب او شرعي هم په ظاهره اسلامي افکار درلودل او له موږ څخه د مخه وو چې وروسته بيا جلا شول دا وخت ؤ چې موږ پټ اسلامي فعاليتونه پيل کړل، مارکسيستانو علني فعاليت کاوه ولې زموږ کار پټ ؤ کله چې د فاکولتې اول صنف ته ولاړو او استاد نيازي راغی او دځان سره يې نوي معلومات راوړي وو موږ په دې فکر شولو چې بايد منظم کارونه پيل شي.

منظم کارونه پيل شوي وو ولې دا کارونه چپي او ان دا چې د افغانستان شمال ته رسيدلي وو، د افغانستان پخوانی صدراعظم انجنير گلبدين حکمتيار وايي کله چې د ليسې زده کوونکی ؤ د چپي شاگردانو سره به په مناقشه بوخت ؤ :

زما په ياد دي چې زه په امام صاحب کې وم د پرچم د ډلې د يوه غړي سره مې مناقشه وه او هغه مناقشې کې په ټولو قضاياؤ کې عقب نشيني کوله او په پای کې چې څه ور سره نه وو پاته ما ته يې وويل چې کله ته پوهنتون ته راشې بيا به هلته وضع بدله وي او دا افکار او نظريات چې له تا سره په دې محيط کې دي دا به پريږدې نو له ما سره دا تشويش ؤ چې شايد پوهنتون دغسې يو محيط وي چې مونږ ته هلته او سيدل گران وي کله چې زه پوهنتون ته داخل شوم ومې ليدل چې هلته سراسر د پرديو تقليد مسلط ؤ او دا د کمال او د افتخار خبره گڼل کيده چې سړی خپلو ټولو ملي

عنعناتو ته شا کړی. په لباس کې، په کرکتر کې، په شخصیت کې، په خبرو کې به تغیر راولي بهرنی الفاظ استعمال کړي په هر څه کې باید د پردیو تقلید وشي دا کمال ګڼل کیده او لیدل مې چې کمونیستي احزاب په پوهنتون کې فعال دي هغوی ځوانان د الحاد طرف ته بولي له ځان سره بله برنامه هم نه لري د اخلاقي فساد د خورولو نه پرته او د شراب او قمار د محفلونو د جوړ ولو نه پرته څه نه لري محدود څه ناولو نه ورسره دي چې هغه په ایران کې ترجمه شوي د تودې حزب له خوا هم هغه لاس په لاس کیږي او پرته له دي چې د ملک ظروف شرایط په نظر کې ونیولی شي هغه د توتیانو په شان زمزمه کیږي او د پوهنتون حالت داسې ؤ چې متأسفانه تر دې وخته پورې یو منظم قوت چې د دغو وارداتي افکارو او تحریکونو مقابله وکړي نه ؤ جګ شوی مونږ هم هغه ځوانان چې په جومات کې مو یو بل سره پیژندل چې له دوی سره عقیده او احساس دی د دې وضعی نه متنفره دي پر نظام او حاکم حالت باندې اعتراض لري او تر اوسه پورې ملحدو چپی ډلو هم نه دي دوکه کړي یو بل سره و پیژندل او بالاخره مو تصمیم ونیوئ چې باید یو منظم کار پیل کړو. یوه ورځ د پوهنتون د فاکولتې په درسي اطاق کې سره کښیناستو یوه شپه چې باران هم اوریدئ د حمل میاشت وه او دوولس کسان وو تعهد موو کړ چې د دې نه

بعد به موږ د اسلام په لاره کې په منظم شکل مبارزه کوو دهغو کسانو نه
اوس یوولس په شهادت رسیدلي دي او زه لا له دی سعادت نه محروم
دهغوی په نقش قدم روان یم.

**دافغانستان پخوانی جمهور رئیس پروفیسر صبغت الله مجددي وايي چې د پوهنتون شاگردانو چې اسلامي حرکت پیل کړی ؤ ورسره دده همکاري موجوده وه:**

د پوهنتون هلکانو یو څه حرکت شروع کړئ هغه هم ما تحریک کړي
دي خدای شته تحریک زما داسې وو چې یو جومات ؤ یو مسجد ؤ پوهنتون
ته نژدي دې ته به د جمعې په ورځ زه راتلم مونځ به مې کاوه دلته
د پوهنتون هلکان راتلل ما ورته داسلام په باره کې خبرې کولې دوی ویل
دا اسلام چې تاسو وایئ دا موږ نوی اورو دا نوې خبره ده. بیا زما کورته
لس لس دوولس تنه د دوی راتلل معلومات یې اخیسته ما ورته ویل چې
دغه اسلام دی دغه انجنیر احمدشاه ماته همیش راته ده ته ما کتابونه
ورکول ده ته ما درسونه او په اسلام کې معلومات ورکول بیا یو صوفي
قربان یې کاوه چې اوس هم دجمعیت سره دی هغه به راتلئ استاد رباني ته
مې ویل چې دخدای دپاره ته راشه دا په پوهنتون کې ته درس ورکوې هلته
ته کولی شې چې رهبري ددغه کسانو وکړې دا یې نه کوله. هغه وخت ماته

دعوت راغی دلیبیا نه چې ویل یې هرڅوک چې تاسې دځان سره راولئ

چې ټکټونه ورته ولیږو ماد استاد رباني نوم ورکړ اشنامې ؤ، پیژانده مې

دده نوم مې ورکړ، دهغه بل رباني چې په ابوحنیفه کې ؤ دهغه نوم مې

ورکړ، دغلام نبي نوشاد نوم مې ورکړ، دعشرتي نوم مې ورکړی

عبدالاحد عشرتي، دنیازی غلام محمد نیازی چې دفاکولته شرعیات ؤ

دهغه نوم مې ورکړ. دحکومت په سطح نه وو ټول ډاریدل فقط ماسره هغه

رباني دامام ابوحنیفه ولاړ، نماینده دګهیځ ولاړ او غلام نبي نوشاد او نور

نه ولاړل ټول وډار شول نو ما ویل زه باید دوی آزاد کړم چې دنیا یې

وپیژنی خلک یې وپیژني دوی خو چانه پیژندل بیخي دا حرکت ما تقویه

کړی دی همیش زما کورته دا هلکان راتلل همیش دوی چې بندیان کیدل

دا حکمتیار بندي شو زه تللی یم خلاص کړی مې دی.

دمجددي صاحب ترخنګ نوروهم داسلامي تحریک ملاتړ کړی دی، دحزب اسلامي مشر ګلبدین حکمتیار وایي چې داحرکتونه انفرادي ووا و تنظیم شوي نه وو:

ته ماته وو ایه چې ترمانه په پوهنتون کې یوه دوره دمخه یې تا په هغو

کلونو کې څه تحرک، نشاط، فعالیت داسلام په نامه لیدلی، مظاهری،

اعتصاب میتنګ، اجتماع، دکتابونو خورول، اجتماعات جوړول دعوت

ورکول څه شي دی لیدلي وو په منظم شکل. مونږ چې پوهنتون ته راغلو یو څه مونه دي لیدلي که چېرته دغسې یو تحریک وای نو مونږ دبل حزب بنسټ ایښودلو ته هم نه مجبوره کیدو منظم کاریه روان ؤ موږ به په هغه کې برخه اخیستې وای ماته خو دغسې یو منظم صف په نظر نه دی راغلی او دچانه مې هم نه دی اوریدلي هغه څوک چې دعوی کوي ددې یو دوه نه یې شمیرنه زیاتیږي داځنګه تحریک دی چې د دې نه دمخه دې نه نشریه ولري، نه دې دهغوی فعالیت محسوس وي نه دې هغوی تظاهرات او اجتماعات ولري، نه دې نظم ولري او نه دې دیو دوودرو کسانو نه هغوی تجاوز کړی وي په دوو دروکسانو کې دې راخلاصه شي آیا دې ته هم تحریک ویل کیږي کیدای شي چې دډیروکسانو سره دا احساس ؤ په انفرادي طور له وضع ناراض وو اعتراض یې درلود غوښتل یې چې داسلام له پاره څه وکړي او دالحادي چپي ډلو مقابله وکړي، په اجتماع کې بدلون راشي، ښه دا احساس له ډیرو سره وو خودا انفرادي احساس نه باید سړی داسې تعبیر کړي چې دتحریک اساس ایښودل شوی دی کوم صف جوړ شوی دی.

که څه هم منظم سیاسي فعالیت نه ؤ ولې دځینو حرکتونو پرضد چې داسلام سره برابر نه وو پوره مخالفت کیدئ یوه هم دملایانو مظاهره وه چې دهغې

لیکنې پرضد جوړه شوې وه چې د پرچم په جریده کې د لینن د سلمې کلیزې په موقع لیکل شوې وه. پوهاند مجددي هم دې لیکنې ناراحته کړی ؤ:

بس نو ما په دا کور کې اور واخیست ما ویل زه خو ځم خو دا خلک راټولوم او مظاهره جوړوم نو په دې کې زه راغلم ما ته چا وویل چې دا مظاهره جوړه شوې ده علما په دغه متأثره دي، علما راغلي دي مظاهره یې کړیده څه ته راغلی دي؟ شوری ته راغلی دي! ما ویل والله دا عجبه خبره وشوه اول همداسې یو توارد ؤ سره له دې خوا علماؤ شروع کړه دهغه خوا ما شروع کړه چې راغلو ګډ شوو هلته. قبله ګاه صاحب را ته وویل چې وه هلکه څه کوې؟ هلته اووه زامن مې هلته ؤ ما ویل که دا اووه زامن مې ټول قتل شي زه خو د دې نه نه تیریږم چې باید دا کمونستان جزا ته ورسیږي باید بندي شي او دا محاکمه شرعي شي نو په دې کې بیا نو همدغه ؤ چې د علماؤ سره تر آخره پورې زه ولاړوم بیا علمأ بندیان شول او ولس تنه تقریباً د دوی بندیان شول. بیا عبدالولي رئیس قوای مرکز ؤ هغه سره ما شرو شور کړی دی یو نیم ساعت خبرې مې کړې دي د دوی نه مې وعده واخیسته چې اعلیحضرت د خارجه راشي، دی سفر ته تللی ؤ چې راشي دوی خلاصوم زه خپله تلم بندي خانې د همزنګ ته دوی مې د لاس نه نیولي دي خلاص کړي مې دي راویستي مې دي. چې دوی بندیان وو ما هلته

کومکونه ورته رسول نو دا خبره په دې مظاهره کې الحمدلله سرقافله وم
بالکل تر آخره پورې په شوری کې اوس نماینده گان دشوری شته چې شوری
ته زه ورغلم ما خبرې کولې په موټر باندې، په لاری باندې جگ شوم ما
خبرې کولې بیا زه په نماینده گی دعلماؤ تللی یم شوری ته دوکیلانو سره
مې خبرې کړې دي کلکې خبرې مې وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۲۰

# کابل پوهنتون د سیاسي فعالیتونو ډګر

کابل پوهنتون په دې دوره کې داسې یوه تعلیمي مؤسسه وه چې په سیمه کې یې ساری نه درلودئ او ورکې پوره ډیموکراسي وه پوهاند عبدالحی نظیفي چې د پوهنتون استاد ؤ ورته درنه دنده سپارل شوې وه او په پوهنتون پوره خبر دی:

دپاشاه دسلطنت په آخرو وختوکې د پوهنتون ریاستونه او عمومي ریاست او دفاکولتو ریاستونه انتخابي ؤ چې په هغه جمله کې رئیس پوهنتون هم انتخابي ؤ او رئیسان دفاکولتو هم انتخابي وو او هر ځل به

دڅلورو کلونو دومره وختونو دپاره انتخابیدل. کانکور دپوهنتون چې زه یو دهغه خلکو نه وم چې په دې کې مې کار کاوه او مونږ به په ټول افغانستان کې امتحان اخیست او داامتحان به مونږ په داسې معیار سره اخیسته چې هم دتیرینکوټ دلیسې نفر په دې پوهنتون کې شاملیده او هم دکابل دحبیبیې دلیسې په دې پوهنتون کې شاملیده او مونږ دا مقایسه داسې کوله چې دولایاتو نفر مو دولایاتو سره مقایسه کول او دکابل نفرمو دکابل سره مقایسه کول داسې مونږ نه کول چې دکابل نفر د ولایتونو سره مقایسه شي او دولایاتو دکابل سره مقایسه شي معنی ددې رقم مقایسې دا وه چې مونږ فکر کاوه هغه سړی چې دخپلو ملګرونه دده ذکاوت څومره زیات دی په اطرافي لیسو کې هم هغه مو انتخاباوه او هغه بیا په تجربه کې دا ښودله چې دهغه هلکانو په خوا کې چې هغوی دمکتب ټول پروګرام نسبتاً په پوره ډول تطبیق کړی دی او هغه چې نه دی کړی دواړو کولای شول چې دا د درس بار په آسانۍ سره یوسي ترهغه ځایه پورې چې زه پوه شوی یم په دې امتحانوکې هیڅ نه حکومت او نه بل چا دشخصي غرض دپاره مداخله نه کوله.

همدا وخت ؤ چې کابل پوهنتون دسیاسي فعالیت مرکز وګرځیدئ توریالی اعتمادي چې دپوهنتون انتخابي رئیس ؤ وایي چې دپوهنتون ډېر مشکل وخت وه

د پوهنتـون ډیرې مـشـکلې ورځـې وې ، هم دافـغـانسـتـان د معـارف مشکلې ورځـې وې بدبخـتـانه ټولو خـوا وو چې غـرض یې درلودئ په پوهنتون کې لاس واهه په افغانستان کې د سیاست ساحه دومره پراخه نه وه یوائینی ځای دکابل پوهنتون ؤ چې دسیاسي فعالیت مرکز ؤ هلته چپ و راست افراطي او غیر افراطي موجود وو هلته کار کول ډیر گران و زما په اداري تجربو کې د پوهنتون ریاست بدترینې ورځې وې کله چې په خوب کې هغه ورځې وماته را یادې شي ما پرېشانه کوي.

په دې وخت کې مظاهرې جوړې وې او د محصلانو اتحادیې ته مبارزه جاري وه او وایي چې پوهنتون د سیاسي حزبونو د فعالیت ډگر گرځیدلی ؤ په لندن کې دافغانستان پخوانی شارژدافیر تازه خان ویال چې د خلق غړی او اتحادیې ته کاندید ؤ وایي چې د خلقي ډیموکراسۍ سره یې موافقه نه لرله نو ځکه ورته حزب اجازه ورنه کړه چې کاندید پاته شي:

له تره کي کره لاړمه او تره کي وویل چې زما خوښه داسې ده چې ته زمونږ با استعداده کدریې او زمونږ نازولی کدریې. تره کی په زړه کې ډیر خوږ سړی ؤ ډیر زبردست سړی ؤ که داسې دې کړي وای چې سبا انتخابات دي دانتخاباتو وړاندې دې مونږ ته یو لیک راکړی وای چې زه دافغانستان

ډيموکراتيک گوند ته وفاداريم نو سباته په انتخاباتوکې شرکت کولای شې او که نه مونږ فيصله داسې کړې ده چې ستاپه ځای بل څوک معرفي کړو نو ما ورته وويل چې رفيقه محترم دا خو عجبه خبره ده چې که چيرې زه د گوند غړی يم او ددې گوند د پاره مې په دا تيرو کالونوکې داسې کارهم کړيدی چې کله کله ستا د تائيد وړهم گرځيدلی دی نو دا څنگه اوس نوې معجزه را ووتله چې زه بيا خط درکوم چې تره کی صاحب زه دې گوند ته وفاداريم او که زه خط درکړم او هم وفادارونه اوسيږم خو وفادارنه يم منتها دومره په وضاحت سره درته وايم چې زه د خلقي ډيموکراسۍ شعارته وفادارنه يم دا دافغانستان داوسنۍ جامعې د پاره تطبيقي شعارنه بولم دافغانستان دخلق ديموکراتيک گوند يو ملي گوند بولم او ډيموکراتيک گوند يې بولم.

دا داسې وخت و چې په کابل پوهنتون کې د شعله جاويد او پرچم پوره زور ؤ او ډير استازي يې د محصلانو اتحاديې ته وټاکل شول. په دې وخت کې د چپي حزبونو ترڅنگ اسلامي حرکتونه هم په پوهنتون کې پيل شول د حزب اسلامي مشر گلبدين حکمتيار چې په دې وخت کې د پوهنتون محصل ؤ وايي چې په لومړي سر کې د هغوی شمير کم ؤ ولې وروسته يې وکولای شول چې په اتحاديه کې اکثريت تر لاسه کړي:

دپوهنتون په شرایطو کې چې کله دا تحریک ابتدا پیل شو زمونږ لومړۍ مظاهرې او اجتماعات داسې وو چې د پنځوس او شپېتو نه به يې تجاوز نه کاوه تاسې په خپله د دغسې صحنو شاهدیاست دپوهنتون په اوضاع باندې کمونیستي احزاب مسلط وو هغوی ترمونږ ډیر دمخه کار شروع کړی ؤ کم نه کمه څلور پنځه کاله هغوی زمونږ نه دمخه کار پیل کړی ؤ چې په علمي مؤسساتو هغوی تسلط درلودئ. رژیم دهغوی ترشا وي او لویو طاقتونو دهغوی حمایت کاوه او دا هره ډله دبهر نه تغذیه کیدله او دهغوی مرسته ورسره وه ددې په مقابل کې بل طرف ته محدود دځو ځوانانو په سطح یوه اجتماع یوه ډله چې نه بهرنۍ پشتوانه لري او نه دهغه ترشا لوی قوت ولاړ دی او غواړي چې په ملک کې تبدیلي راولي رژیم هم دغسې چې له هغو قوتونو نه احساس دخطرنه کوي بلکه هغه که دچانه احساس د خطر کوي نو همدا تحریک دی فکر کوي چې د دې ریښې په ملت کې دي او ژر ملت راپاڅولای شي ملت منظم کولای شي او دا په یو خطر بدلیدای شي دنورو ډلو مهار کول ډیر آسان دي هغه حداعظمي د روشنفکرانو په سطح کې محدود دي اما دا چې ملت دنورو اقشارو سطحی ته دې هغه نفوذ نه وي کړی او له هغه نه دې ډیر ژر یو خطر جوړ شي ددې احتمالات ورته ضعیف بریښیده او ظاهر شاه صریحاً ویل چې د

سرو بیـرغـونو په ځـای دا شنه بیـرغـونه اصلي خطر تمثیلوي او ددې مـخه نیـول بیـاگـران دي. همـدا وجـه ده چې تاسـو لیـدل په هغـه وخت کـې دکمـونیسـتي احزابو یو کس هم زندان ته نه لاړو مگر دنمایش دپاره دڅو ورځو په خاطر ولې زمونږ گڼ شمیـر کسان دظاهرشاه په وخت کې زندان ته لاړه او په مـودو مـودو په زندانونوکـې پاته شـول. حـالت دغـسـې وو چې داسلامي تحریک دپاره خلکو شرایط سازگار نه گڼل ولی الحمدلله دخلکو دتصور خلاف په ډیره کـمه مـوده کې نهضت وتوانیـدلای شو چې دعلمي مؤسساتو داکثریت ملاتړ ترلاسه کړي. تاسو ته به په یادوي چې په لومړیو انتخاباتو کې مونږ نه« ۹ » څوکی دمحصلینو په اتحادیه کې ترلاسه کړې په دوهم کې دوولس څوکی او په دریم انتخاباتو کې مونږ دوه ثلثه څوکی ترلاسـه کـړې. دا داسـلامـي تحـریـک روز افـزون وده او نفـوذ په علمی موسساتو کې ښیي.

دپوهنتون ترځنگ لیسـوته هم سیـاسي فعالیـت ورسیـدئ عـزیز نعیم چې دکابل پوهنتون استاد ؤ په ابن سینا کې دپولیسو حمله لیدلې ده چې وروسته بیا کابل پوهنتون ته ورسیدله:

هغـه مظاهرې چې په ۱۳٤۸ کـال په پوهنتـون کې شروع شوې دابن سینا دلیسـې داعـتـصـاباتو څخـه را پیـدا شـوې په ابن سـینا کـې چې

د پوهنتون په څنګ کې موقعیت درلودئ شاګردانو معلمان ګروګان ونیول او تر دوو هفتو وروسته پولیسو مداخله وکړه په دغه وخت کې چې دماسپښین دوې بجې وې زه پوهنتون ته روان وم او دا حال مې په خپله ولیدی په هر حال زه پوهنتون ته ورسېدم او تدریس مې شروع کړئ او د پوهنتون محصلان د دې واقعې څخه چې ډېره تازه وه نه وو خبر نیم ساعت وروسته دابن سینا شاګردان پوهنتون ته ورسیدل او زما صنف ته راغلل او وې ویل چې ستاسې د ورونو څه حال دی تاسې اوس هم په صنف کې یاست دلته زه په ډېر مشکل موقف کې واقع شوم محصلانو ته مې وویل چې ستاسې اختیار دی که مو درس په ګټه وي پاتې شئ او که مو مظاهره په ګټه وي ولاړ شئ په هر حال ډېر محصلان پاته شول په بله ورځ په پوهنتون کې مظاهرې جوړې شوې وروسته پولیسو مداخله وکړه او یو تعداد استادان ووهل شول د پوهنتون استادانو سخت عکس العمل وښود چې په نتیجه کې استادانو غونډه وکړه او یوه فیصله نامه صادره شوه چې ما هم امضاء کړه. په دې فیصله نامې کې د حکومت څخه وغوښتل شول چې دې موضوع ته جواب ووایي.

پوهاند محمد رحیم الهام چې د پولیسو دا حمله ولیدله چې ورکې دده شاګردان او نور استادان وهل شوي وو وایي چې د دې حملې دعکس العمل په نتیجه کې هغوی وکولای شول چې د استادانو انجمن جوړ کاندې:

ولاړو اتاق شورى علمي ته په شورى علمى كې كښيناستو استادان
هم راغلل په هغه وخت كې خو دا جريانونه هم وو گوندونه هم وو دا اكثره
د دې گوندونو مشران او دا خلك چې په پوهنتون كې وو دا ټول راغلل.
يوازې صاحب مور انجمن جوړ كړئ تصادفاً استادان سره راغونډ شول
دلومړي ځل له پاره دافغانستان د استادانو انجمن جوړ شو په دې كې
چونكه دا ابتكار ما كړى و زه دعمومي مجمعې له خوا ، دټولو استادانو له
خوا د دې انجمن دمنشي په حيث وټاكل شوم بيا وروسته دهر پوهنځي نه
چې خلك راغلي وو دا هلته سره يو ځاى شولو او مور علي محمد زهما
خپل رئيس وټاكئ او ډاكتر هاشميان هغه هم په دى هيئت رئيسه كې دى
هم منشي وټاكل شو. نو مور مبارزه شروع كړه داستادانو او دشاگردانو
دحقوقو د ساتنې په خاطر باندې چې په علمي مركز باندې تدريسي مركز
باندې بايد داسې حملې ونه شي.

جنرال عبدالحكيم كتوازى چې دژاندارم او پوليسو عمومي قوماندان ؤ او دا
مظاهرې يې دنژدې څخه څارلې وايي چې د دې حركت پيل محصلانو په خپله كړى
ؤ:

حركت هم دمظاهرې دگروپوله طرفه وشو داسې چې دوى په پوليسو
حمله وكړه پوليسو چې له ځانه دفاع وكړه دوى منډه واخيستـه چې
د پوليسو په مقابل كې دوى تيښتې ته مجبور شول دوى پر پوهنتون حمله

وکړه، د پوهنتون شیشې یې ماتې کړې، دروازې یې ماتې کړې. بعضې نجونو ته یې اذیت ورورساوه او ددې د پاره چې دا په نام د دولت تمامه شي.
داسې کله کله به د پولیسو او دمظاهره چیانو په منځ کې د ډبروگذارونه که به وشول دمظاهره چیانو له خوا به کیدل په پولیسو باندې یو نیم زمونږ د پولیسونه چون اکثراً افراد عجمي ؤ او دا وو که به یې احساسات وتوریدل یو مظاهره چې ته که به یې یو سوک یا یو لرگی ورکړی وي دا زه ویلی نشم ولې زمونږ په سویه دمحاکمې د قانون دبندی گرۍ په سویه باندې د دوی هغه مشرانو چې دهغې جملې یو ډاکتر نجیب و له ما سرهٔ دوه دری واره بندي شوی دی په اوس وخت کې په قدرت کې هم یوه ورځ سره مخامخ شولو صحبت د قانون و دې ته راغی ما په صراحت ورته وویل چې ته خوله ما سره دوه دری وارې بندي شوی یې. ویل هو! ما ویل اوس هم زه حاضریم، ددې د پاره چې زه دی قانون ته یا قانوني روش ته راوبولم، نو ورته ومې ویل زه اوس هم حاضریم که کوم خلاف قانون حرکت زما له خوا یا زما په وخت کې د پولیسو له خوا د تا سره شوی وي چې زه اوس دهغه جواب ووایم ،ده راته وویل نه داسې حرکت نه دی شوی.

# ۲۱
# آزاد مطبوعات او جريدې

د محمد ظاهر شاه د ډيموکراسۍ په لس کلنه دوره کې آزادو جريدو ته د خپرولو اجازه ورکړل شوې وه. محمدحسن اولس مل چې همدا اوس په ناروې کې د مجاهد اولس داخبار په خپرولو لګيا دی وايي چې د محمدظاهرشاه دسلطنت په وروستي وخت کې آزادو مطبوعاتو ته د تنفس موقع په لاس ورغلې وه:

په افغانستان کې د پخواني پاچا محمدظاهرشاه په وروستيو

لسو کلونو کې په نسبي ډول آزادو او ملي خپرونو ته د تنفس کولو موقع په لاس ورغلې وه په دې جرایدو کې یو شمیر جراید مثلاً دافغان ملت جریده وه ، مساوات جریده وه ، ګهیځ ؤ ، ملت ؤ ، کاروان ؤ ، پیام امروز ؤ ، دسبا په نامه یوه جریده وه ، پیام وجدان ؤ افکارنو ؤ ، دخلق جریده وه ، دپرچم جریده وه ، دشوخک په نامه یوه جریده وه ، ترجمان ؤ ، روزګار ؤ او افغان جریده وه چې زه یې په خپله مسئول چلوونکی وم او داسې نور جراید په دغه وخت کې را ووتل.

په دې جریدو کې دخلق جریده هم شامله وه چې دخلق د ډیموکراتیک ګوند نشراتي اورګان او دنور محمد تره کي په مشرتوب او دبارق شفیعي په مسؤول مدیریت راوتله. د خلق جریدي ددولتي سکتور او اصلاحات اراضي طرفداري کوله. کله چې دخلق ډیموکراتیک ګوند وویشل شو نو د پرچم جریده پیل شوه. په چپي جریدو کې شعله جاوید هم یوه مهمه جریده وه چې په کابل کې یې لوستونکي زښت ډیر وو. دافغان ملت مسئول مدیر قدرت الله حداد وایي چې دهغه دجریدې هدف دا ؤ چې دافغان ملت جریدې له لاری دخارجی ایډیالوژیو دطوفان مخه ونیسي:

افغان ملت په لومړنیو اخبارو کې وو چې په ۱۳٤٥ کال کې نشر شو او ددې دامتیاز خاوند ډیپلوم انجنیر غلام محمد فرهاد ؤ او مسئول مدیرېې زه وم البته په ابتداء کې پنځه شمارې احمدعلي ملت یار هم مدیر

داخبار ؤ بيا پنځه شمارې وروسته هغه استعفی وکړه بيا ما دا اخبار په غاړه واخيستو نو دافغان ملت هدف دا ؤ چې موږ داسې محسوسه کړله چې يو طوفان افغانستان ته راتلونکی دی چې هغه داخارجی ايډيالوژي ګانې يا مفکورې دي چې زياتره دشمال له خوانه او يو مقدارهم دغرب له خوانه را روانې وې نو موږ ددې دپاره چې دافغانستان خلک خپل هغه تاريخي هويت او تاريخي شخصيتونه او تاريخي اعمال ورک نه کړی نو ددې دپاره لازمه وه چې يو غږ يا يو چراغ ددې خپلو خلکو د تاريخ او دعقايدو پربنا هم بل وي په دامنځ کې زمونږ هدف دا ؤ چې دافغانستان خلک دا خپل مشران وپيژني په خپلو مشرانو پسې لاړ شي نه د پرديو مشرانو پسې موږ په دی معتقد وو چې اعليحضرت احمدشاه بابا دومره يوه عالي فلسفه درلوده او دومره ملي فلسفه يی درلوده چې موږ به هيچاته محتاج په دنيا کې پرې نږدي چې موږ له هغه نه څه راواخلو موږ بايد دده په حضور کې دده له ملنې نه بايد يو څه راټول کړو نه دبل چا له ملنې نه.

دافغان ملت ترڅنګ مساوات هم يوه منځ لارې جريده او دصدراعظم محمدهاشم ميوندوال دډموکرات مترقي نشراتي ارګان ؤ ، ددې اخبار مسئول مدير پوهاند محمد رحيم الهام وايي چې روشنفکرانو په دې جريده او نورو چاروکې

د میوندوال سره مرسته کړې وه:

کله چې میوندوال امیدوار شو چې صدارت ته ورسیږي نو یو شمېر روښنفکران یې سره راغونډ کړل دوی ته یې وویل چې زما د پاره یوه برنامه د عمل جوړه کړئ چې زه څه وکړم په دې کې موږ کښیناستو زه فکر کوم د لومړی ځل له پاره د عمل یوه معینه برنامه جوړه شوه چې هغه برنامه بیا په مختلفو ژبو هم ترجمه شوه او د لومړي ځل له پاره د یو کتاب په شکل باندې دا برنامه جوړه شوه او بیا میوندوال دا برنامه په ملي شورۍ کې ولوستله او د دې برنامې په بنا باندې ده ته د اعتماد رایه ورکړه شوه، دی صدراعظم شو موږ د غه ځو تنه روښنفکران چې وو داسې موغوښتل چې په حکومت باندې د یو اخبار په واسطه فشار راشي چې خپله د غه برنامه عمل تطبیق کړي نو له دې جهته موږ د قمچینی په حیث باندې دا اخبار غوښتی چې استعمال کړو چې سرغړونې ځوک په حکومت کې ونه کړي په لومړي سر کې او د غه ټوله فلسفه چې په دې کې داخلي انکشاف د افغانستان په ټولو څانګو کې د کلتورنه نیولي په اقتصادي برخو کې، په اجتماعي برخو کې او په خارجي سیاست کې دا ټول داسې په منظم شکل سره راغلي وو او موږ په عین زمان کې غوښتل چې د غه ډیموکراسي ځومره چې په اساسي قانون کې منعکسه شوې وه هم هلته

دحکومت په واسطه تطبیق شي او دشاهي مشروطې خوا ته موږ داساسي قانون پرېنا باندې په عملي توګه حرکت وکړو دهمدې جهته کله کله نو ما په خپله هم دا روزنامه نګاران راپورتران دې خوا هغه خوا لیږل او په وزارتخانو کې چې به قصې پېښېدې دا به موږ په لومړي سرکې هم په اخبار کې نشرولې یو واري وزیرانو بغاوت وکړ، بغاوت یې په دې وکړ چې میوندوال ته یې وویل چې موږ مو وزیران کړي یو په عین زمان کې دا اخبار هم په تا پورې اړه لري نو که انتقاد هم په موږ باندې کوي په اخبار باندې ددې پرځای موږ موقوف کړه او دوی یو واري استعفی هم وکړه یعنې ددې اخبار فشار دومره ډېر ؤ چې موږ حتی په میوندوال باندې هم کله کله انتقادونه کول نو زموږ هدف دا ؤ چې دیموکراسي په ښه مترقي شکل باندې او دافغانستان دټولو اوضاعو دتشخیص پر بنا باندې دغه د مترقي دیموکراسۍ په نامه باندې یا دمترقي دیموکراسي دفلسفې په اساس باندې موږ دا اخبار چلاوه. دې اخبار ورو ورو په ټولنه کې ډېر حیثیت پیدا کړ او علی الخصوص په هغه وخت کې چې بیا یوه جبهه غونډې جوړه شوه دهلمند داوبو دویشلو په برخه کې نو کله چې میوندوال بیا په خپله دصدارت نه ولویدئ دلته دې اخبار چې داپوزیشن شکل غوره کړ په دغه وخت کې دې اخبار ډېر اهمیت پیدا کړ.

محمد حسن اولسمل چې په دې وخت کې د افغان جريدې مشر او مسؤول مدير ؤ وايي چې دهغه اخبار آزاد او يوه ملي جريده وه:

دافغان جريده يوه آزاده ملي جريده وه او په هيڅ يوه گوند پورې نه وه تړلې. افغان جريدې داساسي قانون دپوره تطبيق ملاتړ کاوه امريکايي پروفيسور دوپرې په خپل کتاب ، افغانستان، کې ددې جريدې په هکله ليکلي چې افغان جريدې په افغانستان کې پارلماني ډيموکراسي غوښتله د لته بايد ووايم چې دافغان جريدې په قلمي همکارانو کې دافغانستان پرځوانو ليکوالانو سربيره اروا ښاد گل پاچا الفت ، اروا ښاد پوهاند عبدالحی حبيبی ، مرحوم محمدهاشم ميوند وال، مرحوم عبدالروف بينوا ، جناب سيد شمس الدين مجروح شامل او دغه نوموړی دا يمي قلمي همکاران وو نو ددې نه تاسو ددې جريدې اهميت معلومولای شئ چې مثلاً دې کې به څنگه خپرونې کيدلې همدارنگه دافغان ملي جريده په اولسي جرگه کې هم دملت دانتخاب شوو وکيلانو دقاطع اکثريت دملاتړ نه برخورداره وه حکومت پخوا پټ او بيا وروسته په ښکاره توگه په مطبعه کې دمسؤول مدير په نامه يو سړی کينولی ؤ نوموړي به په خپلو ذره بينی عينکو دآزاد و اخبارونو خپرونو مطالب له نشرنه دمخه دنظره تيرول او کومې خبرې به چې ډير حساسيت پيدا کاوه او يا به دحکومت په گټه نه

وې فوراً به يې ترې حکومت خبراوه. حکومت به يا د خپرونې په مسؤول چلوونکي فشار راووست چې دا مطلب وباسه اويا به يې د نشر نه وروسته په داخل دفابريکې کې پخواله دې چې د چا لاس ته ورسيږي خپرونه مصادره کړه چې دافغان ملي جريدې ډيرې گڼې په همدغه توگه مصادره شوې دي. لکه څنگه چې ما مخکې اشاره وکړله مهم سياسي او ملي شخصيتونه د دې قلمي همکاران وو او حکومت د دې تحمل نشو کولای. نو دې جريدې د هلمند داوبو په موضوع کې ډير سخت موقف نيولی ؤ زه په هم هغه وخت کې څلور کرته پاچا وغوښتلم لاکن ما و نه منله حکومت هم راسره تماسونه ونيول بالاخره د امير عباس هويدا د هغه وخت د ايران دصدراعظم د راتگ نه د رې ورځې مخکې د شپې داتو بجو په خبرونو کې زما د جريدې د مصادرې اعلان وشو چې د دې جريدې خلاف د قانون نشريات کول او دا به نوره نه نشريږي.

د دې مصادرې معنی دانه ده چې پوره آزادي نه وه عبدالحميد مبارز چې د باختر آژانس مشر ؤ وايي چې په هيڅ يو هيواد کې هم پوره آزادي نه ده موجود:

زه فکر نه کوم چې په جهان کې به کامله آزادي موجوده وي په نسبي ډول زموږ د مملکت په سويه ډيموکراسي موجوده وه. دافغانستان د ملي او

ټولنیزو مصالحو په نظر کې نیولو سره په افغانستان کې یوه نسبي ډیموکراسي موجوده وه د مثال په ډول زه تاسې ته ویلی شم چې باختر آژانس به همیشه آزاد خبرونه ورکول مونږ به دچا سره سلا نه کوله مګر کله چې به ډیره مهمه موضوع وه په هغه صورت کې به مو مشوره وکړه مونږ به د ریوټر، اې پي، اې ایف پي، تاس او نورو خبری ایجنسیو خبرونه اخیستل او دافغانستان په مطبوعاتو کې به نشریدل زه تاسې ته ویلای شم چې په باختر آژانس کې پوره آزادي موجوده وه کله چې په شوری کې د صدر اعظم نور احمد اعتمادي دحکومت په مقابل کې دسلب اعتماد رایه ورکړله شوه نو په هغه وخت کې دحکومت دخوښې خلاف دا خبر نشر شو.

# ۲۲

# قومي جوړښت

په افغانستان کې په وروستيو کلونو کې ځيني قومونو شکايت کاوه چې ورته حق نه دی ورکړل شوی زمونږ ملګری اسحق نګارګر چې د بلخ او سيدونکی او داوزبکو او نورو قومونو سره يوځای اوسيدلی دی دا شکايت نه مني:

په عامو خلکو کې خو دا خبره نه وه ځکه چې د دوی په منځ کې ودونه شوي دي د دوی وينې سره ګډې شوې دي مګر په روشنفکرانو، په تعليم يافته ځوانانو کې داخبرې وې. اما په عادي خلکو کې نه، تا سو خو پوهيږئ چې د افغانستان په روشنفکرانو باندې د چپي افکارو يو قسم

تسلط ؤ. نو په روسیـه کې کله چې ستالین دبیلابیلو قومونو خبرې کولې او دهغو دپاره یې آزادي غوښتله نو په افغـانستـان کې هم دبیلابیلو قـومـونو روشنفکرانو داسې فکر کاوه چې ددوی قـوم یا ددوی په خبـره ددوی ملیت دحاکم ملیت یا دپښتنو له خوا ځپل شوی دي او په هغو باندې دپښتنو لخوا ظلم او تعدا شوې ده خو دا دکتاب له نظره کیدای شي چې صحیـح خبرې وي مگر بالفعل په افغـانستـان کې چې گورئ مثلاً دافغـانستـان په شمـال کې ځمکه نشته پراخ دښتونه دي چې دحکومت له خوا دلامالکې ځمکې په نوم خلکو تـه ورکول کیدې مگر هلته داوبو خبره ده چې دافغـانستـان په شمـال کې مثلاً په بلخ او په جوزجان کې اوبه نشته داوبو پر سر کله کله دبیلابیلو قومـونو په منځ کې شخړې پیـدا کیـږي دپښتنو په منځ کې هم کله کله د دوی گټې یو له بل سره ټکر خوري او د دغسې ټکر خبره چې راشي بیا پښتـانه هم په خپلو منځو کې سره وهي.

اهل تشیـع چې په کابل، کندهار او دافغـانستـان په نورو سیموکې میشته شوی دي باور لري چې ورسره برابر چلند نه دی شوی. آیت الله شیخ محمد آصف محسني چې داهل تشیـع او حرکت انقلاب اسلامي مشر دی وایي چې دا طبیعي خبره ده:

طبعاً زموږ عقیده دغه ده چې کیدئ. په قندهار کې یو وار دغسې یو

جنګ شو تر اوسه پورې د چورا په واقعه معروف دی خلک شهیدان شول.

دا جهالت د مسلمانانو په منځ کې شته د مذهب په نامه تعصب، د قام په نامه مثلاً اوس دا یوې ازبک دی، یوې تاجک دی، یوې پښتون دی یوې شیعه یو یې هزاره بیا په پښتون کې تاسې خبریاست یو په قندهار کې دافلان زیي دی او دافلان زیي دی. دا ټول شیان جهالت وو اوس الحمدلله ښه شوي دي پس له انقلاب څخه اوس هغه شی نشته ښه شوي دي لاکن یو څه سیاست وو یو څه جهالت زموږ په شرق ډیر جهالت موجود دی تنها دا نه دي چې دا د شیعه او سني طبقې په منځ کې په افغانستان کې تعصب موجود وو قومي او نژادي تعصبات هم موجود وو ما تاسې ته وویل چې په پښتنو کې هم په ځای ځای کې ډیر تعصبونه موجود وو دا ټوله دا ناروا تعصبونه وو.

**داهل تشیع ډیر خلک د کابینې غړي او ان دا چې د پښتني ولایتونو څخه پارلمان ته رسیدلي وو یو ددې کسانو څخه هم نور محمد اکبري و چې د کندهار د ښار څخه انتخاب شوی و آیت الله محسني وایي چې د هغه د انتخاب سره هم حکومت مخالف ؤ:**

په دغه د اکبري په موقع کې والي د قندهار ما ته وویل یوه ورځ چې پام کوه چې دا اکبري ځان کاندید نه کړي دا د کندهار محیط دا تحمل نه لري

چې دی کـاندید شي مـا ورتـه وویـل چې زه دا کـار نه کوم چې زه ورته وو ایم چې خـپل ځان مـه کـاندیدوه زه د دې حق نه لرم دا حق زمـا څخـه نه ؤ دی به مـاته وایي چې دا یو شرعي کـار دی چې ته مـاته وایې چې ته خپل ځـان مـه کـاندیده وه کـه شرعي نـه دی. زه ورته درواغ نه وایم او وایم یـه یو شـرعي کـارنـه دی دا یو سیـاسي دسـتـور دی هغـه مـاتـه وایـي چې زه سـتـا دیني دسـتـورات منم غـیـر دیني دسـتـورات نـه منم، زه هغـه تـه نـه وایم مـاتـه د کندهار والـي وویـل چې ورتـه ووایـه چې دی خـپـل ځـان کـاندید نـه کـړي تـه جلوگیـري وکړه خو دا کار ونه شو هغه بیا کامیاب شو. دا شیان شته لاکن د دې معنی دا نه ده چې سل په سل کې تعصبات وو، جنګ و، بدبیني وه. محبت هم ؤ، لور ورکول، ازدواج و د شیعه او سني په منځ کې محبت و نه وو، تعــصب نـه و خـــو دا یوه اجـــتـــمـــاع ده نو هر رنګـه کـیــــږي.

مولوي محمد یونس خالص چې د حزب اسلامی مشر دی وایي چې د اهل تشیع د حق خبره ایران راپورته کړې ده:

دا خبره خو د ایران د حکومت خبره ده چې د دوی د خولې نه راوځي ځکه هغه بله شپه به تاسې اوریدلي وي چې د منابعو نشراتي نه دا خبره وشو له چې د ایران حکومت غـواړي چې و اهل تشیع ته یو داخله وزارت ورکـړی شي او بل خارجه وزارت ورکړی شي نو د دې معنی دا ده چې په اهل تشیع

کې تحریک په خپله د اهل تشیع څخه نه دی راولاړ شوی خو لیکن دا
دا یران د حکومت له خوا راولاړ شوی دی او دا یران حکومت غواړي چې
دوی خو یقین لري چې په دومره اهل تسنن کې قدرت اهل تشیع ته په لاس
نه ورځي خو هغوی غواړي چې د دوی ترمنځ داسې خونریزي او داسې
جړپونه راشي چې د آینده دپاره د دوی ترمنځ توحید ناممکن وګرځوي او هر
حکومت چې راځي دهغه د پاره دلته اهل تشیع دا یران د پاره یو دمزدور په
حیث کار وکړي همیشه هر حکومت چې راځي هغې د پاره د دې لارې نه
مشکلات پیدا کړي او یا به دا یران د حکومت د غلامۍ حلقه په غوړو کې
ګرځوي. زما خیال دا نه دی چې اهل تشیع په خپله دا کار کوي ځکه اهل
تشیع چې په افغانستان کې دي هغوی د افغانستان حالات درک کړي دي
هغوی پوهیږي چې په افغانستان کې د دوی سره دادوی چې یا دوي دا
مظالم ورسره نه دي شوي نه دوی چا غروته شړلي دی چې دوی په غروکې
هستوګنه وکړي او یا دې راشي په کابل کې دې مزدوري کوي دا د دوی
وطن دی دا د دوی هیواد دی په خپله باندې دوی هلته میشته شوي دي. که
تاریخ خبره ثابته کړله چې دا کسان په سمه کې چا نه پرینښودل نو بیا دا
خبره صحیح ده مګر دوی چې هلته میشته دي البته هغه ځای کې یې خپل
منافع سنجولي دي بیا چې راځي موږ یې وینو چې د کابل ټول کسبه کار

ټول د اهل تشیع په لاس کې ؤ او مونږ لیدل چې حتی د ظاهر شاه خپل شخصي ډاکتر، ډاکتر فتاح نجم نومیدو او هغه د اهل تشیع نه وما پیژندلو او حتی زما عملیات چې په ابن سینا کې وشول عظیم اسلمي نومیدی، هغه د اهل تشیع نه ؤ زه تر اوسه ترې ممنون یم چې هغه زما سره ډیره خواري کړې ده په همدې ترتیب باندې اهل تشیع خلک بیکاره پاتې نه وو په دارالعلوم کې چې علمي موسسه وه دهغې مامور هغه په خپله باندې اهل تشیع سړی ؤ زه هلته مدرس وم هغه هلته کارکولو او زه فکر کوم چې تاسې ته به معلومات وي چې په مطبوعاتو کې د اهل تشیع ډیر کسان ځای شوي وو په هغه ځای کې مختلف پوستونه پیدا شول یعني دوی په مختلفو ځایونو کې کار کړی دی او اوس هم مونږ د دوی سره مخالف نه یو چې حکومت دوی ته کار ورکړي په حسب د لیاقت باندې مگر مونږ دا نشو قبلولی چې په نوم د اهل تشیع یا په نوم د اهل تسنن یا په نوم د ازبک، په نوم د پښتون، په نوم د تاجک باندې په هغه ځای کې وظایف تقسیم شي چې دا اساس د تجزیې د افغانستان گڼل کیږي له دې سره مونږ مخالف یو مونږ داسې نه وایو چې اهل تشیع زمونږ د ملت خلک نه دي یا په هغو کې باکفایته خلک نشته یا هغوی ته کار نه ورکول کیږي خلک یې غلط تعبیر وي چې مونږ د دوی داسې مخالف یو.

آیت الله فاضل چې د حزب وحدت یو مشر دی باور لري چې نه یوازې هزاره ؤ بلکه نورو اقلیتونو ته هم حق نه دی ورکړل شوی او وایي چې داتوله بدبختۍ ګڼې دي:

حزب وحدت په خاصه یواځې د شیعه ملیت په فکر کې نه دی داټولې بدبختۍ ګڼې بولي هدفونه هم مشترک بولي حزب وحدت همدا اوس د شیعه یانو او د نورستان د خلکو ترمنځ فرق نه کوي د ټولو اقلیتو ترمنځ موږ په هیڅ ډول فرق قایل نه یو هغه حقوق چې د هزاره جات او اهل تشیع د پاره غواړي هم هغه حقوق د خپل نفوس په تناسب د نورستان او ازبکو د پاره هم غواړي حزب وحدت غواړي چې په افغانستان کې یو واقعي عدالت منځ ته راشي.

غلام زرملوال چې د پښتون انجمن غړی دی وایي چې د انصاف څخه باید کار واخیستل شي هغه څه چې پښتنو تر نورو زیات لرل هغه څه وو:

راځئ له انصافه به نه تیر یږو هغه څه چې د مثال په توګه پښتنو چې زموږ د هیواد اکثریت قام دی له نورو افغاني قامونو څخه زیات لرل څه وو؟ په اصل کې که خدای ته مخ کړو بنده ته شاکړو په افغانستان کې پښتنو ته خپل حق نه ؤ رسیدلی داقتصادي خوا غریب وو ، د ماشومانو د پاره یې ښوونځي نه وو او د روغتیا د پاره یې روغتون نه درلود ، که تاسو

په ربتیا په حکومتي دستګاوو کې ددوی برخه وڅیړئ نو درته څرګنده به شي چې پښتنو ته خپل حق نه ؤ رسیدلی په اداره کې، په پوهنه او روزنه او کتاب کې د پښتو ژبې برخه په هیڅ شمار یدله موږ او تاسې ټولو ته څرګنده ده چې تعلیم یافته د پښتنو لکه څنګه چې په پښتو خبرې او لیکنې کولې په هغه اندازه یې په دري ژبه خبرې کولې خپله ژبه یې بلله او بولي یې مګر هغه څوک چې وایي چې په افغانستان کې پر دوی ظلم شوی دی خپل ګریوان ته دې سرټیټ کړي آیا دا ادعا کولی شي. له بلې خوا راځئ چې د پکتیا، ننګرهار، پکتیکا، کندهار او هلمند په دښتو کې وګورو چې آیا د هغو اولسونو ژوند په دښتو کې داوسیدونکو ازبکو یا ترکمنو، هزاره ګانو او تاجکو تر ژوند ښه دی نو دا خبره چې په افغانستان کې دې په مشخصه توګه له یو قام سره ظلم شوی وي زما په نظر بې اساسه خبره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اووم څپرکی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۲۳

## د داؤدخان کودتا او جمهوریت

د محمد ظاهرشاه د سلطنت په وروستي وخت کې داسې ویره پیدا شوې وه چې حالات په خرابیدو دي د محاذ ملي مشر پیر سید احمد گیلاني وایي چې همدا دلیل ؤ چې په سیاست کې یې د ګډون فیصله وکړه:

ما د اعلیحضرت ظاهرشاه د سلطنت په اواخرو کې نیت کړی ؤ چې سیاست ته داخل شم ، مرحوم موسی شفیق چې په داوخت کې صدر اعظم هم ؤ او مخکې د هغه نه یې هم غټ غټ ماموریتونه درلودل زما ډیر نژدې

دوست ؤ هغوی سره ما په دې باره کې خبرې کړې وې موږ ویل چې باید سیاست ته داخل شو او دغه ډار چې ویریدلو چې داسې یو نظام به راځي چې دافغانستان دملت مخالف وي او په زور به حکومت وکړي لکه چې داځوکاله چې موږ ورسره جهاد وکړ موږ ویل چې باید سیاسي جبهه ورته جوړه کړو او دسیاست له لارې نه هم ددوی مقابله وکړو لاکن متاسفانه چې داؤدخان راغی او نظام واوښت.

**دافغانستان پخوانی پاچا محمدظاهرشاه وایي چې هغه پیشبینه ؤ چې په دیموکراسۍ کې داخبرې موجودې وې ولی دکودتا توقع او په خاصه بیا دخپلو شخه یې نه درلوده:**

زه په بشپړه توګه پیشبین وم کله چې دیموکراسي وي، کله چې آزادي وي دا طبیعي خبرې دي نو ځکه ما دزغم څخه کار اخیسته خو څو پورې چې زما په یاد دي دا غورځنګونه دهیواد دتجزیي او بربادۍ علت نه ووخو په چاچې ماګمان نه کاوه رابانديې یې کودتا وکړه خو زه فکر نه کوم چې زما زغم او زما پراخ نړۍ لید د اوسنۍ وضعې سبب وي کــه څه هم ځینو راته دکودتا خبرې کولې خو زه له چا سره بدبیني نه لرم دا دخدای اراده وه.

**دهمدې کال دسرطان دشپږویشتمې نیټې په پیل کیدو سره دسردار محمد داؤدخان په مشرتوب کودتا پیل شوه. عزیز نعیم چې دخپل اکا په پروګرام ناخبره ؤ**

وایي چې په نیمه شپه کې یې د ټوپکو ډزې واوریدلې:

د سرطان په پنځه ویشتمه نیټه مریض وم او په کورکې پاته شوم په نیمه شپه کې مې د ټوپکو ډزې او د خلکو غږونه واوریدل داسې ښکاریده چې یوه نظامي عملیه په شروع کیدو ده د ډزو غږونه دوامدار شول او نور خوب رانغی وروسته مې تلیفون راپورته کړ، ولې معلومه شوه چې تلفون کار نه کاوه بالاخره ما او میرمنې مې تصمیم ونیو چې د باندې راووځو چې راووتلو د جنرال عبدالولي کور محاصره دی د هغه ترکور چې تیر شولو یو زرهدار تعقیب کړو موږ یې ونه پیژندلو چې څوک یو خو پر موټر دار گ رسمي نمبر پلیټ ؤ ماهم موټر چابک کړ د وزیر اکبر خان په واټونوکې یو عسکر لاس راکړ چې ودریږئ موږ ونه دریدو او موټر مو نور تیز کړ عسکر فیر وکړ او د موټر د مخ هنداره یې راماته کړه خو موږ ونه دریدو او د شهزاده احمدشاه خان، چې د سلطنت وکیل ؤ د کور خواته روان شولو هلته چې ورسیدو عسکرو ودرولو او په خپل موټر کې یې کښینولو ترشپږو بجو یې دلته وساتلو او وروسته یې د قدیر خان کورته بوتللو هلته یې د شاهي رژیم مهم منسوبین راوستلي وو د سحر په اووه بجې مرحوم سید عبدالاله او مرحوم قدیرخان راغلل او ماته یې وویل چې تاسې په اشتباه کې راوستل شوي یاست په دې وخت کې هم زه نه پوهیدم چې څه پیښه ده او کله چې

کورته راورسیدم او راډیو مي ولګوله د مرحوم جمهور رئیس افتتاحیه بیانیه مې واوریدله.

په همدې سهار پوره کنترول ترلاسه شو او سردار محمد داؤد خان د راډیو افغانستان د لارې خپله لومړۍ وینا وکړه:

خویندو او ورونو سلام! د خپل وطن د خدمت په ترڅ کې زه د خپلو ماموریتونو په وخت کې همیشه د داسي هدفونو په فکر کې وم چې د افغانستان د خلکو په خاصه د محرومو طبقو او ځوان نسل د مادي او معنوي ودې له پاره یو مثبت محیط منځ ته راشي. په دې محیط کې باید د هیواد ټولو خلکو بې له تبعیض او امتیاز څخه د وطن په انکشاف کې برخه اخیستې وای ډیر وخت تیر شو اوبې حده کوښښونه وشو چې په تدریج سره په دې لاره کې خنډونه لیرې کړو ما د خپل وطن د راتلونکي وخت د نیکمرغۍ له پاره بیله یوې واقعي ډیموکراسۍ چې بنسټ یې د خلکو پر اکثریت ولاړ وي بله لاره نه لیدلې او نه یې وینو.

داسې ښکاري چې د دې حرکت پلان په وروستیو وختونو کې نیول شوی وي ډاکټر محمد حسن شرق چې د سردار محمد داؤد خان نژدې ملګری ؤ وایي چې په اول کې دا خبره نه وه:

تاسې ته وایم چې د ډاکټر صاحب محمد یوسف خان په وخت کې قطعاً

د اعتمادي په وخت کې تاسې ته معلومه ده چې وضعې يو مخ بيل شکل غوره کړی ؤ اوس زه نه غواړم چې په دې برخه کې تاسې ته څه ووايم موږ په دې عقيده شولو چې بايد لنډه لاره پيدا کړو چې قدرت خلکو ته نقل شي او خلک خپل سرنوشت په خپله وټاکي نو يوائځنۍ لنډه لاره کودتا وه موږ د کودتا لاره پيدا کړه او له دې لارې موفق شولو، موږ وکولای شول چې د اردو حساسې کيلې پيدا کړو او داسې يې تنظيم کړو چې لوړ رتبه جنرالان ونه کولای شي چې حرکت وکړي. د همدې تنظيم په اساس موږ وکولای شول چې په معين وخت کې کودتا وکړو او کامياب شولو.

په لوړ رتبه جنرالانو کې جنرال عبدالحکيم کتوازی هم شامل ؤ چې په کابل کې ديوې مهمې فرقې قوماندان ؤ او په هم هغه شپه ونيول شو:

زه چې يې بندي کړم ماته يې وويل تا فرقې ته امر ورکړی ؤ چې حرکت وکړي زموږ پر ضد. ما فکر وکړ چې دا خلک بې عقل دي يا ساده يا بې تجربې خلک دي او گستاخ خلک دي نو مې لنډ دومره ورته وويل چې زما تلفون قطع ؤ ما تلفون راپورته کړ، تلفون مې قطع ؤ دوی وويل موږ خبر يو چې تا امر ورکړی ؤ ستا قطعي حرکت هم کړی ؤ ما ورته وويل ما تلفون راپورته کړ تلفون مې قطع ؤ دوی په غصه شول چې موږ څه پوښتنه درڅخه کوو ته څه ځواب راکوې! ما ورته وويل: چې داستاسې دسوال

ځواب دغه دی چې دا زه درته وایم او که تاسې غواړئ له ما پوښتنه وکړئ چې ولې دې فرقې ته حرکت ورکړی ؤ یا دې امرورکاوه یا څرنګه وویادې تشبث کاوه نو داسې پوښتنه راڅخه وکړئ که دې تلفون قطع نه وای څه به دې کول؟ بیا نو دوی وروسته پوښتنه وکړه که دې تلفون قطع نه وای څه به دې کول؟ ما ویل که مې تلفون قطع نه وای نو به مې خپلې فرقې ته امر ورکاوه چې آماده واوسي ترڅو چې ما ورته څه ویلي نه وي دهیڅ‌چا په امر باندې حرکت ونه کړي او زه به مشغول کیدلم معلومات به مې کول چې دا حرکت له کومه ځایه دی؟ څوک یې اداره کوي؟ لاس دچا دی؟ څومره دی؟ چیرې دی؟ نظر په هغه به می بیا خپل تصمیم نیوی او خپلې قطعې ته که مې وظیفه ورکوله بیا مې خپلې قطعې ته حرکت ورکاوه. بیا ددوی سوال دغه ؤ چې ښه که داسې هم درته معلومه شوې وای چې سردار داؤدخان په رأس دکودتا کې دی او انقلاب دی ډیموکراتیک او جمهوري انقلاب دی، بیا به دې څه کول؟ نو ما ورته وویل: هغه ساعت هغه مصلحت! دې به دوی ته لږ زور ورکاوه بیا نو دوی ویلي وو چې ده به ویل چې موږ ته یې په ځواب کې وویل چې که قطعه او زه سره رسیدلي وای ما به په کابل کې د وینو ویالې روانې کړې وای او ما ورته وویل چې زما دغه بې عقل ځواب نه دی ما ورته ویلي دي چې هغه ساعت هغه مصلحت! نو دغه وه زموږ دکودتا دشروع شپه.

په افغانستان کې د شاهي دولتونو سابقه اوږده او په سوونو کلونه وه پاچاګل وفادار چې د لومړي سرخخه د کودتا په پلان کې شامل ؤ وايي چې دا د سردار محمد داؤد خان خاص مهارت او پوهه وه چې شاهي نظام يې پای ته ورساوه:

داد داؤدخان خاص مهارت ؤ ، دده پوهه وه ، دده استعداد ؤ ، دده هغه واقعي رهبري وه. يعنی دصاحب منصبانو په لحاظ زه ځکه درته وايم په دغه کودتا کې دا تياؤ کسو څخه زيات څوک نه وو په اتياوو کسو د نظام چپه کول مگر داخاص مهارت ؤ چې دا څنګه يې ترتيب کړي. په دغه حصه کې البته هوايي قواوو ، زرهدارو کماندو او هغه صاحبمنصبانو چې په نوم دګروپ دنيولو يا دستګيري باندې يادېده چې مهم اشخاص دستګير کړي هم رول ولوباوه. يعني په کابل کې دا پلان شو موږ په دا مطمئن وو چې که چيرې په کابل کې قدرت ونيول شي د داؤدخان نوم اعلان شي هغه پيژندل شوی سړی ؤ نو په نور افغانستان کې دا ضرورت نه پاتې کيږي چې په نورو ولاياتو کې عسکر به دهغه نه دفاع وکړي. زه په خپله يوځای کې مسؤول دارتباطاتو دولاياتو سره وم په داخل کې دمخابرې وظيفه ما په غاړه لرله او په اوله ورځ زه خو دده ياور ومه هغه دواړې وظيفې مې په غاړه لرلې دټولو ولاياتونه دتبريکي تلګرامونه ورته راتله که واليان وو که عسکري قوماندانان وو خپله همکاري يې ورسره

اعلان کړه یعنې په حقیقت کې ټول افغانستان د ده رهبرې ومنله کوم
مخالفت پکې ونشو په ټول افغانستان کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۲٤

# د جمهوریت دوره او مخالف حرکتونه

دځینو خلکو په خیال د جمهور رئیس محمد داؤد خان سره چپي حزبونه ملګري ؤ وخو اجمل ختېک چې ورسره دنژدې پیژندګلوي لرله دا خبره نه مني:

> هغه چې په کور ناست ؤ نو زه به چې کله افغانستان ته لاړم نو له هغه سره به می لیدل او هغه به هم کوشش کاوه چې ما پټ یا ښکاره ځان ته وغواړي او ما ووینې هغه چې څنګه افغانستان جوړولو نو په ذهن کې یې هم هغه افغانستان ؤ نو هغه یو ملي ، واحد ، مترقي او په صحیح معنو

باندې مستقل په خپلو پښو ولاړ هم په سیاسي لحاظ هم په معنوي لحاظ يعني اقتصادي لحاظ په هر لحاظ سره یو خپلواک مملکت جوړول دهغه په ذهن کې و او ورسره داوو چې دابه په خبرونه جوړیږي ددې د پاره به دافغانستان اقتصاد او دافغانستان اقتصادي ترقي وي ددې په بنیاد باندې به افغانستان مضبوطوو نو هله به موږ هغه مرام ته رسو نو دهغه ټول عمر دا گیله وه چې کومو حکومتونو هغه لیری کړو یا په هغه وخت کې ؤ هغه به دا گیله وه چې په هغه لوري کارنه کوي کوم لوري ته چې هغه افغانستان بو تلل غواړي. دغه دهغه په ذهن کې داخبره وه او بیا تاسو ته معلومه ده چې په افغانستان کې دبیداری یونهضت داسې پیدا شو، یو نهضت راغی چې په هغې کې ډیر ځوانان چې وو هغوی پټ یا ښکاره دخپل دهغه وخت دحکومت نه خوشحال نه وو نو دهغو ټولو دحکومت دبدلون یوه عامه چیغه وه هغلته بیا په خصوصیت سره دا دهلمند داوبو موضوع جوړه شوه نو په هغې باندې په ټول افغانستان کې یو قسم ته نا آرامي پیدا شوه او یوه جبهه هغوی جوړه کړه دټولو سیاسي جماعتونو ددې په ضد باندې جلسې او مظاهرې به یې کولې دغه اثنا کې دا اوس یوه خبره ډیر وخت غواړي او ډیر هغه غواړي چې تاسو ته ووایم خو داوینا د داؤدخان چې راغلی دی نو داد چا په اشاره راغلی دی یا بهرنی طاقت

راوستی دی زه خپله پوره ذمه واری سره ویلی شم چې داسې نه وه دا د افغانستان دبیدارو ویښو زلمو چې په پوځ کې وو د هغو دجذباتو، دهغو دولولو او د داؤدخان دارمانونو یو داسې جوړښت یو داسې تړون وشو چې دهغې په نتیجه کې هغه خپل مرام طرف ته تلو په افغانستان کې حرکت وکړاو راغلو اختیار یې واخیستو.

عبدالحمیدمبارز وایي چې د جمهور رئیس داؤد خان سره داسې افسران ملگري وو چې وروسته معلومه شوه چې دخلق دډیموکراتیک گوند غړي دي:

دغه صاحب منصبان چې په شوروي اتحاد کې یې زده کړه کړې وه وروسته معلومه شوه چې دخلق دگوند غړي وو اوس خو مور قضاوت کولای شو چې داخوک دي وفادار څوک ودا ټول وروسته دخلق دگوند غړي وپیژندل شول او بیا یې د ثور په انقلاب کې برخه واخیستله البته دسردار محمد داؤدخان په کودتاکې داسې څیرې هم وې چې دکین اړخو سره یې هیڅ اړیکی نه درلودلې لکه غلام محی الدین دترافیکو مامور، دفوائد عامی وزیر فایق، دکورنیو چارو وزیر قدیر، دادری سره کسان ما پیژندل چې چپیان نه وو په دې معنی چې داکسان دسردار محمد داؤد خان خپل خاص ملگري وو علاوه په دې نور کسان لکه دسالنگ قوماندان، دقوای کار قوماندان داهم په کودتا کې وو خو دکینلاسو سره یې ارتباط نه

درلودئ خبر داده هرڅوک چې کودتاکوي داګوري چې څوک یې په ګټه تامیږي او دکومو ځواکونو څخه ګټه کولای شي.

پاچاګل وفادار چې دجمهور رئیس داؤدخان نژدې ملګری او په کودتا کې شامل ؤ وايي چې په هغه وخت کې څوک په دې نومونو نه پیژندل کیدل:

په دې کودتا کې چې څوک شامل وو په کودتا کې یې حصه اخیستې وه د داؤدخان سره په هغه وخت کې په دغه نوم باندې چې داخلقي دی دا پرچمي دی، نه داؤد خان څوک پیژندل او نه دغو خلکو له داؤدخان سره تماس لرئ موږ اقلاً اتیا نفره صاحب منصبان وو. د داؤدخان سره خو دقوای زرهدار نه یونفر ،دکماندونه یونفر، په خپله زه دهوايي نه وم دا موږ مسؤولیت درلود چې ده سره مو تماس نیوئ مګر داچې موږ شاته نور څوک ملګري لرل دوی هر وخت نشو کولای د داؤدخان سره ووینی. یا که فرضاً ددغونه کوم نفر په حزب کې ؤ په خلق کې یا په پرچم کې داؤدخان دهغونه نه ؤخبر او نه یې نوم پیژندئ. غیر د داؤدخان څخه په هغه کودتاکې چا لوی رول نه دی لوبولی په نظامي لحاظ صحیح مګر په سیاسي لحاظ کله چې داؤد خان قدرت ته ورسید خپله کابینه یې جوړه کړه قوماندانان یې بیا تعین کړل او وروسته جریانات چې بیا څه رقم شول داځینې خلک بیا داحزب ته جذب کیږي مثلاً اسلم وطنجار دی دکودتا

نه وروسته بیا د حزب ډیموکراتیک خلق غړی کېږي یعنی جناح د خلق هغې
خواته ورځي نو دده په وخت کې ده د کمونستیانو سره د چپیانو سره چې دده
تماس وي مستقیم یا غیر مستقیم هیڅ دا نا ممکنه وه.

دځینو میانه رو ګوندونو سره هم د جمهور رئیس داؤد خان اړیکې ښې نه وې پخوانی صدراعظم محمدهاشم میوندوال چې د حزب ډیموکرات مترقي مشر ؤ د کودتا په تور بندي شو. ډاکټر احسان روستامل تره کی چې د میوندوال په کابینه کې وزیر او دهغه نژدې ملګری ؤ باور لري چې نوموړی د شورویانو د ګټیو په مقابل کې لوی خنډ ؤ نوځکه په زندان کې واچول شو:

فقید میوندوال د شورویانو په نظر یو خطرناک ملي او پیاوړی
شخصیت ؤ چې د شورویانو نفوذ یې په افغانستان کې د ډیرو خنډونو سره
مخامخ کاوه. د بله طرفه سردار داؤد خان هم دده د نفوذ نه ډاریده نوځکه
دغه مبارز افغان د کودتا په تنظیم متهم شو او په جیل کې واچول شو په
جیل کې د داخلې وزیر او ځینې شوروي جاسوسانو هغه لوی ملي
شخصیت په شهادت ورساوه چې د افغانستان اکثریت خلک د دې
دردناکې حادثی نه اطلاع لري.

محمدهاشم میوندوال په حق ورسیدئ حکومت وویل چې هغه خود کشي کړې او په خپله یې ځان وژلی دی ولې د افغانستان خلکو داخبره ونه منله او وې ویل

چې میوندوال د دې سړی نه ؤ چې ځان په خپله ووژني د میوندوال دوستانو او ملګرو د دې مړینې مسؤولیت پر حکومت او په خاصه بیا پر امنیتي واکدارانو واړاوه ولې دهغه وخت د پولیسو او ژاندارم عمومي قوماندان عبدالصمد ازهر چې د میوندوال څخه تحقیقات کول د مجاهداولس د اخبار سره دیوې مرکې په ترڅ کې دامسئولیت نه دی منلی او وایي چې هغه په خپله ځان وژلی دی. د میوندوال ترڅنګ د اسلامي حزبونو سره هم د جمهور رئیس داؤد خان اړیکې ښې نه وې د حزب اسلامی مشر ګلبدین حکمتیار وایي چې د جمهور رئیس داؤد خان د کودتا هدف داؤ چې اسلامي تحریکونه تر فشار لاندې راولي:

مسلحانه فعالیتونه په هم هغه دورکې پیل شول. په لغمان ، کونړ ، ننګرهار په مختلفو ولسوالیو کې ، په پکتیکا کې په پنجشیر کې ، کابل کې درژیم په خلاف موږ تحرکات کړي او وسله مو اخیستې ، مسلحانه فعالیتونه شوي او دې ته موږ رژیم مجبور کړو څکه هلته خو قدرت د کمونستانو په لاس کې ؤ او کمونستانو دا کودتا د دې د پاره کړې وه چې ویې لیدل چې ظاهرشاه د اسلامي تحریک د مخنیوي نه عاجز دی باید وضع بدله کړي که حالت په همدې شکل پاتـه شي کیدای شي څه موده بعد د کمونیستي احزابو تغرتبول شي کودتا وشوه د کودتا هدف داؤ چې دا اسلامي تحریک وټکوي موږ احساس د خطر وکړو مجبور شوو د رژیم

دمقابلې بله لیار اختیار کړو.

**دافغانستان جمهور رئیس برهان الدین رباني چې په دې وخت کې دپوهنتون استاد ؤ د پولیسو تر تعقیب لاندې ؤ او په همدې وخت کې دافغانستان څخه مهاجرت ته مجبور شو:**

زما او داستاد نیازي پر کور پولیسو یوه شپه حمله وکړه تقدیري په هغه شپه زه په کور کې نه وم هغه یې ونیوئ ولې زه یې دستګیر نه کړم، زه خبر شوم چې استاد نیازی یې نیولی دی نو کورته نه ولاړم دری شپې وروسته زه مجبور شوم کورته ولاړم چې باید حکومت ته ځان تسلیم کړم بل سهار د پوهنتون په موټر کې چې کښیناستم ټول استادان حیران او یو بل ته یې کتل دهغوی فکر دا ؤ چې زه بندی شوی وم په دې وخت کې زه د پولیسو تر تعقیب لاندې وم د پولیسو موټر وروسته راپسې ؤ پوهنتون ته چې ورسیدم دڅلورم ټولګي دشاګردانو مونوګرافونه مې ورکړل په دې وخت کې پولیس راغلل او ماته یې وویل: چې راځه! ما ویل: ښه دي، درسره ځم په دې وخت کې دیو شاګرد چې هلته موجود ؤ په سترګو کې اوښکې راغلې راته وې ویل چې مه ځه! زما هم په زړه کې راو ګرځیدل او. د تعلیم او تربیې فاکولتې په اوږده دهلیز کې مقابل طرف ته ولاړم او دڅلورو زده کوونکو سره یوځای دګردنۀ سخي دلارې د پوهنتون څخه

ووتو او په دې ځای کې مې کالي واغوستل ځکه چې دريشي مې په غاړه وه ما هيڅ پروګرام نه درلودئ چې چيرې ولاړشم! چاويل شمال ته ولاړشه! ولې وروسته فيصله وشوه چې بايد جلال آباد ته ولاړشم، زه د پوليسو تر تعقيب لاندې وم، د جلال آباد په اډه کې پوليسو بندي کولم نو ځکه مو دريو شاګردانو ته وويل چې تاسې په اډه کې په سرويس کې کښينئ يکه توت ته به موږ د پس کوڅو د لارې په ټکسي کې ځان درورسوو هلته موږ و درونئ تاسو د سرويس څخه راښکته شئ ستاسو پرځای به موږ کښينو هم هغسې مو وکړل درو شاګردانو په يکه توت کې موږ ته سرويس ودراوه او د هغو پرځای موږ کښيناستو او جلال آباد ته ولاړو او د جلال آباد څخه د کونړ له لارې پاکستان ته ورسيدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۲۵

## اقتصادي پاليسي او اصلاحات اراضي

کله چې جمهور رئيس داؤد خان واک تر لاسه کړ نو د هیواد اقتصادي حالت ته يې توجه واوښته. د کتونکو په خيال د جمهوريت په پيل کيدو سره پريماني هم منځ ته راغله. جمهور رئيس داؤد خان په خپله هم د اقتصادي پرمختګ خبرې کړې او د ۱۳۵۵ کال په لويه جرګه کې يې چې په کابل کې جوړه شوې وه، په دې هکله اشاره کړې ده:

د داخلي عوايدو رشد ٦,١٤٤ فيصده، د پانګې اچونې د مصارفو

رشد ٤٩٧ فیصده او د عادي مصارفو رشد ۱۰٦ فیصده تخمین شوي
دي. صادرات ۸, ۷۷ فیصدو ته لوړ شوي دي او واردات ٥٥ فیصده
تخمین شوي دي. صنعتي تولیدات له ٥٦ , ٥ ملباردو افغانیو څخه
۲۰ , ۱۰ ملیاردو افغانیو ته زیاتیږي. زراعتي تولیدات د ۸ , ۳ ٥
ملباردو افغانیو څخه ۹ , ۷۳ ملیاردو افغانیو ته یا په سلو کې ۳۸ لوړ
شوي دي. د سړکونو اوږدوالی به له ۹۲۰۰ کیلومترو څخه ۱۱۰۰٦
کیلومترو ته ډیر شي.

د اقتصادي ماهرانو په خیال ترانسپورټ او سړکونه د یوه هیواد په
پرمختګ کې ډیر اهم دي. ډاکټر حسن شرق وایي چې لا ډیره پخوا څخه داؤدخان
په دې برخه کې پوره علاقه اخیستې وه:

د تورخم -جلال آباد سړک شروع کیدئ. بلا استثنی هره ورځ د
پنجشنبې په سهار په شپږو بجو یې حرکت کاوه. کله به زه ورسره وم او کله
به نه وم. هغوی به تلل تورخم ته د تورخم څخه به جلال آباد ته راغلل او بیا
به ماهیپر ته راغلل چې تر اوسه پورې کار پرې کیده کارګران به یې لیدل
او شپې ته به یې کورته ځان راورساوه. په دوهمه هفته کې یې کار داوو
چې د سالنګ لارو ګوري. بنا یې تاسې سالنګ لیدلی وي. کله چې تونل
نه ؤ دری واره د انجنیرانو سره یو ځای پر اس د سالنګ په غره واوښت چې

يوه ښه لاره پيدا کړي چې د سالنګ تونل وباسي. زه بايد تاسې ته ووايم چې په افغانستان کې به داسې خبنته نه وي ايښودل شوې چې ورباندې د داؤد خان د لاس نخښه نه وي.

ډاکټر عبدالصمد حامد وايي چې د خبرو او عمل تر منځ فرق دی او که په پوره غور سره وکتل شي ښه نتيجه تر لاسه نه شوه:

په وروسته پاتې ممالکو کې اصلي معضله دا ده چې د خبرو او عمل تر منځ ډېر فرق وي. په خبرو کې يو شی وي او په عمل کې بل شي وي له دې لحاظه ډېر مشکل دي چې سړی يوازې قضاوت د وينا په بنا وکړي. او س چې سړی د جريان پس منظر ګوري، که دی موفق شوی وای چې په آخره کې افغانستان د کمونستانو له لاس نه خلاص کړي او لکه چې له پاکستان سره يې هم ښه روابط شروع کړي وو، له ايران سره، عربستان سعودي او حتی تر مصره پورې، عراقه پورې او هند سره يې هم لرل، يعنی که دی موفق شوی وای چې افغانستان د کمونستانو له چنګ نه خلاص کړي په دې کې شک نشته چې د ده نوم او شهرت به د افغانستان په تاريخ کې د يو لوی شخصيت په توګه معرفي کيده، اما بد بختانه دې شي باندې دی بريالی نشو او په تاريخ کې چې قضاوتونه کيږي، نتيجې ته يې ګوري، نتيجه بدبختانه خرابه وه او نتيجه داسې شوه چې د ده دوره د دې له پاره

مفیده ثابته شوه چې کمونیستیانو د ده تر سیوري لاندې وده وکړه او په دوهمه مرحله کې بیا خپل قدرت تر لاسه کړي.

عزیز الله واصفي چې د داؤد خان نژدې ملګری او د کرنې وزیر ؤ وایي چې د جمهور رئیس انتخاب بنه نه ؤ او داسې کسان یې مقرر کړي وو چې دی یې د حالاتو څخه ناخبره ساتلی ؤ:

داؤد خان په خپله ډیر لوی او عالي شخصیت درلودئ او ډیر لوی سړی ؤ، ولې خو له بده مرغه درته ووایم چې د ده په ملګرو کې داسې یو سړی چې د داؤد خان په واقعي فلسفه او د داؤد خان په مقابل کې اظهار د حقایقو وکړای شي، داسې خلک داؤد خان نه لرل. پر داؤد خان باندې یوه ډله خلک را ټول شوي وو چې خپل قلبي مکنونات او احساسات یې درلودل لکه د خلق او د پرچم د ډلې خلک. بله ډله داسې خلک وو چې دده ته یې په ځینو حالاتو کې د اطلاعاتو ورکولو په خاطر قربت حاصل کړی ؤ. یوه ډله داسې خلک وو چې سردار داؤد خان د هغوی سره قدیمي اشنایي درلودی او د هغوی په تعاقب کې یې دا خلک راوستلي وو او خپل کار یې ځینې اخیستی.

د اصلاحات اراضي پروګرام په لومړي ځل په همدغه وخت کې تر لاس لاندې ونیول شو. کتونکي وایي چې په دې پروګرام کې احساسات داخل او پروخت

نه ؤ. انجنیر عبدالکریم عطایي چې د کابینې غړی ؤ د دې خبرو سره موافقه نه لري:

که چیرې تاسې د ځمکو د اصلاحاتو و پلان ته ځیر شئ نو ښکاره به شي چې په دې پلان کې د هیڅ ډول احساساتو څخه کار نه دی اخیستل شوی. د بلې خوا که چیرې د افغانستان د ځمکو د خاوندانو تاریخ ته وکتل شي نو یوه افغانۍ مالیه هم چا وحکومت ته نه ورکوله. په افغانستان کې داسې زمینداران وو چې په زرهاوو زرهاوو جریبه ځمکه یې لرله. د دې خانانو سره بزګران وو چې استثمار یده. د دې له پاره چې یوه داسې منځګړې لاره وموندله شي چې زمیندار خپله زمینداري وکولی شي او یوازې دومره ځمکه باید ولري چې دی ګټه ځینې اخیستلی شي، نو هغه ؤ چې د ځمکو داصلاحاتو پلان وړاندې شو. تاسو ته معلومه ده چې په افغانستان کې هر کال ټولې ځمکې نه کرل کیږي. یو کال به د ځمکې یوه برخه او بل کال به د ځمکې بله برخه کرل کیده، نو هغه ؤ چې مترقي مالیه د دی ټولو له پاره د حل ښه لاره وه، چې په دې سره و حکومت ته په عدل برابره مالیه ټوله شي او د بلې خوا زمیندار باید دومره ځمکه ولري چې هغه کرلی شي او د هغې مالیه ورکولی شي، هغه ځمکه چې شاړه پاتې وي ګټه یې څه وه؟ چې چا به کرلی هم نشوای زه ویلی شم چې د ځمکو د اصلاحاتو پلان ډیر منظم او ښه پلان ؤ. پوهانو ښه فکر او ځیرنې پر کړې

وې او له هره پلوه مناسب پلان ؤ.

اصلاحات اراضي د کرنې د وزارت په چوکاټ کې تر لاس لاندې نیول شوي وو، عزیز الله واصفي چې د کرنې وزیر پاتې شوی دی وایي چې دا پروګرام تر هغه د مخه په تصویب رسیدلی ؤ:

د داؤد خان د اصلاحات اراضي مسئله زما تر مخه په تصویب رسیدلې وه حتی تر دې مرحلې پورې چې د اصلاحات اراضي مسئله پیاده شوې نه وه د جاپانه سره د بانک زراعتي په وسیله وزارت زراعت یو پیشنهاد کړی ؤ، یو قرارداد کړی ؤ چې دوه سوه دانې تراکتورونه دا کوچنې تراکتورونه واخلي او دا کوچنیو زارعانو ته یې ورکړي زه چې وزیر شوم یو وخت په بانک زراعتي کې دا مجلس دایر شو دا مسئله را پورته شوله. ما ته اطلاعات راغلي وو چې په دې کې د وزارت زراعت ډېرو عمالو او د بانک زراعتي عمالو پیسې اخیستې وې په نامه د کمیشن د جاپانیانو څخه او د بلې خوا څخه ما ته دا را معلومه وه چې دا کوچنې تراکتورونه په افغانستان کې ګټور نه دي. دا مرحله د ریفورم د مخکې ډېره مشکله ده. ما ته د افغانستان د خلکو دا ذهنیت معلوم ؤ چې دا ناممکن نه دي او که ممکن وي نو ډېر ګران کار دی او په موجوده حالاتو کې مونږ پرې نه موفق کیږو. ما په هماغه مجلس کې چې بیخي ژوندی

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاریخ دی، اسناد یې موجود دي. ما په جدي توګه پر اصلاحات اراضي باندې انتقاد وکړ چې بانک زراعتي دې ته کتلی چې دا اصلاحات اراضي میدان ته راوتلي وای بیا به مو قرارداد کولای. تاسې د مخه تر دې چې اوبو ته نه یئ ګډ شوي، بوټونه ولې کاږئ. ما داشی کړی ما چې په حیث د وزیر زراعت په افغانستان کې مطالعه وکړله په افغانستان کې د خلکو مځکو ته لاس اچول یو عاجل خطر لاره ما حکومت ته پیشنهاد کړی ؤ چې په افغانستان کې باید نوری ویالې وکښل شي نورې ویجاړې ځمکې، دولتي ځمکې آبادې شي او د افغانستان خلک په هغو باندې مصروف شي. د خلکو څخه د ځمکې اخیستل بیا و خلکو ته ورکول په هغه مقدار باندې ډیر لږ تأثیر کاوه د افغانستان په زراعت باندې، په دې خاطر چې په موجوده حالاتو کې که تاسې وینئ د افغانستان لوی لوی زمیندار چې تر آبیاری لاندې ځمکه لري، ډیر محدود کسان وو دوی د ډیرو متوسطو زمیندارانو ځمکې هم په نقشه کې راوستلې وې، یعني د ریفورم اراضي خپل فورمول چې جوړ شوي ؤ چندان صالح فورمول نه ؤ. زه په خپله د هغه سره مخالف وم چې یوه علامه یې داوه چې ما د بانک انکشاف زراعتي ټراکټورونه جواب کړل اوما داؤد خان ته په رسمي توګه پیشنهاد وکړ چې په دې مسئله کې بیړه په کار نه ده. دا باید د افغانستان

د خلکو په مشوره په یوه دقیق حساب، په ډیر ښه پلان او اصولو باندې عملي شي. په هروخت کې په واقعي توگه که ریفورم وي او خلک ورته تربیه شوي وي او ریفورم چې پر یوه میکانیزه سیستم باندې راشي ریفورم ډیر محترم او ډیر مسعود شی دی او که په داسې شکل باندې وي چې د خلکو ځمکې واخله تقسیم یې کړه، او وه جریبه یو زمیندار ته ورکړه او په اووه جریبه باندې یو فامیل ژوند کوي نوما گمان نه کاوه او س یې هم نه کوم چې دا به دافغانستان د خلکو له پاره د سعادت نخښه وي نو په دې خاطر باندې دا پلان ناکامه ؤ او ځکه نا کامه شو چې د هغه پلان شوي محتویاتو او مبادیو هم علمی مبنا نه درلوده.

# ۲۶

## د هلمند اوبه او پروژه

د هلمند پروژې د افغانستان د جنوب غربي سيمې ډير ميدانونه تر اوبو لاندې راوستل او د اسيمه يې يو ځل بيا د پخوا په شان د غلو گدام وگرځوله. ډاکتر فاروق اعظم چې د هلمند په پروژه کې يو لوی مامور پاتې شوی دی وايي چې دا پروژه حتی امير حبيب الله خان په نظر کې نيولې وه:

دا پروژه که تاسې يې تاريخچه وگورئ نو د امير حبيب الله خان په وخت کې سردار محمد عثمان خان شروع کړې وه او نودا په ۱۹۱۰ کې دا پروژه شروع شوې وه. بيا وروسته تر هغه وزير محمد گل خان چې راغی

دپروژې کـار یې بیـا پـسـې شـروع کړ او پـه دویم جـهـاني جنګ کـې هم افـغـانسـتـان پـه خـپلو پیسـو یې له خـارجي ملکو له کمک څـخـه دا پروژه تقریباً ۲۵ کیلومتره د بغرا کانال په خپله کښلی ؤ.

سید قاسم رښتیا چې په همدې وختونو کې کابینې ته ورغلی ؤ وایي چې په سیاسي لحاظ دا پروژه ډیره مهمه وه:

وا دي هلمند چې د محـمـد هاشم په وخت کـې شروع شـوې وه هلتـه مقصد داؤ چې انګریزانو هندوستان پریښی دی او د افـغـانسـتـان پـه شرق کې یوه سیاسي خلا پیدا شوې وه نو حکومت فکر کاوه چې دا خلا باید ډکـه شي. دوی کـوشـش درلود چې امریکایان پـه دې کـې دلچـسپی پیـدا کړي چې د افـغـانسـتـان ټول مواد خام چې لري ټول ذخایر دست نا خورده دي، کـه تاسې دلتـه سرمـایه ګذاری وکړئ داخل شئ مـوږ ګـویـا اسـتـقـبـال کوو. ګـویا پـه وخت د محـمـد هاشم کـوشـش وشو چې یوه امریکایي کمپني دلتـه راشي دا سنه ۱۳٤٦ هـ ش ده چې افـغـانسـتـان دا قـرارداد وکـړ. اول ګویا نهر بغراؤ. د هغه پیسې هم هماغه پیسې وې چې افغانستان په وخت د جنګ کـې د قـره قل له درکـه یو څـه پیـسـې پـه امـریکا کـې درلودې. عبدالمجید خان پیشنهاد وکړ چې په دغه مدرک کې دا مصرف شي. هغه پنځلس ملیونه موږ مصرف کړې چې نهر بغرا تکمیل شو. لاکن دلتـه

خشک سالي راغله. خشک سالي چې راغله اوبه کښته وې نهر ته جاري نه شوې. یو وار موږ پوه شوو دا هر څومره مصرف چې مو کړی دی بیځایه دی او خلکو د امریکایانو په مقابل کې ډیر سخت عکس العمل وښوداو د شاه محمود خان په حکومت کې هم بحران راغی. دلته یې د امریکایانو سره مذاکره وکړه، امریکایانو وویل چې زموږ سره هم داسې ریکارډ موجود نه ؤچې موږ پوهیدلي وای چې پس له لس کاله، پنځلس کاله داسې یوه وچ کالی راځي او داسې کیږي. که تاسې غواړئ چې مطمئن واوسئ نو دلته دوه بندونه باید جوړ شي، د کجکي او ارغنداب او کاسه بند په خپله د نهر بغرا له پاره هم جوړ شي. هغه په څو کیږی؟ هغه په ۲۵ میلیونه کیږئ؟ هغه د کوم ځایه کوو؟ امریکایانو وویل چې موږ پور در کوو. هغه پور چې دوی را کړ بندونه جوړ شول لاکن بیا بل مصیبت پیدا شو پر ځمکه چې اوبه راغلې ځمکې شوره پیدا کړه د دې له پاره باید جرکني وشي. هغه پنځلس ملیونه روپۍ په کار وې نو دلته د خلکو په نظر دا د امریکایانو یو منفي کار او د افغانستان په نقص یوه پروژه ثابته شوه. خلکو داسې فکر کاوه لاکن وروسته په سنه او یا کې دا معلومه شوه چې هغه ارزښت لري.

د ځینو کسانو له خوا د هلمند پروژه یوه ناکامه پروژه معرفي شوې وه خو

ډاکټر فاروق اعظم دا خبره نه مني:

د هلمند پروژه په حقیقت کې یو لوی پوهنتون دی او یوه ډېره مغلقه پروژه ده. هغه خلک چې وایي چې دا ناکامه پروژه وه زه د هغو سره اتفاق نه لرم، مثلاً د هغه په خلاف روسانو په خپل ټول طاقت د تبلیغ مشینري په کار اچولې وه کمونیستانو هر ځای په دې پسې تبلیغ کاوه. ایران د دې پروژې مخالف ؤ او هغوی نه غوښته چې د هلمند اوبه استعمال شي، د افغانستان په خاوره کې. د ایران حکومت او د هغه طرفدارانو په د ننه افغانستان کې مخالفت کاوه، خو کله چې د افغانستان حکومت فیصله وکړه، جنګ ختم شو چې موږ باید ډېرې اوبه را وګرځوو او د ایران هغه مشکلات چې آینده موږ ته خلق کیږي هغه باید موږ قابو کړو.

که څه هم د هلمند رود د افغانستان له غرونو څخه سرچینه اخیستې او د افغانستان په د ښتونو کې ختم شوی دی، خو بیا هم ایران وایي چې ورکې د هغوی حق او وربانډې کشاله موجوده وه. په وروستي ځل په ۱۹۷۳ کال کې کله چې موسی شفیق صدراعظم ؤ د هلمند داوبو موافقه حکومت او پارلمان و منله. عزیزالله واصفي چې په دې وخت کې د اولسي جرګې وکیل ؤ دا موافقه نه ده منلې:

نو پخوا دا د هلمند په نامه د حقابه سیستان از دریای هلمند ؤ، موږ څو واره دا مذاکره د ایران سره کړې ده اصلاً د معاهدې نوم حقابه سیستان

از دریای هلمند ۊ. تاسي پوه شوا ست. دا چي بیا دوی را ولاړیږي حدای دي ویخښي موسی شفیق حقابه - ایران در دریای هلمند. زه اوس هم د دې سره مخالف یم چي ایرانیان په هلمند کې حق نه لري. د حقابې حق بین المللی حق تثبیت شده د سیستان دی. که دا هغه معاهده په نامه د حقابه سیستان وای امکان لري زما به د دې مخالفت اندازه کمه وای ولې دوی چي وغوښتله چې حقابهٔ ایران، دا د ایران حقابه نه ده. زه اوس هم له دې سره مخالف یم او دا حقابه د سیستان ده . حق د ایران نه دی. د سیستان دا حق دی. تر اوسه پورې د افغانستان په ټول ډیپلوماتیک روش کې سیستان جزد خاوری د ایران نه دی بلل شوی. کوم پروتوکول کوم سند موږ نه ورسره لرو د ایران او افغانستان په مابین کې دا مسئله لاینحله پر ته ده .په دغه معاهده کې تفتیش موجودۊ چې ایران ته یې دا حق ورکاوه چې د افغانستان په ملکیت کې دوی تصرف وکړی. مثلاً د دهراود په رود کې دوی یو گیج د اندازه گیری ایښی ؤ او د ایرانیانو کمیسار به راتلئ او اندازه به یې اخیستله چې یعني تاسې دومره اوبه په دغه ځای کې نشئ مصرفولای چې د ایرانیانو حق په دې کې موجود دی. موږ د ایرانیانو حق نه منو. د ارغنداب په رود مثلاً یا د دهراؤد په رود کې د ایران حق نه منو.

د عزیز الله واصفي تر ځنګ سیاسي ګوندو نو هم دا موافقه ونه منله.

سلیمان لایق چې د خلق د ډیموکراتیک گوند د سیاسي بیرو غړی ؤ وایي چې د هغوی وکیلانو په پارلمان کې د هلمند د اوبو موافقه یو مخ رد کړې ده:

زموږ د گوند پارلماني نماینده گانو او همداسې ټول گوند مجموعاً د هلمند د اوبو په باره کې د دولت د هغه وخت توافق د اوبو د ویشلو په باره کې رد کړ او موږ هغه تائید نه کړ موږ د هغه په مقابل کې ودریدلو. زما په یاد دي چې حتی یوه جبهه هم دا حزابو یا شبه احزابو چې په هغه زمانې کې موجود وو افغان ملتیان او دغسې د میوندوال ډیموکرات مترقي، زموږ پارټۍ په هغه زمانې کې نور کوچني احزاب چې هم وو لکه د ډاکټر صاحب فرزان او عصمتي صاحب دوی گوند، دوی ټولو په گډه سره ډیر جدي مظاهرات وکړل او دغه زرنگار چې ورته وایي دلته یوه کوچنۍ د خاورو تپه ده زما دغسې یادیږي لکه دا نن په دې باندې د دې پارټیو ټول رهبران را ټول شول د متحدې جبهې په توگه یې د دغو فیصلو په مقابل کې د رد اعلان وکړ.

ملي متحدې جبهې د دې موافقې پر ضد مظاهرې جوړې کړې چې یوه هم په پارک زرنگار کې جوړه شوې او ورکې پخواني صدر اعظم محمد هاشم میوندوال خبرې کړې دي. ډاکتر احسان روستامل تره کی چې د دې غونډې منتظم ؤ او افتتاحیه وینا یې کړې وه وایي چې میوندوال ته د ډیموکراټ مترقي د گوند د مشر

(c) ketabton.com: The Digital Library



په توګه د دې جبهې وعوندې ته بلنه ور کړل شوې وه:

فقید میوندوال د یو ملي او سیاسي شخصیت په حیث او د مترقي ډیموکرات د ګروپ د رئیس په صفت دعوت شو چې په ملي متحده جبهه کې برخه واخلي. په دې جبهه کې د میوندوال نقش او موقعیت ډیر بارزا و د توجه وړ ؤ. هغه متقابل اعتراض چې په دې وخت کې د متحدې ملي جبهې له خوا د میوندوال فقید په شمول سره د شپږو سیاسي حزبونو او د پوهنتون د محصلانو د جنبش د جریدې په نشرولو د زرنګار په پارک کې وشو، د افغانستان د هغه وخت په حکومت بد ولګید. زه له پوهنتونه اخراج شوم او تر عدلي تعقیباتو لاندې ونیول شوم ځکه چې ما میتینګ تنظیم کړی او تعارفی بیانیه مې ورکړې وه. باید ذکر وشي چې د پرچم نماینده ګان یعنی ببرک کارمل او خلیل زمر چې د متحدې ملي جبهې عضویت درلود، په ابتدا کې د عمومي موقف څخه د هلمند په باره کې حمایت نه کاوه خو وروسته یې خپل موقف ته لږ تغییر ورکړ او تر آخره پورې یې د مشاهد او بې تفاوته په څیر په جبهه کې اشتراک کاوه او د میوند وال خبرې یې په دقت سره تعقیبولې. په دې منځ کې د فقید میوند وال موضع او موقعیت چې پخوانی صدر اعظم هم ؤ او ټول سوابق دوی ته معلوم وو په متحده ملي جبهه کې خاص اهمیت درلود. د متحدې جبهې

جلسا تو شپږ میاشتې دوام درلود او د سردار داؤد د کودتا تروخته پورې یې فعالیت کاوه.

ډاکټر فاروق اعظم وایي چې دا موضوع تخنیکي او د خلکو مخالفت د افغانستان په گټه نه ؤ :

د خلکو رایه په تخنیکي مسایلو کې ډیر مدارد اعتبار نه وي داځکه چې خبره خو دحق او د تخنیک مسئله وي. ځینې وخت خلک د سیاسي پروپاگنډې تر تأثیر لاندې هم ځي او ځینې وخت خلک حق په جانبه وي. د هلمند په مسئله کې هر څومره چې د هلمند مسئله لاینحله پاتې وای، هغومره زموږ په ضرر وه. علت دا دی چې د هلمند ټول رود چې د پغمان له غرو څخه شروع کیږي او بیاتر ختمه پورې دا په افغانستان کې دی، خو دغه رود زموږ سرحد تشکیلوي د ایران سره. په پخوا وختو کې د امیر دوست محمد خان په وختو کې یا د تیمور شاه او شاه زمان دوی په وختو کې په هغه منطقه کې د ایران اړخ ته ډیر کم کورونه وو، ډیرو کمو خلکو ژوند کاوه، لاکن چون په ایران کې استقرار ؤ او زموږ په وطن کې همیش ناآرامي وه متأسفانه، کرار کرار هغو خلکو د دې سیند د اوبو څخه گټې اخیستې او کلي پکښې آباد یدل او چې هر څومره کلي آبادیدل او هر څومره اوبه استعمالیدې هغوی حق د اوبو د آبیارۍ پیدا کاوه او په کرار

کرار زموږ په اوبو کې د احقابه پسې ډیریده.

د هلمند لوظنامه چې د افغانستان د پخواني پاچا محمد ظاهر شاه په وخت کې لاسلیک شوه، اسناد یې د جمهور رئیس محمد داؤد خان له خوا منل شوي او تبادله شول. جمهور رئیس محمد داؤد خان په یوه وینا کې دې موضوع ته اشاره کړې ده:

د افغانستان د جمهوریت اړیکې د ګاونډي هیواد ایران سره په دیني او د ورور ولۍ پر علایقو ولاړې دي. یوازنی اختلاف د هلمند د دلتاؤ چې څو کاله د دواړو هیوادو تر منځ د اړیکو د سوړوالي سبب ګرځیدلی ؤ، خو تر هغه قرارداد وروسته چې حکومت پیشنهاد او پارلمان تأئید او د هغه وخت د پاچا له خوا توشیح شو او وروسته یې اسناد تبادله شول، اوس کوم دلیل نه لیدل کیږي چې د اړیکو د پراختیا مخه ونیسي.

# ۲۷

# حزب انقلاب ملي او لويه جرگه

عزيز الله واصفي چې د دې لويې جرگې مشر توب په غاړه لاره ، وايي چې د واقعي بيعت اخيستلو او نورو لارو چارو له پاره دا جرگه را غوښتل شوې وه:

داؤد خان په دا آخر وخت کې د دې له پاره چې دی يو واقعي بيعت د خلکو په لاس کې واخلي ، هغه يو فرمان صادر کړ ، د لويې جرگې له پاره په افغانستان کې چې ډير خلک يې انتخابي وو او څه کسان انتصابي وو په دې کې شک نشته او دا انتصابونه د داؤد خان حق ؤ او هغه انتخابي هم د داؤد خان حق ؤ چې خلکو ته يې وويل چې انتخاب يې کړي هغه چې

خلکو انتخاب کړل انتخاب يې کړل او چې ده انتصاب کړل انتصاب يې کړل. دا راغلل کښيناستل. زه درته وايم چې که تاسې هغه مواد د لويې جرګې وګورئ د امان الله خان دا ولې لويې جرګې ما سوا چې ما مخکې تاسې ته اظهار وکړ چې په خپله پاچا بالمواجه د مولوي عبدالحی پنجشيري او نورو علماوو سره خبرې کوي، زه ګمان کوم چې آزاده ترينه لويه جرګه وه. په دغه ځای د داؤد خان په لويه جرګه کې يو سړی دی چې هم په حزب اسلامی کې دی، مولوی عبدالمجيد د خلکو له خوا انتخاب شوی دی الآن هم په حزب اسلامی کې له حکمتيار سره دی. هلته په شورا کې هم ؤ، تاسې د هغه مباحثات وګورئ چې هغه سړی په کومه آزادۍ باندې پروزيرانو، پر حکومت، پر قوانينو باندې اعتراضونه کړي دي او زه يې مخاطب کړی يم او ماهر يوه ته داسې ځوابونه ورکړي دي چې په ځينو ځايونو کې زه د خلکو ملګری شوی يم. ما د پوليسو قانون د وزارت داخلې په مقابل کې چې پيشنهاد يې کړی ؤ د خلکو اکثريت نه وو، ورسره ما د خلکو په حمايه باندې د خلکو په نظر باندې هغه رد کړ، يعني د دولت پيشنهاد مو رد کړ، د خلکو داموومانه که نه وي دا خو درواغ نه دي. د داؤد خان ډيره ښه لويه جرګه وه. ما درته وويل داؤد خان د ښمنان خورا ډير لرل. ارتجاع د افغانستان د داؤد خان دښمنه وه، کمونستان د افغانستان

د داؤد خان دښمنان وو، پاکستان د افغانستان دښمن ؤ، حتی امریکا د افغانستان دښمنه وه. حتی ایران نشم ویلی په دې سویه لکه پاکستان. او د بلې خوا څخه د افغانستان د خلق پارټۍ خو د داؤد خان د بیخ د کښلو له پاره یې کار کاوه، همدا کار یې وکړ. د داؤد خان سره یو بله ډله دښمنان وو چې په سابقه حکومتو کې د داؤد خان د هغوی څخه بد راتله یا ملوث خلک وو، هغوی یې له چوکۍ څخه وغورځول هغوی په ډیره بیړه باندې د داؤد خان په مقابل کې دا مخالف قوتونه تقویه کول چې زه یې نومونه نه اخلم. چې وزیران له وزارته وغورځیدل جنرالان له جنرالۍ و غورځیدل، خانان له خانۍ وغورځیدل، دې ټولو د داؤد خان په مقابل کې حرکت شروع کئ.

د لویې جرګې جلسې چې څو ورځې روانې وې، ورکې جمهور رئیس محمد داؤد خان وینا وکړه او وکیلانو ته یې د هر کلي په ترڅ کې د هغوی د بریالیتوب غوښتنه وکړه:

د لوی او توانا خدای په نامه! د افغانستان د ملت محترمو نماینده ګانو! زموږ د ملت په عنعناتو کې ډیموکراسي ژورې ریښې لري او لکه چې تاسې ټولو ته معلومه ده لویه جرګه زموږ د دې ملي خصوصیاتو یوه څرګنده نمونه ده. په دې مهم او تاریخي وخت کې چې تاسو محترم

هیوادوال د ملت په وکالت سره د افغانستان د جمهوري دورې د لومړنۍ جرګې د نماینده ګانو په حیث نن ورځ په دې تالار کې را ټول شوي یاست او د هېواد د نوي جمهوري نظام د اساسي قانون په مسودې باندې د غور کولو وروسته تصمیم نیسئ، خپله وظیفه بولم چې د ځان او خپلو ملګرو او همکارانو له خوا کابل ته ستاسې تشریف راوړلو ته د زړه له کومي ښه راغلاست ووایم او په دې مسوده باندې د پوره غور کولو له پاره د ګران افغانستان په سرنوشت او را تلونکې نیمګرغۍ کې ګټوره اغیزه ولري، د خدای له درباره ستاسې د موفقیت هیله کوم.

د ځینو خلکو په خیال د لویې جرګې ټول غړي په ډیموکراتیکه توګه نه وو راغلي، پوهاند قیوم ورد ک چې په دې وخت کې د کابینې غړی ؤ، وایي چې د وکیلانو په راوستلو کې د حکومت د ځینو غړو لاس وهنه د امکانه لیرې نه وه:

البته په هر حکومت کې مخصوصاً په دې ممالک عقب مانده کې د حکومت مشران لاس وهي چې څنګه اشخاص راولي، زه له دې نه انکار نشم کولې چې ممکن زه په خپله نه اما نورو په دې حصه کې لاس درلود چې بعضی اشخاص مطابق د خپلې آرزو لویې جرګې ته راولي.

د انتخاباتو نه علاوه ځینې نور بیا په خپله د لویې جرګې سره موافقه نه لري خو عزیز الله واصفي وایي چې په افغانستان کې لویې جرګې واقعي او د

افغانانو د غنغنې سره برابرې دي:

زه د افغانستان ټولې لويې جرګې ډېرې واقعي لويې جرګې بولم. ځينې کسان چې د افغانستان په جامعه کې د انتقاد نظر لري، يعنې انتقادي نظر لري، هغوی دا وايي دا ډيموکراتيک سيستم نه دی. زه تا ته وايم د افغانستان په جامعه کې غربي ډيموکراسي او د افغانستان ملي ډيموکراسي ډېر تفاوت لري، ځکه چې په افغانستان کې د افغانستان ټول خطوط معينه د سياست د اسلام په تابعيت کې را روان دي. د افغانستان زمامدار چې بايع چې خلکو بيعت ورسره کړی دی، تاسې ته معلومه ده، دی شرعاً دا حق داصلاحيت لري چې په افغانستان کې خلک وټاکي. زه لويه جرګه اوس هم ډېره واقعي اسلامي ملي لويه جرګه بولم او داؤد خان هم عيناً داسې يو زمامدار ؤ، ولو که ده حکومت په زور نيولی وو، دا زموږ په حکم کې د شريعت يو حکم دی که څوک حکومت په زور ونيوی او خلکو يې بغيه ونه کړه، د هغه اطاعت داسې واجب دی لکه د يو امير او خليفه چې مسلمانانو په رضا او په رغبت راوستلی وي. نو په دې خاطر باندې د افغانستان د قوانينو په مابين کې او د پښتونيت په مابين کې دا يو مزج شده يو سيستم دی او وي به، په هره لويه جرګه کې زما او ستا پلرونه نيکه ګان پکښې کې وو، په دوو لويو جرګو کې زه وم.

په دې لويه جرگه کې اساسي قانون تائيد او يو حزبي سيستم ومنل شو. د مخه تر دې چې د حزب اساسنامه جوړه شي، ځينو کسانو حزب ته جلب پيل کړی ؤ، دا جلب تر وخت د مخه ؤ. عزيز نعيم وايي چې جمهور رئيس محمد داؤد خان په دې هکله اطلاع نه درلوده:

د جمهوريت په دويم کال مې يو ورځ د مرحوم جمهور رئيس سره د هېواد پر حالاتو خبرې کولې. هغه وويل چې په موجوده حالاتو کې بايد اجتماعي او اقتصادي حالت ته توجه وکړل شي ځکه چې سياسي ډيموکراسي بې له اقتصادي او اجتماعي ډيموکراسۍ څخه نشي موفق کېدلای. نو د دې مقصد له پاره بايد دولت د رهبرۍ نقش ولري او د انارشۍ د مخنيوي په خاطر بايد د يوې مودې له پاره يو حزب سياسي فعاليت وکړي چې د اکثريت منافع بې په نظر کې نيولي وي. جمهور رئيس وويل چې دا د دې معنی نه لري چې نور حزبونه به نه وي ځکه بې له مخالف حزب څخه ډيموکراسي معنی نه لري. همدا دليل ؤ چې د حزب انقلاب ملي جوړېدل په نظر کې ونيول شول، ولې د مخه تر دې چې د حزب اساسنامه جوړه شي يوه سلسله کسانو د شخصي منافعو په اساس حزب ته جلبول پيل کړل زه په وزارت خارجه کې وم. يوه ورځ وزارت خارجې ته د حقوقو د پوهنځي څخه زما شاگردان راغلل چې موږ حزب انقلاب ملي ته

دعوت شوي یو ، څه وکړو ؟ ما ورته وویل: که چیرې ما څوک حزب ته دعوت کړي زه به د حزب د اساسنامې پوښتنه وکړم. که چیرې زما د افکارو سره برابره وه ورځم او که نه وي د رد ځواب ورکوم. هغوی وویل چې ستاسې خبره خو سمه ده مگر موږ په تور لست کې اچوي. ما دا موضوع مرحوم جمهور رئیس ته وویله هغه وویل چې تر اوسه پورې د حزب اساسنامه تر مطالعې لاندې ده. د حزب په شمولیت کې هیڅ اجبار نشته هغه ؤ چې دا موضوع په راډیو کې اعلان شوه چې د حزب شمولیت اجباري نه دی.

پوهاند قیوم وردک چې په لومړي سر کې د حزب غړی نه ؤ ، وایي چې د حزب هدف د کدرونو روزل وو :

زه په دا حزب کې هیڅ ورسره نه وم، اول دوی حزب جوړ کړیُو ، بیا په خپله ده په راډیو کې اعلان وکړ چې هلته ډیر ناپاک عناصر داخل شوي دي، نو هغه یې رنګ کړ. بیا دویم وار یې یو حزب جوړ کړ ، په هغه کې یې په کمیتهٔ مرکزی کې زه هم نیولی وم. خو هر حزب چې جوړیږی ممکن یو هدف یې داوي چې دا حکومتي چارې او د مملکت چارې د دوی حزب په لاس کې ونیسي. د دې حزب هدف هم دغه ؤ چې باید داسې اشخاص ونیول شي او تربیه شي چې د وطن چارې په لاس کې ونیسي او دوی

کارونه مخ ته بوځي.

جمهور رئیس محمد داؤد خان چې په افغانستان کې د جمهوري نظام باني او د ډیموکراسۍ طرفدار ؤ، څنګه یو حزبي سیستم ته ترجیح ورکړې وه. پاس یوسفي چې د محمد داؤد خان سره د نژدې پیژندګلوي لرله وایي چې لوی علت منظم حزب نه وو:

لوی علت یې دغه ؤ چې دی په دې پوهیده چې بعضې ډلې نوکې منظمې ډلې دي، په افغانستان کې چې د هغو مثلاً پر قدرت باندې راتلل بیا ممکن ډیر بدعواقب ولري، یا به د مملکت او یا د ملت په نفع نه وي. نو دا ډیر احتیاط چې یې کاوه، یو حزب یې اعلانا وه هم یو علت یې دا ؤ. ما هم په دې دلیل تائیدول چې زموږ په وطن کې خو تا ته معلومه ده چې بیسواده طبقه ډیره وه او دا حزبي اخلاق کم ؤ ځینې اشخاص به د حزب په نامه راتلل مګر شخصي استفادې به یې مطلب وې. دومره صادق نه وو د خپل هدف او مرام له پاره روزل شوي هم نه وو. نو چې یوه پلا حزبي سیستم راغلی وای هغه وخت نو بیا دا خبره په خپله حلیدله. موږ هم دا خبره ورسره منله. ولې د ده ټوله افکار، که عمل ؤ که ګفتار ؤ موږ د افغانستان په نفع بلل. د ده شخصي شی نه ؤ پکښې او سن یې هم د دې مقتضي نه ؤ، چې دی د دې پس خپل د آسایش او د راحت له پاره یو پلان جوړ کړي، موږ فکر کاوه چې دا ټول شیان د وطن له پاره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۲۸

# د پښتونستان مسئله

دبرتانوی امپراتورۍ د توسعه طلبۍ په نتیجه کې د پښتونستان مسئله منځ ته راغله چې په نولسمه پیړۍ کې یې دافغانستان ډیرې سیمې دهندوستان سره یوځای کړې. عزیز الله واصفي وایي چې د پښتونستان مسئله یو واقعیت او دډیورنډ د معاهدې په ترځ کې دا سیمه دافغانستان څخه بیله شوه:

د پښتونستان مسئله یوه ډېره طبیعي، ډیره سیاسي او ډېره حقاني مسئله وه چې دافغانستان دملت په ماحول کې یې وجود درلود. تاسې چې متعلمین واست نو ستاسې به په یادوي چې پر امیر عبدالرحمن خان باندې

دا الزام وارد ؤ دملي الزام په شکل ؤچې امیرعبدالرحمن خان د ډیورنډ

کرښه امضاء کړه نو په همدې مثال کې دا د ډیورنډ په کرښه کې د پښتنو

ځینې علاقې دانګریزانو په تصرف کې پاتې شوې.

ډیر افغانان دا بېلتون نه مني، سید شمس الدین مجروح وایي چې حتی

عوام هم دې خبرې ته متوجه دي:

دجنګ استقلال نه وروسته خلکو به تبصره کوله، چابه ویل امان الله

خان غازي او ډیر ښه سړی دی. بعضې خلکو به ویل چې څه یې وکړل؟

جنګ یې وکړ خو هغه خاوره چې زمونږ نه انګریز نیولې وه هغه خو یې بیرته

وانه خیستـه کـه نه. هغـه خـو ټوله انګریز سره بیرته پاتې ده. یعني

دافغانستان څخه چې دا خاوره چې بیله شوی ده، دبلوچستان خوا کې

دکوټې طرف ته او دې خوا ته د پېښور خوا ته یعني دا دافغانستان دخلکو

په ذهن کې ناست وو چې دا زمونږ مال ؤ انګریزان هندوستان نه ووتل او

هندوستان یې دوه تقسیمه کړ، پارټیشن (تقسیم) وشو یو پاکستان شو،

یو هندوستان شو، په دغه وخت کې هم دا غږ اوچت ؤحتی خارجي خلکو به

زمونږ نه تپوس کاوه دا څنګه کوئ تاسې داخپله خاوره چې هلته په

هندوستان کې پاتې ده د دې په متعلق څه فکر کوئ؟ زمونږ نه به رسمي

سوالونه کېدل. تاسې په دې کې څه فکر کوئ؟ په هغه وخت کې چې

سردار محمدهاشم خان صدراعظم ؤ . په افغانستان کې نه شورا وه نه آزاد اخبارونه وو لاکن دا فکر به موجود ؤ ، دافغانستان دزلمو سره ، دمنورينو سره به دافکر ؤ چې دا بهترين وخت دی. دهندوستان نه چې انګريز وځي هرچاته خپل مال بايد وسپاري. هندوته يې خپل ملک وروسپارده. مسلمان ته يې عليحده برخه ورکړه او بايد افغانستان ته دافغانستان خاوره وسپاري. زما يادېږي چې په دې سلسله کې شاه محمود خان چې صدراعظم شو ، دی چې په يو سفر باندې و تلی ؤ خارج ته او شاه ولی خان دده وکالت کاوه د صدارت او هغه يو څو کسه دا د افغانستان په اصطلاح روشن فکران ورته وو ايئ اهل نظر ورته وو ايئ ، دا يې دشپې راوغوښتل او يو مجلس يې دا ير کړ چې په دې باندې سره خبرې وکړې چې په دې جمله کې غبار هم شامل ؤ. دوی ټول يې را وغوښتل چې انګريزان خو ځي او موضوع د ولايات شمال مغرب دسرحد ده په دې باندې بحث ؤ چې دا دهندوستان سره پاتې شي او که دپاکستان سره په دې باندې يو ريفرنډم کېږي اوس پښتنو د هغه ريفرنډم سره مقاطعه کړې ده او عبدالغفارخان دا اعلام کړی چې زه هندوستان هم نه غواړم ، پاکستان هم نه غواړم ، زه پښتونستان غواړم. دا آواز اول هغه اوچت کړی.

داغوښتنه په ريفرنډم کې ديوې دريمې لارې په توګه وغوښتل شوه د ملي

عوامي گوند مشر خان عبدالولي خان ته داوخت وریاددی:

کله چې فرنگیانو دافیصله وکړه چې مونږ ددې ملک نه ځو او ددریم جون اعلان یې وکړ هغې کې دوی دهندوستان دتقسیم فیصله وکړه نو دهغې نه پس بیا چې وروسته دهغې تفصیلات راتلل نو دا پته ولگیده چې دلته به دوی په دې پښتونخوا زمونږ یعني دې صوبه کې به دوی تپوس کوي زمونږ نه دخلکو نه به تپوس کوي دلته به ریفرنډم کیږي رای عامه باندې به معلومیږي چې تاسو دپاکستان سره تلل غواړئ او که دهندوستان سره تلل غواړئ. نو مونږ ددې خیز مخالفت وکړ. مونږ وویل چې دامنصوبه دتقسیم هند چې مونږ ورته تقسیم هندنه وایه مونږ یې مخالفت کاوه ځکه چې مونږورته تقسیم مسلمان وایه. دتقسیم هند دا فیصله چې کوم وخت کې کیده نو داکانگرس او مسلم لیگ دواړو دا فیصله قبوله کړې وه او مونږ چونکې کانگرس سره تعلق درلود پاچا خان په خپله دکانگرس دمرکزي کمیټې ممبرؤنو دا دتقسیم فیصله منظوره شوې ده او مونږ دپاکستان حصه یو دلته دریفرنډم ضرورت نشته. خو فیرنگیان په دې خبره نښتی وو او دمسلم لیگ هم په کې داغرض ؤچې دوی به څنگه ټینگ پاکستان جوړ کړي ځکه چې داخو مونږ منلې وه زمونږ دخدایی خدمتگارو جرگه چې کښیناسته نو هغوی بیا دا فیصله وکړه چې

د پاکستان او هندوستان د تقسیم په مسئله کې خو موږ د پاکستان سره د تلو فیصله کړې ده خو د هغې باوجود هم که دوی زموږ څخه تپوس کول غواړي نو بیا موږ غواړو که حق خودارادیت دوی ورکوي نو دهغې اصول دا دي چې په هغې کې یوه دریمه فیصله دې هم موږ ته اجازت ورکړي. دا سوال چې لکه کوم نن په کشمیر کې پیښ شوی دی چې دریمه فیصله دا ده چې آیا دا پښتانه دهندوستان سره تلل غواړي، د پاکستان سره تلل غواړي او که ځان ته یو آزاد مملکت د پښتونستان جوړوي، فیصله خوشوې ده چې موږ به پاکستان سره ځو خو که تاسو دغه نه منئ نو بیا به دا مهرباني وکړئ چې موږ له به دا دریم حق هم راکړئ چې موږ دا فیصله وکړو چې آیا موږ آزاد پاتې کیدل غواړو او که نه یو مملکت سره به ځو، د دغه وخت نه شروع شوې ده.

دریم حق ورنه کړل شو، دخدايي خدمتگارو په مشرتوب ډیرو پښتنو په ریفرنډم کې برخه وانه خیسته او د پښتنو سیمه د پاکستان سره یوځای شوه. په دې وخت کې افغانستان چوپ نه ؤ. سید شمس الدین مجروح وايي چې په دې برخه کې درې فکرونه موجود وو:

دعمومي طرز تفکر په لحاظ باندې درې فکره وو په افغانستان کې.

اول فکر دا ؤ چې دا دفغانستان خاور ده باید ادعا یې وشي، افغانستان

چې معاهدات لرل دانګریز سره، انګریز له منځه لاړ، هغه معاهدې نشته دي، خط ډیورنډ نشته دی. دافغانستان خاوره دافغانستان سره باید ملحقه شي. دوهم فکر داؤچې که د پښتونستان خلق نه غواړي چې د افغانستان سره واوسیږي، هغوی به هم ډیر تن کښینږدي دي ته لکه خان عبدالغفارخان دی او نور منورین او داخلک، هغوی ښایي چې خپل استقلال وغواړي نو سړی باید ددوی تائید وکاندې چې دوی څه غواړي. هم ددوی تأئید وشي. دریم فکر داؤ چې هیڅ نه کوو هغه پښتانه پوهیږي پاکستان پوهیږي او انګریزان پوهیږي. موږ او تاسې به سیل کوو آینده ته به ګورو ولې ځان په مشکل کې اچوو.

وایي چې افغان حکومت اول فکر خپل کړاو دبرتانیې څخه یې دخپلې خاورې غوښتنه وکړه، خو دا غوښتنه ونه منل شوه. عزیزالله واصفي وایي چې دحکومت تر څنګ اولسي جرګې هم داخبره پورته کړه او دډیورنډ لوزنامه یو مخ رد شوه:

دشاه محمود خان عصر دی. زه په هغه وخت کی په اتحادیهٔ محصلین کې موجود یم، او زما پلار په هغه وخت کی معین دشورا ؤچې په همدې ورځ باندې په شورى کې مجلس دایر شو چې دډیورنډ په مسئله کې بحث وشو. زما پلار دشورا ریاست اشغال کړئ دده تر ریاست لاندې دا دډیورنډ

لاین فسخ شو چې مونږ د ډیورنډ لاین نه منو. نو همدا وخت ؤ چې افغانستان په دې وخت کې د پښتونستان د مسئلې لزوم پورته کړ او که یې نه وای پورته کړی نن به دا د ظاهرشاه خاندان ټول په افغانستان کې د ملي خیانت په حکم باندې تورن وای لکه عبدالرحمن خان چې په دامعاهده کې په دې حکم تورن دی نو به ظاهرشاه هم تورن وای او داخو د ظاهرشاه قدرت نه ؤ داخو دافغانستان د ملت مسئله وه.

سردار محمد داؤدخان چې د پښتونستان ملاتړی ؤ په نړیواله سطح د پښتنو خبره راپورته کړیده. کله یې چې په ۱۳۵۲ کال کې په ماسکو کې د شوروی اتحاد د جمهور رئیس لیونید برژینف سره وکتل، د خپلو خبرو په ترځ کې یې د پښتنو او بلوڅو دحق موضوع راپورته کړه:

لکه چې زمونږ دوستان خبر دي په خواشینۍ سره باید ووایم چې زمونږ د پښتنو او بلوڅو ورونو د سرنوشت په موضوع کې یوازې بنه والی رانغی بلکې په هغه غیرقانونی او سخت چال چلند سره چې د پاکستان زمامدارانو دوطن پالونکو او د پښتنو او بلوڅو خلکو په مقابل کې غوره کړی دی، په هغه سیمه کې یې حالات نورهم ناکراره او کړکیچن کړي دي. که چیرې د پاکستان دمشرانو رفتار همدغه شان دوام وکړی او د خلکو د ملی هیلو اوغوښتنو څخه سطحي او سرسري تیرشي، نه یوازې د بشر

دحقوقو د پرنسیپونو او عدالت په خلاف رفتار کوي بلکې ویریږو چې
د آسیا په دې برخه کې به سوله او کراري له خطر سره مخامخ کړي. په هر
حال په ښه نظر سره به د دې قضیې د سوله ییز حل له پاره خپلو هلوځلو ته
دوام ورکړو.

د پښتونستان مسئله په سوله ییزه توګه په ملګرو ملتونو کې راپورته
شوه، عبدالرحمن پژواک چې په دې وخت کې په ملګرو ملتونو کې د افغانستان
استازی ؤ، د پښتنو له پاره دحق خوداراديت پیشنهاد وړاندې کړ:

بیا چې خبره راغله د پښتونستان، په دې وخت کې بیا د افغانستان
داخبره چا وانه وریده. د افغانستان د اپیشنهاد او پاکستان هم متأسفانه
په هغه وخت کې د دغه فیصلې سره د پښتونستان په مسئله کې مخالفت
کاوه، او اوس د کشمیر په مسئله کې په خپله بند پاتې دی او همدغه شی
غواړي. او دا او هغه خو نقاضت لري. که دوی په کشمیر کې حق
خوداراديت غواړي نو خو پښتونستان ته هم باید قایل شي حق
دخوداراديت، ولې چې په کشمیر کې همدغه ترتیب دی چې
هندوستانیانو ته وسپارل شو د انګریزانو مستعمراتي سیاست ؤ او په
پښتونستان کی هم د انګریزانو سیاست ؤ هغوی خپل خط ده یورنډ خلق
کړی ؤ او افغانان یې سره بیل کړي وو، نو هلته یوه خبره مني او دلته بله

خبره مني. خپله اوس ورته معلومیږي چې دا ددوی په نقصان هم ۇ. داسې خو نه کیږي چې سړی دوې نقیضې خبرې وکړي. یا به دوی په کشمیر کې حق لري او افغانستان به په پښتونستان کې حق درلود. یا به دوی په کشمیر کې حق نه لري لکه چې دوی وایي چې افغانستان هلته حق نه لري.

په وروستیو وختونو کې افغاني واکدارانو د پښتنو په قناعت اکتفا کړې وه. اوس د پښتنو د مشرانو او خان عبدالولي خان غوښتنه دا ده چې ددوی صوبې ته خپله نامه ورکړله شي:

موږ داوایو چې صرف دا د پښتونستان دانوم چې دی دا په کار دی چې تاسو زموږ دې صوبې څه نوم بدل کړئ. دا دشمال مغربي سرحدي صوبه څه شی دی، ښه به دا وي چې نوم ورله ورکړئ. پنجاب دپنجابیانو دی، سند دسندیانو دی، بلوچستان دبلوڅو دی. بنګال دبنګالیانو دی. نو په کار ده چې د پښتنو ددې صوبې نوم دغه شان نوم ورکړئ چې د دی سره لګی چې دا د پښتنو صوبه ده. بیا دهغې دغه شکل شو. چې موږ دا خپله مطالبه بیا دغه د پښتونستان مسئله چې ده، نو دوی ویل د پښتونستان نوم ډیر بدنام شو چې دا بین الاقوامي طور موږ د پاره ډیر مشکلات پیدا کوي، افغانستان پکی داخل دی، موږ ویل ډیره ښه ده. دا یو ډیر زوړ نوم، تاریخی نوم چې د پښتنو په ادبیاتو کی او په تاریخ کې راغلی دی،

دهغوی په شاعرۍ کې راغلی دی، له احمدشاه بابا نه مخکې احمدشاه بابا په وخت کی راغلی دی، پښتونخوا دې منطقی نوم ؤ، نوځۍ چی دې صوبې له موږ د پښتونخوا نوم کښېږدو. بیا په دغه ځای ودریده.

# ۲۹

# د افغانستان خارجي پالیسي

دافغانستان دپخواني پاچا محمدظاهرشاه په وخت کې خارجي پالیسي داسې عیار شوې وه چې دزبرځواکونو ترمنځ تعادل وساتل شي په دې هکله د افغانستان پخوانی پاچا محمد ظاهرشاه وایي:

دا دیو شخص دتوانایی سوال نه دی، حتی دیو حکومت دتوانایی سوال هم نه دی. دا په عمومي شرایطو پورې اړه لري اوځینو حکومتونو ته دا شرایط په خپله اماده کیږي. په دې کې هیڅ شک نشته چې امریکا او

شوروي دواړو غوښتل چې موږ ځانته را جلب کړي خو موږ ته دا امکان نه ؤ چې دامریکې یا دشوروي اتحاد غیږې ته ځان وغورځوو. که موږ د شورویانو څخه کومه مرسته ترلاسه کوله په همـاغه ترتیب سره مو دامریکایانو څخه هم مرسته ترلاسه کوله او موازنه موساتله. په دې ترتیب سره دهیواد اقتصادي بنسټ ټینګ شو او حکومت د فردي نوښتونو هم ملاتړ کاوه او په دې ترتیب سره هرڅوک دخپل ژوند خاوند شو.

همداوخت ؤچې دشوروي سره اړیکې مضبوطې شوې. د جمهوررئیس محمد داؤدخان مخالفان وایي چې دشوروي پوځي مرسته وه چې دوروستیو بربادیو سبب وګرځېده، خو ډاکټر عبدالصمد حامد موافقه لري چې دا اړیکې له خطره ډکې وې ولې بله چاره نه وه:

زه دې سره قناعت لرم چې دافغانستان روابط له شوروي سره پس له دوهم عمومي جنګ نه بیا مخصوصاً د داؤدخان دصدارت نه وروسته او مخصوصاً دا چې دعکسرو دپاره مرسته دهغی خوا نه اخیستل کیده او دنفت وګاز تفحصات شوروي ته ورکړل شول او څه محصلین ولیږل شول خطرونه موجود شول او زه حاضرهم نه یم چې د دې نه او یا دشاهي دورې له نورو اقداماتو نه دفاع وکړم. اما زه داسې فکر کوم چې دخارجي سیاست

ایجابات د دغه محدود داخلي میکانیزم په اساس قضاوت کول غیر واقعیت بینانه دي. مثال دا در ته بښیم چې دغه خلکو چې پر هغې دورې باندې تریوه حده پورې د معقولو دلایلو پر اساس تنقید کاوه، اوس دوی عملاً همهغه کار کوي. یعنی نن مجاهدین راغلي، عملاً له کمونستانو سره یوځای کار کوي. د ډیموکراسۍ په دوره کې چې هلته شاهي پکې کوم نقش نه درلوده دغه د شورا وکیلانو، کمونیستان، ببرک دوی، سره د دې چې حکومتونو به له شورویانو سره نژدی روابط لرل په پارلمان کې ووهل. همدغه شورا دومره دغه لرله چې د محمود حبیبی نه یې سلب اعتماد وکړ په دې چې په اخبار کې یې یو کاریکاتور وتلی ؤ لاکن نن هغه خلک چې ځان ته د مجاهدینو مشران وایي دوی له هماغه کمونیستانو سره په یوځای کې ناست دي، د هغوی د مرستې په اساس دوی راغلي منځ ته او هغوی یې د ځان سره ساتلي او د هغوی په مرسته یوبل وژني. زه اوس پر دوی باندې تنقید نه کوم، زه وایم چې د منطقوي او بین المللي سیاست خصوصیت دوی مجبور کړي دي چې یا به قدرت ته رسیږي او د قدرت د پاره به قیمت تادیه کوي او قیمت همدغه شی دی چې پروني دښمن ته سړی نن وایي چې ډېر ښه مسلمان دی. زه دا منم چې دا ډېرو بدبختیو عامل گرځیدلي، یعني که یوازې ملي مسایل وای، باید سړي خپل اردو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکمونیستانو دمشاورینو په لاس نه وای ورکړی، خپل منصبداران یې هلته د تحصیل دپاره نه وای لیږلي، لیکن یو وړوکی دولت په بین المللي ساختمان کې مجبور دی چې یوې خواته یا بلې خواته شي. تجربه ښیي هغه دولتونه چې شوروي ته لانه وو تللي، بلې خواته تللي وو، پر هغوی باندې هم بدبختی گانې راغلې. هغوی هم سالم نه دي پاتې شوې. یعني هرې خواته داخطرونه شته اما دا درسره منم چې نوی نسل باید د هغې دورې د اشتباهگانو نه نتیجه واخلي.

د پاکستان د نیشنل عوامي پارتۍ مشر اجمل ختک چې د جمهور رئیس محمد داؤدخان سره نژدې په تماس کې ؤوایی چې سردار محمد داؤدخان د هرې خارجي مفکورې او سیاسي تسلط مخالف ؤ:

هغه د شوروي اتحاد سره دیو آزاد افغانستان، مستقل افغانستان په حیثیت سره د دوستۍ په حق کې ؤ لیکن د دې په حق کې نه ؤ چې د شوروي د نظریې یا د هغه تر نظامي او یا د هغه تر سیاسي تسلط لاندې راشي. زه په یقین سره ویلی شم چې د هرې خارجي مفکورې او سیاسي تسلط او لاس هغه مخالف ؤ او هغه د افغانستان آبادي خوشحالي، تعمیر چې مادر ته ووې چې په صحیح معنو کې استقلال هغه دې ته وایه. دې دپاره بیا آخري وخت کې هغه بیا لاړو بهر دنیا ته لاړو، ایران سره یې هم خبرې اترې

وکړي نوري دنيا ته هم لاړو پاکستان ته هم لاړو ولې دهغه مطلب چې ؤهغه چا خاص چا پوري ځان تړل نه وو، ديو مستقل افغانستان، يوخپل افغانستان، خپلواک افغانستان، آباد او خوشحال افغانستان دپاره هغه له هرچا سره تعلقات جوړول.

جمهور رئيس محمد داؤد خان په وروستيو کلونو کې تلاش کاوه چې داسلامي او گاونډيو هيوادونو سره اړيکې ښې او دشوروي تأثير په افغانستان کې کم کړي. عبدالحميد مبارز وايي چې په همدې غرض هغه ايران او گاونډيو هيوادونو ته سفر تر سره کړي:

ځنگه چې سردار محمد داؤد خان ليبيا، قاهرې، تهران او سعودي عربستان ته سفر وکړ، اسنادي نشته او ځينى شخصيتونه لکه سيدوحيدعبدالله او وفى الله سميعى چې هغوى په دې خبرو کې وو له منځه تللي دي. هغوى کولاى شوى چې په دې برخه کې معلومات ورکړي، ولې په کابل کې چې شايعات موجود وو، ويل کيده چې ايران او سعودى عربستان دډيرې مرستې وعده کړې وه خو په دې شرط چې له شورويانو سره اړيکې کمې کړي. همدا ډول ويل کيدل چې دمصر جمهور رئيس انور السادات په خپلو خبروکې دروسي مشاورينو د رول په هکله خبرې ورته کړې وې. سادات ورته ويلي ووچې ددغو عواملو له کبله موږ

د شوروي مشاورين د مصر څخه وويستل. کله چې سردار محمد داؤدخان
دا سفر پيل کړنو چپيان په ويره کې شول. د دې خبرې څخه دا سې
معلوميږي چې تر دې سفر وروسته روسانو تکان وخوړ او د داؤدخان
د ليرې کولو پروژه يې چټکه کړه، نو د سردار محمد داؤد خان د حکومت په
ليرې کولو کې د برژنيف د حکومت مستقيم لاس ؤ.

په نړيوالو سازمانونو کې هم افغانستان اهم رول لوبولی دی. عبدالرحمن
پژواک چې په ملګرو ملتونو کې د افغانستان استازی ؤ، دری ځله د عمومي
اسمبلې عمومي رئيس ټاکل شوی دی:

دری واره ما رياست کړی لاکن البته په يو کال کې. اوله موضوع شرق
ميانه وه. بله موضوع د افريقا وه او ما دری واره رياست وکړ لاکن دری
واره ما وويل چې بايد انتخابات وکړي ځکه چې زما مملکت داسې يو
مملکت دی چې موږ طرفداري د مسلمانانو د ملل متحد کوو او اسرائيل به
بيا وايي چې د دوی طرفداري يې وکړه، نو زه غواړم چې انتخابات وشي،
که نه يو واري چې سړی رئيس انتخاب شي، تر آخره پورې رئيس پاته
کيږي. زما په خپل پيشنهاد بيا انتخابات وشول. بيا هم په عمومي
صورت سره ټولو رايه راکړه او د دې د پاره چې زه د رياست د کار د پاره
کاملاً فارغ شم، ما خپل حکومت ته پيشنهاد وکړ چې ما پريږدي چې زه

فقط وظيفه دریاست ادا کړم او خپل حکومت سره دغه ونه لرم چې زه خپله بیطرفي د یو رئیس په حیث وښیم. حکومت ماسره موافقه وکړه او دافغانستان سفیر چې په واشنګټن کې ؤ، مرحوم عبدالحمید خان یې راولیږه دافغانستان دهیئت دریاست دپاره او زه پاتې شوم یوازې درئیس داسمبلۍ په حیث.

په همدې وخت کې چې دزبر ځواکونو ترمنځ سړه جګړه جاري وه، د دریمې نړۍ هیوادونه دناپیلتوب په غورځنګ کې یوځای شول. افغانستان چې دناپیلو هیوادونو مؤسس غړی دی، په دې غورځنګ کې فعاله برخه اخیستې وه. یحیی معروفي چې دبهرنیو چارو دوزارت لوړ رتبه مامور ؤ، وایي چې په دې برخه کې دهغوی دفتر پوره رول لوبولی دی:

البته زموږ دفتر ددې مسایلو سره مستقیمه علاقه درلوده ځکه چې دټولو بیطرفه هیوادو کنفرانسونه په ټولو سویو باندې زموږ له خوا څخه احاطه کېدل او په دې لحاظ باندې البته چې ضرورت ؤ او په دې کنفرانسونو کې اشتراک کیدئ، زموږ له دفتره څخه په یو شکل باندې هلته همیشه نماینده ګي وه، نو ځکه زموږ دپاره څه په هغه وخت کې چې بین المللي شرایط دجنګ سرد یا د ساړه جنګ وو په دې موقع کې دبیطرفو هیوادو نقش ډیر اساسي نقش ؤ او افغانستان چون یو دمؤسسو

هیوادونو څخه ؤ البته افغانستان ته په دې مورد کې خاصه توجه کېدله.

که ستاسې په یاد وي یو وخت داسې پروګرام ؤ چې د غیر منسلکو هیوادونو غونډه په کابل کې کیدله او هغه چې په افغانستان کې کودتا وشوه نو هغه بیا وځنډېدله.

د هغه وخته څه در یاد دي؟:

زه د دې غونډې د انعقاد مستقیم مسؤول وم او زما آخري فعالیت هم په افغانستان کې د ملګرو ملتو د شعبې په ساحه کې د غه فعالیت ؤ چې دا غونډه په کابل کې صورت ونیسي او ډېر پرمختګ هم شوي ؤ. لکه چې تاسې ته به درمعلوم وي، یوه هفته دمخه تر دې چې دا غونډه وشي، په افغانستان کې کودتا پېښه شوله او په دې لحاظ باندې وختې چې کودتا وشوه هم زما دفتر د دې مسؤل ؤ چې ونورو غیر منسلکو هیوادو ته اطلاع ورکړي چې هغه شرایط چې په کابل کې راغلي وه د هغو شرایطو په اساس باندې مونږ دا غونډه باید بل چیرې انتقال کړو او په هغه حساب باندې ؤ چې رژیم په هغه وخت کې له کیوبا څخه خواهش وکړ چې دا جلسه په کیوبا کې صورت ونیسي. نوځکه دا ډیر د تأسف ځای ؤ چې دا غونډه چې یو خاص اهمیت یې درلود او افغانستان ته یې خاص یو اهمیت ورکاوه، هغه متأسفانه د دغه اخلال په حساب باندې دا موقع زمونږ له لاسه ووتله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اتم څپرکی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۳۰

# د ثور کودتا او د جمهور رئیس محمد داؤد خان سقوط

دجمهوري دورې په ورستيو وختونوکې دحکومت اړيکې دخلکو دډيموکراتيک گوند سره خرابې شوې چې په نتيجه کې خلق او پرچم يوځای شول همدا وخت ؤ چې دخلق دډيموکراتيک گوند يو مشر ميراکبر خيبر په کابل کې ووژل شو. سليمان لايق چې دخيبر نژدې ملگری ؤ وايي چې د هغه دقتل پر سر پوځي قيام منځ ته راغی:

په هغه زمانه کې چې دحزب دوه فریکسونه سره یوځای شول بیا خیبر شهید شو او دخیبر په مړي کې دډیرو باشکوهو مراسمو پر اساس باندې دهغه مړی دهغه فاتحه تجلیل شوه، دوخت حکومت ددې تحمل ونه که او زموږ دګوند په رهبرانو یې حمله وکړه دوی یې بندیان کړل نو دهغه په عکس العمل کې یو نظامي قیام اجرا شو چې هغه دولت په دې لحاظ چې بنیادونه یې کمزوري شوي وو دخلکو اعتماد یې دلاسه ورکړی ؤ له پښو ولوېده په هغه وخت کې زیاتره هغه برخې افسرانو چې په خلقیانو نوموړل کېده او دتره کي صاحب ملاتړي وو هغوی عمده برخه واخیسته نور افسران چې په پرچمي برخه پورې مربوط وو که څه هم توانمنده قدرت ؤ لیکن په دې لحاظ چې قوماندې یې نه وه اخیستې ددې قیام دپاره هغوی ضمني ګډون وکړ، چې کله یې ولیده چې خلقي افسرانو قیام وکړ دوی په قشلو کې دهغوی ملاتړ وکړ او سره راپاڅېدل لیکن اساساً دغه قوماندې په هغه زمان کې حفیظ الله امین او تره کي په خپل منځ کې سره پخه کړې وه په خپلو کانالونو کې یې خپلو افسرانو ته دستور ورکړ.

**دخلق دډیموکراتیک ګوند څخه څو تنه بندیان شول چې ورکې نورمحمد تره کی او ببرک کارمل هم شامل وو ولې حفیظ الله امین په خپل کور کې پاتې ؤ، دحفیظ الله امین میرمن وایي چې په همداشپه دحکومت پوځی تلاشي دهغوی دکور دلټولو په غرض ورغلي وه:**

چې داخلک یې ونیول بندیان یې کړل تلاشي له موږ کره راغله، تلاشي چې راغله نو عبدالرحمن را ناري کړې پلارته یې ناره کړه چې پلاره

عسکر راغلل چې شا وخواته راخپرې پر دیوالونو موږ ویده وو. یوه بجه وه جګ شوو، او چته جګ شوو ده دوه مرده اسنادونه دا یې ماته راکړه چې دا ته واخله راته ویلې ؤ چې داسې خبره ده دا اسناد ته د کوټې و باسه هغه چې زه همدا سې او چته جګه شوه، ده خپله دا قدیفه راکړه قدیفه مې په سر کړه دا اسناد مې په دا سینه کې داسې ونیول دا قدیفه مې د ځانه تاو کړه نو دلته عسکر راختلي صاحب منصبان هم راختلي په دهلیز کې ولاړ دي همدا چې له کوټې ووتم لاړم بلې کوټې ته دا نجونې مې راویښې کړې ما ویل جګ شئ چې عسکر دي تلاشي کوي دا اسنادونه واخلئ درسته دا سینو کې کیږدئ چې ښځه نشته سړي دي سړي خو تلاشي نه کوي چې ښځه ولټوي دوی نو دا تلاشي وکړه دا کتابونه یې ځای کړل. دا یوه تفنګچه یې درلوده امین صاحب هغه یې واخیسته څو روپۍ چې وې هغه یې واخیستې خو هیڅ شی یې په کور کې پرې نښود ځای یې کړل یو یې وړل نو ده ته یې وویل چې ته دا کور کې وا وسه اولادونه دې وتلای شي بیرون مکتب ته یعنی لاړ شي ته نشې وتلای بیا یو یل خط و ورځخه چې دا پاتی و ورځخه په جیب کې چې امین صاحب داسې وشکاوه یو وارې دا نفرو پر حمله کړه او ناري یې کړی چې ولچک یې کړئ دا ولچک کړئ خو ده ولچک پسې ونه ګرځید ژر ژر یې وشکاوه ایسته یې واچاوه، چې وایې چاو نو دا نفر ورته وویل چې ته دلته اوسه بیرون نشې وتلای حق نلرې چې بیرون ووځې اولادونه دې تلای شي نو عسکر بیرون دروازه کې هم ودریدل دا شاوخوا هم ولاړ وو. همدا کوټه کې یې راته وویل چې کالي مې راته ووینځه دوه جوړې کالي یې وو نور یې نه درلول ویل دا یوه جوړه نوي دي ویل یې دا راته

پریمنځه کـه بندي خانې تـه مې بوزي چې کـالي مې لږ پا ک وي نوي وي نو هغه کالي مې ورته پریمنځل نو هغه کالي یې ونسوه هماغه زاړه یې ځان کې ووسبـا یې دوختـه ؤ زمـا یو زوی ؤ چې داروسانو مړ کړ له دغـه زوی نه مـې لـوی ؤ دا انجنیـر ظریف راغی هغــه ته بیــرون راغلی ؤ دهٔ نو بیــرون دهلکانو سره ساعت تیري کوله دا انجنیر ظریف یوبل هلک ته پنځه روپۍ ورکـړې وې چې تـه هغـه هلک ته نارې کـړه چې دلتـه مـاته راشي دا هلک ورغـی دا خـواز ک نـومیده دا زوی مـې دا ورغلی وانجنیـر ظـریف تـه ،دهٔ تـه یې ویلی وو چې تـه ورشـه پلارته دې ووایـه چې انجنیـر ظریف راغلی دی ، دلتـه بیرون ولاړ دی ، احوال ورکړه پلارته دې او چې دا زما زوی دننه راغی مـاتـه یې وویل نومـا وویل ښـه ورشــه پلارته دی ووایه پلارته یی وویل اوبیـاده بیـرته خپـل زوی تـه وویل دا خـواز ک تـه چې ورشـه ورتـه ووایـه چې راشه دننه کـه عسکر دې پرېږدي نو څـه خبـریم چې عسـکرتـه بـه یې پیسـې ورکړې وي یا څـه شی بـه وي خو دایې راپرېښود دننه چې ده پسې بیـا فقیـر محمد فقیر راغی دا راغی دا یې هم راپرېښود دننه بیا دا عبدالرحمن ته یې وویل چې ته یو وارې احوال واخله چې تره کې صاحب یې بندی کړی دی که نه ؟هغه بیرتـه پـه حال احوال راووړ چې هو نیولی یې دی دغـه نفرېې نیولي دي هغـه ده ژر ژر دا نفر چې راغلل ده ژر ژر نوشتـه کړ دغـه هغـه یې نوشتـه کړ دا انقلاب یې چې کـاوه دا شیـان یې نوشتـه کړه دادې قـومـاندان وي دا دې داسـې وي دا دغـسـې وي دا یې نوشتــه کـړل دا هغـه چې راغی انجنیـر ظریف او فـقیـر محمـد دا یې ورکړ دا یې چې ورکړ کـا تـه مو چې بیـا دا هلک

راغی وویل چې دا هغه راغلی دی دا گلاب زوی راغلی دی، د سپلو کوم ځای یې وښود چې هلته ناست دی اوویې ویل چې زه امین صاحب سره کار لرم او هغه ته یې بیا عبدالرحمن ورولیږه چې ته دلته نشې راتلای ته هم هغلته اوسه بیا عبدالرحمن ته یې کومې خبرې مبرې وې هغه یې ورکړې چې گلاب زوی ته به یې وړې نو دا نو چې د غه سبا شپه خو دهغوی تیره شوه بندي خانه کې یوه شپه یې تېره شوه سبا یې لس بجې وې چې هرشی دوی خلاص کړل نو خدای ورته هغه ورکړه هر شی چې خلاص شول کا ته موچې نفر راغلل او موټر یې راووست لاسونه یې ولچک کړ بویې تله امین صاحب یې وښکه له کوره نو دا دحیوانانو چیغې وې بده ورځ یې جوړه کړه ما ویل چې غلی شئ نو دا خووه دا خو پوهیدو چې همدا کار کېږي نو دا شپه تېره شوه په سبا مور همداسې په کور کې ناست وو چې فیرونه سره شروع شول فیرونه چې شروع شونو داسې مور نه پوهیدو چې دارقم به وی مور ویل څه خیل څه رقم د ه څه رقم شو نو په دا سبا مې دا حیوانان درست مکتب ته لاړل هیڅ ونه پوهیدم چې دوی منع کړم چې مه ځئ مکتب ته درست ولاړل دا ببری دابل دا دواړه واړه واړه وو یو یې اول صنف کې ؤ یو یې دوهم کې نو دوی پسې زه داسې گرده گرځم وځم پسې چې دا هلکان راولم دا تانکونه دي چې هغه نشي ونه ډارشي یا ژوبل نشي هغه چې لږ ذره بیرون ووتلم چې دا دواړه راغلل چې راغلل ماویل ای خوازک جانه زه تاسې پسې درتلمه چې ونه ډارشئ ویل نه مه ډاریږه ببو وړکې ؤ درست ټانک خلق نوشته دي.

د ۱۳۵۷ هـ ش کال د ثور اوومه نیته او د پنجشنبې ورځ وه د سردار محمد

داؤد خان په مشر توب د کابینې غونډه روانه وه چې ور کې د سرحداتو وزیر پوهاند عبدالقیوم ورد ک هم برخه اخیستې وه:

د پنجشنبې ورځ وه مجلس د وزیرانو په حصه دقانون دکار و کارگر کې دایر ؤ. چون ما دهغو سره ملاقات درلوده نو وزارت سرحداتو ته لاړم سفیر د شوروي هلته راغی بعضې موضوعات وو چې مونږ دهغه په باره کې خبرې وکړې بیا په لسو بجو باندې ملاقات خلاص شو زه ولاړم ارگ ته دا مجلس دایرؤ نو تقریباً یوولس بجې وې چې دغه کودتا شروع شوله په ارگ کې خونو چون په هغه وخت کې مونږ مجلس درلودئ ټول وزیران هغلته وو په استثنی د دریو یا دوو نفرو څخه نور هملته پاتې شوو تر سبا یې پورې مونږ هملته په ارگ کې وو. محدوده بمباري وشوله په هغه وخت کې جنگ تقریباً زمینی جنگ ؤ. یو څو وارې طیارې راغللې اما وروسته بیا دا ترس پیدا شو چې دوی اخطار ورکړو چې مونږ سخته بمباري کوو.

**کابل راډیو او دبنار ټول مهم ځایونه دحفیظ الله امین په مشر توب خلقي فوځیانو نیولي وو پر ارگ جگړه روانه وه او دبهر څخه دحکومت مرسته نه رسیده اسلم وطنجار چې دمځکنی عملیاتو مشري پرغاړه لرله دحفیظ الله امین له خوا معرفي او په کابل راډیو کې یې یوه اعلامیه ولوستله:**

دا اعلامیه اسلم وطنجار د زرهدارو دقواو جگړن اوروي: دلومړی ځل له پاره په تاریخ کې دسلطنت دظلم استبداد وروستني بقایا او دنادرخان دکورنی قدرت پای ته ورسېد او ټول دولتي قدرت دولس ته لاس ورغی دولتی قدرت دعسکري انقلابي شوری په پوره واک او اختیار کې دی.

گرانو وطنوالو! ستاسو اولسي دولت چې دانقلابي شورى په لاس کې دى خبر درکوي چې هر ضد انقلابي سړى چې وغواړي چې دانقلابي شورى له هدايت او مقرراتو څخه سر وغړوي ژر ترژره ئې نظامي انقلابي مراکزو ته وسپارئ.

**پوهاند قيوم وردګ وايي چې په همدا شپه د هغوى څخه وغوښتل شول چې ځانونه تسليم کړي:**

ددوى نه يې وغوښتل چې بايد تسليم شي او قوماندان د ګارد راغى او ويې ويل چې دهيڅ خوانه کوم کمک هم راونه رسېدنو خطر ددې وو چې دوى سخته بمباري کوي بيا تصميم په دې ونيول شو چې بايد تسليم شي او داؤدخان خپله په دې اميد ؤ چې ممکن د نورو ځايونه قوه راورسيږي دغه شى خنثى شي دا حمله خنثى شي او متأسفانه ترسبا يي پورې، سبا يي پورې خونه، خو تر ماښامه پورې يې هم انتظار وايسته دکومې خوانه حمله رانه غله اما په هغه وخت کې ګارد بيا نو مقاومت کاوه نو دى په دى اميد ؤ چې ممکن دفع ددې حملې وشي. نعيم خان او نور غړي او د دوى لوراني او زامن يې دا ټول هلته په دا ګل خانه کې وو تقريباً په ګل خانه کې تيت وو په دااطاقو کې، زه هم په خپله په ګل خانه کې وم تر سبا يي پورې يعني دسبا تر اوو بجو پورې په ګل خانه کې ددوى سره يوځاى وم عبدالاله و، قدير ؤ، زه وم دوزيرانو نه چې دلته موجود وو.

**ستا مطلب دا دى چې تر سهاره پورې تاسې يوازې درى وزيران د هغه سره پاتې واست؟:**

تريو وخته خو ټول وزيران وو بيا نور ددې اطاق نه چې داؤدخان ؤ،

نعـیم خان ؤ نورو ځـایو ته لاړل فـقط دری نفـره ورسـره پاتې شـولو چې عبدالالهو، قدیر ؤ او زه وم. ما په خپله خبرې ورسره ونه کړې تنها یو شی مې ورته وویـل کـه دوی دومره وکـړي چې دغـه خپـل فـامیـل یوبـل ځـای ته انتقال کا ځکه دلته ډیر خطر موجود دی که دانفر راځي نو ددوی دپاره ډیر خطر دی. ده وویل چې همـدا ځـای ورتـه مـحـفـوظ دی امـا ډیرې خبـرې یې دقـومـاندان دګـارد سره صـاحب جـان خان سره او څـو نفـره نور عسکري منصبدار چې ورته راتلل دهغو سره یې خبرې کولې خو داسې یو تصمیم ونیـول شـو چې داؤد خان او یو تعـداد نفـر او دا فـامیـل یې ووځي بیـرون ته یعني دارګ نه ووځي یوې بلې خوا تـه لاړشي اما دوی ددې موقع نه استـفا ده وکـړه، مـقـابل طرف، تقـریبـاً په دووبجـو بـاندې یو تـعـداد نفـروو په داجومات کې یې موضع نیولې وه هلتـه یې ډزې وکړې په دوی بانديې دوی بیـا ببرتـه ننوتل ګل خـانې تـه او هلتـه څـو نفره زخمیـان شول په شمـول دده دزوی عمر سره وزیر داخله هم په دا لاس باندې زخمی شوي ؤ عـمر بیـا یو څـو دقـیـقـې بعـد پسـې مړ شو هلتـه وروستـه داسې مـعلومـه شـوه چې په خودګارد کې هم دوی نفر درلودل لـه جملې دهغو نه یو هم عبدالحق علومي ؤ چې هغـه ډېر نژدی ؤ ډیر اعتـماد پرې باندې کـېده اما په دې حملـه کې ده هم کمین نیولی ؤ چې ډزې یې وکړلې.

دشپې په تېریدو سره دجمهوري ارګ قواوې تسلیم شوې، شهنواز تنی چې په هغـه وخت کې دکمـاندو قـومـاندان او دهغـه پوځیـانو پـه دې حملـه کې برخه اخیستې وه، وایي چې جمهور رئیس محمد داؤدخان تسلیم نشو او کلاشنکوف یی

را واړاوه:

کله چې د ثور انقلاب ګډون کوونکو فوځیانو داؤدخان ته وویل چې وسله په ځای کېږدئ او تاسې د ثور انقلاب د قوماندې ځای ته ځان تسلیم کړئ او موږ تاسې هلته بیا یو هغه ؤ چې داؤدخان دا خبره ونه منله او داؤدخان په خپله او داؤد خان سره ورسره ملګري په خاص ډول د کابینې یو شمیر وزیرانو یو جرمنی وړوکی قاتکي کلاشنکوف هم ورسره ؤ په هغې باندې ډزې شروع کړې او بالمقابل د کماندو او دغه د ثور انقلاب ګډون کوونکو پوځیانو هم د خپل ځان نه د دفاع په خاطر ډزې وکړې په دغه ډزو کې داؤدخان او د داؤدخان سره یو شمېر کسان له منځه لاړل او امام الدین سره د یو څو افسرانو نورو دا ژوبل شول او یو دوه دری سربازان له منځه لاړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۳۱

# د خلق حکومت او خپل منځي اختلافونه

په افغانستان کې حکومت او ګوندي غړو نوی بدلون د ثور انقلاب وباله خو عزیز نعیم وایي چې دا یوه کودتا او د شوروي په ملاتړ منځ ته راغلې وه:

د ثور د کودتا په وخت کې زه په خارج کې وم. بیا هم د پېښو سلسله ثابتوي چې دا پېښه د شوروي د مداخلې او حمایت څخه پرته ناممکنه وه. هغه کسان چې په اصطلاح په دې انقلاب کې قدرت ته ورسیدل د شوروي د هواخواهانو پېژندل شوې څېرې وې. د ثور د اوومې نیټې د کودتا نه یوه نیمه میاشت وړاندې زه د ځینو کارونو د پاره کابل ته تللی وم او په هغه

وخت کې مې د مرحوم جمهور رئیس سره وکتل. هغه د صحبت په ترځ کې راته وویل چې د اسې اسناد په لاس راغلي دي چې د خلقیانو او پرچمیانو ارتباط او ځان سپارل د شوروي سره ثابتوي او عنقریب به دا اسناد د افغانستان د ملت په اطلاع ورسوو. بر علاوه د کې جي بي یو مامور ولادیمیر کوزسکین چې غرب ته پناه وړې ده، د امریکا د تایم د مجلې سره د مرکې په ترځ کې ویلي دي چې کمونیستان په کابل کې د اپریل په میاشت کې د مجبورۍ او پریشانی د حالت سره مخامخ وو او د شوروي د سفارت سره یې اړیکې ونیولې او په نتیجه کې ماسکو د کودتا کولو په هکله د هغوی ملاتړ وکړ.

سلیمان لایق وایي چې دا یو پوځي قیام او کوم نوی ابتکار نه ؤ:

زموږ په وخت کې یو نظامي قیام وشو چې دې نظامي قیام ته زموږ ځینو رهبرانو له هغې جملې نه حفیظ الله امین وویل چې دا یوه نوې تجربه ده انقلاب کې او د جهان خلک باید راشي دا مطالعه کړي او دا ووینی. په هغه وخت کې هم زه شخصاً په دې معتقدوم چې دا هیڅ نوع یو نوی ابتکار نه دی. دا یو عسکري اقدام دی. نهایت په دې فرق چې د نورو کودتاوو سره یې فرق دا دي چې په دې عسکري قیام کې قدرت یوې پارتۍ ته وسپارل شو نه یو گروپ د جنرالانو ته، لهذا د عادي نورمالو

عسکري قیامونو یا کودتا ګانو نه یوبیل اقدام ؤ، نو په دي بنیاد تر او سه پورې لا دا مسئله هم تر مناقشې لاندې ده چې سړی کولی شي دقیقاً د دې اقدام د پاره د یوعلمي ستینډرډ په اساس باندې دې ته یو انقلاب ووایي.

د پښتونخوا ملي عوامي پارټۍ مرستیال عبدالرحیم مندوخیل وایي چې دا یو مترقي او عام بدلون ؤ:

هغه یو عام بدلون ؤ د افغانستان. د افغانستان یو مترقي بدلون ؤ. د افغانستان یو جمهوري بدلون ؤ او په هغه زبان چې راواخی په اصطلاح. هغه داؤ چې قامي جمهوري یعني د افغان ملت استقلال، تمام هر څه د ملت په واک کې د افغانستان شتمني د افغانستان دولتونه، ځنګلونه، غمي، د افغانستان څه چې مځکې. داکم از کم خپل ملت چې دې دومره واکداره وي چې د هغې ترقي ورکړي، او بل بیا د افغانستان د اولس واک چې هلته دولس واک وي، هلته جمهوریت وي. پرمخ باندې افغانستان ته ترقي ورکړي. دا خبره وه او دا به بیا وي هرڅوک چې نن دا اوس چې سره جنګیږي رباني صاحب دی، ګلبدین صاحب دی، سیاف صاحب دی، چې دا ټوله سره جنګیږي، چې اخر ځای راشي، څه به کیږي خو د غه خبره به کوي چې ورو وره بس د افغانستان آزادي او په افغانستان کې جمهوریت.

د جمهور رئیس داؤد خان د حکومت تر سقوط وروسته د خلق د ډیموکراتیک

گـوند د سـيـاسي بيـرو غـړي دجـمـهوري ارگ تـرڅنگ په وزارت دفـاع کـې راټول شول. په دې کسانو کې عبدالکريم ميثاق هم شامل ؤ چې د سياسي بيرو غړی ؤ:

دلته بحثونه کېدل چې په آينده کې څه وکړو ؟ څنگه حکومت او دولت جوړ کړو ؟ په دې بحثونو کې به هميشه تره کي د کارمل ، امين ، قادر او وطنجـار سـره په يوه جـلا اطـاق کـې چې دوزير دفـاع دخـوب کـوټه وه جلاکښيناستل خبرې به يې کولې تلل او راتلل به، په اخر کې ما امين ته وويل چې دا څه خبره ده چې ځئ او راځئ تاسې قصه سياسي بيرو ته راوړئ !هغـه پـه جـواب کـې راتـه وويل چې زه صـلاحـيت نه لرم تاسـې د تره کي صاحب څخه پوښتنه وکړئ! ما د تره کي صاحب څخه پوښتنه وکړه هغه راته وويل چې قادر او نور وايي چې واک بايد د نظاميانو سره پاتې شي او حزب بايد د نظاميانو تر شاوي! زه په ځواب کې وايم چې نظاميان دحزب غړي دي بايد قدرت حزب ته انتقال کړي. کارمل هم د قادر سره پُس پُس او خبـرې کـوي او قـادر تحـريکوي وروستـه مـوږ دا خبـره جـدي ونيـوله چې موضوع بايد په مرکزي کميتې کې طرح شي دا خبره ومنل شوه او دمرکزي کميتې غونډه جوړه شوه او تره کي يو احساساتي نطق وکړ اوويې ويل چې نظاميان دحزب غړي دي دا خبره هيڅ مطرح نه ده قدرت بايد دحزب سره وي. وطنجار چې په دې وخت کې پوره واک درلود دمرکزي کميتې دنورو

غړو سره یوځای د تره کي خبره ومنله فیصله وشوه چې نظامي شوری لغوه او ملکي انقلابي شوری جوړه شي او په دې هکله یوه اعلامیه په راديو کې هم نشر شوه وروسته دحکومت او وزیرانو دانتخاب پر سر مخالفت راپورته شو کارمل دصدارت او دانقلابي شوری دمعاونیت ترڅنگ خارجه وزارت هم غوښته او دکورنیو چارو وزارت یې دنوراحمد نور له پاره غوښته. حفیظ الله امین خارجه وزارت ځان ته غوښته خو په آخر کې فیصله وشوه چې نور محمد تره کی جمهور رئیس ، ببرک کارمل دصدراعظم مرستیال او حفیظ الله امین خارجه وزیر او دکورنیو چاروو وزارت نور احمد نور ته ورکړل شو.

دحکومت دجوړیدلو سره سم جمهور رئیس نور محمد تره کی دخپل دولت په اساسي خطوطو کې دشوروي اتحاد سره داړیکو دپراختیا خبرې وکړې:

له خپل شمالي سترگاونډي شوروي اتحاد سره دهراړخیزو دوستانه مناسباتو تحکیم ، پراختیا او توسعه.

دنور محمد تره کي په مشرتوب متحد حکومت ډېر دوام ونه کړ او ډېر ژر اختلاف راپورته شو. سلیمان لایق ددې اختلاف په ړه پر نور محمد تره کي او ببرک کارمل اړولی ده:

تاسې پوهیږئ چې دهغه وخت حکومت دحزب په لاس کې ؤ او زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دحزب په مرکزي کميټې کې غړی وم او اساسي مسئله فقط هلته دا وه چې د تره کي صاحب او د کارمل ترمنځ هم هغه پخواني زوړ مخاصمت بيا شروع شو او کارمل صاحب د تره کي صاحب له خوا د يوې ډلې نورو پرچمي رهبرانو سره د سفيرانو په حيث خارجي هېوادوته مقرر شول، زه طبيعي ده هلته پاتې شوم . ما کومه پرچمي يا خلقي موضعګيري نه درلوده او کله چې ګوند يو شو ترڼنه پورې زه ددې دفرکسيوني اختلافاتو سره د يوه سره هم نه وم. ماځان ته ډېر لوی شرم باله چې په دې لوبو کې د قدرت د نيولو د پاره سړی علاقه وښيي ليکن هلته دا فکر ؤ چې زه شايد يو پرچمي به يم علاقه مندبه يم له پرچميانو سره او د پرچميانو د تصفيې کار شروع شوی ؤ په ګوند کې دننه نوزه يې له وزارت نه موقوفه کړم.

**پخواني صدراعظم سلطانعلي کشتمند هم بندي او وايي چې په اعدام محکوم شو :**

خلقيانو غوښتل چې په تنهايي حکومت وکړي او پرچميان بايد وشړي چون زه هم پرچمي وم نو ځکه بندي شوم بل دليل داؤ چې زه د سياسي بيرو غړی وم په حزب کې مې ډېر نفوذ درلودی او د خلکو پشتيباني راسره وه ، متأسفانه زموږ په ټولنه کې زباني او نژادي مسئلې هم رول لري او کيدای شي نقش ولوبوي دوه ځله د نام نهاده محاکمو له خوا

په اعدام محکوم شوه او داسې شکنجې راکړل شوې دي چې د نورو ته يې تصور گران دی.

عبدالرشید جلیلی چې دخلق یو مشر او د کرنې وزیر پاته شوی دی دا پړه پر پرچمیانو اړولې او وایې چې پرچوکیو جنګ او کودتا ګانې یې پیل کړې:

په چوکیو باندې جنګ او بل دا چې هلته کودتا ګانی پیل شوې، کودتا په ضد د دولت باندې پلان شوه، البته په دې کې پخوانی شوروي اتحاد هم دخیل ؤ ځکه هغوی اول دا نه غوښتل چې موږ قدرت ته ورسیږو او بیا وروسته چې قدرت ته ورسیدو هم دهغه اولې ورځې نه د پخواني شوروي اتحاد دحکومت دسیسې پیل شوې او یوه دهغه دسیسو نه دا وه چې کودتا وشي، همدغه کودتا کشف شوه او واقعاً دخلقیانو او پرچمیانو ترمنځ یې اختلاف لاپسې شدید کړ او دغه سبب شو چې بیا وروسته تصمیم دا ونیول شو چې پرچمیان چې په هغه کلیدي پوستونو کې وو دهغې نه لیرې کړی شي.

کشتمند په خپله وویل چې دا کودتا نه وه:

نو کشتمند په خپله په اعترافاتو کې هغه اخبارونو کې دهغې دغه به مو لوستلي وي تاسې چې هغه په خپله ویل چې زه پکې شریک وم دده په خپل خط باندې لیکل شوي وو ځکه چې دده

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوازونه ثبت شوي وو هغه مستند دي کودتا يې کوله.

اجمل ختک وايي چې د اختلافونو ترڅنګ د افغانستان خلک په ذهني لحاظ دې بدلون ته چمتو نه وو:

افغانستان چې دی هغه خپل يو مزاج لري يو تاريخي ملي روح لري هغه څه شی دی، هغه استقلال دی، هغه تاريخ او عنعنه ده او هغه اسلام دی، د دريو د دې نه سوا چې بهرنی هر قسم مفکوره راځي، څوک چې ورته راشي هغه افغانستان نه قبلوي او داچې انقلاب د ثور ورته وايي دا دوی خارجي مفکوره راوړه او خارجي مفکوره يې د افغانستان په خلکو باندې په زور تپله. دانقلاب په دريمه ورځ چې زه ورغلمه تره کي صاحب ناست وو راپاڅيدو يو شل قدمه ماته. ملګری مې و دوست مې ؤ مشر مې ؤ نو کښيناستو نو ما ورته وويل چې انقلاب سياست نه دی راوستی وسلې راوستی دی او کوم انقلاب چې سياست رانه وړي وسله يې راولي نو دهغه کاميابيده زه نشم ويلی. هغه وويل دا تاسې دعدم تشدد خبرې کوئ. دغه شانتې پاچا خان چې ورغلو ما ورته راوستو باچاخان ورته وويل چې ګوره ته په دې ځای کې کيناستې نن حکومت ستا په لاس کې دی خو داحکومت چې کاميابيږي نو هر څنګه چې ته راغلې په هغې زه بحث نه کوم، خو دا به هله کاميابيږي چې دا افغانان داچې دي داکه په زور جنت

ته بوزې هم نه ځي او که په رضا يې دوزخ ته هم بوزې ځي ورته و يې ويل چې نو ته ما ته ټول خپل وزيران او هغه چا چې انقلاب کړی دی ټول را وغواړه چې زه ور سره خبرې وکړم. بله ورځ يې را وستل هغو ته يې وويل چې بچو! په دې مه مستيرېږئ چې تاسې انقلاب کړی نن جرنيلان يئ نن وزيران يئ لاړشئ په اولس کې ولس پوه کړئ ولس درنه ورو ورو خپه کېږي. نو زما مطلب دا دی چې دا انقلاب چې دوی ورته وايي دا د بهرنه راغلې يوه مفکوره وه چې هغې ته افغانستان بنيادي طور سره تيار نه ؤ او ثابته شوه چې تيار نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۳۲
# اصلاحات اراضي

کله چې د خلق حکومت واک ته ورسیدئ سمدستي یې فرمانونه جاري کړل. عبدالکریم میثاق چې د مالیې وزیر پاته شوی دی وایي چې د افغانستان په تاریخ کې دا فرمانونه مثال نه لري:

هغه مشهوره فرمان چې د افغانستان په تاریخ کې ښایي بې مثاله وي هغه فرمان دی چې پکې د ښځو او نارینه ؤحقونه یو شان شول، په دې فرمان کې د شریعت محمدي د حکم سره سم د ښځې مهر د ری سوه افغانۍ وټاکل شو مور ملایان راټول کړل هغوی حساب وکړ او فتوی یې ورکړه

چې مهر دې دری سود افغانۍ تعيين شي. بل د سود په هکله فرمان صادر شو چې سود او سود خوري منع دی مثلاً يو ده سړي بل ته زر افغانۍ په سود ورکړې وې او د هرش زره يې د کلونو په اوږدو کې سود ورڅخه اخستی ؤ نو په دې حساب يې د خپلو پيسو لس برابره لا س ته راوستې وې نو ځکه دا پور وبخښل شو يا کـه د ځمکو اصلاحات راواخلو نو داسې وه چې هغه څوک چې په ځمکه کارکوي او کري يې ځمکه د هغه ده.

د افغانستان په ډيرو سيمو کې ځمکې لږې او د ځمکو مالکان په خپله په کر کرنه لګيا وي خو د افغانستان په غربي ولايتونو کې بيا خبره بيله ده نعيم فراهی چې په بالا بلوک کې د ډيرو ځمکو خاوند دی د ځمکو د اصلاحاتو دا شکل نه مني:

بدترين کـار چې دوی شروع کړئ همدا اصلاحات اراضي وو اصلاحات اراضي خو داؤد خان هم شروع کړل هغه په دې شکل شروع کړل چې هرچا چې ځمکه زياته درلوده مازاده ځمکې به يې د هغه سړي څخه واخيستې ويو بل چا ته چې ځمکه به يې نه درلوده هغه ته به يې په پنځه ويشت کاله قسط ورکړه او هغه پيسې به يې بيا وهغه سړي ته چې ځمکه يې ځينې اخيستې وه په پنځه ويشت کاله قسط ورکولې. هغه هم اصلاحات شروع کړي وو ولې د دوی اصلاحات داسې وو چې اول به يې

دمځکې خاوند را وغوښتئ په مځکه به يې ودروئ نژدې ترين مکتب چې
به هلته وو ابتدائيه يا غير ابتدائيه هغه هلکان به يې راټول کړل او په دې
سپين ږيري باندې به يې تولعنت ويل او بيا به يې دمرگ پردغه سړي
باندې يادفيوډال په نامه يا دزميندار په نامه باندې مرگ ورباندې ويل
پس له هغه څخه به يې دغه سړى بندي کړئ يو تعداد نور به يې دکور هم
ځينې ووژل نو مځکه به يې واخيستله په خلکو به يې تقسيم کړه زياترو
خلکو مځکې نه دي اخيستې صرف هغه کسان چې ددوى تالي څټې وو
ورسره په کميټو کې يوځاى وو پر هغو باندې يې تقسيم کړه او هغه
بدبختانو نه غويى درلود نه يې ټراکټور درلود او نه يې هم سره درلوده او نه
يې هم دتخم غنم درلودل دامځکې ټولې شاړې پاته وې دا مځکې هيڅ
کښت شوې نه دي دا ډيرلوى بدبخت پروگرام وو دا هيڅ په گټه دافغانانو
نه ؤ نه ددوى په گټه ؤ نه دبل چا په گټه ؤ.

عبدالرشيد جليلي چې د اصلاحات اراضي وزيرؤ وايي چې اصلاحات
اراضي دضرورت له مخې ترلاس لاندې نيول شوي وو ولې دمشاورينو دبدنيتۍ له
کبله دستونزو سره مخامخ شول :

اصلاحات اراضي په هغه وخت کې داسې فکر کېده چې مطابق
دغوښتنو او هغه ضرورتونو دابايد سرته ورسيږي ديرش جريبه ځمکه

اعلی درجه هم هغه صاحب دځمکې ته پرېښودل کېدله او نورو بې ځمکې خلکو ته پنځه جريبه ځمکه ورکول کېده موږ پوهيږو چې په افغانستان کې خلکو ببخي ځمکه نه درلودله او پنځه جريبه ځمکه که داسې يوې اوسطې کورنۍ ته اعلی درجه ځمکه ورکول کيدله هغه يعني کمه ځمکه نه وه بعضې خلکو ويل چې د پرمختګ مخه يې ونيوله، دغه کوپراتيفونو دپاره هم دغه کېدل يعني هڅی کېدلې لاکن بيا هم سره ددې په دې کې يو څه دمشاورينو رول هم ؤ چې طبعاً موږ اوس داسې قضاوت کوو چې امکان يې درلود د دوی نيتونه چې دپخوانه ماوويل چې نيتونه يې سم نه وو شايد يو څه دغه بدنيتی هم شوې وي موږ اوس کولای شو چې يعني دومره زر اصلاحات اراضي ته ضرورت نه وو. او که کېدلی نو بايد ښه شرايط څېړل شوي وای او پس دهغې نه به اصلاحات اراضي منځ ته راغلي وای اګر چې سره ددې چې دغه اصلاحات اراضي چې وشول يعنی محصولات په هغه کال کم نه شول دمځکې حاصلات ببخي ډير وو، ځکه سره او ټراکتورونه هم ورکړه شول لاکن بياهم وروستنيو پېښو داسې وښودله چې بايد ډيره عجله نه وای شوې او خصوصاً په دغسې غټو کارونوکې بايد ټولې خواوې څېړل شوې وای او بيا اقدام شوی وای.

دشرايطو ترڅنګ نورې ستونزې هم موجودې وې، عبدالرحيم هاتف

(c) ketabton.com: The Digital Library



باورلري چې په افغانستان کې دمځکو پوره او لازمي سروې نه وه شوې:

اصلاً خو داسې خبره ده چې په افغانستان کې ځمکې سروې شوې چنداني نه وې دېخوا ځخه په هغه شکل باندې چې لازمه ده او دمځکو داوبو اندازه دسر کيله وپاى کيله وسردانه وپاى دانه چې تاسو ته درمعلومه ده دهغو سم تقسيم عادلانه نه ؤ شوى اول خو دا خبره په کار وه چې بايد ځمکه سروې شوې واى او اوبه يې اندازه شوې واى بل دا چې دبزگر سالانه عايد کتل شوى واى چې دهغه ژوند په دې موجود عايد کې څرنگه دى، کېدلاى شي که نشي کېدلاى ډېر ځله دغه اندازه دمځکو چې يو بزگر ته په نظر کې نيول شوې وه دهغه دبزگرۍ ترسهم کم عايدات يې ورکول يعني دغه جريبانه چې و بزگر ته په نظر کې نيول شوې وه پنځه جريبه ياد هغه معادل په نورو درجوکې تر ديرشو جريبو پورې دهغه عايدات ډېرځله داسې وو چې په خپله د بزگر تر سهم کم را تلل نو په دې نسبت باندې چې دخلکو په نظر باندې دابې قيمته ديو چا ملکيت اخيستل بې عوضه څخه دا يو شکل دحرام ؤ په دې نسبت باندې دا ډېر موفق نشول، برعلاوه دبزگر قيمت خورا ډېر لوړ تللى ؤ شاوخوا دافغانستان په شاوخوا کې په خپله په افغانستان کې کارونه خورا ډېر پيدا شوي وو يو عالم عايدات غريب کارو خلکو درلودل په همسايه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مملکتوکې خصوصاً په خلیج او دایران وخواته نو دا دبزګر دسطحې خلک چې وو عموماً هلته یې کارونه کول او دلته دبزګر اهمیت په دننه په افغانستان کې خورا ډېر شوی ؤ او سهم یې نسبت و پخواته چې شپږمه او پنځمه او ځلورمه ؤ، خصوصاً په جنوب غربي افغانستان کې چې ځمکې ډېرې وې دلته تر دریم او تر نیمایي پورې سهم ورسیدئ نو هغه دبزګر ډېر په نفع ؤ تر دې چې دولت پنځه جریبه اوله درجه ځمکه دوی ته ورسپارله او یا دهغه معادل تر دېرشو جریبو پورې په دغو مناسبتو باندې نو دا دځمکو اصلاحات چې دوی ورته نوم اینبی ؤ دا پروګرام کامیاب نه شو.

په ډېرو ځایونوکې دراپیداشوو ستونزو له کبله ځمکې ونه ویشل شوې، نعیم فراهي وایي چې دهغوی بزګر حاضر نه وو چې په اصلاحات اراضي کې ورکړل شوې ځمکې ومني:

زموږ ځمکې ونه ویشل شوې داځکه چې موږ ډېره ځمکه درلوده او زموږ ځمکه د امیر عبدالرحمن دوخته څخه بیا تر دا اوسه پورې موږ دمالیې ټکټ درلود او زیاتره مو کومک دقوم او ددهاقینو سره کاوه مثلاً په ټول افغانستان کې ځلورمه حصه دځمکې دحاصل و دهقان ته ورکول کیدله په داسې حال کې چې موږ دری حصې اخیستلې او ځلور حصې مو ودهقان ته ورکولې موږ په ځمکه باندې تجارت نه دی کړی هغه ټول زموږ

قوم د هغه نه استفاده کوله ځو ک حاضر شوي نه دي زموږ ومځکې ته.
زموږ ځمکه تر آخره پورې چانه ده اخیستې. نو د غه علت و چې دوی سر
بندونه هوار کړل او دوی ویالې او کاریزونه ټول هوار کړل صرف پرضد
باندې دا ځکه چې خلکو نه اخیستله او استفاده نه ترې کېدله.

په دی اصلاحاتو کې د مځکو مالکانو ته دروند تاوان ورسیدئ عبدالرحیم هاتف وایي چې په افغانستان کې د کورنیو تر منځ مځکې ګډې او ترکه نه وه شوې:

دافغانستان مځکې د تیرونیکه ګانو په نامه باندې پاته دي او دا بیا وروسته ورثې ترکې نه دي کړې، سره ویشلې نه دي، حد بخشی یې نه دي کړې نو پر هغه نامه باندې مالیه تحویلیږي هغه که څه هم دری، څلور و پنځه نسله دمخه مړه شوي وي بیا نو دهغه نامه مځکه چې تر اصلاحاتو لاندې ونیول شي معنی یې دا ده چې د یو څو فامیلو په حقوقو باندې تجاوز دی په داسې حال کې چې هغه فامیلونه که په خپل مینځ کې خپله مځکه شرعاً وویشي نو ددوی په مځکه کې دونه ځای نه پاته کیږي چې داوبل چاته ورورسیږي او یا ددې څخه اضافه جریبي شي وبل چاته سهم پکښې ورکړل شي نو دداؤدخان داصلاحاتو په شکل کې یو دادی چې هغه سطح

دمځکې داصلاحاتو دپاره يې لوړه نيولې وه، دوهمه دا خبره ده چې دمځکې ماليه يې لکه په تجارت کې چې مروج دي مترقي ماليه يې نيولې وه چې اکثراً زمينداران دمترقي ماليې پر اساس باندې ودې ته آماده وو چې دامځکې ژر تر ژره کرې او يا ودې ته آماده وو چې که دامځکه داصلاحاتو په نتيجه کې ددوی څخه واخيستل شي چې د داماليې څخه دوی نجات پيدا کړي. مګر دغه انقلابي دولت چې راغی دوی خو دمطالعې فرصت نه دی پيدا کړی دوی خو دستي فرمان صادر کړ چې دمځکو دې اصلاحات وشي او بالاخره که ستاسې په ياد وي بيا تره کي صاحب وويل چې خلکو په لنګوټو مځکې سره وويشلې نو په لنګوټو باندې چې ويشل کېږي نو هغه خو معنی دا ده چې په ډير تلوار باندې يې دا کار کړی دی او دمطالعی فرصت يې نه دی پيدا کړی او زما په ياد دي چې اولين مړی چې په قندهار کې ددولت په خلاف چې جنګيدئ دهغه د جيبه څخه دمځکې قباله راوتلې وه دا مځکه چې دولت ورکړې وه او دوخت والي ډير په تعجب ودې ته کتل چې دا څرنګه خبره ده چې موږ ورته مځکه ورکوو او دی زموږ سره جنګېږي معنی يې داده چې ددې خبرې ټوله مطالعه همه جانبه نه وه شوې. نو په دې نسبت باندې داناکامه شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۳۳

# د حکومت په مقابل کې مخالفتونه

د مخالفتونو په هکله جمهور رئیس نورمحمد تره کي خبرې کړې او دا پېره یې دانقلاب پر دښمنانو اړولې ده:

زموږ دانقلاب دښمنان په موږ باندې داتور هم لګوي چې موږ دخلکو کورونه، جایدادونه ضبطوو او حتی ددوی ښځه ددوی دغاړې کالي کاږو، زه دلته دا اعلان کوم چې موږ به دهیچا شخصي ملکیت ته په بده سترګه ونه ګورو او نه به دچا کورونه او جایدادونه ضبط کړو البته دافغانستان دخلکو دښمنان له دې امره مستثنی دي . دا باید تکرار ووایم چې تردې

ویاړلي سره بیرغ لاندې په افغانستان کې دټولو ملیتو اتحاد او یووالی به ددوی دبېلوبېلو خصوصیتو په نظر کې نیولو سره سره دطبقاتي موقف په اساس تأمین شي. ما خپل خلقي وسله وال پوځ او خپلي خلقي څارندویې قوې ته امر کړی دی چې دهغو ورانکارو عناصرو پر ضد لوړ اقدامات وکړي چې دافغانستان دزیار ایستونکو خلکو دانقلاب په ضد عمل کوي او په دی توگه غواړي چې ددوی مادي او معنوی گټې په خطر کې واچوي په دي ټکي ټینگار کـوم چې زمـوږ ټول هغـه گـران وطنوال به چې وطنپرستانه عمل کوي او دخلقي انقلاب په مقابل کې نه خنډکیږي په بشپړه توگه خوندي او مصئون وي او یوه وېښته ته به یې هم ضرر ونه رسیږي. دغسې هیوادوال له ټولو مدني او خلقي حقوقو څخه بشپړ برخوردار دي. دا په ټینگه ځرگندول غواړم چې زموږ خلقي گوند او خلقي دولت به دخپلو اساسي کرښو دعملي کولو دپاره هراړخیزې مبارزې وکړي او په اخلاص او گړندیو اقداماتو سره به دافغانستان دخلکو اقتصادي، اجتماعي او سیاسي چارې دبشپړې ډیموکراسی په اساس په ښه توگه رواني کړي. موږ به خپله ټولنه داسې ژر او اساسي جوړوو چې څوک یې هڅوونه پېژني او نه یوازې به زموږ زوړنسل هغه ته حیران شي بلکه په دې ټوله منطقه او جهان کې به ټول ورته حیران وي باید ووایم چې

زمونږ د ثور ستر انقلاب ته هرڅا دوست وي که دښمن ګوته په غاښ نیولې

ده.

دافغانستان حالاتو نه یوازې د سیمې هیوادونه بلکه لوی طاقتونه دحیرانۍ سره مخامخ کړي وو، جګړې چې پیل شوې وې تر همدا اوسه پورې جاري دي، حضرت پیرابوبکر چې په آغا جان سره شهرت لري وایي چې دلومړي سر څخه یې دجهاد ترتیبات ونیول:

چې څنګه د تره کي حکومت کښیناست په دې کې ما بعضې کسانو ته وویل چې په هغو کې خواجه محمدخان ؤ چې دعبدالعزیز خان زوی دی، وکیل احمد جان دغو کسانو ته. خو هغه هیڅوک نه پورته کیدل چې مونږ دا جهاد کوو. آخریو بوستان نامی یو کوچی دی یو څوکورونه ددوی سره شته هغه ما ته وویل چې آغاجانه که یې ته جهاد بولې مونږ ته له حضرت صاحبه فتوی راواخله نو دنورمحمد تره کي په دا آخرو شپو کې زه له دیره غازي خانه ولاړم، زمونږ ژمی په دیره غازي خان کې ؤ ولاړم کراچۍ ته له حضرت والدصاحبه څخه مې هلته فتوی راواخیسته. دی نو چون کې مریض ؤ نوشته یې په خپله نشوه کولی، دسلو یو نیم سلو کسانو ترمخ یې اعلان دجهاد وکړ او ما ته یې وویل چې خپل سرومال به ته ټول په دې جهاد کې صرفوې بیا نو دا جهاد شروع شو نو په دې کې ما مولوي

سیدمحمدته، کامران ته او دلته دحضرت صبغت الله مجددي دپاره کومکونه وکړل دوی سره مو کومک وکړ، دوی ته مو دفترونه ورخلاص کړل بیا په دې مابین کې حضرت صبغت الله مجددي زما څخه کومک وغوښت د پیښور دپاره ده ته مو دهغه ځای دپاره کومک ورکړئ. خونو بیا بالاخره داجهاد سره شروع شو، سو که سو که خو دلته بیا حکومت پاکستان هم دخل اندازي شروع کړه او اسلحې یې شروع کړې. بیا داخلک راغله چې آغاجانه اوس خو نو څه کومک راسره وکړه چې موږ دا اسلحې په بیه ورته واخلو په اپوزي کې بیانو دا کرنلانو (غونډ مشران) تویکان خرڅول نو ما ډیري پیسي ورواستولې دغه پیسې راغلې نو دا کومکونه شول نو اول واربیا دوی ته په بادیني کې موږ ددوی دپاره دفتر خلاص کړئ. نو ددې دپاره محب الله آخونزاده، ملا نقیب الله او ملا عبدالباري دا دری ماته راغلل دملایانو له خواچې آغاجانه اوس به څنگه کوو نو ما په سنځاوی کې دوی ته پروگرام ورجوړ کړئ دا خپلو خلکو ته هم، دوی ته هم، چې تاسې به ځئ د بادیني څخه به جهاد شروع کوئ یوې خواته ددوی مشر محمداکبر شو دعوامو او بلې خواته موسی کلیم طالب ؤ چې دواړه شهیدان شوي دي اوس. اوله تانه یې دقلات دولایت اعلی جرغه ونیوله، بیا یې درخت یحیی ونیوله، بیا له هغه بعد تر قلاته پورې دغه تانې ټولې

سو که سو که تسلیم شوې او له هغه بعد بیا جهاد یو داسې اور و اخیست چې نن د قومندان عبدالرازق په نامه چې کوم قوماندان دی هغه هم د موسی کلیم او محمداکبر سره کار کړی دی چې د دوی مشر حافظ صاحب ؤ او ملا شیرین ؤ دا ټول لاړل د قندهار منطقې ته د غه خلک چې موسی کلیم ؤ محمد اکبر ؤ دا په قلات کې پاته شول.

وایي چې د حکومت پر ضد لومړي قیامونه په کنړونو ، بدخشان ، هلمند ، هرات او د افغانستان په نورو سیمو کې پیل شول. مخالفتونه په هر ځای کې جاري وو ډاکتر احمد جاوید وایي چې همدا وخت ؤ چې په کابل پوهنتون کې مخالفت په ډېرېدو شو:

په دې وخت کې د حکومت او چپ گرایی پر ضد مخالفت د استادانو او محصلانو په منځ کې ډېر شو او په هر ځای او هر قدم کې یې عکس العمل شو دئ مثلاً په صنفونو کې یې د حزبي استادانو څخه پېچلې او پرله پسې پوښتنې کولې پر تختو او دیوالونو او دروازو به داسې شعارونه لیکل کیدل چې د حکومت د مخالفت ښبانه وه او کله کله به کاریکاتورونه کښل شوي وو د پوهنتون د اولیه سازمانو له خوا به ډېر محصلان بندیان شول او ډېر به یې ووژل شول، د طاهر علمي د ریاست په وخت کې د ادبیاتو فاکولتې ډېر استادان ووژل شول چې د هغو په مینځ کې استاد ناصري او

دکتور شجاعي هم ووژل شول.

پوهاند علي محمد زهما چې په کابل پوهنتون کې د تاریخ استاد ؤ د پوهنتون څخه تبدیل او وروسته بندي شو:

مکتوب اکادمی ته ولاړ او زه هلته مقرر شوم هیڅ په خبر هم نه وم یوه میاشت مې معاش واخیست، په بله میاشت کې مې پنځلس ورځې نور کار وکړ هغه معاش مې هم پاتې شو چې د میاشتې اخره نه وه شوې زه ولاړم خاد ته او هلته دا عزیز د ضبط احوالات وزارت داخله دا د سروری خوریی دی که څه شی دی سهار هغه ؤ دا یوه سورمایي دریشي یې اغوستې وه یو تور براقي بوټونه په دغه ځای کې یې او سپنه وه هلته راغی چای یې وچکله بیا یو برق یې راکړ ښکنځل یې ډیرو کړل بیا چې زه راوتم ویل ووځه بیا پر دغه ځای باندې (ملا) په دغه لغته یې چې ووهلم دغه دی اوس هم مات دی.

یعنی د ملا هډوکي دی مات دي؟:

نه ستون فقرات آخر. بیا دهغه ځایه څخه چې زه ووتم بیا یې په کوټه کې واچولم، بیا ماسپښین بیا سروري دوی وغوښتم ما سروري نه پیژانده یو غټ سړی ؤ، خیټه یې غټه وه دا نکتایي باندې یې یو قوس جوړ شوی ؤ، دوه دری کسه دا سې ولاړ وو. ده وویل چې د دغه اشرارو سره دې څه

کول او څه هدایتونه دې ورکول ماویل والله که هیڅ شی مې ورکړي وي والله که زه پیژنم اشرار مشرار. غټ سوک یې هم ؤ داسې یې ووهلم بیا داسې یې ووهلم بیا چپه شوم بیا یې وویل کنبینه پر دغه چوکۍ باندې! چې زه یې کنبینولم بیا پر دغه دوه گوتې باندې برق یې راکړ چې برق یې راکړ بیا نو زه نه وم په خبر ولې چې سهار هم ما برق اخستی ؤ نن شپه هم داسې تیره شوه سبا بیا تحقیقات شروع شول داته نیمو او نهوبجو ترمنځ دغومره می درست نه دي په یاد چې شروع شول په بله کوټه کې روسان ناست وو داسې راته بریښیده چې له پارسي څخه دا ترجمه کیږي. ترجمه کوي یې وهغه روسي ته بیا روسي په روسي ورته وایي بیا دوی په پارسي داترجمان نیسي بیا دلته لیکي بیا یې ماته استوي په دغه یې ډیر وخت ونیوئ سحر شو نو بیاهم څو ورځې پاته شوم هلته بیا دهغه ځایه څخه صدارت ته یې واستولم بیا په صدارت کې څوارلس یا پنځلس ورځې هم هلته پاته شوم بیا دهغه ځای څخه یې واستولم بلاک دوته تر هغو پورې چې پرچمیان راتلل بندي وم.

په ډیرو هېوادونو کې دسیاسي بندیانو سره چلند بشري وي، عبدالاحد کرزی چې په پلچرخي کې سیاسي بندي ؤ وایي چې حکومت ته دا خبره مطرح نه وه:

مشران یا سیاسي خلک زیاتره ترعادي خلکو ډیر مطرح وو، ډیره

شکنجه او تکلیف یې هغو ته ورکوئ چې ددوی په وس کیدل یعنی دوی ته سپین ږیري یا مشر یا سیاسي سړی دا کمونیستی یا دغه زموږ دافغانستان کمونستانو ته هیڅ معنی نه درلوده بلکه له هغو سره یې ډیره سخته رویه کوله نو زه به یو مثال درته ووایم دا پنځه لس ورځې بعد چې به یې موږ ته کالي دکوره راوړه دا ټوله بندیان به خوشحاله وو یوبل ته به یې تبریک ویل چې دا دي کالي دې راغلل په کور کې دی خیریت دی. یو دوه ډیر سپین ږیري خلک وو تقریباً دا تیا اتیا کالو خلک به وو او ډیر سپین ږیري خلک وو په شي نه وو خبر دواړه په یوه اتاق کې وو نو دا یوه ته یې عسکر ورغی چې راشه ستا بکس راغلی دی کالي دي راغلي دي چې ورغی هغه خپل کالي یې تسلیم کړل راغلی. هغه خپل بل ملګري ته یې وویل چې ستا کالي هم راغلي دي ورشه هغه چې راغی هغه ضابط ورته وویل چې ته څنګه راغلې تاته چا وویل هغه وویل ماته دکوټې ملګري وویل چې ستا کالي هم راغلي دي هغه یې هم راوغوښت هغه ته یې وویل تاته چا وویل چې ده ته ووایه ده وویل په کوټه کې مې انډیوال دی ما ویل ورشه چې هغه سپاهي هم تکلیف ونه ویني خلکو پسې ګرزي هغه دی بکس دی راغلی دی پر دغه باندې یې دواړه دغسې مرګ ته ووهل چې په دغه ورځ دا ټولو بندیانو ورباندې وژړل هغه بالکل یو داستان دی.

# ۳٤

# د نور محمد تره کي سقوط

دببرک کارمل تر لیرې کولو وروسته حفیظ الله امین صدراعظم وټاکل شو او د جمهور رئیس نور محمد تره کي سره یې اړیکې ښې او یو بل ته ډیر نژدې وو خو ښې اړیکې دوامداره نه وې وایي چې نور محمد تره کی شکي شو چې حفیظ الله امین غواړي چې خپل واک ډیر او هغه تحت شعاع راولي دا مخالفت ښکاره نه ؤ ، خیال محمد کتهوازی چې د اطلاعاتو او کلتور وزیر ؤ د ناپیلو هیوادونو غونډې ته د نور محمد تره کي سره یو ځای کیوبا ته تللی ؤ:

ماته په لارکې بیا تره کي صاحب وویل چې څه حال دی په داګوند کې

څه حال دی؟ ما ویل قراري دده ویل یې څه شی نه احساس کوې؟ ما ویل داسې څه نشته دي هلته داسې علنی څه شی نه وو ځکه ددوی دواړو په مینځ کې ظاهراً ډیر ښه تفاهم ؤ او دغه مسائل ټول په خفا کې لګیا وو پټ او دی چې هاوانا ته ولاړ هلته په تشویش کې ؤ ولې نه یې ویل منتهی دومره یې ما ته وویل چې تاسې حزب پریښوددا وارې چې ولاړشې دښاري کمیټې کار ته په خپله په غاړه واخله. دښاري کمیټې منشي اسدالله امین ؤ بیا یې ما ته وویل چې داوارې ولاړ شې دښاري کمیټې منشي به تا مقرر کړو دا مهمه چوکی ده هغه بیا چې راغلو په دوو ورځو کې برخوردونه او جنګونه سره راغلل او دی بیا د منځه لاړ.

د کیوبا څخه کابل ته دراتګ په لاره نور محمد تره کی په ماسکو کې پاته شو او ویل کیږي چې دببرک کارمل او شوروي مشرانو سره یې وکتل په دې خبرو کې نور محمد تره کی یوازې ؤ او داسې آوازه وه چې د حفیظ الله امین دلیرې کیدو او ببرک کارمل دراوستلو خبره مطرح شوې وې نور محمد تره کي همدا ډول په ماسکو کې محصلینو ته وینا وکړه چې ورکې حفیظ الله امین ته غیر مستقیمه اشاره شوې وه په دی وخت کې خیال محمد کتوازی هم حاضر ؤ:

مثلاً ده چې خبرې کولې زه ورسره وم ولې هلته یې د اختلاف په باره کې څه شی نه وو ویلي منتهي یوه خبره یې وکړه چې په دې انقلاب کې

قهرمان يو نفر نه دی بلکه څو نفره دي يعني ډير دي قهرمانان. بيا هم څوک نه پوهيدل چې دا به چاته متوجه وي او ملاقات يې چې هم وکړئ د برژنف سره په دې ملاقات کې تنها دی ؤ ، تره کی صاحب او برژنف وو. دوی دواړو ملاقات وکړئ سره. بيا په دا سبا کې چې هغه عکس نشر شو په عکس کې دی يوازې وو هغه نور درې عکسونه ورسره وو د شوروي د دری رهبرانو. بيا دوست معاون د وزارت خارجې ؤ په هغه وخت کې بيا هغه ورته وويل چې د پروتوکول له لحاظه د غه عکس به نه راځي کاشکي دا ډاکټر شاه ولي يا کتوازی يا څوک درسره وای به وو. بيا ده وويل خير پروا نه لري خو دا ملاقات ؤ.

**نور محمد تره کی کابل ته راورسيدئ. حفيظ الله امين شکي ؤ او د تره کي درارسيدلو سره سم يې د هغه طرفداران دوزارتونو څخه ليرې کړل، عبدالکريم ميثاق چې د ماليې وزير او د سياسي بيرو غړی ؤ وايي چې په دې ارتباط اسدالله امين د هغه کورته ورولېږل شو:**

نژدې ماښام ؤ چې اسدالله امين زمونږ کورته راغی او وې ويل چې امين صاحب غواړي چې اسلم وطنجار ، سيد محمد گلاب زوی ، شيرجان مزدوريار او اسدالله سروري د هغوی د اخلاقي فساد له کبله د کابينې څخه ليرې کړي ولی تره کی صاحب موافقه نه لري چې هغوی ليرې شي. امين

صاحب غواړي چې د هغوی د خارجیدلو اعلان نن شپه د راډیو څخه وکړي ما ورته وویل چې څنګه اعلان کوي؟ اسدالله امین په جواب کې راته وویل چې دلومړي وزیر په پیشنهاد او د انقلابی شوری' د رئیس په منظوری د ا ځلور کسان د کابینې څخه لیرې شول او پر ځای یې نور کسان وټاکل شول، ما ورته وویل چې تره کی صاحب موافقه نه لري. هغه په جواب کې وویل چې بلې. ما ورته وویل چې په حقیقت کې کود تا کوئ ځکه رئیس د شوری' انقلابي ژوندی ناست دی او تاسې وایاست چې د هغه په موافقه په کابینې کې تبدیلي راوستل شوه، اسدالله امین په جواب کې وویل چې چاره نشته د دی ځلورو کسانو څخه خلک شکایت کوي اسدالله امین دا هم وویل چې دا ځلور نفره اوس د شوروي سفارت ته تللي دي امین صاحب غوښتل چې خبرې ورسره وکړي هغوی د شوروي سفارت ته پناه یوړه. د شپې چې مې راډیو ته غوږ نیولی ؤ د دې ځلورو کسانو د لیرې کولو خبر مې واورید.

خیال محمد کتهوازی چې د اطلاعاتو او کلتور وزیر و وایي چې دا خبر عبدالرشید جلیلی د هغه د موافقې پرته د خبرونو مدیر او ستهوډیوته ور وړی ؤ او ده هم اطلاع نه لرله:

دوه دری دقیقې اوو بجوته پاتې وې چې ما ته د تلویزیون نه تیلفون

راغی وزارت ته، زه په وزارت کې وم تیلفون راغی او ویې ویل چې دلته یو وزیر دوزیرانو نه ویل چې راغلی دی او یو خبر ورسره دی غواړي چې نشر یې کړي او اووبجو ته هم نو څو دقیقې پاته وې د تلویزیون خبرونه په اووبجو شروع کیدل ویل یې چې دا نشر کړي داموضوع. خوبیا ما هغه ته تیلفون وکړ بیا هغه سره مواجه نه شوم معذرت یې وغوښت په دې پسې وروسته بیا دانظامیانو ماته تیلفون وکړ دا دراډیو ساتونکو چې څوټانکونه وو هلته یې راډیو ساتله بیا هغوی تیلفون راته وکړ چې دلته یو څه ټانکونه نورهم راغلو دراډیو شاوخواته او په عین زمان کې موږ ته یې داسې وظیفه راکړه چې کتیوازی نن سره له دې چې وزیر داطلاعات او کلتور دی مگر نن راډیو تلویزیون ته اجازه نشته چې دی داخل شي او بیا یی وویل چې ددې د پاره چې بیا ته کم رانه شي هلته مامورینو ته دې، که موږ تاته جواب درکړو چې مه راځه ته راشې او موږ دی نه پریږدو ته به کم راشې ددې دپاره چې کم رانه شې چون زموږ ملگری یې احترام درته لرو ته دلته نن مه راځه اوبس زه پوه شوم چې یو څه خبره شته بیا مې د هغو څخه پوښتنه وکړه چې څوک دي چا تاسی ته دستور درکړی، ویې ویل چې موږ ته د پاس نه دستور راکړ شوی دی له وزارت دفاع نه، بیا زه پوه شوم څه قصه ده خو چې له دوی نه مې پوښتنه کوله زیاته دوی هم نه غوښتل چې

راته وواېي مسايل. تر هغه زګنال دخبرونو ووهل شو او وله خبره دغه وه چې داخلور نفره وزيران ليرې شوي دي، بيا وروسته بيا ماته جليلي صاحب تيلفون وکړ چې زه دې په کاروم بيا هغه په راډيو کې و، دا خبر هغه وړی ؤ بيا مې ورته وويل چې نه نو اوس پوه شوم چې داخبر تا راوړی ؤ.

سيدمحمد ګلاب زوی چې دمخابراتو وزير ؤ وايي چې هغه او دده ملګرو په حزب کې يکه تازي نه منله او حفيظ الله امين ته يې وړانديزونه ورکړي وو:

موږ ځينې پيشنهادونه درلودل چې بايد په حزب کې يکه تازي نه وي او په حزب کې بايد ډيموکراسي موجوده وي او په حزب کې بايد واقعاً عدالت موجود وي متأسفانه په دغه مسايلو باندې دی زموږ سره موافق نه ؤ لکه اسدالله امين يې ډير پورته پورته کاوه نو په دغسې مسايلو باندې له ده سره اختلاف پيدا شو. بايد دغسې کارونه ونشي او يو تعداد خلک يې ناحقه بدون دمحکمې بدون دڅارنوالي دمحکمه کولو زندان ته اچول زموږ پيشنهاد همدا ؤ چې بايد په حزب کې لکه څنګه چې زموږ په برنامه کې زموږ په اساسنامه کې موجود دي په هغه اساس بايد برخورد وشي دکدرو سره هم دخلکو سره چې خلک بايد ناحقه ونه ځورول شي، خلک بې ځايه بمبارد نشي، خلک غيرقانوني زندان ته وانه چول شي او د ۱۳۵۸ کال په پنځه ويشتم دسنبلې عملاً امين کودتا وکړله، پوه شولې او

هغه چې د غه کار وکړ او شلور نفره يې د حکومت نه برطرف اعلان کړل چې دي باندې نه نورمحمد تره کی خبرۀ ، نه د کابينې غړي په خبر وو او نه موږ په خبروو.

دنورمحمد تره کي او حفيظ الله امين تر منځ اړيکې خرابې شوې ، وايي چې د شوروي د سفير پوزانوف له خوا دروغې جوړې هڅې پيل شوې او حفيظ الله امين ته بلنه ورکړل شوه چې د هغه په مخ کې د نورمحمدتره کي سره په جمهوري ارګ کې خپل مشکلات حل کاندې ، عبدالرشيد جليلي وايي چې دورتګ په وخت کې پر حفيظ الله امين ډزې وشوې:

کله چې حفيظ الله امين د تره کي دفتر ته ورتلئ په هغه زينه کې پرې ډزې شوې وې او تړون ځای په ځای مړ شوی ؤ او دغه وزير زيرک يې ټپي راوړ بيا وروسته سبا ته دبيروی سياسی جلسه دايره شوه او دهغې نه وروسته دکميټۀ مرکزي او دشوری انقلابی جلسه.

حفيظ الله امين دسياسي بيرو غونډه راوغوښتله او دحالاتو په هکله يې خپل ګزارش وړاندې کړ. دنورو ترڅنګ عبدالکريم ميثاق هم په دې غونډه کې حاضر ؤ:

سهار موږ امين دلکشا ته وغوښتو په ارګ کې شاوخوا ټانکونه ولاړ وو امين په يو کنج کې ناست ؤ او داسې معلومېده چې ډير خسته وي

محمود سوما هم ورسره ؤ داسې ښکاريده چې محمود سوما هم دشپې ورسره ؤ مور ته يې وويل چې څلور مياشتې کيږي چې زه تره کي صاحب ته وايم چې دا څلور کسان خود سرانه کارونه کوي، دحکومت اطاعت نه کوي ددې پر ځاي چې دحکومت امر اطاعت کړي دشوروي مشاورينو اطاعت کوي، اسدالله سروري تره کي صاحب ته غلط اطلاعات ورکوي خلک بنديان کيږي او مړه کيږي زه هيڅ په خبر نه يم ټول زما په نوم تماميږي ځکه چې زه صدر اعظم يم ولې زه په هيڅ نه يم خبر.

دسياسي بيرو په غونډه کې دنور محمد تره کي ليرې کول او دحفيظ الله امين تاکل ومنل شول، عبدالرشيد جليلي وايي چې مرکزي کميټې هم دا فيصله ومنله:

په کميټهٔ مرکزي کې دبيروی سياسي هغه پريکړه ولوستل شوه او دهغې په اطرافو خبرې وشوې، پريکړه داسې وه چې دغه عمل چې شوی دی چې په صدر اعظم باندې او منشي دکميټه مرکزي باندې ډزې شوی دي دغه خلاف داصولو دی، دغه صحيح نه دي، دغه يو تروريستي عمل گڼل شوی ؤ نو همدغه سبب ؤ چې په دې کې په خپله تره کی صاحب هم ملامت گڼل شوی ؤ او همدغه سبب ؤ چې دبيروی سياسي په پريکړه کې هغه ددغه پوستونونه ليرې شوی ؤ او پرځاي يې حفيظ الله امين تاکل

شوی ؤ او دغه پریکړه د بیروی سیاسي باندې څو نفرو خبرې وکړې تائیدي، البته رایګیري پر وشوه او رایګیري ښخي په اتفاق درایو وه، دا یې تائید کړه چې هغه د دغه پوستونو نه لیرې شي او پر ځای یې حفیظ الله امین په دا پوستونو وټاکل شي.

# ۳۵

# د حفیظ الله امین قدرت ته رسیدل

حفیظ الله امین جمهور رئیس وټاکل شو او د کابینې یو وزیر یې عبدالرشید جلیلي وایي چې ورته د نور محمد تره کي د ناروغۍ اطلاع ورکړه شوه:

وزیر وم په جلسه د وزیرانو کې یو خبر راغی چې تره کی صاحب مریض دی او تکلیف لري نو بیا وروسته طبعاً د هغه لیدل هم یو څه مشکل وو لاکن په دې پوهېږم چې په دې ټولو کې توطئه د پخواني شوروي اتحاد حتمي وه، دا یوه معمی ده چې څنګه د منځه وړل شوی دی په تلویزیون کې هغه ډرامی چې د کارمل په وخت کې په تلویزیون کې ښودل شوي دي زه

یقین لرم چې دا سل په سلو کې قطعاً صحیح نه دي دواقعیتونو سره توپیر لري نو دا به وروسته وڅېړل شي او وروسته به معلومه شي چې په څه ډول دی له منځه تللی دی.

وايي چې څو ورځې وروسته نور محمد تره کی په زندان کې ووژل شو، خو حکومت د هغه مړینه طبیعي او د ناروغۍ له کبله وګڼله، حفیظ الله امین چې خپل مخالفان لیرې کړل د عوامو د جلب په غرض يې د مصئونیت، قانونیت او عدالت شعار خپل کړ، جنرال مصطفی چې د کورنیو چارو مرستیال وزیر وايي چې په دې وخت کې هر څه مصئون شول:

یعنی مصئونیت په دې مفهوم چې ژوند مصئون دی، شتمني مصئونه ده او په عین زمان کې مخابرات او مواصلات ټول مصئون دي. عدالت په دې مفهوم چې دلته به د خلکو ارادې وي، د اشخاصو ارادې به حکومت نه کوي مګر قانون به حکومت کوي او عدالت په دې مفهوم ترڅو چې محکمې حکم کړی نه وي محکمې فیصله نه وي کړې هیڅوک مجرم نه دی هیڅوک ګنهګار نه دی او هیڅوک د جزا وړ نه دی. په دغه لار کې د زندانونو نه په کابل کې او د افغانستان په ټولو ولایتونو او ټولو ولسوالیو کې په سلهاؤ زندانیان چې د پخوانیو وختونو نه پاتې وو بې سرنوشته وو هغه خوشي شول او په عین زمان کې هغه اشخاص او افراد

چې د هغوی په حصه کې باید فیصلې شوې وای کمیسیونونه تعیین شول د هغوی په حصه کې دې کمیسونونو عمل وکړ ټول اسناد یې آماده کړل او که چیرې شوروي لښکرو پر افغانستان یرغل نه وای کړی، افغانستان نه وای اشغال شوی او د حفیظ الله امین حکومت له منځه نه وای تللی هیڅوک به په زندان کې پاته نه وای.

غلام رباني سیر چې د ببرک کارمل نژدې ملګری او د صدارت لوی مامور ؤ وایي چې هیواد وال او په خاصه بیا د هغوی ملګري مصئون نه وو:

خو په عمل کې په زرهاوو تنه زموږ هیوادوال نارینه، ښځینه، ځوانان، علماء، ملي متنفذین مړه شول، سربه نیست شول له منځه لاړل او د هغوی نه حتی یوه فرونده چې د حراست د حقوقو د ارګانو له خواطي مراحل شوی وی زموږ په لاس کې نشته حتی د افغانستان په آرشیف کې وجود نه لري د مثال په ډول په بلغاریا کې هلته یو تعداد ځوانان عالي تحصیلاتو ته ولیږل شول د هغوی له جملې څخه یوولس تنه د پرچمیانو ترنامه لاندې تحت الحفظ کابل ته وغوښتل شول او د کابل په هوايي ډګر کې ناپدید شول تر اوسه پورې د هغوی کورنۍ نه پوهیږي چې د هغوی زامن څه شول.

دا وخت ؤ چې د حفیظ الله امین د حکومت پرضد مقاومت ډیر شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالرحيم مندوخيل وايي چې په دې كاركې دبهرنيو هيوادونو لاس او دهغوی دلچسپي وه:

زموږ تجربه شوې ده دافغان، زموږ دخپل وطن دتاريخ څخه چې دنورو لاس وهنې پكښې دي او بيا په دې كې دخلكو دلچسپۍ دي لكه مثلاً د پنجاب دلچسپي ده، پنجاب دلته چې دی دا پښتون دا محكوم افغان يې قبضه كړی دی دهغه تمام وسايل باندې قبضه ده، دهغه په اوبو يې قبضه ده، دهغه پرځنګلو نو يې قبضه ده، دهغه پر تمامه شتمني يې قبضه ده نو اوس پرمخ باندې د آزاد افغانستان هم دی قبضه كول غواړي. اودغه رنګه چې دی پارس، دپارس دلچسپۍ خو هرچاته معلومې دي پارس دامځكه نيول غواړي باقاعده قبضې غواړي دغه رنګه اوس مثال سعودی، په سعودي اوس هر سړی خبر دی، سعودي يولوی سامراجی ملک جوړ شوی دی سود خوري كوي سرمايه يې جمع كړې ده او با قاعده پر دا سيمه باندې خپل تأثير غواړي اوس يې با قاعده دلته عربيان راروان كړي دي هر سړی پری خبر دی په كنړ كې يې خپلې كالونيانې نه دی؟ هر ځای په ټول افغانستان كې يې كالونيانی نه دي؟ دا خو كالونيالست ملكونه دي ها! مذهب يې دځان دپاره يوه پرده له پاسه جوړه كړې ده په دې كې دی ښكار كوي.

په دې وخت کې حفیظ الله امین د صوبه سرحد پښتنو ته توجه واړوله او په جمهوري ارگ کې یې د هغوی استازو ته په یوه وینا کې وویل چې موږ ویاړو چې ستاسې سره په کابل کې خبرې کوو :

موږ افتخار لرو چې له تاسو سره خبرې کوو ، دا زموږ دښمن پوهیږي چې دا پیل دی دا پای نه دی له دې وېرېږي چې دا ادامه لري دا په مخ ځي دا پراخیږي او س که څو سوه دي نو زر څو میلیونو ته رسي او س که دوی په کابل کې په مینه مینه سره استقبال کیږی نو زر به وي ، چې هیڅ پرده او مانع به نه وي هرڅوک به په خپله خوښه او په خپله مینه او په خپله رضا غواړي چې په پېښور کې اوسي که په هرات کې ، په قندهار کې اوسي که په بدخشان کې په بلوچستان کې اوسي که په کابل کې ، د گډې مېنې مخه هیڅوک نشي نیولای موږ د پاکستان د زیارایستونکو ورونو د پاره هر څه چې خدمت کیدای شي هغه نه سپموو موږ هغه څه چې د ځان له پاره غواړو هغه د پاکستان د زیارایستونکو ورونو د پاره غواړو هرڅوک چې د پاکستان د زیارایستونکو دښمن دی زموږ دښمن دی تاسو ته معلومه ده عزیزانو چې په پاکستان کې هر چیرې د زیارایستونکو جلوس وي او یا مظاهره یا میتینگ یا بله کومه غونډه چې سیاسي لاس پکې روان وي نو ضرور هغلته دا غږ پورته کیږي چې د ثور انقلاب زنده باد .

که دیوې خوا حفیظ الله امین د پاکستان پرضد لاره خپله کړې وه خو دبلې خوا د پاکستاني مامورانو سره په خبرو لګیا ؤ. خیال محمد کتوازی وایي چې دا خبرې نور محمد تره کي پیل کړې وې:

تره کي صاحب د ضیاء الحق سره په هوانا کې دوه واره ملاقات وکړ یو واري دی د ضیاء الحق کور ته ورغی، بیا ضیاء الحق راغی ده ته. بیا ده ورته وویل چې ته څه شی غواړې زموږ نه؟ ضیاء الحق ته یې وویل: ولې داخلک تربیه کوی؟ دلته په جنګ یې رااچوې. بیا ضیاء الحق ورته وویل: چې موږ له تاسو نه ډاریږو داستاسو انقلاب به دې خواته راشي. بیا ده ورته وویل چې نه داسې نه کوو زموږ خپل وطن وروسته پاتې وطن دی، عقب مانده دی موږ غواړو خپل وطن آباد کړو له تاسې سره غرض نه لرو. بیا هغه په ضمن کې ورته وویل: ښه که تاسو دغه څو تضمینه راکړئ چې تاسې به زموږ په ضد دا اوس نشریات چې موشروع کړي دي دا بند کړئ او دغه حزب مو چې په پاکستان کې دی هم دلته یو فعالیت روان ؤ دغه هم بند کړئ او په ضمن کې دغه مجاهدین چې اوس په پاکستان کې دي که دغه درشي افغانستان ته دوی به ژوندي پاتې شي، دوی به څه نه ورته وایي ضمانت راکړئ که دغه مسایل تاسو راسره ومنئ موږ به دغه ټول نفر چې دلته دي له سلاحو سره به یې تاسو ته درولو بیا تره کي صاحب

ورسره ومنله.

وايي چې د پښتونستان مسئله هم په اجندا کې راوستل شوې وه ولې نور محمد تره کي ونه منله:

د پښتونستان په موضوع کې يې ورته وويل: چې تاسې پښتانه ياستئ ټول موږ تشويش لرو. بيا تره کي صاحب ورته وويل چې د پښتونستان مسئله دا زموږ شخصي مسئله هم نه ده دا په دولت پورې هم اړه نه لري په حکومت پورې هم اړه نه لري، دا په ما پورې هم اړه نه لري دا ملي مسئله ده دا زه نه شم در سره حل کولای په دې مسئله کې زه له تا سره هيڅ خبرې نشم کولای ځکه د ټولو خلکو ملي مسئله يو شخص نه شي حل کولای دغه مسئله بيرته له اجندانه وايستل شوه دغه نور مسايل چې نشرات به د پاکستان پر ضد باندې بند شي مثلاً فعاليت به هغې خوا ته بندشي دغه مجاهدين چې هغې خوا ته ؤ دا بيرته که افغانستان ته راشي ددوی ژوند به تضمين شي او په ضمن کې به ضيا ء الحق نور مخالفين د دوی نه تربيه کوي دا ځلور پنځه مادې وې دې نتيجې ته سره ورسيدل چې صحيح ده او ضيا ء الحق به راشي افغانستان ته او هلته به دوی يو قرارداد سره امضا کړي او دا به ډراماتيک کړي مخکې ددې به تبليغات ورته وکړی دا

معینان او وزیر خارجه به یو بل ته سره ولاړ شي تبلیغ به یې کړو وروسته به ضیاء الحق راشي او دا به بیا امضاء کړي او پس له هغه به سوله راشي او ضیأ الحق ورته وویل چې که یو تک هم په افغانستان کې وشو او یا جنګ وشو مسؤل یې زه یم سوله را تله بس خلاص.

خیال محمد کتوازی وایي چې حفیظ الله امین هم دا خبرې جاري وساتلې:

بیا چې امین راغلئ بیا هغه هم تماس ورسره ونیوئ د پاکستان سره، چې څنګه کوې زموږ سره. هغو ورته وویل چې عین مسئله ده موږ ته هغه ستاسې رهبري هغه پخواني اوسنی تولی یو شی دي. بیا شاه محمد دوست لاړ پاکستان ته هغه چې بیا بیرته راغی هغه یې هم ښه استقبال کړی ؤ هغه چې بیرته راغی بیا نو زیاتی شورویانو عجله وکړه او په اتم تاریخ آغا شاهي را تلی او دغه مسایل دا اجندا ددې قرارداد چې ضیاء الحق را ته بیا یې له حفیظ الله امین سره امضاء کاوه دا قرارداد، ددې اجندا په اتم دجدی اعلان کیدله چې آغا شاهي راته د پاکستان د خارجې وزارت مشاور ؤ مګر هغه مخکې له دې اتم دجدی شورویانو عجله وکړه چې که پر اتم دجدی دا اجندا اعلان شي خو بیا سوله راځي نو بیا خو موږ نشو ورتلای مخکې له دی چې پر اتم دجدی آغا شاهي راشي شورویان په شپږم دجدی راغلل او ویې ویل چې په اتم دجدی امین کود تا کوله، کود تا نه وه سوله راتلله جنګ ختمیدئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نهم څپرکی

# ۳۶

# پر افغانستان د روس یرغل

د حفیظ الله امین د حکومت په وروستیو ورځو کې د ببرک کارمل طرفداران فعال او نور مخالفتونه هم جاري وو، عبدالکریم میثاق وایي چې د کود تاوو ترخنګ روسانو هم هڅه کوله چې حفیظ الله امین راوغورځوي:

د امین پر ضد تحریک پیل شوی ؤ بالاخره په ریشخور کې یوه کود تا وشوه او ویل کیده چې دا کود تا د زرغون طرفدارانو کړې وه، دا کود تا د شوروي د پوځي مشاورینو په مرسته وځپل شوه، وروسته په حزب کې یو لوی لست جوړ شو او ډیر خلقیان بندیان شول یو نفر د جعفر سرتیر په نوم

ؤ چې يو وخت دغزني دفرقې قوماندان ؤ او وروسته دتنيي په کودتا کې ووژل شو. هغه يو ه ورځ قصه کوله چې د اسدالله امين سره ناست وم چې روسي مشاورين راغلل او ويل يې هغه کسانو چې دامين پر ضدکودتا کوله بايد ټول مړه شي. ولې اسدالله امين ورته وويل چې امين صاحب وايي چې داکسان خطا وتلي دي. دبلې خوا دکارمل ډله هم فعاله وه او هره ورځ به يې ټيپونه سياسي بيروته راوړل کيدل په دې ورځو کې يوه ورځ زه په وزارت کې ناست وم چې يو سړی راغی چې نوم يې سهولت شاه ميرگانوف ؤ.دا سړی تاجک ؤ او تقريباً پنځه ويشت کاله يې په افغانستان کې تير کړي وو په پښتو او فارسي ژبو يې روانې خبرې کولې، شاوخوا يې وکتل چې زما په دفتر کې څوک نشته بيا يې په يوه واړه کاغذ باندې نوشته کړه چې امين دحزب ټول اصولي غړي وژني په دې جمله کې ستانوم هم دی زموږ وظيفه ده چې تاسو وساتو که ستاسو موافقه وي موږ تا دافغانستان څخه باسو. زه امين ته لاړم او دسياسي بيرو داضطراري غونډې غوښتنه مې وکړه دسياسي بيرو غونډه جوړه شوه، ما د سهولت شاه خبره ټولو ته وکړه او ورته ومې ويل چې دشوروي مداخله دې حالت ته رسيدلې ده بايد پام مو وي. امين په دې فکر کې ؤ او ويل يې چې برژنيف زما طرفدار دی خو فساد دشوروي په سفير پوزانوف کې دی او هغه

پرچمي دی.

د ۱۹۷۹ عیسوي کال په وروستیو وختونو کې امریکا پر روس تور ولګاوه چې د افغانستان په شمال کې یې خپلې قواوې راټولې کړې دي څو ورځې وروسته دا تورونه رښتیا شول او روسان په کابل کې پر جمهوري ارګ وروختل په دې وخت کې د سیاسي بیرو غونډه جوړه شوې وه چې ور کې عبدالرشید جلیلي برخه اخیستې وه:

موږ هغه د ګوند کلیزه نمانځله په دغه ورځ نو د بیروی سیاسي د جلسې نوبت نه وو زه په هغه وخت کې د بیروی سیاسي غړی وم ماته جواب راغی چې بیروی سیاسي غونډه لري او هلته راشئ کله چې لاړو د بیروی سیاسي جلسې ته نو په دا غونډه کې موضوعګانې تقسیم شوې چې پر یو څو عادي موضوعګانو باندې مخکې بحث وشو بیا د ډوډۍ په وخت کې لاړو ډوډۍ ته نو د ډوډۍ د خوراک په وخت کې ټول مسموم شولو ، ګنګس شولو له دې نه معلومه شوه چې دغه توطئه هم د مخکې نه پلان شوې وه د شوروپانو د تیري او دغه کې طبعاً افغانان هم شامل وو . وختې چې دغه حالت منځ ته راغی جلسه نوره ختمه شوه او هغه وروستني بحث ته چې مهم بحث ؤ هغه ته موقع په لاس رانغله او وروسته بیا کورونو ته راغلو زه خو لاړم شفاخانې ته په شفاخانه کې د شپې چارا ته وویل چې دغه دي

دکارمل آواز دی چې نظام چپه شو او کارمل قدرت ته راغی لاکن بیا هم دغه تیری خو بې جوابه نه دی پاتې شوی همدارنګه په میدان هوایي کې ډیر سخت جنګ وشو په خپله دغه دارګ شاوخوا سخت جنګونه وشول چې ډیر زیات تلفات وروررسیدل.

په جمهوري ارګ کې دحفیظ الله امین میرمن حاضره وه او ټول حالات یې په خپلو سترګو لیدلي دي:

په دریم منزل کې موږ وو په دوم منزل کې دفترونه وو د پنجشنبې په ورځ دوی جلسه درلوده خبرې یې کولې چې دا په آش کې دا دوایي اچولې وه آش یې پوخ کړی ؤ دا دوایي په آش کې اچولې وه دا درستو وخوړه نو یومانه وه خوړلې یو دا ببري ونه خوړه او دغه زوی مې چې خوازک نومیده ده ونه خوړه ، دا وړوکې لور مې چې اوس دلته ده دې ونه خوړه دانورو چې وخوړه دوی درستو ضعف وکړ امین صاحب چې وخوړه دانورو سړیو دوی ضعف وکړ نو اول یې هغو ته ډوډۍ ورکوله وروسته یې بیا ښځو ته دا درستو ضعف وکړ نویو زه ښه وم څو ډاکتران راغلل سیروم یې ورکړه پیچکاری یې کولې امین صاحب یې دلاندې رااووست پاس سیروم یې ورته کښېښوده نو دا ښه ؤ لږ ذره بیداره شو ښه شو نو دا اووه بجې کیدې یو څو دقیقې ورته پاته وې چې داسې وتم ډیر لوی دهلیزؤ چې

داسې ووېمه دا دعـرب حـوا تـه فـیـر ولـڅیـده ډیر عـټ فـیـر ولـڅیـده دا چې ولګیده زه په منډه راغلم همداسې امین صاحب ته مې ورمنډه کړه چې کاته مې دا داسې راجګ شوی ؤ له ما څخه یې پوښتنه وکړه ویل څه شی ؤ ما ویل داسې فیر ولګیده په دا دیوالوباندې فیـر وشونو هم دومره خبرې مو چې وکړې خو هغه څوک چې و هم ډارشي کـه نه دا سړی بیداره کیږی نو امین صاحب خپله دهلیز ته راووت دهلیز ته چې راووت پسې فیرونه شول فـیرونه شول له څلورو خوا وو فـیرونه شو ل، دا نجونـی همداسې را بیداره شوې داراووتې ده ویل په دریم منزل ډیر فـیر دی نو ځئ دا لاندې هغـه ته دویم منزل ته لاړشئ دویم منزل ته درست ښکته شولو نو دډاکتر ښځه هم وه، د زیري ښـځـه هم وه دویم منزل ته ښکتـه شـوې په دې دهلیـز کـې کښیناستو په دهلیز کې چې کښیناستو نو یو څه سلاح وه دا کور کې نو د دې تعمیر دری زینې دي په یوه زینه کې عبدالرحمن ولاړ ؤپه یوه زینه کې همدا دګریز ورور ولاړ ؤ او په دا بله زینه کې فتـاح نومیده دامیـن صـاحب دکاکا لمسی ؤ هغه ولاړ ؤ له پاسه ما سلاح وروړه داسې تیتیه تلمـه خاپوړو او دوی پاس ویشتـل ډزی دي نو موږ نه یو خبر چې څوک یې کوي دا چې ښکته شوو ما امین صاحب ته وویل دا څوک دي دا فیرونه څوک کوي ده نو دا جان دادته وویل جان داده تـه ورشـه یو وارې پاس داسې پټ وروخېژه

چې ونه لګیږې ته وګوره چې دا څوک دي، څوک ډزې کوي هغه چې وخوت بیرته چې راښکته شو ورته وویل والله امین صاحب دا لکه چې وروس دی همداسې خوماته ښکاره شول هغه ورته وویل نه. نو دا ډزی یی چې وکړې وکړې تر هغه چې سلاح وه خو یو راونه خوت زښت ډیر مړه شول وروس دوی خونه پوهیده چې وروس دی چې څوک دی نو دا زینې ډکې شوې وختې چې سلاح خلاصه شوه راوختل چې راوختل ډزې یې شروع کړې چې راوختل موږ پوه شولو چې دا وروس دی. چې ورته مو کتل چې وروسان دي داچې پاس راوختل داماشبندارېې داسې تاوکړل چې تاویی کړل نو هغه چې په هرچا ولګیدل داچې نژدې یې وویشتل دا ملالۍ ولګیده، ګلالۍ ولګیده، خوازک ولګیداول چې راوختل عکسونه یی په لاس کې وو دامین صاحب داسې یې نیولي ووغوټۍ مخې ته ورغله وایې ولې تاسې فیر کوئ دلته امین صاحب دی ویل یې کوم دی همداسې یې ورته وویل چې کوم دی دباندې چې وې لیدئ چې هلته ناست دی فیر یې پرې وکړ دایې وویشت دایې چې وویشت پسې دا جنکیانی زخمي شوې داهلک زخمي شو نو چې وې کاته چې نور څوک پاتې نه شو بیا ودریدل.

دروسي قواوو بل هدف کابل راډیو او تلویزیون ؤ چې د اطلاعاتو او کلتور د وزیر خیال محمد کتوازي د دفتر څخه په څرګنده ښکاریدې:

زه په وزارت کې وم په خپل دفتر کې ناست وم روسان چې راغلل نو دوی اول په دا راډیو تلویزیون باندې حمله وکړه نو دا راډیو تلویزیون ته زما دفتر نژدې ؤ او په راډیو تلویزیون باندې حمله وشوه شاوخوا زما دفتر هم محاصره شو او راډیو تلویزیون یې ونیوئ ټانکونه یې منفجر کړل په هوا یې کړل ویې سوزل هلته ډیر صاحب منصبان او عسکر هم پکې مړه شول. د ټیلفون لین قطع و بیا وروسته څو ک د راډیو تلویزیون نه راغلل چې راډیو تلویزیون وطنجار ونیول وطنجار سره د شوروي قواوې ورسره دي او راډیو تلویزیون یې ونیوئ نو وطنجار خوما پیژانده نو ما اول دا فکر کاوه چې د بلې خوا ده بیا وروسته د کارمل بیانیه مې د دوشنبې نه واوریدله بیا زه پوه شوم چې قصه څه رقم ده ځکه چې روسان هم راغلي وو د کارمل بیانیه هم نشر شوه وطنجار هم ورسره ؤ زه پوه شوم چې دا قصه داسې ده بیا تر ګهیځه پورې بیا په دفتر کې وم ځکه چې شاوخوا محاصره وه ټانکونه وو اجازه نه وه چې څوک چیرته لاړ شي بیا ګهیځ کورته لاړم.

په دې وخت کې د ببرک کارمل بیانیه نشر شوه او د افغانستان خلکو ته یې په خپله وینا کې وویل چې حفیظ الله امین د تل له پاره د ژوند د صحنې څخه لیرې شو:

رنځیدلې هیوادوالو او د افغانستان مسلمانو خلکو السلام علیکم!

دهیواد قهرمانو خلکو او ښځو تر هر څه دمخه اجازه راکړئ چې دافغانستان د دیموکراتیک جمهوریت د دولت او حکومت تر سیاسي مشي وړاندې دافغانستان دخلک دد یموکراتیک جمهوریت دمرکزي کمیټې انقلابي شوري، حکومت او ځان ببرک کارمل له خوا خپل ژور تأثرات او خواخوږی، ډېرې درناوی او تاوده درودونه ستاسې دبې پایه رنځونو او په وینو لړلیو او ښکوله کبله دحبس اوزندان، شړلو او جبري مهاجرت ته اړ ایستل غیر انساني او وحشیانه زورونو او رنځ زموږ دلس گونو زرومیندو او پلرونو ورونو او خویندو او زموږ دماشومانو دشهادت او ډله ئیزې وژنې له کبله چې دمیر غضب حفیظ الله امین له خوا او دده په مستقیم دستور سرته رسیدلي دي ستاسې حضور ته وړاندې کړم. دبلې خوا اعلانیږي چې حفیظ الله امین دا د الله او امین غدار دښمن چې دخلکو او خلقیانو پر ضد وجنگیدئ دافغانستان آزادی بخشه اردوې دداخلي او خارجي دښمنانو په گټه تو ته تو ته کړ، دی دامپریالیزم او سي آی اې جاسوس چې دخلک دد یموکراتیک گوند دمؤسس گران رهبر نورمحمد تره کي په ژوند او دهغه په شریفه کورنۍ یی هم رحم ونه کړ دابد له پاره دژوند دصحنې څخه لیرې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۳۷
# ولې روسانو پر افغانستان یرغل وکړ؟

سلطان علی کشتمند چې د روسانو د ورتګ سره یو ځای صدراعظم وټاکل شو وایي چې دابلنه خلقي حکومت ورکړې وه:

په دې هکله زیات نه پوهیږم زه په بندي خانه کې وم کله چې زیات سیاسي بندیان د ۱۹۷۹ کال د دسامبر په میاشت کې او د جدی د میاشتې د شپږمې نیټې نه وروسته خوشي شول زه هم آزاد کړل شوم تر هغه ځایه پورې چې ما اوریدلي وو د خلقیانو د مشر تابه له خوا په تکرار سره او په ځو ځلې روسانو ته بلنه ورکړل شوې وه چې د شوروي

ځــواکــونـه د هغوی د ساتنې له پـاره و افـغانسـتـان ته داخل کړي، زه نه پوهېږم چې دا خبره څومره حقیقت لري.

عبدالرشید جلیلي چې د حفیظ الله امین په وخت کې د کابینې او سیاسي بیرو غړی ؤ دا خبره نه مني:

دا خبـره بالکل غلطه ده .هیڅـوک خپـل دښمـن یا داسې کسـان چې دهغه د راپرزیدو یا له منځه تلو سبب شي هغه نه دعوت کوي بلکه دا فقط هغه ډرامې دي هغه دروغ دي چې په خپله شورویانو د دې له پاره چې ځان ته برائت ورکړي یا د جهان د خلکو په سترګو کې خاورې واچوي دا دروغ یې جوړ کړي وو چې ګواکې موږ په خپله د افـغانسـتـان دحکومت له طرفـه دعوت شوي وو. حال دا چې په هغـه اولـو ورځـو کې پـه خپله برژینیف او نورو حکومتي اشخاصو د شوروي همدا ویل، چې زموږ جنوبي سرحدونه په خطر کې وو ځکه راغلو او داسې یې ویل چې د بعضو اصولي اشخاصو او افرادو له خوا موږ دعوت شوي یو چې هغه یې ببرک کارمل او ځینې نور هغه کسـان چې د شورویانو سره په دې توطئـه کې یو ځای وو هغوی یې یادول. پـه اول کـې یې قطعـاً داسـې نه ویل چې مـوږ ګـني د حکومت په واسطه دعوت شوي یو بیا وروسته کله چې د شکست سره مخامخ شول او توطیی یې شنډې شوې نو دا بهـانې یې جوړې کړې او دا دروغ یې شروع

کړل چې کنې د حکومت په واسطه مور دعوت شوي وو حال دا چې دا بيخي غلطه ده قطعاً هيڅ سند نشته هيڅ وخت دا په بيروی سياسي کې، نه په کميته مرکزي کې، نه په شورای انقلابي کې، نه په شورای وزيران کې داسې قطعاً مطرح شوي نه دي او دا دروغ دي.

د بي بي سي مالکم هسلټ چې د څو کلونو را په دی خوايې د افغانستان چارې څارلې دي وايي چې د حفيظ الله امين تګلاره روسانو ته د منلو وړ نه وه:

که څه هم روسانو د افغانستان د انقلاب او د خلک دد يموکراتيک ګوند ملاتړ کاوه، ولی د حفيظ الله امين په تګلاره خوښ نه وو. حفيظ الله امين د تره کي مخالفت کاوه او په آخر کې يې له منځه يوړی، تره کی روسانو ته د منلو وړ ؤ او کله چې امين هغه ليرې کړ او د نورو مخالفانو سره يې په بې رحمه رويه لاس پورې کړی نو مسکو ته دا کارونه د منلو وړ نه وو او سمدستي يې فيصله وکړه چې حفيظ الله امين ليرې کړي او پر ځای يې ببرک کارمل راولي.

پوهاند حسن کاکړ وايي چې روسيې غوښتل چې په افغانستان کې خپل لاس پوڅی حکومت منځ ته راولي او د بخارا چارې يو ځل بيا تکرار کاندي:

د دې اصلي هدف فقط همدغه ده لکه څنګه چې په بخارا کې يې هلته شپيته کاله دمخه يوه وړوکې ډله په اقتدار راوستله او وروسته يې بيا

بخارا د اتحاد شوروي يو جزء وګرځوله، په افغانستان کې هم د خلقي حکومت مخصوصاً د حفيظ الله امين په مشر تابه سره د غسې علامې ښوولې چې کاملاً د شوروي اوامرو ته غاړه نږدي او چې غاړه نږدي نو دوی په دغه موقع کې فيصله وکړه چې چون خلقي حکومت ضعيف شوی دی د افغانستان مشران او لويان پخواني له منځه تللي او هلته يوه سياسي خلا هم موجوده ده او حفيظ الله امين او خلقي حکومت په افغانستان کې مخالفان ورته ډير دي نو لهذا دغه يې موقع ده چې دوی به وکولی شي د پرچم د لارې ځخه په افغانستان باندې خپل تسلط جاري ولري. او دغه حکومت چې د ببرک کارمل په مشرۍ جوړيږي کولی شي په افغانستان کې خپل هدفونه چې هغه پر افغانستان باندې تسلط لرل، د افغانستان د منابع طبيعی او نورو ځخه يې استفاده کوله او په عين حال کې خپل هغه جمهوريتونه د آسيای مرکزي د افغانستان سره ورځرمه ګاونډي جمهوريتونه دا يې محفوظ ساتل . په دغه مناسبت سره راغلل، نا ګفته نه ماند چې افغانستان يو ډير غني ملک دی غير استثمار شوي طبيعی منابع او هم زراعتی پيداوار پکې نهايت زيات دي نفوس يې هم دومره زيات نه دي او آب و هوا يې هم ډيره ښه ده او په ستراتيژيکي ډول سره د هندوستان له پاره او د ايران له پاره مهم دی يعنی پردې هيوادونو

باندې نفوذ او تاثیر هم لرلای شو. نو دغه ترتیب ؤ چې دوی راغلل دا د
حکومت د تقویې له پاره نه، د پرچمیانو د تقویې له پاره. او که داسې وای
منطقي دا معلومیده چې خلقي حکومت یې تقویه کړی وای په داسې حال
کې چې خلقي حکومت یې چې هغه د حفیظ الله امین په مشرۍ باندې
هغه د دوی د مسکو او امروته یې غاړه نه ایښوده د مسکو د اتحاد شوروی
سفیر پوزانوف یې له افغانستان څخه وویست او داسې علایم موجود دي
اوس د دوی په آرشیف کې هم واضح شوي دي چې حفیظ الله امین
غوښتل چې د غربي ممالکو سره په تماس کې شي او افغانستان د اتحاد
شوروي د کاملې اتکا څخه خلاص کړي، افغانستان په حیث د یو مملکت
له نورو مملکتونو سره هم عادي او برابر روابط ولري دا د اتحاد شوروي په
گټه نه ؤ او یا دوی په خپله گټه نه تعبیرول په هغه وخت کې یې یرغل وکړ
او ویل یې چې پر افغانستان به د پرچمي حکومت له لارې تسلط ولري.

د هند په جواهر لال نهرو پوهنتون کې د نړیوال سیاست استاد پروفیسر متین زبیري باور لري چې روسي یرغل د هغه هیواد د ستراتیژیکو گټو یوه برخه ده او په ایران کې د امریکا د امکاني مداخلې له ویرې منځ ته راغلی دی:

زه غواړم چې په دې باره کې دوه ټکي را پورته کړم اول باید د ایران
انقلاب د امریکا په ستراتیژیکه سناریو کې وکتل شي، په دغه وخت کې د

ایران وپاچا ته د سیمې د پولیس رول ورکړل شوی ؤ او د هغه راغورځول د امریکا په عامه افکارو کې یو شوک ؤ. بله خبره دا ده چې د ایران د پاچا تر نړیدلو وړاندې د امریکا عامه افکار د افراطي راست په لور وخوځیدل د مخه تردې چې دشورویانو ټانکونه افغانستان ته ور ننوځي د ۱۹۷۹ کال د جون په میاشت کې جمهور رئیس کارتر د فارس په خلیج، منځني ختیځ او شمالي افریقا کې د داسې قواوو اچول منظور کړل چې په چټکۍ سره ترې کار واخیستل شي. د دې خبرو څخه زما هدف دا دی چې کیدای شي شوروي اتحاد په ایران کې د امریکا امکاني نظامي مداخلې ویرولی وي او افغانستان ته یې خپلې قواوې ولیږلې چې کمونست رژیم تقویه کړي.

عبدالرحیم هاتف وایي چې د روس دا پلان زوړ او د نیمې وچې څخه د انگریزانو تر تللو وروسته نور هم پیاوړی شو:

داسې معلومیږي لکه روسانو چې د دې کار له پاره تقریباً د ۱۳۳٤ څخه یا حتی د هغه وخته څخه چې انگلیسان دافغانستان له جواره څخه لیرې شول په دغه وخت کې دوی زمینه سازی درلودله چې یو نوع خلا د قدرت چې د انگلیسانو په عدم کې یا د انگلیسانو په جلا کیدو کې ایجاد شوې ده د هغه څخه په خپله گټه باندې استفاده وکړي، د یوه طرفه څخه

خو دا خبره وه او له بله طرفه تخه دا وه چې افغانستان خپل سرحدي مسايل چې دانګليس له وخته لاينحله پاته وو او وروسته تر انګليس پاکستان منځ ته راغی دهغو سره هم په داسې شکل باندې پاتې شول چې د حل لاره يې تقريباً بنده وه او پاکستان د هغو خبرو د حل دپاره هيڅ اماده ګي نه درلوده، هغه دا چې د ډيورنډ کرښې و هغې خوا ته پښتنو او بلوڅو ته د خپل سر نوشت دټاکلو حق ورکړي پر دغه اساس باندې پاکستان د غربي دنيا سره ډير نژدې پاتې شو او افغانستان په يوه انزوا کې واقع شو.

ځينی مؤرخين باور لري چې د روس هدف د هند سمندر او ګرمې اوبه وې خو په پيښبور کې د مرکزي آسيا د مطالعاتو مشر ډاکټر انور خان وايي چې په همدې وخت کې روس ته د هند د سمندر ضرورت نه ؤ:

څه وخت چې روس افغانستان ته راته کنه، نو په دې وخت کې هغه ته د هند دسمندر ضرورت نه ؤ د دې ګرمو اوبو ضرورت نه ؤ دا خو يوه ډيره زړه تيوري ده. پخوا ټيک دي په نولسمه پيړۍ کې هغه کوشش کړی دی خو اوس په دې وخت کې چې دی افغانستان ته راته نو روس دومره پرمخ تللی ؤ، دده تکنالوژي او بحريه دومره قوي وه، چې ده ته د دې ضرورت نه ؤ داسې خاص. خو چونکې اوس کوم اسناد راغلي دي هغه دا ښيي چې دا د دوی يوې ايجنسۍ يوه فيصله وکړه نو پورته پوليټ بيرو کې هم په

دې باندې مخالفت ؤ، خو یوه فیصله وشوه نو دوی راغلل داسې حالت جوړ شو چې دوی ترې وروسته کیدای نه شول او پکې ګیر شول. نو زما دا خیال دی چې صرف د دغې وجهې نه چې روس راته چې ګرمو اوبو ته یا د هند بحر ته را ته تاریخي طور دې کې څه حقیقت شته او وي به. خو په دې وخت کې چې دی راته نو داسې خاص پلان نه ؤ.

دا فیصله چې افغانستان ته روسي پوځ ولیږي په یوه سلا نه وه شوې. په هغه وخت کې د شوروي د بهرنیو چارو مرستیال وزیر کریبن کو وایي چې دا خبرې په یوه تنګه کړۍ کې شوې وې:

زما د معلوماتو له مخې دغه پریکړه په یوه تنګه کړۍ کې شوې وه چې پکې برژنیف، اندروپوف، استینف، ګرومیکو او سوسلوف ګډون کړی ؤ اوس نه شم کولی په پوره یقین سره درته ووایم چې هلته چا څه خبره وکړه خو په یوه ټکي باندې راسره هیڅ شک نشته او هغه دا چې د پوځونو د لیږلو موضوع د اندروپوف له خوا پورته شوه. د اندروپوف تر مشرۍ لاندې د کې جي بي غړو د امین په هکله شکمن اطلاعات ورکول چې ګني د سي آی اې سره اړیکې لري چې بیخي د امریکایانو جاسوس شوی دی او خپل هیواد هغوی ته سپارل غواړي. د اندروپوف همدې استدلال د دفاع وزیر اوستینوف هم قانع کړی ؤ. د بهرنیو چارو وزیر ګرومیکو هم د دغې

پریکړې پلوي کړې وه ښایي هغه په اول سر کې مخالفت کړی وي خو ده داسې عادت درلود چې د سترګو په یوه رپ کې یې د یوې نظریې د مخالفت نه د هغې عامې بنې بدلون کاوه برژینف هم چې د هغه مثلث غړی ؤ بیخي باور درلوده او ځکه یې نو د هغوی د پریکړې مخالفت ونشو کولی.

# ۳۸

# د شوروي اتحاد د قواوو پر ضد پاځون

د ۱۹۷۹ کال د جدی په شپږم ماښام سور پوځ پر کابل وروختئ او په بل سهار يې هر څه په کنټرول کې راوستل په دې سهار پوهاند حسن کاکړ د کابل په کوټه سنګی کې روسي ټانکونو د عجيب حالت سره مخامخ کړی دی:

په اتو بجو باندې چې زه له کوره راووتلم، ميرويس ميدان ته لاړم په ميرويس ميدان کې په داسې حال کې چې په هغه ورځ باندې دا ټوله ځمکه په واوره پټه وه ډير زيات ټانکونه مې وليدل واقعاً ما ته يو ډير عجيب او غريب حالت راغلی لکه هغه حالت چې په ۱۹٦۸ کال کې په چکسلواکيا

کې راغلئ و د چکسلواکیا ځوانانو د شوروي اتحاد د ټانکونو په مقابل کې احساسات ښکاره کول ما ته هم ژړا راتله او همدغسې مې لاس دا د شوروي ټانکونو ته نیولی ؤ چې تاسو څه کوئ ووځئ بیا خو خیر پوه شوم چې بابا دا خو وړه خبره نه ده لاړم کورته زما یو زوی کاوون کاکړ نومیده هغه مې راووست دوولس کلن هلک ؤ هغه ته مې دا وویل چې شوروي اتحاد عملاً افغانستان نیولی دی او ټانکونه یې استولي دي او دا حکومت یې چې منځ ته راوستلی دی دا په خپله د دوی یو لاس پوڅی حکومت به وي اما په دې باندې پوه شه چې دوی په افغانستان کې پاتې کیدونکي نه دي د افغانستان خلک د هغه تحمل نشي کولای په مقابل کې به یې وجنګیږي نه به یې حکومت په ځای پاته وي او نه به دوی په ځای پاتې وي او همدغه وو چې د همغې ورځې څخه زه په داسې حال کې چې تا ته معلومه ده چې ما په عملي سیاست کې په افغانستان کې هیڅ کله اشتراک نه ؤ کړی له همغې ورځې نه ما د شوروي اتحاد په مقابل کې او د پرچمي حکومت په مقابل کې یو مخالف دریځ ونیوئ تر څو چې زه بندي شوم.

د حفیظ الله امین حکومت لیرې او پر ځای یې د جمهور رئیس ببرک کارمل حکومت منځ ته راغی. د روسي پوځ په مرسته د ببرک کارمل حکومت په

کابل او ټول افغانستان کې ټینګ شو. که څه هم مقاومت جاري ؤ ولې په لومړیو ورځو کې خلک ګیچ او نه پوهیدل چې څه وکړي؟ د حوت په دریمه نیټه د «الله اکبر» په نارو سره د کابل ټول خلک سړکونو ته راووتل او ټولې حکومتي ادارې فلج شوې. ډاکټر جاوید د دې ورځې شاهددی او دا مظاهرې یې لیدلې دي:

د حوت په دریمه نیټه مظاهرې سهار وختي د کابل په ښار کې شروع شوې ځوانان او نجونې په منظمو صفونو کې سړکونو ته راووتل او د شوروي او کمونیزم پر ضد به یې شعارونه ورکول په دې مظاهرو کې ډیر ځوانان او نجونې د روسي او حکومتي عسکرو له خوا په شهادت ورسیدل چې یوه هم د یوسف ساعد لور ناهیده وه. د حوت په دریمه نیټه په افغانانو کې داسې هیجان پیدا شوی ؤ چې د روس پر ټانکونو یې په تش لاس بې باکه حملې کولې، ابراهیم عسکر یار په دې ورځ پر روسي ټانک حمله وکړه او ځای پر ځای ووژل شو. د شپې له خوا پر بامونو خلک وختل او د الله اکبر نارې یې وهلې چې دا یو ډول مقاومت او مخالفت د شوروي د حملې او تجاوز پر ضد ؤ.

د مسلح مقاومت تر څنګ په کابل پوهنتون او نورو علمي مؤسسو کې د روس پر ضد فعالیتونه پیل شول. پوهاند حسن کاکړ وایي چې هغه له سیاست سره علاقه نلرله ولې د روسانو په موجودیت کې بې طرفي ورته نا ممکنه وه:

د دغه حادثې نه وروسته ما نشوای کولای چې ملا بې طرفه پاته شم هغه دا ؤ چې په پوهنتون کې په خپلو هم فکرو ځوانانو پسې شوم په لټه کې شوم، او دلته ما پیدا کړه چې له هغه نه د مخه یو اتحادیه په نامه د اتحادیه د عمومي د استادانو او محصلانو جوړه شوې وه. په هغه کې مې ځان داخل کړ، د نورو استادانو په شمول سره او علاوتاً د دغې اتحادیې تر شا په نامه د جبهه د آزادی خواهانو چې یو ائتلاف یې غوښته له ټولو هغو همفکرانو سره، له نورو ډلو سره چې د اتحاد شوروي په مقابل کې مخالفت کوي د پرچمي حکومت په مقابل کې مخالفت کوي او د دغو اتحادیو له لارې مونږ شبنامې خپرولې، د نورو استادانو په همکارۍ او معاونت سره او زه په هغه لوړه حلقه کې وم چې په هغه حلقه کې درې څلور کسه نور محترم استادان وو. او له هغوی سره ما یو ځای فعالیت کاوه او شبنامې مو خپرولې او دا فعالیتونه مو کول دا د شاګردانو د محصلانو دا فعالیتونه مو تنظیمول کومک مو ورسره کاوه تر څو چې هغه ؤ چې زه ونیول شوم او زما سره نور درې څلور استادان هم ونیول شول او بندیان شول.

د ببرک کارمل په مشر توب حکومت هڅه کوله چې خلک راضي وساتي او د خپل راتګ سره سم یې سیاسي بندیان خوشي کړل. علی ګل پیوند چې د

اطلاعاتو او کلتور معینۀ وایي که نور سیاسي بندیان خوشي شول ولې د هغوی ځای د امین طرف دارانو ونیوی هغه وایي چې ده کومه گناه نه لرله ولې بیا هم زنداني شو:

د خوشحال یو بیت وایم که اجازه وي زه شاعر یم هر کله د شاعرانو په ویناؤ باندې استناد کوم هغه وایي چې:

په ناحق د اورنگ زیب په بند بندي یم خدای خبر دی په تهمت او په بهتان

زه په ځان کې گناه نه وینم په خدای ږو ولی نور خلک خبرې که شان شان

د گناه مي سرشته نه ده معلومه مگر خپل هنر د ځان وینم تاوان

زه د هغه وخت د خپل گوند شاعر وم او د گوند پالیسي زما په شعرونو کې پرته له هنري برخې نه هم منعکسېدله نو طبعاً هغه څوک چې زموږ په مقابل کې وو د هغه پر ضد مې هم شعرونه ویلي دي اگرچې هغه اوس هم زه د تور جلاد په نامه پېژنم او دهغه تور جلاد پر ضد مې ډېر شعرونه ویلي وو. او دا هغه شخصي عقده وه چې زه یې زندان ته پرې بوتلم او اته کاله او څو میاشتې یې وځنډولم، که نه زما په داسې پوستونو کې وظیفه نه وه چې څه گناه مي کړې وي او یا دې څه را سره شوي وای. خو همدغه د شعرونو گناه زه اته کاله او څو میاشتې په زندان کې واچولم او په زندان کې ما د افغان ستره تراژیدي ولیدله. هغه تراژیدي چې پېړۍ پېړۍ به یې

زمـوږ تاريخ دا پـه وينو لړلې برخـه هېـره نه کـړي مـا د افـغـانـانو مـرګ پـه سترګو ولیدئ او هغه په دې ډول ؤ ببرک کـارمل چې هر اعـدام کاوه هغـه اعـدامـيـان به يې زمـوږ کوټو تـه راوستـل، موږ سره به يې اچـول او بيـا بـه د شپې له خوا برقونه د زندان مړه شول او پس له هغې به يې يو يو بيوئ. زما ياد دي په ۱۳٦۲ کـال کـې چې کله يو لوی اعـدام کـيدئ چې په دغـه شـپـه باندې دری سوه څو شپيته تنه يې اعدام ته بيـول زمـوږ کوټې ته را ننوتل عـسکر او يو زنداني ته يې چې مجاهدؤ غږيې ورتـه وکړ چې تا قـومـاندان صاحب غـواړي، زنداني ورتـه وويل چې تاسو زما له مرګه اوس هم ډارېږئ ولې نه وايـاست را تـه چې اعـدام ته مې بيـايي. زه له اعدامـه نه ډارېږم دا لار زموږ د حق لاره ده دا روسان به دا وطن پرېږدي او موږ بـه آزاد يږو.

د حکومت پر ضد جګړې او مقاومتونه لا پخوا پيل شوي وو. ولې د روسي قـواوو په موجـوديت کې دا جګړې نــورې هـــم زور داره شـوې. د حرکت انقـلاب اسلامي مشـر مـولوي محمد نبي محـمدي وايي چې دا جګړې نـه وې بلکه د پرديو تجاوز ګرو پر ضد مقابله او جهاد ؤ:

زموږ جنګ له روسانو سره دا جنګ نه ؤ. جهاد ؤ د جنګ او جهاد فرق دادی چې جنګ په اساس د خواهشات نفسي او په اساس د ماديت پرستي د جاه وجلال، قـدرت، تصرف او استـعـمار او د دغـه په منظور وي. جـهـاد

هغه جنګ دی چې د مخالف د دین مبین اسلام سره هم په صورت د تعرض د دوی کې مسلمانان جګړه شروع کړي صرف د پاره د اعلاء د کلمة الله، له پاره د حاکمیت د قانون الهی چې قرآن پاک دی، له پاره د مصئونیت د دین مبین اسلام د دوی له تعرضاتو څخه. نو زموږ د غه جهاد په د غه منظوربانديې شروع شوی ؤ او چې بنیه د جهاد یې هم د رلوده علت داؤ چې هغه اساس او علت باعثه د دی جګړی د غه شی ؤ چې خاص اعلاء د کلمة الله حاکمیت د قرآن پاک او مصئونیت د دین مبین اسلام، استقلال سیاسي، وحدت ملي، تأمین اراضي د دغه ملت مسلمه یې څوارلس سوه کلنی چې نوم یې افغانستان دی.

روسي پوځ په عصري وسلو مجهز او افغانانو ته ګرانه وه چې په مخامخ جګړو کې د سره پوځ سره مقابله وکړي چریکي جګړې یوازنۍ لاره وه چې روسان مجبور کړي چې د افغانستان څخه ووځي. د جمعیت اسلامی قوماندان او د شورای نظار مشر احمد شاه مسعود وایي چې په ګوریلایي جګړو کې هغو د تنظیم او سازماندهۍ څخه پوره استفاده کړې وه:

زما د نظره یوه دعمده مسئلو څخه چې په ګوریلایي جنګونو کې موږ ورڅخه ډیره استفاده کړې ده هغه تنظیم او سازماندهي ده دا نه یوازې په پنجشېر کې بلکې په نورو مرکزونو کې چې موږ جوړ کړي وو ګټه پورته شوې ده. دا د اراضي او سیمې څخه معقوله استفاده، د افرادو سازماندهي او نورو تاکتیکونو څخه کار اخیستل وو چې داراضي څخه به د دښمن په تناسب ګټه اخیستل کیده د مثال په ډول موږ د پنجشېر په دره

کې چې تقریباً سل کیلومتره اوږده ده او نورې درې چې په عمودي ډول ورسره یو ځای شوې دي په هره دره کې موږ قرار گاوې درلودې او روسان به مو په دې ترتیب پنجشېر ته د داخلېدو سره سم په جگړه کې بوخت ساتلي وو.

د افغانستان په نورو سیمو کې چې هوار میدانونه دي هم روسان د ستونزو سره مخامخ وو او ورته سخت تاوانونه ورسیدل. رسول اخوندزاده چې په هلمند کې د مجاهدینو مشر ؤ وایي چې په یوه چاودنه کې یې ډیر روسي پوځیان والوزول:

یو وخت د طیارو بمبارۍ وې موږ یو ځای ایله کوئ عقب نیشني مو کوله نو زموږ یو مجاهد راولاړ شو یو لوی قبریې جوړ کړئ یو لوی بیلربې د باروتو او اوسپنو او دغو شیانو څخه ډک کړی پټ یې کړئ قبر یې پر جوړ کړ قرار یې تناو پر غوته کړی چې یعني دا برایې زموږ یو شهید شوی دی دلته مو ښخ کړی دی نو دا ځای مو سهار ایله کړ بلې خوا ته ځینې پورته شولو نورو غونډیو ته سهار چې روسان د یخوا راغلل او دوی دلته خپل شوق پر کوی چې یاره دا واقعی مړی دی برایی یې ښخ کړی دی لکه چې دا موږ ځینې وژلی دی ما بین ته چې را پورته شول درې څلور ټانکونه به ووا او شپیته اویا نفره چې دا درز سود درز سره نه سړی معلوم شو او نه ټانک تولنه یې ووژل.

# ۳۹

# داخلي مقاومت او په پاکستان کې د مجاهدينو مؤقت حکومت

افغان حکومت او شوروي قواوو په پوره طاقت هڅه کوله چې د مجاهدينو مقاومت له منځه يوسي په کندهار کې د مجاهدينو قوماندان ملا نقيب الله وايي چې يوه دا ډول قوه د هغوی سيمې ته ورغلې وه چې ټولو مجاهدينو يې په ګډه مقابله وکوله:

قوه چې راغله لکه هغه راډيوګانو چې تبصره پر کوله هغسې طيارې ټانګ توغندياني حتی هغه لويه توغندی چې يوه توغندی د غسې روغه پا ته شوې وه مونږ يې دا باروت ورڅخه راوکښل يو خروار او شل منه يې باروت

شول دا دیوې توغندي وو چې موږ د میدان څخه احصائیه واخیستله چې شپیته زره توغندي یې استعمال کړي وو پنځه زره به یې په دې قوه کې استعمال کړل او د غه خلک چې موږ دستګیره کول د اووه ویشتو ولایتو څخه، د بیلابیلو ولایتونو څخه یې دغه خلک راوړل، د روسانو په شمول په دې کې وزیر د دفاع روزمره د کابل څخه راتلئ د ارغنداو په ولسوالۍ کې به راته ناست ؤ موږ د رو د په هغه غاړه وو. نو موږ دا درو دیرش شوا روزه جنګ سره وکئ سهاربه دوی پر شپږو بجو تعرض د ټانګانو د بمانو را باندې شروع کړئ. د پیاده ؤ، هغه به موږ په فضل د الله هغو ته ماته ورکړه پر اووه بجو به یې دا تعرض ختموئ خو دا درو دیرش شوا روزه چې دوی تعرض کړی دی. په دروديرش شوا روزه کې یې موږ یو ګام شاته کړي نه یو د دوی څخه به مو هره ورځ د وه سوه دری سوه پنځه سوه نفر دستګیرول یا به مو له بینه وړل حق تعالی دوی مات کړل.

که شوروي قواوو او دولتي پوځیانو د درنې بمبارۍ څخه کار اخیستی دی خو مجاهدینو هم د نړۍ پر مختللې وسله ستینګر توغندي په کار اچولی وو ، دکندهار هوایي ډګر ته نژدې ملا یار محمد دا توغندي د حکومتی الوتکو پر ضد په کار اچولي دي:

موږ به چې ستینګر راوړل په دا رقم به مو راوړل د خلکو د شپنیانو په

رقم به راغلو ميدان ته به نژدې شولو بيا به مو پر طياره باندې انداخت وکړئ نو هغه ؤ چې خداى پاک به ولګول موږ به مطلب بيرته د دې ځاى ځخه يا د شپنيانو په رقم يا مطلب د بزګرو په رقم به مو بيرته ځان وکښي. دا سې خبرې د يرې راغلې دي په دې ځاى کې يو ګشت دلته زد شوروي يانو ونيسولم. موږ توغوندى راوړلي دلته مو په شوروي يانو باندې انداخت وکړئ. نو هغه وخت کې شورويان را پسې راغلل هلته نو موږ ځينې ولاړو يو کلي ته، مرغان کيچې ته، د شپې شورويان راغلل هلته يې موږ ونيولو. بيا يې زما ځخه پوښتنه وکړه چې دلته اشرار راغلي وو دا څه شول. ما ورته وويل چې هغه خو موږ نه يو موږ دلته دربدره مسکينان خلک يو نو بيا بې زه راوستم ځو شپې مو دلته تيرې کړې په کندهار کې يې بندي کړى وم. هغه ؤ چې بيا يې بيرته ايله کړم چې پر ما باندې يې شى نه کړئ پيدا مخبران نه وو په دې منطقه کې نو دا ؤ بيا يې زه بيرته ايله کړم. موږ چې د ستينګر تعليم کړى دى موږ خو بيسواده خلک يو مګر د الله پاک په قدرت سره بس دا يو چې زه درته ناست يم د غه په خپله ما جنګي طيارې تقريباً چې موږ په دغه شاوخوا کې راا چولې دي نولس طيارې به موږ راچولې وي. په دغه کې دوې جيټ دي، دوې جيټ طيارې دغه ميګ دري دا بارې موږ را اچولې دي او نورې ټولې څرخي طيارې وې په دا

نولسو کې.

خو قومندان عبدالحق بيا بيله ستراتيژي غوره کړې او په فعاليت لګيا ؤ چې په کابل کې د ننه حکومت را وغورځوي:

په داخل د ښار کې موږ بيا واړه واړه ګروپونه درلودل. مثلاً بعضې ګروپونه شپږ نفري وو، پنځه نفري به وو لس نفري به وو چې بيا دې ګروپونو به داسې يو شکل درلودئ مثلاً يو مسئول به پکې ؤ چې هغه بايد په صاحب منصبو کې ارتباط ونيسي. بل مسئول به ؤ چې هغه به په کسبه کارانو کې ارتباط ونيسي يو نفر به ؤ چې د هغه مسئوليت دا ؤ چې معلومات جمع کړي، د بل مسئوليت اداري سيستم او هغه مالي چارې ورته مخکې وړلې. نو چې دا به مو يو ځای کړل يو ګروپ به ترې نه جوړ شو چې دې هر ګروپ به په هرو دوو درو هفتو کې يوه دوسيه تکميلوله خپل د کارونو چې بيا به يې ماته راليږله نو په دې حساب موږ همداسې پنځوس شپيته واړه واړه ګروپونه په مختلفو ځايونو کې درلودل چې بيا دا ټول موسره يو ځای کول. بيا ما يوه بله اداره ورته جوړه کړې وه چې بيا تر دې اداري لاندې کار کوي. د دې له پاره چې هغه ګروپونه يو بل ونه پيژني مثلاً که يو ګروپ افشا کيږي يا نيول کيږي نو چې هغه بل ګروپ يعنې د وهلو يا د ټکولو يا هغې ته د اذيت ورکولو په نتيجه کې دويم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګروپ افشا نه شي نو دا ارتباطات موږ مستقیم د ځان سره ساتل. نو که یو ګروپ به نیول کیدئ نورو ګروپونو ته به یې ضرر نه رسیدئ. خصوصاً د رژیم په اخرو وختونو کې داسې یوې مرحلې ته رسیدلي وو چې موږ هر وخت کولی شول چې یو فشار په دولت باندې راولو او یا داسې یو سیستم راولو چې په دولت کې د ننه کاروکړو ځکه زما سره یو فکر همیشه ؤ چې زه د دې مخالف وم چې موږ د بهرنه را کټونه ښار ته وغورځوو ما همیشه د دې پروګرام مخالفت کړی ؤ. که ستاسو په یاد وي ما د جلال آباد د پروګرام مخالفت وکړ بیا دا یو پروګرام چې جوړ شو پر کابل باندې د حملې ما یې مخالفت وکړنو زموږ کوشش په دې ؤ چې موږ څنګه وکولی شو چې یوه رهبري د ټولو افغانانو په سطحه باندې منځ ته راشي نو که بیا دغه تغییر سړی هلته راولي نو نتیجه به ورکي.

د ګډې رهبرۍ او په بهر کې د جلا وطن حکومت پروګرام تر لاس لاندې ونیول شو. د افغانستان جمهور رئیس پوهاند رباني چې په دې حکومت کې شامل ؤ وایي چې د کار د طرز څخه راضي نه ؤ:

فکر وشو چې روسان د وتلو په مرحله کې دي باید یو بدیل یې را منځ ته شي ځینې دوستانو مشوره ورکړه چې مجلس باید تشکیل شي او هر حزب باید شپیته تنه دې مجلس ته را ولېږي که څه هم د دې کار سره لوی

حـزبونـه راضي نه وو .ولې پـه هر حـال پـه شـورا کـې خلک را ټول شـول او صبغت الله خان مجددي د رئيس پـه توګـه وټاکل شو ، کـه څـه هم زه د کـار دطرز څخـه راضي نه وم. په هغـه وخت کې مـا دا خبره وکړه ولې ومې ويل چې زه به خپل کار ته دوام ورکړم ما وويل چې زه به يواځينی سړی يم چې تر پايه پورې خپل کـار ته دوام ورکړم. هم هغسې هم وشول مـا پـه هغـه وخت کې وويل چې بايد يو قوي او قدرت مند حکومت منځ ته راشي، قدرت مند حزبونه او د افغانستان ټول خلک بايد په دې حکومت کې برخه واخلي.

مولوی محمد يونس خالص وايي چې استاد رباني پـه خپله د دې حکومت په ملاتړ کې پاتی راغلی دی:

تاسـو تـه مـعلومـات دی چې هغـه حکومت دوام کـولی شي چې هغـه څوک يې چې جوړ کړي چې هغه يې له زړه نه ومني موږ دا حکومت جوړ کړ او دې حکومت ته موږ خپل قـوتونـه ونه سپـارل. موږ ورتـه خپـل د تعليم او تربيې او د صحيې او دا ټول قـوتونـه مـو ورتـه وسپـارل مګر پـه دې کې نور تنظيمو نه پاتې راغلل او چې هر کله تنظيمو نه خپله پادشاهي شروع کړي نو خو هغـه پـه خپله قـوت نشي پيـدا کولای يعني پـه اوله مرحله کې خو د دې په نا کـامـی کې چې کـار وشـو يو خو دا ؤ چې دا خلک ډير ژر رخصت شـول بايد چې حکومت دا خلک ډير ژر نه وای رخـصت کـړي، چې هغـې

شورا نور کار هم کړی وای. دوهم دا چې په همهغه سبا له استاد رباني خدای «ج» دې مورږ او دا او ټولو ته هدايت وکړي، هغه راغی او د لته يې يو پريس کانفرس ورکړ او دا خبره يې وکړله چې په دا حکومت کې غدر شوی دی، غلطي شوې ده او دې سره مورږ موافق نه يو دا سې شيان په منځ کې راغلل نو په دې نسبت باندې هغه اول د بيخ نه يو څه کمی راغی بيا وروسته وروسته نو انجنير صاحب يو څه عقده اخيستې وه چې هغه د دې سره همکاري نه کوله.

ډير کتونکي باور لري چې د افغاني مجاهدينو تر منځ اختلاف قصدي او د بهرنيو هيوادونو له خوا منځ ته راغلی ؤ. د پاکستان د کورنيو چارو وزير نصير الله بابر وايي چې د لومړي سر څخه د پاکستان مشر جنرال ضياء الحق دا حال راوستی ؤ:

نو هغه دوی خبرې وکړې يو خو يې پر دوی باندې کومک بند کړ چې د دوی سره يې کومک بند کړ نو دوی په خپلو کې بيا تقسيم شول په دې چې په بده ورځ وو پيسه ورته نه ملاويده ټرينينګ پر بند ؤ نو دوی بيا ګرځيدل څوک کويټ ته، څوک سعودی ته، څوک چيرته نو دوی په دې وجه باندې بيا په خپلو کې تقسيم شول او دا اووه ګروپه ترې جوړ شول. نو بيا د ايران قونسل دې پيښور کې هغه ته مې وويل چې شاه ايران ته تاسو ميسج

ولېږئ چې دا خلک دا سې دي دوی سره کومک په کار دی او ته ورسره کمک وکړه. هغه چې دوی ماته وویل دری ورځې پس جواب راغې هغه بیا زه مارشلا والا جیل ته ولېږلم چې زه بیا جېل نه را ووتم نو «مې» یو کم اتیا یم ؤ هغې کې بیا د دوی هم هغه حال ؤنو بیا ما له امریکا سره تماس ونیوئ نوبیا امریکا دوی سره په «مې» یوکم اتیایم کې کومک شروع کړئ هغه وخت پاکستان هم ورسره کومک نه کوئ مارشلا یا ضیا ءالحق دوی خو هغوی بیا ورسره کومک دا مستقیم شروع کړی دوی سره.

د جمعیت علما ءاسلام مشر مولوي فضل الرحمن وايي چې د جنرال ضیا ءالحق ملاتړ هغه وخت پیاوړی شو کله چې غربي هیوادونو د سوړ جنګ په ترغ کې خپله مرسته پیل کړه:

چې د روس پوځ را ننوته د دووکالو نه پس افغانستان ته نو په دغه وخت کې بیا د غرب دلچسپي پیدا شوه، د امریکا دلچسپي پیدا شوه او دوی دغه جهاد تأئید کړ. او س ظاهره خبره ده چې د دوی پلان په افغانستان کې د اسلام له پاره نهٔ بلکې دوی دا خپل سوړ جنګ چې له روس سره ؤ دغه یې یوی نتیجې ته رسوئ او دافغانستان دغه جګړه دغه له پاره ډېره یو مؤثر او مضبوط بنیاد وګرځیدئ نو ظاهره خبره ده چې پاکستان نو په هغه وخت کې زیات اهمیت حاصل کړ په پاکستان کې

مارشلا وه او جنرال ضیا ء صاحب یا د هغه مارشلا جهاد سره د کلکې مرستی اعلان وکړ او ډیرې مضبوطی سره چې ده هغه جهاد تأئید کړ لیکن پالیسي چې څومره وه هغه به هم د دیخوا (غرب) نه تلله او هغه به هلته عملي کوله تطبیق به یې جنرال ضیا ءکوئ نو ظاهره خبره ده چې دې خلکو دا غوښته چې جنګ دې افغانی کوي، وینه دې دافغاني تویېږی خو چې نتیجه زمونږ په لاس کې وی او نتیجه په هغه صورت کې د دوی په لاس کې ورتلای شوای چې په افغانیانو کې اختلاف وای. نو په دوی کې یې اووه تنظیمونه جوړ کړل او تقریباً یوولس خو غیر رسمي وو او اووه پکې رسمي وو او دغه تقسیم با قاعده په منظمه طریقه سره وشو چې د دې طرفه به کوم پلان تلئ د پاکستان حکومت به هغه تطبیق کاوه دغه تقسیم چې کوم دی دې تقسیم نه دغه نتیجه را ووتله لکه چې نن مونږ په افغانستان کې وینو چې جهادي قوتونه چې کوم دي هغوی فتح حاصله کړله لیکن په خپل منځ کې موافقه نشته او نن هغه په خپل منځ کې د یو بل وینه تویوي.

## ۴۰

# په حکومت او گوند کې اختلاف

سید محمد گلاب زوی چې د ببرک کارمل د کورنیو چارو وزیر او د کابینې غړی ؤ وا یي چې په گوند کې اختلاف د شوروي پوځیانو او کدرونو پر سر منځ ته راغلی:

دا اختلاف مسئله شخصي مسایل نه وو مسئله پر اصولو او پرنسیپونو باندې وه. په همهغه اصولو او پرنسیپونو باندې وه. چې وطن ته دجوړولو په خاطر په وطن کې د آرامی په خاطر خلکو ته د خدمت په خاطر وه زموږ اولین اختلاف د شوروي پوځونو مسئله وه چې باید شوروي پوځونه

افغانستان ته نه وای راغلي او چې راغلي دي خپل کار یې چې هغه وکړ بیرته باید د افغانستان خاوره پرېږدي او خپل وطن ته لاړ شي او دا د اختلاف یوه مسئله وه دوهمه مسئله زموږ د اختلاف د کدرونو مسئله وه چې همدا اساسي مسئله د کدرونو وه هغه کدرونه چې واقعاً بنایسته او د کار له پاره مساعد کدرونه وو او په دوی وابسته نه وو هغه ته به یې اهمیت نه ورکاوه او مسلکي خلک چې تربیه شوي وو د ملت پیسې ور باندې مصرف شوې وې دوی کوم اهمیت نه ورکاوه. دوی ته اول ارزښت هغه درلود چې په دوی پورې وابسته شوي خلک وي ور پورې تړلي شوي اشخاص وي. دې ته یې زیات اهمیت ورکاوه. او زموږ مسئله همدغسې یو اختلاف هم په هغه اولو ورځو کې همدا راغلی چې یو تعداد زموږ ملګري یې زندان ته واچول غیر ناحقه چې پخوا د امین په وخت کې یا وزیران وو یا د مرکزي کمیټې غړي وو یا په لوړو پوستونو کې یې کار کړی و. زموږ هم په هغه باندې اختلاف ورسره پیدا شو چې دا ښه کار نه دی دا مسلکي خلک دي د ښایست وړ دي چې وطن ته خدمت وکړي او دا باید بندیان نه شي که بندیان کېږي محدود د شپږو نه تر دوولسو نفرو اضافه باید بندیان نه شي او دوی تقریباً په حدود د دری سوه څو نفره بندیان کړل او دا هم یو د اختلاف عامل ؤ.

سلیمان لایق چې په ګوند کې یو لوړ رتبه او سابقه داره غړی پاتې شوی دی

وايي چې د دې مخالفت عوامل د گوند مشرانو منځ ته راوړي وو :

زه فکر کوم د افغانستان د خلق ديموکراتيک گوند په داخلي مسايلو کې ټول مشران کم او زيات مسئوليت لري دا خبرې چې زموږ قضاوت ته وړاندې کيږي زموږ له پاره هم شريفانه لاره همدا ده چې ووايو چې د گوند د ننه موږ د وحدت سره يا د پارټۍ د يو والي سره سمه مرسته ونشواى کړاى او د افغانستان د خلق ديموکراتيک گوند وروسته د وطن گوند له بده مرغه په دې بد ميراث باندې يعني د تربگنيو ، د اختلافاتو او د اختلافاتو د تراشلو او جوړولو په لور کې خپل عمر تير کړئ ، کېداى شواى که دغو مره چې د دې اختلافاتو په سرد يو د بل د محکومولو دومره فکر او کار کېده که دا د افغانستان د ښېگڼې او بهبود له پاره دومره کار شوى واى زه فکر کوم چې د ۱۳۷۱ تراژيدي به نه پېښېدله.

جمهور رئيس ببرک کارمل ټينگار کاوه چې د شوروي سره نه ماتيدونکي اړيکي وساتل شي په ماسکو کې د يوه سفر په ترڅ کې هغه افغانانو ته وويل چې وطن پرست افغان هغه دى چې افغان شوروي دوستۍ ته وفاداره وي:

ملگرو په ښکاره سره بايد درته څرگنده کړم چې څوک څوک دى او څنگه بايد هغه وپيژندلى شي وطن پال افغان څوک دى هغه آتشين وطن پرست څوک دى د نوى افغانستان هغه افغان چې نوى انسان دى هغه

څو ک دی دا هغه افغان دی چې د افغان شوروي و دوستی ته وفادار وي.

د ببرک کارمل د دې دریځ سره افغانان او د هغه ډیر گوندي ملگري موافق نه وو په افغانستان کې د مقاومت او نړیوال فشار له کبله شوروي اتحاد مجبور شو چې کارمل لیری او پرځای یې ډاکتر نجیب الله راولي سلیمان لایق وایي چې په دې وخت کې یې د ډاکتر نجیب الله سره مرسته کړې ده:

ډاکتر صاحب نجیب الله مسند د قدرت ته راغی ما د هغه سره صادقانه مرسته وکړه دا مرسته لکه ځینې خلک چې بیا وروسته په دې داخلي اختلافاتو کې داسې توجیه کوله چې گواکې زه د خپلو شخصي گټیو په اساس یواځې ما له نجیب الله سره مرسته وکړه داسې نه ده زه کوم ډیر د زیاتو صلاحیتونو او اختیاراتو سړی هم نه وم لیکن کوم وظایف چې په ما باندې مربوط وو هغه ما حق نه درلود چې په هغه کې زه صادق و نه اوسم ما حق نه درلود چې هغه زه اجراء نه کړم او ما پخوا هم له پخوانیو رهبرانو سره کوم خائنانه حرکت یا کوم په اصطلاح سره تر کوم ځایه چې می عقل کار کاوه له هغوی سره کوم غبن یا دا مانه دی کړی او البته د ډاکتر صاحب نجیب الله ما جداً ملاتړ کړی دی او د هغه سره وم.

د ډاکتر نجیب د راتگ سره سم حکومت هڅه وکړه چې د مخالفانو سره د روغې جوړې لاره خپله کړي، عبدالرحیم هاتف وایي چې دولت دې نتیجې ته

رسیدلی ؤ چې ګوندي حکومت نور نه چلیږي:

په افغانستان کې عموماً د غه تمایل پیدا شوی ؤ په دولت کې چې انحصاري شکل د دولتدارۍ چې د یوه حزب حکومت وي دا نه چلیږي، دوام نه کوی باید یوه ائتلافي اداره جوړه شي. د هغې خبرې له پاره په افغانستان کې لومړی اساسي قانون تصویب شو او هغه تقریباً یو نیم کال کار وربانديې وشو ډیر حقوق پوهان په هغه کې وو یو کمیسیون کار پکې کاوه د هغه کمیسیون په رأس کې زه په خپله وم بیا هغه د یوې لویې جرګې د طرفه څخه تصویب شو. د لویې جرګې ریاست یې هم زما پر غاړه ؤ. هغه اساسي قانون بې تبعیضه ؤ ټولو افغانانو ته یې یو ډول حق ورکاوه او د کوم حزب یا د کوم شخص میراثي رهبري او غیر د هغه صلاحیته څخه چې خــــلکو و چا ته ورکړی وي نور صلاحیتونه یې نه منل. د بشري حقوقو مطابق د هغه موازینو سره سم چې په دنیا کې ټوله خلک ورته رعایت کوي د هغو سره سم اساسي قانون په افغانستان کې نافذ شو او د دغه اساسي قانون لاندې زه د رئیس جمهور معاون شولم په اجرائیه برخه کې نه، په حقوقي برخه کې، مشورتی برخه کې او په هغه باره کې د افغانستان د کار کرده ګۍ مثالونه د افغانستان اساسي قانون دی، د اساسي قانون تعدیل دی، دا د قضا قانون دی، د څارنوالۍ قانون دی او نور داسې، چې زه د

خپل کاره څخه پښیمانه هم نه یم او هغه کارونه په میدان کې پراته دي پر کار باندې قضاوت کیدلای شي طبعاً زما د ماغزو محصول نه دي زما سره نور ملګري د افغانستان مشهوره حقوقدانان ملګري وو او یا زه د هغو سره ملګری وم نو هغه د افغانستان د خاورې انحصاري قدرت موږ نه یوه حزب ته نه یو چاته ورسپارلی ؤ نه یې ورسپارو او دغه احساس هر کله چې پیدا شي چې یو څوک د قدرت څخه استثنی شي او یو بل څوک پر قدرت باندې انحصاري خیتیه واچوي د دا ټولو شکلونو څخه موږ نفرت کوو او دا په دنیا کې هم اوس د دې خبرې تائید څوک نه کوی.

همدا ؤخت و چې ملي روغه جوړه اعلان شوه د حکومت هدف د روشنفکرانو جلب او همکاري وه، میرمن معصومه وردک چې یوه روشنفکره او په پارلمان او په حکومتونو کې پاتې شوې ده وایي چې تر مشورې وروسته د ښځو شورا ته ورغله:

بیا د ملي مصالحې په ارتباط تقریباً یو اته میاشتې نورې هم چې تېرې شولې فیصله شوه چې روسان وځي. بیا نو زه نه پوهیږم چې دڅووم ځل له پاره زه یې وغوښتم ډاکټر نجیب را سره خبرې وکړې ماته یې وویل چې ته راشه د ښځو شورا ته ما ورته وویل ډاکټر صاحب زه هلته څه وکړم چې راشم هلته خو بیله دنیا ده زه خو هغه نشم منلای هلته مشاوره ناسته ده هلته نور داسې کسان هلته دي چې زه یې طاقت نه لرم چې ورته وګورم

او بیا زه هم کار نشم کولای خو ډېر زیات مې ورته وویل خو په پای کې بیا مې ورته وویل چې ښه دي زه به خبرې وکړم، بیا کورته چې راغلم ځینې روشنفکران چې په اکادمي علوم کې وو ورغلم له هغوی سره کېنیناستم له دوستانو سره مې خبرې وکړې ما ورته وویل چې تاسو څه وایاست دا یوه مشوره ده موږ او تاسو باید ټوله یوه ډله شو، که داسې فیصله وشي چې ښه پس له مصالحې څخه روشنفکران راځي او ځایونه نیسي، زه به هم لاړ شم داځای به زه ونیسم او هغسې چې مې ورسره فیصله کړې ده بیا به زه پوهېږم کار مې. دوی ما ته مشوره را کړه ټولو راته وویل چې ته باید ولاړ شې اوداً لاره باید خلاصه شي د نورو روشنفکرانو له پاره او موږ داسې فکر کاوه چې په دې وخت کې هغه کسان چې په اروپا کې دي دوی هم گامونه اخلي او موږ کولای شو چې دا روسان او یا د روسانو پلویان یا کمونستان دوی به یو یو ایسته کړو او په ځای کې به یې نور مقرر شي او کوشش به وشي چې زمینه مساعده شي د انتخاباتو له پاره. بیا پس د دوی له مشورې څخه ورغلم بیا په هغه ورځ چې ما خبرې وکړې، چې جلسه وه ډاکټر نجیب په خپله زه معرفي کړم بیا ما ورته وویل په بیانیه کې چې تر هغه وخته پورې به زه کار وکړم چې ما ته یا صحي معاذیر پیدا نه شي او یا کوم مانع او هر کله چې ما ته کوم مانع پیدا شو، او موانع مې

ورسره خبرې کړې وې که مانع را ته پیدا شو بیا زه کار نه کوم او رښتیا هم بیا دوی په خپله کوشش کاوه چې هغه قول چې یې راسره کړی ؤ چې زما په کارو کې غرض و نه کړي نو په دې خاطر ما خپلې بیانیې په خپله لیکلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۴۱
# د ژنیو لوز نامه

په افغانستان کې سخت مقاومت او بهرنی فشار روسان مجبور کړل چې د خپلو قواوو دایستلو په فکر کې شي په دې فشارونو کې د بهرنیو مطبوعاتو خپرونې هم شاملې وې د پښتو څانګی نبی مصداق وایي چې بي بي سي یوازنۍ راډیو وه چې د افغانستان حالات یې جهانیانو ته ورسول:

بي بي سي پښتو خپرونه تقریباً یو نیم کال وروسته له دې چې روسان افغانستان ته داخل شي شروع شوه او په ډېره کمه موده کې یې د زیاتو افغانانو توجه ځان ته جلب کړه ځکه په دی وخت کې سفارتونه تړل شوي

وو ، خارجي ژورنالستان په داخل کې نه وو ، سانسور لګيدلی ؤ نو د جنګ د خبرونو را ايستل ډير مشکل وو سره د دې هم مونږ وکولای شول چې داسې پروګرامونه لکه د خپلو سترګو ليدلي کتلي جوړ کړو چې په هغه کې هر څوک چې به داخل د افغانستان نه راتلل که قومندان ؤ ، که مهاجر ؤ ، که خارجی ژورنالست ؤ ، که ډاکټر ؤ د هغو نه به مونږ د دوی د خپلو سترګو ليدلي کتلي حالت پوښتنه کوله او دوی به د منطقې په باره کې په افغانستان کې هغې منطقې ته چې تللي وو خبر به يې راکاوه او په دې رقم سره ټول افغانان به خبريدل چې د افغانستان په فلانۍ منطقه کې وضع څنګه ده. نو بي بي سي په دې حصه کې ډير زيات افغانان بيداره کړل. متوجه يې کړل چې په داخل د افغانستان کې څه رقم خبرې تيريږي او د بي بي سي نه په دې ترتيب سره د افغانانو او د دې جنګ د ظلمونو او د ناروا خبرونه د نړيوالو غوږونو ته ورسيدل او د اوريدونکو به ياد وي چې هر کال به په ملګرو ملتونو کې د يوسلو اولسو نه تر يوسلو دو ويشتو هيوادو پورې د شوروي مداخلې ضد رايه ورکوله.

سليمان لايق وايي چې د روسي پوځيانو د وتلو موضوع په لومړي ځل د شوروي پخواني جمهور رئيس ميخائيل ګورباچوف را پورته کړه:

په ۱۹۸۵ کال کې چې زمونږ له ۱۳٦٤ کال سره سر خوري تقريباً د

عقرب په نیمایي ورځو کې د افغانستان یولوړ رتبه هیئت د ببرک کارمل تر مشرتابه لاندې مسکو ته وبلل شو په دی هیئت کې لاندني کسان غړي وو سلطان علی کشتمند چې د افغانستان د صدارت عهده یې لرله، ډاکتر صالح محمد زیری چې د افغانستان د خلق په دیموکراتیک گوند کې د منشي سمت او د سیاسي بیرو عضویت یې درلود او ډاکتر صاحب نجیب الله چې په هغه وخت کې د افغانستان د دولتي اطلاعاتو د مشرتوب په موقف کې ؤ او جنرال صاحب نظر محمد خان چې په هغه وخت کې د افغانستان د دفاع وزیر ؤ او ما هم په دې هیئت کې برخه اخیستې وه هلته د شوروي له لوري په دې مجلس کې د گورباچوف صاحب تر مشرتابه لاندې، شوردنادزې (وزیرخارجه) او د شوروي اتحاد د دفاع وزیر مارشال سکلوف او ځینې نورو تخنیکي کسانو اشتراک کړی ؤ خو هغه یو مجلس ؤ چې د لومړي ځل له پاره د افغانستان د دولت د مشرتابه کولیکتیف د شوروي اتحاد د لوري د مشرتابه د کولیکتیف سره یو ځای کښیناست. پخوا تر دې عرف داسې ؤ زموږ د دواړو خواوو د رهبرانو تر منځ چې دوه په دوه به سره کښیناستل څه به یې وویل، موږ د هغه گزارش فقط د خپلو مشرانو نه اخیسته، چې غالباً به هم په هغه باره کې کارمل صاحب فرمایل چې : « دیگه به رفیق تان اعتماد کنین دیگه » څه به یې چې لوریده یا څه

به چې لازم لیده چې وې وایي موږ ته به یې ویل په دې لحاظ هم ده چې هیڅ وخت موږ د هغو اجراءاتو مسؤلیت نه لرو چې د دې جلسې نه مخکې شوي دي. په دې جلسه کې یوه مسئله چې هغه عمده وه او مهمه وه، اساسي مسئله وه د طرحی له پاره هغه د شوروي اتحاد د قواؤ د ایستلو مسئله وه چې د گورباچوف له خوا طرح شوه او موږ ټولو له کارمل نه پرته له دې مسئلې سره توافق درلود. نو په هغه وخت کې گورباچوف پیشنهاد وکړ چې شوروي قوتونه به ووځي او افغانستان باید خپله دفاع د هغو مداخلو په مقابل کې چې وربانديې تحمیل کېږي په خپله وکړي د خپل ځان مستقلانه دفاع وکړي. وروسته دا اصطلاح شوه په موږ کې چې، مستقلانه دفاع، البته د دې په مقابلې کې چې د هغوی له خوا نه گورباچوف غوښیده دخپلو ملگرو تائید به یې وقتاً په وقتاً اخیستی مخ به یې ور اړاوه او له دیخوا هم کارمل غوښیده کارمل د دې طرحې په مقابل کې جدي عکس العمل وښود ویې ویل چې زه هیڅ وخت توافق نه لرم چې شوروي قوتونه له افغانستان نه ووځي. او ده چې گوتی یې ریږدیدلې او په څېره کې یې هم ډیر تغییر پیدا شوی ؤ، ډیر ډار شوی ؤ نو ویلې چې دا خو چې دا لښکر ووځي موږ به ټول په وینو کې ډوب شو، انقلاب به په وینو کې ډوب شي او ډیر په سره سینه هغه جانب مقابل لوري ورته وویل وروره

نو د دې معنی دا ده چې هغه انقلاب چې تاسې په افغانستان کې عنوان کړی دی خلک یې نه مني او تاسې یې زموږ د لښکرو په زور په خلکو منئ آیا داسې نه ده؟ په دې کې البته کارمل غلی شو، ولې گورباچوف وویل چې د روسیې او د شوروي اتحاد خلک له دې جگړې نه ډیر ناراضه دي د خپلو زامنو د استولونه او نه غواړي چې هلته دا لښکرې نور زیاتې پاتې شي او موږ هم نشو کولای چې هغه انقلاب چې تاسې خلکو ته نه شئ تفهیم کولای او د هغو رضایت نه شئ په منلئ هغه په زوره پر خلکو تحمیل کړ. نو په هر حال په هغه مجلس کې په دې باره کې پخوا هم تفاهم موجود ؤ زموږ تر منځ، زموږ د ملگرو تر منځ، زه شخصاً او ډاکټر صاحب نجیب الله په دې مسئله کې موږ قبلي تفاهم درلود او دې نتیجې ته رسیدلی وو چې باید شوروي لښکرې له افغانستان نه ووځي.

د افغانستان د مسئلې د حل په هکله د ملگرو ملتونو خبرې د ډیره وخته جاري وې او په واشنگټن کې د شوروي د مشر گورباچوف او جمهور رئیس ریگن په سر مشریزه کې هم دا ستونزه لاینحله پاتې شوه. خو د شوروي حکومت هڅه وکړه چې په ژنیو کې د یوې نړیوالې لوزنامې لاندې خپلې قواوې د افغانستان څخه وباسي. د ملگرو ملتونو په مشر توب د ژنیو خبرې د افغانستان او پاکستان تر منځ پیل شوې او ورکې امریکا او شوروي هم شامل وو په دې خبرو کې د پاکستان

دبهرنیو چارو دوزارت لوړ رتبه مامور ریاض احمد خان هم شامل ؤ:

په هر حال د پاکستان حکومت دا خبرې په هغه صورت کې ومنلې که چیرې د روسیې حکومت تیاروي چې په لږ وخت کې خپلې قواوې وباسي. پاکستان ته د دې خبرو ضرورت ؤ دا ځکه چې په روس باندې باید فشار داسې حد ته نه وای رسیدلی چې د تحمل وړ نه وای. د دې تر څنګ د پاکستان دا خیال هم ؤ چې کله مسکو د خپلو پوځیانو وتلو ته تیار شي نو د ژنیو د مذاکرو نتیجه په هغه وخت کې کار آمد ثابتیدلای شي. مسکو تیار ؤ او د دې فیصلې په کیدلو یې څو کلونه ووتل د دې فیصلې عوامل په بنیادي ډول په شوروي کې هغه تبدیلي وې چې د ګورباچوف صاحب په وخت کې منځ ته راغلې په لومړي ځل په ۱۹۸۷ کال کې شوروي اتحاد کوشش وکړ چې د کابل د حکومت او مجاهدینو تر منځ د جوړې او پخلا کیدلو خبرې پیل شي. ولې په دې وخت کې د مجاهدینو موقف مضبوط ؤ او د کابل سره خبرو ته نه ؤ تیار، همدا وخت ؤ چې شوروي اتحاد د خپلو پوځیانو مختصر تقسیم اوقات وړاندې کړ او د دې معاهدې په کیدلو سره شوروي ته دا ګټه ورسیده چې د یوې نړیوالې لوزنامې له مخې خپل پوځیان له افغانستان څخه وباسي. په دې موافقه کې اول د شوروي پوځیانو وتل، دوهم بهرنۍ مداخلې پای ته رسیدل،

دریم د دې لوزنامې تضمین او څلورم د افغاني مهاجرینو ستنیدل شامل وو.

د ژنیو دلوزنامې تر لاس لیک وروسته د شوروي اتحاد د بهرنیو چارو وزیر ادوارډ شیوردناتزی وویل چې د نن موافقه د شوروي د نوې تګلارې نتیجه ده چې په بهر کې خپلې ستونزې حل کړي:

د نن ورځې د موافقې لاس لیک د شوروي اتحاد د هغو فیصلو نتیجه وه چې په بهر کې خپلې سختې ستونزې له سیاسي لارې حل کاندې. دا کار د شوروي اتحاد د نوو خیالاتو برخه ده، دا موافقه د ښه نیت او روغې جوړې په نتیجه کې منځ ته راغلې ده.

د شوروي قواوې د افغانستان څخه ووتلې حکومت د روغې جوړې پروسه نوره هم مضبوطه کړه او حکومت ته یې داسې وزیران راوستل چې حزبي سابقه یې نه لرله، یو د دې وزیرانو څخه هم ډاکتر وديرصافی ؤ چې د ملي هوا نورد ی وزير وټاکل شو:

ما هم وزارت د هوا نوردۍ ملکي د صدر اعظم په بلنه ومنې علت دا دی چې موږ یو ځای د څو روشنفکرانو د کابل د افغانستان، د استادانو د پوهنتون د کابل او حتی ځینو مجاهدینو د ګروپونو د قومندانانو او

مشرانو سره چې مونږ سره يې نژدې اړيکې درلودې يا خپلوي يا قومي روابط درلودل ورسره مشوره وکړه. وضع ملي او بين المللی مونږ داسې تحليل کړې وه چې دا چې هميشه نجيب وايي چې يو څوک دې حاضر شي رادې شي د خبرو د لياړې نه به مونږ قدرت ورکوو. مونږ چون بې له هغه هم په داخل د کابل کې په افغانستان کې بيا خصوصاً په کابل پوهنتون کې د څوارلسو کالو را هيسې په حيث د استاد د حقوقو او سياسي علومو د پوهنځی ما کار کړی ؤ بيا رئيس د پوهنځي د حقوقو او علوم سياسي وم. نو همدا فيصله شوه چې دې خبری ته عملي بنه ورکوو په دې خاطر به کابينې ته ورننوزو دا قدرت به له دوی نه تقسيم کړو او دا چې يو وزارت هم د حزبيانو د حزب ديموکراتيک خلق د يو غړي د لاس نه کمېږي او د ملت د يو نفر لاس ته لوېږي هغه د ملت په گټه ترې نه کار اخلي دا لوی دستآورد ؤ، مثبت اړخونه لري او دهغه مقام او بودجې او ځای څخه د وطن له پاره، د آينده سالم جريان د افغانستان په گټه کار کوو، هلې ځلې کوو، تر څو چې د مجاهدينو يو صحيح حکومت د دوی ټولو په موافقه راشي بيا هغو ته د دې پر ځای چې حزب ديموکراتيک خلق يې ور انتقال کړي مونږ به دا قدرت ورانتقال کړو.

# ٤٢
# د تني کودتا

ډاکټر نجیب الله ژنیو ته تر یوه سفر وروسته وویل چې د مخالفو ډځینو مشرانو سره یې لیدلی او د قدرت انحصار نه غواړي:

د افغانستان جمهوري دولت د سوله غوښتونکو مخالفانو سره د خبرو، تفاهم او هر اړخیزې همکارۍ غوښتونکی او د هر ډول هلوځلو هر کلی کوي چې په هیواد کې د سولې د تأمین سبب وګرځي مونږ د قدرت د مسئلې سره انحصارګرانه برخورد نه لرو او د ټولو قوتو د متناسبې او عادلانه سهم ګیرۍ سره په مرکزي او محلي حکومتونو کې موافقه لرو. په

هیواد کې مهمه سوله ده او د آزادو انتخاباتو د لارې باید هر څوک د خلکو د محک له لیاری راشي او ورته معلوم شي چې په کوم ځای کې باید موقف ولري. ما چې د خپل سفر په ترخ کې په ژنیو کې د مخالفو ډلو مشرانو سره وکتل د هر څه د مخه مې پر وحدت ملي، دیموکراسۍ او انتخاباتو تأکید وکړ چې په هیواد کې د جګړې د بندیدلو یوائینۍ لاره ده.

په هیواد کې د ننه هم مخالفو سازمانونو ته د فعالیت اجازه ورکړل شوه یو د دی سازمانونو څخه هم د ملی ژغورنې سازمان و چې مشر توب یې د پوهاند اصغر خان پر غاړه و:

د هغه د مرستیال عبدالرحیم هاتف په ذریعه له زموږ سره دا ژمنه وشوه چې مداخله نه کوو. نو د دې امله چې موږ دا وازمیو یوه اعلامیه مو خپره کړله. هغوی زموږ دا اعلامیه په دریو ژبو دري، پښتو او انګریزي باندې د راډیو او تلویزیون له لیارې خپره کړه. هغوی وویل که څه هم په دې اعلامیه کې ځینې موضوعګانې زموږ د حکومت د سیاست څخه مخالفی دی خو څرنګه چې موږ له تاسو سره ژمنه کړې ده نو د خپریدو اجازه ورکوو. د همدې څخه څو میاشتې وروسته موږ د پلوشې په ورځپانه کې یو پرانستی لیک خپور کړ په نوموړي لیک کې مو په څرګندډول سره د

مجاهدينو تر مينځ د هم آهنګۍ د نشتوالي او هم د دولت د وضعې په هکله انتقاد ونه وکړل. په تدريجي ډول سره خبر يالانو زموږ سره اړيکې ټينګې کړې او موږ خپلو انتقادونو ته دوام ورکړ، موږ داولې ورځې څخه خپل هدف اعلام کړی ؤ چې موږ د واک د تر لاسه کولو له پاره کار نه کوو او زموږ هدف يوائې او يوائې په هيواد کې د سولې راوستل او د غم لړلي او ناوړه حالت څخه د اولس ژغورنه ده.

په حکومت کې د ننه د واک پر سر مخالفت روان ؤ او ان دا چې خبره کود تا او پاڅون ته ورسيده. جنرال شهنواز تنې چې د ملي دفاع وزير ؤ د ډاکټر نجيب الله پر ضد را پورته شو. سليمان لايق وايي چې ډاکټر نجيب الله په دې پاڅون خبر او د جنرال تنې سره په خبرو لګيا ؤ:

ډاکټر صاحب نجيب الله په خپله له تني صاحب سره پرله پسې ملاقاتونه کول ځکه چې هغه ته اطلاعات رسيدل چې داسې ځينې علامې وې مثلاً د دفاع دوزارت په شاوخوا کې ټانکونه په ځمکه کې ښخيدل د هغو سنګر بندۍ روانې وې او ډاکټر صاحب نجيب الله تاسې پوهيږئ چې هغه د افغانستان د ټولو وسله والو قوتونو سر قوماندان اعلى هم ؤ. نو دا اطلاعات ورته رسيدل او هغه د تني سره مينه لرله فکر يې کاوه چې دی يو شجاع سړی دی، بايد ضايع نه شي که نه هغه ته خو لاره اسانه وه چې يو

فرمان یو مکتوب د ده په عنوان صادر کړي او پیشنهاد وکړي هغه سر قوماندانی اعلی ته چې دی یې رئیس ؤ نو هغه به یې سبکدوشه کړی ؤ د حزب موافقه به یې هم اخیستې وای ځکه چې په حزب کې هم د اکثریت حمایه ورسره وه. نو په دې بنیاد باندې هغه ډیرې هلې ځلې وکړې او تني هم شخصاً هغه ته اطمینان ورکاوه چې زه کود تا نه کوم لیکن زه فکر کوم چې پر تني صاحب به ځینې داسې فشارونه وو چې هغه یې مجبور اوه دې ته چې په ده کې بدګوماني او په ده کې د آینده له پاره تشویش او په ده کې چې د ده پر ضد به کومه توطئه وشي که دی له دې قصې نه را سوړ شي نو پسې ورتود یې کړ تر څو چې کودتا ته یې مجبور کړ.

ډاکټر نجیب الله وایي چې ده هڅه کوله چې د دې کودتا مخه ونیسي او جنرال تني ته یې په خپل کور کې پر آشک میلمستیا ورکړې وه:

په کاله کې زما د کډې پښې خوږیږي، په لاره حرکت نه شي کولی دا را پورته شوه وایي چې تا تني را غوښتی دی د پښتنو کور ته راغلی دی. زه ورته پورته کیږم آشک ورته پخوم. او آشک یې ورته پوخ کړ. زه او وطن جاړور سره ناست یو او خبرې ورته کوو چې څه کوې په کومه لاره روان یې او ملګری تني په کومه لاره روان یې. اول خو په دې حادثه کې څوک ژوندي، نه پاتې کیږي بیا تا وګټله. دا تا چې وګټله د څومره ورځو

له پاره يې ساتلې شې ځکه که په يوازې ځان مو کولای خو بيا دا خبرې ضرور نه وې، سوله د څه شي له پاره ده، مصالحه د څه شي له پاره ده د دې خاطره نور قوتونه راغواړو وايو چې د انحصار د قدرت نه تير، چوکې زمونږ که شل دې دوې دې وي، درې دې وي او څلور دې وې نيمې دې وي خو دا نور دې هم راشي سره.

جنـــرال تنې وايي چې دا خبره صحيح ده ولې ورکې هدف بيل ؤ:

دا صحيح خبره ده آشک خو ده خلکو ته ورکاوه، ده خو ډير کوشش کاوه چې خلک منحرف کړي نه يوائې آشک بلکې خپل جنرالان او گوندي مشران يې منحرف کول نو ده خو حتی پوځيانو او گوندي مشرانو ته پيسې ورکولې، تطميع کول يې ځان ته يې تسليمول. ده په دې شکل يعنې د کې جې بي د خاديستی ميتود په واسطه سره ده غوښتل چې افغانستان اداره کړي په هيڅ باندې يې اعتماد نه کاوه او په هيڅ باندې يې باور نه کاوه هر چا ته په چل کې ؤ.

جنرال تنې وايي چې د ډاکټر نجيب الله حکومت پر پردو متکي ؤنو ځکه خپل گوند او ملت ته د منلو نه و:

د نجيب حکومت په ځان باندې تکيه نه لرله او پر پرديو متکي ؤ، نوله دې امله خپل گوند او ملت ته د منلو وړ نه ؤ برسيره پر دې په هغه وخت کې

په رژیم کې بې بند و باري اوج ته رسیدلې وه او دولتي دستگاه خپله اداره له لاسه ورکړې وه سیاسي مشرتوب په گوند او دولت کې د انحرافاتو د مخ نیوي او پاک کارۍ توان نه درلود. گوند د انشعاب خوا ته روان ؤ. روس او نجیب دواړو په گډه د مسکو د سیاسي او مادي گټو په خاطر د اردو تشکیلاتی جوړښت او قوت ټوټې کړ او د اردو ملي نظامي ساختار يې په شخصي، قومي او د کې جې بي په خادستي تشکیلاتو بدل کړ او موږ نه غوښتل چې پوځ د ملت په خلاف و جنگیږي او موږ دا غوښتل چې داولس په خوښه دولت جوړ شي ولې نجیب د قدرت نه لاس نه اخیست او په دې ډول يې د گوند او د ملت غوښتنو ته غاړه نه ایښوده نو ځکه موږ پاڅون وکړ او موږ د ملت په خاطر د خپلو گټو نه تیر شولو موږ دا غوښتل چې په ملک کې جگړه، ورور وژنه بس شي په ملت باندې د زور حکومت ونه شي او پوځ د ملت په خلاف ونه جنگیږي موږ غوښتل چې د لنډ وخت له پاره یوه مؤقته اداره جوړه شي. دا به د یوه داسې جمهوري سیستم نه دفاع کوي چې هغه په پارلماني مبارزه باندې متکي وي او په آزادو، سري او په پټو انتخاباتو کې هر څوک چې اکثریت وگټي هغه به پارلمان او حکومت جوړوي او د اقلیت ځښتن به د اپوزیسون ځای نیسي تر څو چې داولس، د ملت په خوښه منتخب حکومت جوړ شي او افغانستان آباد شي په دې

خاطر مورږ پاڅون وکړ.

ځینې خلک وایي چې دا کودتا تحمیلي او جنرال تني بله لاره نلرله. ولې سلیمان لایق دا خبره نه مني:

ما هم اوریدلی دی له ځینې پخوانیو ګوندی ملګرو نه چې د دې کود تا سره چې بیا وروسته ملګري شول او د حزبهٔ تصفیه شول له هغوی نه ما داسې واوریدل چې ګواکي تني صاحب دی کود تا ته مجبور شوی دی او پری تحمیل شوې ده. زه فکر کوم چې دا خبره په یوه معنی سمه ده او په یوه معنی غلطه ده، غلطه خو په دې معنی ده چې ده د جمهور رئیس په مقابل کې کودتا وکړه که دا کودتا ډاکټر صاحب نجیب الله لکه چې د تني صاحب ځینی مدافعین وایی چې پر ده یې تحمیل کړې وه نو زه فکر کوم چې یو سړی چې هم رئیس جمهور وي، صدر اعظم وي او هم د ټولو وسله والو قوتونو رئیس وي او سر قوماندان اعلی وي هغه باید د کوم هدف له پاره خپل د دفاع دوزیر په مقابل کې کودتا کوي. دا خو منطق نه لري په ټوله دنیا کې تاسو وګورئ د قدرت د اخیستلو له پاره کودتا کیږي دا قدرت خو هغه نقد درلود او دا صلاحیت یې هم درلود چې که یې وزیر دفاع نه غوښتی د هغه استعفی لزوماً برطرفي دا خو په داسې هیوادونو کې چې د جنګ په حال کې وي دا بیا ډیر ساده کار دې. په دی لحاظ دا غلطه ده. او

صحیح هم ده په دې معنی صحیح ده چې پر تنی صاحب باندې دا کود تا تحمیل شوه چې جنرال شهنواز تنی د ځینې داسې حزبي جاه طلبو عناصرو تر نفوذ لاندې ؤ چې هغوی د ځینې سیاسي تغییراتو په وجه چې خپل مقامونه یې د لاسه ورکړي وو په تني یې فشار اچاوئ او همدغسې هغو پر ځینو قوماندانانو چې په سیاست کې د دوی تر نفوذ لاندې وو په هغو یې فشار اچوئ چې باید په نجیب باندې دوی سترګې سرې کړي او نجیب مجبور کړي دې ته چې دوی هغو پخوانیو مقاماتو ته راولي او که یې نه راولي نو باید دی د نظامي قوتونو د اعمال په وسیله باندې له قدرت نه وغورځول شي.

خیال محمد کتوازی وایي چې پوځی جنرالان د کود تا په خطر پوه او ورته یې د منځګړتوب بلنه ورکړې وه:

د تنی ملګرو چې په رهبرۍ کې ورسره وو دوی وویل چې مونږ ځینې د رهبري ملګرو ته مخ کې وویل چې تاسو د دی مخه ونیسئ سوله وکړئ په مینځ کې، تا ته هم وایو ته په مینځ کې کښینه مصالحه وکړه سره جوړ مو کړه. بیا ما ورته وویل په دواړو سترګو البته په دې کې آصف شور او ختیګر او ځینی کسان چې په رهبري کې وو هغوی راغلل زما کور ته بیا ما وویل ښه دی بیا دوی په کور کې راته ناست وو ما ته یې وویل چې ته

د نجیب سره که امکان د دې وی چې یو تماس ورسره ونیسې موږ به ورسره وو ینو تول. ما بیا تیلفون وکړ کوشش مې وکړ له نجیب سره مې ارتباط پیدا کړ. بیا هغه وویل چې په دې خبره کې خو زه راضي یم او زه خو سوله غواړم. سمه دده ما له هغه سره بیا ولیدل او هغه را ته وویل چې دوی حاضر دي سولې ته زه خو سل واري حاضر یم سره کښینو خبرې به سره وکړو که زه ملامت وم دا دی ته په مینځ کې کښېنه ما ته وواېه که دوی ملامت وو دوی هم البته ما ته ویلي وو چې ته په مینځ کې کښېنه د منځګړي په حیث باندې بیا هغه وویل چې صحیح دۀ سره له دې چې ته د دوی لخوا یې بیا هم زه حاضر یم. ښه زه بیرته راغلم دوی ته مې وویل دوی ومنل ټولو. خبره په دې کې راغله چې بیا سبا په نهو بجو باندې دوی سره کښېني خبرې ورسره وکړي دغه کسان چې د تنې په شاوخوا کې دا شپږ اووه نفره دوی را تلل د نجیب سره یې سبا پر نهو بجو باندې کتل او سوله یې سره کوله پر نهو بجو ما تیلفون وکړ دوی ټول راغلي وو وزارت دفاع ته، ټولو هغه تشریفاتي دریشي کړې وې چې باید نجیب سره ووینې. د رئیس دفتر په اطاق کې ټول را جمع شوي وو بیا یې وویل چې موږ حاضر یو پر نهو بجو راځو. پر نهو بجو نجیب هم ورته وقت تعیین کړی ؤ، نور پروګرامونه یې لغوه کړي وو بیا تقریباً نهو بجو ته څو دقیقې پاتې وې چې ما ته یې بیرته تیلفون

وکړ دا جعفر سرتېر هغه را ته ټيلفون وکړ چې زموږ کار خراب شو موږ نشو درتلای، دوې دقيقې او که درې دقيقې پاتې وې نهو بجو ته، ما وويل ولې دوی وويل: چې موږ دوزير صاحب دفاع په دفتر کې ټول سره جمع شوي يو او وزير صاحب دفاع اجازه نه را کوي البته دغه ليدنه دوی د تنې په غياب کې کوله د نجيب سره او ويی ويل چې موږ په غياب کې دا کار کاوه او دا دی وزير صاحب دفاع خبر شوی دی موږ يې خپل دفتر ته راوغوښتلو دغه دي دی حاضر دی او دی را ته وايي چې زه اجازه نه در کوم چې د نجيب سره ووينئ ځکه چې زه نه غواړم چې ورسره جوړ شم او موږ غواړو چې بايد هغه له منځه ليرې کړو. بيا ما بير ته نجيب ته ټيلفون وکړ هغه کيسه مې په هغه شان ور ته وکړه بيا نجيب وويل چې دا دی بيا ونه وايې چې ته ملامت يې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ٤٣

# د ملگرو ملتونو د سولي د پروسې ناکامي او د ډاکټر نجیب الله سقوط

که څه هم د ډاکټر نجیب الله حکومت وکولای شول چې د تنې کود تا ناکامه کړي. ولی د افغانستان په شرقي ښارونو کې د سخت فشار سره مخامخ ؤ خو سلیمان لایق دا خبره نه مني او وايي چې مجاهدینو په خپل زور ونشو کړای چې د هغوی حکومت را وغورځوی:

زه باور لرم چې مجاهدین به له مانه په دې خبره نه خپه کیږي که زه ووایم چې دوی په زور باندې امکانات نه لرل چې د افغانستان جمهوري نسکوره کړي، البته زموږ په گوند او دولت کې د ننه جدي اختلافات چې

ما تاسو ته وويل چې هغه هم د ځينې خارجي د سايسو او لسون په اساس رامينځ ته شول وضع داسې شوه چې د قوت توازن نور د افغانستان د جمهوري دولت د ساتلو په گټه نه و. يعنې ز مور خپل قوتونه لکه مثلاً د شمال قوتونه هغو زياتي د مركز اطاعت خوشي كړ، هغوى د جمعيت له سازمانه سره، هغوى د وحدت د سازمانه سره، هغوى د احمد شاه مسعود سره په پنجشير كې ائتلاف وكړ دوستم صاحب او دغسې سيد منصور آقا، دغسې مومن په حيرتانو كې، دغسې مثلاً جنرال هلال د مزار شريف په هوايي ميدان كې را پاڅيدل لهذا دا ډيره مشكله وه چې هلته په شمال كې له خپلو قوتونو سره اخته شي او دلته له ټولو مجاهدينو سره چې د كابل په جنوب كې، شرق كې او په غرب كې را ټول شوي وو له دوى سره هم اخته شي.

رحيم الله يوسفزى وايي چې د شوروي ستونزې او د افغانستان د حكومت اقتصادي مشكلات هم بې څه نه وو.

په شوروي كې يو بدلون راغی او هلته چې كومې د هغوى مجبورې وې د هغو اقتصادي مجبوريو په وجه باندې له هغو سره دا توان نه ؤ چې نور كومكونه وكړي، د افغانستان سره هم د وسلې او هم د پيسو او هم د نورو خوراكي موادو، نود دې په وجه باندې د افغانستان ټول دارمدار،

ټول تجارت هغه په روس باندې ؤ په شوروي باندې و نو چې هغه کومکونه لږ کم شول یا بندل شول نو د هغه په وجه باندې د افغانستان د حکومت مشکلات زیات شول او زه همدا خبره کوم چې اقتصادي مشکلات چې وو د پیسې د کمی، د تیلو کمی او د خوراکي موادو کمی په وجه باندې د ډاکټر نجیب الله حکومت ډیر کمزوری شو او داسې یو وخت راغی چې د هغوی سره تیل نه وو چې هغوی الوتکې والوزوي نو دا ډیر غټ مشکلات وو.

د ملګرو ملتونو په مشرتوب هڅې روانې وې چې یو انتقالي حکومت جوړ شي او د ډاکټر نجیب الله څخه واک ترلاسه کړي د حزب اسلامي مشر انجنیر ګلبدین حکمتیار وایي چې هغوی په داسې یوه طرحه موافقه کړې وه چې ورکې داسې کسان شامل وي چې ورباندې اختلاف نه وي:

زموږ طرحه دا وه چې باید یو موقت حکومت د غیر متنازع فیها شخصیتونو نه چې ټولو تنظیمونو ته د منلو وړ وي او د هغوی پر سابقه باندې اعتراض نه وي، له د غسې شخصیتونو نه جوړ شي، قدرت د نجیب د حکومت څخه د قید و شرط نه پرته په کامل طوردې اداري ته انتقال شي او بیا په شپږو میاشتو کې انتخابات ترسره شي د دې له پاره چې نه مو

غوښتل چې په کابل کې وینه توی شي، کابل وران شي د اقتدار په سر مسلحانه برخورد او کشمکشونه پیل شي. ملل متحد هم دې ته ورته یو ه طرح وړاندې کړه، تنظیمونو په خپلو منځونو کې په دې توافق وکړ، په افرادو بحث وشو، لست ترتیب شو نژدې ؤ چې په دې باندې عملاً کار پیل شي ولی متأسفانه جمعیت د دی مخالفت وکړ هغه چې په کابل کې د ځینو جنرالانو په مرسته یوازی قدرت ته د رسیدلو هڅه کوله پس له دې چې په لست باندی توافق راغلی ؤ د دې پروسې مخالفت یې وکړاو پرې یې نښودل چې داسې یو حکومت جوړشي او قدرت هغه ته انتقال شي.

د افغانستان جمهور رئیس پوهاند برهان الدین رباني وایی چې دا د مجاهدینو ستراتیژي وه او هر څوک چې ورته تسلیم شوي وای د عمومي عفوې له مخې ورته ځای موجود ؤ:

دا زموږ یوه همیشه گي ستراتیژي او پالیسی ده، د دولت هر یو قوماندان، هر گروپ که ملیشه وی او که پوځي سړی وي کله چې غواړي چې د مجاهدینو خوا ته تسلیم شي موږ همیشه د عفوې عمومی اعلان کړی او دوی ته موږ همېشه بلنه ورکړې له دې کبله په همدې اساس هغه کسان چې غوښتي يې دي چې مجاهدينو ته تسليم شي مجاهدينو قبول کړي دي، له دې کبله موږ د غه دوستم او د کيان او نور هر څوک چې غواړي چې

مجاهدینو ته نژدې شي البته زموږ لخوا هیڅ ممانعت نشته.

مولوي محمد یونس خالص وایي چې یوازنۍ لاره اسلامي حکومت ده او نور څه ورته د منلو نه وو:

موږ دا دومره جهاد چې کړی دی د دې له پاره مو کړی دی چې موږ ته دا معلومه شوې ده چې یعني په افغانستان کې یوائې نه بلکه په ټولو اسلامي ممالکو کې په هغه ځای کې واقعاً ملت ودانیدی شي او قوم ودانیدی شي او هغه حکومت مخ په وړاندې تللی شي چې هغلته د حکومت او د ملت ملاتړ له یو بل سره موجود وي کله چې په کوم ملت کې دوې رهبرۍ موجودې وي هغه مخ په وړاندې تللی نه شي مثلاً په افغانستان کې یو حاکم ظاهر شاه ؤ او بل حاکم علما وو، علما وو به یو څه کول ده به بل څه کول نو خلکو د ده سره ملاتړ نه درلود نو زموږ په نظر باندې باید حکومت اسلامی هغسی حکومت اسلامی وی چې د هغه په سر کې خلک هم پر اسلامی فکر باندې دا جامعه روانه کړي. بیا به ور سره علما متحدوي او هغه به په یوه رهبري باندې روان وي خلک به ورسره متحد وي، بیا د اقتصاد له پاره هم کار کولی شي، مصانع هم جوړولی شي، په هغه ځای کې زراعت هم پیشرفت کوي، په هغه ځای کې سیاسي لاره هم یوه وي، ټول شیونه دا کار کولا شي د دغه له پاره موږ پوهیدلو

چې بین الملل دلته موږ ته کـه کومـه رهبـري راولي هغـه رهبري به داسـې رهبـري نه وی چې دهغـې سـره اسـلامي اوبـل د دې ملت فکر وي او په اسلامي فکر باندی رهبري وکړی ځکه د هغه سره موږ موافقه ونه لرله او اوس هم خلک د بین الملل چیغی وهي خو موږ باور لرو چې تر ځو پورې چې هلته اسلامي حکومت قایم نه شي په منطقه کې امنیت راوستل د محالاتو نه دي.

**د افغـانسـتـان لـه پاره د ملگرو ملتـونو خاص اسـتـازي بنین سـوان د سـولې پروسه په مخه اخیستې وه او تر ډیرې سلا مشورې وروسته ډاکتر نجیب الله موافقه وکړه چې یو انتقالی حکومت ته واک ور وسپاری:**

ما همدا اوس د ملگرو ملتونو د عمومي منشي د خاص استازي آقای بینن سـوان سـره د خبـرو یوه جـدي دوره سـرته رسـولې ده دا خبـرې د هغـو کوششـونو په هکله وې چې په افغـانسـتـان کې د حل یوه لاره را مـینځ ته شي. مـا د ملگروملتـونو د عـمومي منشي دهغو هلو ځلو چې یوه افغـاني تېولنه یې پیشنهاد کړې ده د افغانسـتـان د حکومت لـه خوا دمـلاتړ ډاډ ورکړی دی. ما همـدا ډول ژمنه کړې چې د ملگروملتونو په پیشنهاد شوې افغاني گرد همـآیی کې چې عمـومي منشي یې کوربه توب پر غاړه لري د گډون اصـرار نه کوم، ما مـوافقـه کړی ده چې د ملگرو ملتونو د سولی د

پروسې په ترڅ کې چې په کابل کې یو انتقالي حکومت جوړ کړي نو موږ به ټول اجرائیوي واک د دې حکومت د جوړېدو سره سم په هم هغه ورځ ورسپارو څنګه چې آقای بطروس غالي ویلي دي انتقالي حکومت باید د پوره واک درلودونکی وي او باید د افغانانو امنیت، مصئونیت او د افغانستان وحدت او ارضي تمامیت وساتي.

د ډاکټر نجیب الله استعفی ء د هغه ستونزې نورې زیاتې کړې، په دې وخت کې د بي بي سي خبریال کرسباور په کابل کې حاضر ؤ او وایي چې د ډاکټر نجیب الله تر رالویدلو یوه شپه وړاندې یې د ګوندي مشرانو سره خبرې کړې وې:

د حکومت تر چپه کیدلو یوه شپه وړاندې د حزب یو لوړ رتبه کس چې د ډاکټر نجیب الله نژدې ملګری ؤ او ور څخه لیرې کیده ماته وویل چې شپږ سوه ازبک ملیشیا او یوه سلسله الوتکې مو د شمال څخه راوستلې دي نجیب د یوې یا دوو الوتکو اجازه ورکړې وه، ولې لس الوتکې را ښکته شوې دا کسان د لوګر له پاره راوستل شوي وو حکومت د حکمتیار د حملې څخه په بیره کې ؤ ولې دا ملیشیا په هوایي ډګر کې پاته شول. ملګري ملتونه د پنځلسو کسانو په انتظار کې وو چې موقتي اداره جوړه کړي زما له معلوماتو سره سم د کابل له خوا څخه نهه کسان ور معرفي

شوي وو او وربانديې موافقه شوې وه، د مجاهدينو له خوا څخه ملګرو ملتونو شپږو نورو کسانو ته ضرورت درلود، ملګري ملتونه پر پاکستان متکي وو چې پر مجاهدينو فشار راولي چې شپږ کسان ورته معرفي کړي په پای کې د دې نومونو هيڅ درک نه وو، بنين سوان چې په دې وخت کې د کابل او اسلام آباد ترمنځ په تګ او راتګ لګيا ؤ کابل ته د شپې ناوخته را ورسيد او ويې ويل چې پروسه ناکامه شوه او هڅه يې وکړه چې ډاکټر نجيب الله د کابل څخه وباسي. نجيب الله وارخطا شو، او د جنرال عظيمي څخه يې چې د کابل د ګارنيزيون قوماندان ؤ، د شپې نوم تر لاسه کړ او د جمهوري رياست څخه تر هوايي ډګر پورې چې بنين سوان هم ورسره ملګرۍ ؤ تر شپږو پوستو تير شو ولې په هوايي ډګر کې د وروستۍ پوستې له خوا چې ورکې ازبک مليشيا اچول شوي وو راوګرزول شو او ډاکټر نجيب الله بير ته د ملګرو ملتونو دفتر ته راغی او په کابل کې پناهنده شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نښلونې

د نومونو پېژندګلوي

کال شمیرنه

تاریخي سندونه

د امیر امان الله خان لومړنۍ وینا

پادشاهي فرمان

د افغانستان د جمهوریت اعلام

د بریتانیې او افغانستان ترمنځ د دوستۍ معاهده

قوانین

د افغانستان د لوړ دولت اساسي نظامنامه

د افغانستان د دولت اساسي اصولنامه

د ۱۳۴۳ کال اساسي قانون

د افغانستان د جمهوري دولت اساسي قانون

د افغانستان د جمهوریت اساسي قانون

د متن نوم ښود

# د نومونو پېژندګلوي

**اعتمادي، توريالي:**

دغلام حيدر خان زوی او دسردار عبدالقدوس اعتماد الدوله لمسی دی. په ۱۹۲۳ کال کې په کابل کې زېږېدلی، لومړنۍ زده کړې يې د استقلال په ليسه او لوړې زده کړې يې د کابل پوهنتون دعلومو په پوهنځي کې سرته رسولې او ماستري يې په فيزيولوجی کې له امريکې څخه تر لاسه کړې ده. نوموړی دعلومو د پوهنځي درئيس او بيا د کابل پوهنتون درئيس په توګه دندې سرته رسولې دي. د داؤد خان په مشرۍ دجمهوري نظام په رامنځ ته کيدو سره، څه موده بيکار او وروسته بيا په پاريس کې په يونسکو کې مقرر شو.

**اعظم، داکتر غلام فاروق:**

داختر محمد زوی په ۱۹٤٥ کال په کندهار کې زېږېدلی دی. ثانوی زده کړی يی د کندهار په ميرويس ليسه کې کړې دي. د کابل پوهنتون د اقتصاد پوهنځی

تر فراغت وروسته یې د امریکا څخه په زراعتي اقتصاد کې دوکتورا اخیستې ده. په وادي هیرمند کې د کرنې د پراختیا مدیرؤ او د خلق په حکومت کې زندان ته واچول شو. تر خوشي کیدلو وروسته پاکستان ته مهاجر شو او په ملي محاذ کې مرستیال و ټاکل شو. د مجاهدینو په مؤقت حکومت کې د تعلیم او تربیې او د نجیب تر سقوط وروسته د مهاجرو وزیر شو. اوس په پیښور کې ژوند کوي.

**الهام، پوهاند محمد رحیم:**

الهام د فضل الدین زوی او په ۱۹۳۲ کال کې د کابل و لایت د چهاردهی په ریشخور کې زیږیدلی دی. د کابل په غازي لیسه او د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو په پوهنځی کې یې لومړنۍ او لوړې زده کړې بشپړې کړې دي. د ماسترۍ دوره یې په متحده ایالاتو کې لوستې او په ژبپوهنه کې یې د نوموړې دورې ډیپلومه تر لاسه کړه. نوموړی د کابل پوهنتون د استاد او د مترقي دیموکراتانو داوونیزې جریدې مساوات د مسوول مدیر په توګه د ندې سرته رسولې دي. د پښتو او فارسي ژبو له نامتو لیکوالو او شاعرانو څخه دی. اوس په پیښور کې اوسیږي.

**امین، حفیظ الله:**

د حبیب الله خان زوی او په ۱۹۲۹ میلادي کال کې په پغمان کې وزیږید. ابتدایي زده کړه یې په پغمان کې وکړه او وروسته د کابل دار المعلمین ته ولاړ. د کابل پوهنتون د ساینس د پوهنځي څخه یې په فزیک او ریاضي کښې د لیسانس درجه تر لاسه کړه او وروسته د عالی تحصیلاتو له پاره امریکا ته ولاړ او په تعلیم

وتربیه کی یی ماستری واخیستله. دکابل دارالمعلمین او ابن سینا مدیریتونه یې کړي دي او وروسته په اولسی جرګه کی د پغمان وکیل ؤ. کله چی د خلق ګوند حکومت ونیوی دوزیر خارجه او دصدراعظم مرستیال شو. په ۱۹۷۹ کې یې نورمحمد تره کی دقدرت څخه لیرې کړ او په خپله ددولت رئیس شو. څلور میاشتي وروسته کله چې روسان افغانستان ته ولاړل حفیظ الله امین یې وواژه.

**امین، رسول:**

دمحمد امین زوی او په ۱۹۳۸ کال کی دکونړ په وټه پور کی زیږیدلی دی. په ۱۹٤۷ کال یې کورنۍ مزارشریف ته تبعید شوه. دلیسانس او ماسترۍ درجه یې په سیاسي علومو کې د پیښور داسلامیه کالج څخه واخیستله ،دکابل په پوهنتون کی استاد ؤ چې په ۱۹۷۹ کال کې بندي او په ۱۹۸۰ کال تر خوشي کیدلو وروسته پاکستان ته مهاجر شو. په پیښور کی یې دلیکوالو اتحادیه جوړه کړه چې تر اوسه پورې یې د هغی دریاست دنده پرغاړه ده.

**بدخشی، طاهر:**

دوکیل ظاهر زوی او په بدخشان کی زیږیدلی دئ. دحبیبې لیسه او د کابل په پوهنتون کی یې داقتصاد پوهنځی ویلی دی. دخلق دډیموکراتیک ګوند دمؤسسی کنګرې او دمرکزي کمیټې غړی ؤ. دخلق دګوند تر انشعاب وروسته دکارمل سره یو ځای شو چی وروسته یې د پښتنو ضد ستم ملي ګوند جوړ کړی او دحفیظ الله امین په حکومت کې ووژل شو.

**بینوا، عبدالرؤف:**

دمولوي عبدالله زوی او په ۱۹۱۳ کال کې په کندهار کی زیږیدلی دئ. دشاه محمود خان په صدارت کی دویښو زلمیانو غړی ؤ. دپښتو ژبې شاعر او لیکوال ؤ. دکابل راډیو رئیس او دمیوندوال په صدارت کې لږ وخت د اطلاعاتو او کلتور وزیر ؤ. دببرک کارمل په وخت کې په لیبیا کې سفیر شو چې وروسته امریکا ته مهاجر او هلته په ۱۹۸٤ کال په حق ورسیدئ.

**تره کی، نور محمد:**

په ۱۹۱۷ کال کی دغزني ولایت په ناوه کی زیږیدلی دی. ابتدایي زده کړه یې دناوې په اولسوالۍ کی سرته رسولې او په ۱۹۳۲ کال کې دکندهار په پښتون شرکت کې ورته کار پیدا شو. وروسته دپښتون شرکت له خوا بمبیي ته ولیږل شو چې په همدې وخت کی یې دشپې لیسه تر لسم ټولګي پورې ولوستله. په ۱۹۳۷ کال کی افغانستان ته راغی او دعبدالمجید زابلی دقلم مخصوص مدیر وټاکل شو. وروسته په باختر آژانس او کابل راډیو کې مامور شو. دشاه محمود خان په وخت کی دویښو زلمیانو غړی او دشاه محمود خان دحکومت په آخر وخت کې په واشنګټن کې مطبوعاتی آتشه وټاکل شو. دسردار داؤد خان دصدارت په پیل کې راوغوښتل شو او کار ورنکړل شو. په ۱۹٦۵ کال کې یې دجنوري پر اوله نیټه دخلق دیموکراتیک ګوند تاسیس کړ او په لومړۍ کنګره کې یې عمومي منشي وټاکل شو. د ۱۹۷۸ کال دثور په کودتا کې دافغانستان ددولت رئیس وټاکل شو. په ۱۹۷۹ کال کې دسپتمبر پر شپاړسمه نیټه دقدرت څخه لیرې

کړای شو او د اکتوبر پر نهم تاریخ ووژل شو.

**پژواک، عبدالرحمن:**

د قاضي عبدالله زوی او په ۱۹۱۹ کال کې د مارچ په اوومه نېټه په غزني کې وزیږېد. د ننګرهار د سرخ رود د باغوانیو او سېدونکی ؤ. ثانوي زده کړه یې د کابل په حبیبیې لیسه کې پوره کړې ده. اسلامي قانون او فارسي ادبیات یې په شخصي توګه ویلي دي. د دري او پښتو ژبې ښه شاعر او لیکوال ؤ. په ۱۹۳۹ کال کې د اصلاح مسئوول مدیر مقرر شو چې دوه کاله وروسته د پښتو ټولنې عمومي مدیر وټاکل شو. په ۱۹٤٦ کال کې په لندن کې مطبوعاتي آتشه وټاکل شو چې یو کال وروسته واشنګټن ته تبدیل شو. په ۱۹۵۵ کال کې د بهرنیو چارو په وزارت کې د سیاسي چارو عمومي مدیر مقرر شو. په ۱۹۵۸ کال کې په ملګرو ملتونو کې د افغانستان دایمي نماینده شو چې د عمومي اسمبلۍ ریاست ته هم ورسېد. په ۱۹۷۳ کال کې په ډیلي کې د افغانستان سفیر شو. په ۷۸-۱۹۷٦ کلونو کې په لندن کې د افغانستان سفیر ؤ چې په افغانستان کې کودتا وشوه. په ۱۹۸۲ کال کې د کابل څخه ووت او په پاکستان کې مهاجر شو. په ۱۹۹۵ کال کې په پېښور کې په حق ورسېدئ.

**پیوند، علي ګل:**

په کونړ کې زیږېدلی او ثانوي زده کړه یې په کابل دارالمعلمین کې کړې ده. د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي لیسانس او د خلق د دیموکراتیک ګوند غړی دی. په ۱۹۷۹ کال کې د خلق تر کودتا وروسته د مطبوعاتو د وزارت معین وټاکل شو. د ببرک کارمل په حکومت کې بندي شو او اوس په آلمان کې ژوند

کوي.

**جاوید، عبدالاحمد:**

دحاجي عـزت زوی دی په ۱۹۲۵ کـال کی په کـابـل کی زیږیدلی دی. ثانوي زده کړه یی په حبیبیې لیسه کی کړې ده او لیسانس یې د کابل پـوهنتون دحقوقو او سیاسی علومو څخه اخیستی دی. په فارسي ادبیاتو کې یې د تهران د پوهنتون څخه ماستري او دوکتورا اخیستې ده. په ۱۹۷۲ کال کې د کابل پوهنتون رئیس شو. په ۱۹۸۰ کـال کې د علـومـو داکاډمی په دري ډیپارتمنت کې مقرر شـو او د آکاډمیسن رتبې ته ورسید. اوس په لندن کې مهاجر دی.

**جلیلی، عبدالرشید:**

د عبدالجلیل زوی او په ۱۹۳۹ کـال په کونړ کی زیږیدلی دی. په افـغـانستـان کی تر زده کـړې وروسـتـه یې دامریکـا څخـه مـاسـتـري او د شـوروي اتحـاد څخـه دوکتورا واخیستله. د کابل پوهنتـون د کرنې په پوهنځي کې استاد ؤ او د ثور تر کودتـا وروستـه د کابل پوهنتـون رئیس وټاکل شو. په ۱۹۷۹ کـال کې د ښوونې او روزنې وزیر شـو چې وروسـتـه بیا د کـرنې او اصـلاحـات اراضي وزیر مـقـرر شـو. حفیظ الله امین ته نژدې ؤ او په ۱۹۸۰ کال کی د ببرک کـارمل له خوا بندي شـو چې د ډاکتر نجیب الله په حکومت کې خوشی شو.

**حکمتیار، گلبدین:**

د عـبدالقـادر زوی او په ۱۹۵۰ کـال کې د قندز په امام صـاحب کې زیږیدلی

دی. لومړنۍ زده کړه یې د امام صاحب په لیسه کې کړې او وروسته په کابل پوهنتون کې په انجنیري پوهنځي کې داخل شو. په دې وخت کې چې په کابل پوهنتون کې سیاسي فعالیت خپل اوج ته رسیدلی ؤ د نورو ترڅنګ یې اسلامي فعالیت پیل کړ. د محصلانو په اتحادیه کې هم فعال غړی ؤ او په ۱۹۷۲ کال کې د سیاسي فعالیت له کبله بندي شو. د جمهور رئیس محمد داؤد خان په وخت کې د کودتا تور ورباندې ولګول شو او د بندي کیدلو هڅه یې وشوه. په دې وخت کې په پاکستان کې مهاجر شو. د حزب اسلامي مشر او په ۱۹۹۳ کال کې د مجاهدینو په حکومت کې صدراعظم وټاکل شو.

**خالص، مولوی محمد یونس:**

د مولوي عبدالاکبر زوی او په ۱۹۱۹ کال د خوګیانو په ګندمک کښې زیږیدلی دی. اسلامی علوم یې لوستي او د پښتو لیکوال او شاعر دی. په کابل راډیو کې د اسلامي ښوونو ښوونکی او د ګهیځ د جریدې سره یې فعاله مرسته کوله. په ۱۹۷۳ کال کې یې د جمهور رئیس داؤد خان د حکومت له خوا د بندي کیدلو هڅه وشوه ولی پاکستان ته مهاجر شو. د حزب اسلامی غړی ؤ چې وروسته یې د حزب اسلامي خالص په نوم خپل حزب جوړ کړ.

**خټک، اجمل:**

په ۱۹۲۵ کال کې د صوبه سرحد په نوښار کې زیږیدلی دی. د پښتونستان د مسئلې مخکښ ملاتړی او د ۱۹۶۰ او ۱۹۷۰ کلونو په لسیزه کې په افغانستان کې مهاجرؤ. د پښتو ژبې لوی شاعر او لیکوال دی او په کابل کې یې

دببرک کارمل دحکومت پوره ملاتړ کاوه. په ۱۹۹۱ کال کې پاکستان ته راغلی او اوس د عوامي نیشنل ګوند مشر او د پاکستان دسنا غړی دی.

**ربانی، برهان الدین:**

د محمد یوسف زوی او په ۱۹٤۰ کال په فیض آباد کې زیږیدلی دی. ثانوي زده کړه یې د کابل په دارالعلوم کې پوره کړه. د کابل پوهنتون د شرعیاتو د پوهنځی څخه په ۱۹٦۳ کال کې راووت او سمدستي په همدې پوهنځي کې استاد مقرر شو. د مصر الازهر پوهنتون ته د لوړو زده کړو له پاره ولیږل شو او په ۱۹٦٥ کال کې یې ماستیري واخیستله. د مصر څخه تر راګرځیدلو وروسته د کابل پوهنتون په شرعیاتو پوهنځی کې د فلسفې استاد او د ریسرچ د ډیپارټمنټ غړی ؤ. د لومړي سر څخه د اسلامي تحریک غړی او په کابل پوهنتون کی په سیاسی فعالیت بوخت ؤ. په ۱۹۷٤ کال کې په پاکستان کی مهاجر شو. د افغانستان د جمعیت اسلامي مشر او د ۱۹۹۲ کال څخه را وروسته د افغانستان د دولت رئیس دی.

**رشاد، پوهاند عبدالشکور:**

د عبدالغفار زوی او په ۱۹۲۱ کال کې په کندهار کې زیږیدلی دی. زده کړه یې په شخصی توګه کړې ده په ۱۹۳۵-٤۲ کلونو کې په کندهار کې ښوونکی ؤ. په ۱۹٤۷ کال کې د کندهار د ښاروال مرستیال او د ۱۹٤۸-٥٥ کلونو ترمنځ په هند کې وکیل تجار او په ۱۹٥٦ کال کې د پښتو ټولنې مرستیال وټاکل شو. په

۶۴-۱۹۶۲ کلونو کې په لیننګراډ کې د پښتو ژبې استاد ؤ. د ۱۹۶۵ کال څخه راوروسته په کابل پوهنتون کی د پښتو ژبی استاد ؤ. دشاه محمود خان په لومړۍ ډیموکراسۍ کی دویښو زلمیانو فعال غړی او په ۱۹۶۶ کال کې د مساوات دجریدې چی دډیموکرات مترقي ګوند نشراتي ارګان ؤ دامتیاز خاوند ؤ. ښه شاعر او لیکوال دی چې ډیر کتابونه یې چاپ شوي دی. او داکاډیمسن علمي رتبی ته رسیدلی دی.

**رشتیا، سیدقاسم:**

دسید حبیب زوی او په ۱۹۱۳ کال کی زیږیدلی دی. په کابل کې یې داستقلال لیسه او داقتصاد انستیتوت ویلی دی.

په ۳۸-۱۹۳۴ کلونو کی دکابل دمجلې مدیر و اؤ په ۱۹٤۱ کال کې دمطبوعاتو مستقل رئیس شو. په چکوسلواکیا، مصر او جاپان کې دافغانستان سفیر پاته شوی دی. په ۱۹۶۳ کال کې دمطبوعاتو وزیر وټاکل شو. ښه لیکوال او مؤرخ دی چې ډیر تاریخي کتابونه یې لیکلي دي.

**روستا مل، محمد احسان تره کی:**

دمحمد زمان تره کی زوی او په ۱۹۳۳ کال کې په کابل کې زیږیدلی دی. ثانوی زده کړه یې په استقلال لیسه کی سرته رسولې او په ۱۹۵۷ کال کې یې دکابل پوهنتون دحقوقو او سیاسي علومو دپوهنځي څخه لیسانس واخیست او په همدې رشته کی فرانسې ته ولیږل شو چی په ۱۹۶۵ کال کې یې دفرانسې څخه دوکتورا واخیستله. په کابل پوهنتون کې دحقوقو پوهنځي استاد ؤ او په

۱۹۶۶ کال کې دعدليې وزير وټاکل شو. په ۸۳-۱۹۷۸ کلونو کې په اندونيزيا کې دافغانستان سفير ؤ. اوس په فرانسه کې دخپلې کورنۍ سره يوځای ژوند کوی.

**زهما، علی محمد:**

دجان محمد زوی او په ۱۹۲۸ کال په کندهار کی زيږيدلی دی. په کندهار کې يې داحمدشاه بابا ليسه ترلسم ټولگي پورې لوستې ده او دحبيبيې ليسې څخه فارغ شوی دی. په ۱۹۵۰ کال کی دکابل پوهنتون د ادبياتو د پوهنځي څخه فارغ شو. دلندن پوهنتون څخه يې دافغانستان په تاريخ کې ماستري اخيستې ده. په کابل پوهنتون کې دادبياتو پوهنځي استاد ؤ. په ۱۹۷۹ کال کی بندی شو او په ۱۹۸۰ کال کې دزندان څخه تر خوشي کيدلو وروسته دعلومو په اکاډمی کی ؤ، اوس په آستريا کې دخپلی کورنۍ سره يوځای اوسي.

**شاه محمود خان:**

شاه محمودخان دسردار محمديوسف خان کشر زوی او د پښتوانې پاچا محمدظاهر شاه اکا ؤ. په ۱۸۸۶ کال کې زيږيدلی او دامير حبيب الله خان په زمانه کې يی دډگرمنۍ رتبه ترلاسه کړه. دهيواد دخپلواکۍ دجگړې په جنوبی جبهه کې يې دانگريزانو پرضد په جگړه کې برخه واخيسته. په ۱۹۲۵ کال کې هغه مهال چې اعليحضرت امان الله دهيواد ټولواک ؤ دی په قطغن او بدخشان کې د پوځي ځواکونو مشرؤ. له خپل ورور غازی محمدنادرشاه سره يوځای دسقاو دزوی په مقابل کښې وجنگيد. دنادرشاه دواکمنۍ په دوره کې دی دملي دفاع

وزیر وټاکل شو. په هغه ورځ چې نادرشاه ووژل شو دی هم هلته حاضر ؤ. د محمدظاهر شاه په واکمن کیدو کې دده لوی لاس و. په ۱۹٤٦-۱۹۵۳ کلونو کې دی دافغانستان صدر اعظم ؤ. دی لومړنی صدر اعظم ؤ چې د دیموکراسۍ پرمخ یې دهیواد دروازې پرانستې او په افغانستان کې یې آزادو مطبوعاتو ته اجازه ورکړه.

## شرق، ډاکتر محمد حسن:

په ۱۹۲۵ کال کې په فراه کې زیږیدلی دی. په کابل کې یې په حربي پوهنځي کې زده کړه کړې او د طب د پوهنځی څخه فارغ شوی دی.

په ۱۹٤۸-۵۹ کلونو کې چې په کابل پوهنتون کې د محصلانو داتحادیې فعالیتونه جاري وو د سردار محمد داودخان ملاتړی ؤ. د سردار محمد داؤدخان د صدارت په وخت کې د صدراعظم د قلم مخصوص مدیر ؤ. کله چې سردار محمد داؤدخان مستعفی شو دی هم بیکاره شو او وروسته د بیمې په شرکت کې ډاکتر شو. د سردار محمد داؤد خان په کودتا کې فعال کس ؤ چې د مرکزي کمیټې غړی او د صدراعظم مرستیال وټاکل شو. په ۱۹۷۷-۷۸ کلونو کی په جاپان کښې سفیر شو. د ببرک کارمل د حکومت په وخت کی په هند کې سفیر ؤ چې وروسته صدراعظم وټاکل شو. اوس په امریکا کی ژوند کوي.

## عبدالرحیم زی، ډاکتر احمد:

د عبدالرحیم زوی او د عبدالملک خان عبدالرحیمزی کشر ورور دی. د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی یې لوستی، بیا د لوړو زده کړو په

خاطر ویانا ته ولیږل شو، هلته یې دوکتورا ترلاسه کړه، دخپل ورور عبدالملک خان عبدالرحیمزی له بندي کیدو وروسته په ویانا کې پاتې شو چې تراوسه هم هلته په اطریش کې ژوند کوي.

**عبدالحق، قوماندان:**

عبدالحق په ۱۹۵۷ کال دننګرهار ولایت دسره رود اولسوالۍ دعربانو په کلي کې زیږیدلي دی. دی له خپلې کورنۍ سره په ۱۹۷۵ کال د داؤدخان دحکومت له لاسه پاکستان ته رامهاجر شو او له خپلو ورونو او ملګرو سره یې د داؤد خان دحکومت پرضد فعالیت پیل کړ. په ۱۹۷۷ کال کې په داسې حال کې چې له خپلو ملګرو سره یې دحکومت پرضد دیوې کودتا پر پلان کار کاوه دحکومت له خوا ونیول شو، دی لا په زندان کښې ؤ چې دثور کودتا وشوه. ترکودتا څه موده وروسته له زندان نه خوشې شو چې بیرته یې پاکستان ته هجرت وکړ. ده دمولوی خالص داسلامی حزب په لیکو کښې لومړی په پکتیا اوننګرهار کښې جهاد پیل کړ. دکابل په ښار او شاوخوا کې یې یوه پیاوړې جبهه جوړه کړه او دیوه وتلی قوماندان په توګه وپیژندل شو.

**عطایی، عبدالکریم:**

دمیرزا شاه محمود زوی او په ۱۹۲۹ کال په کابل کې زیږیدلی دی. ثانوي زده کړه یې په نجات لیسه کې پوره کړه او دانجنیرۍ په شق کې جرمنی ته ولیږل شو. په راډیو افغانستان کې تخنیکی مامور شو او په ۱۹۶۲ کال کی دراډیو افغانستان تخنیکی رئیس وټاکل شو. په ۱۹۷۳ کال کی دکابل راډیو رئیس شو

په ۱۹۷۵ کال کې د مخابراتو وزیر شو او په ۱۹۸۰-۱۹۷۸ کلونو کې بندي شو. اوس په سویس کې ژوند کوي.

**عصمتي، معصومه:**

په ۱۹۳۰ میلادي کال کې په کابل کې زیږیدلې ده. د ملالۍ د لیسې څخه بکلوریا او د ادبیاتو د فاکولتې څخه یې د لیسانس درجه اخیستې ده. په امریکا کې یې د تعلیم او تربیې زده کړه وکړه. په ۱۹٦٤ کال کې د کندهار د معروف څخه د اولسي جرګې وکیله شوه او د ډاکتر نجیب الله په وخت کې د ښوونې او روزنې وزیره وه. اوس په فرانسه کې د خپلې کورنۍ سره یوځای اوسي.

**فرهاد، غلام محمد**

د سید احمد خان زوی دی، د میدان په ابراهیم خیلو کې زیږیدلی. په ۱۹۲۱ کال کې د حبیبې لیسې د لومړنۍ دورې زده کوونکو په ډله کې د لوړو زده کړو له پاره جرمني ته ولیږل شو. په مونشن کې یې د برېښنا د انجنیرۍ په برخه کې زده کړې وکړې او په ۱۹۲۸ کال کې بیرته هیواد ته راستون شو. د کابل د ښاروال او په دوولسمه دوره کې یې دولتي جرګې غړي په توګه دندې تر سره کړې دي.

فرهاد د افغان ملت د ګوند بنسټ ایښودونکی او د پښتنو د حق خودارادیت پلوی و. د خلقیانو په حکومت کې څه وخت بندي ؤ او بیا په کابل کې وفات شو.

**فیض محمد خان «تورن»:**

په ۱۹٤۰ کال کې په وزیرستان کې زیږیدلی دی. لومړنۍ او لوړې زده کړې

يې په حربي ښوونځي او حربي پوهنتون کې سرته رسولې دی. په ۱۹۶۳ کال کې ددويم بريدمن په توګه په پوځ کې مقرر شو. په ۱۹۶۹ کال کې شوروی اتحاد ته دکوماندويي زده کړو له پاره واستول شو. په ۱۹۷۳ کال کې يې دسردار محمد داؤد خان په کودتا کې برخه واخيسته اوبيا دکورنيو چارو دوزارت وزير شو، وروسته دسرحدونو دچارو وزير او بيا ليرې کړل شو. په ۱۹۸۰ کال کې هغه وخت چې شوروی يرغل پر افغانستان وشو او ببرک کارمل يې له ځان سره راووست نوموړی هم دګوند دمرکزي کميټې او انقلابي شورا غړی شو. په همدغه کال کارمل دی دمجاهدينو دتابع کولو په خاطر پکتيا ته وليږه او هم هلته دمجاهدينو له خوا ووژل شو.

**کارمل، ببرک:**

ببرک کارمل دجنرال محمد حسين زوی او په ۱۹۲۹ کال کې په کندهار کې زيږيدلی دی. په کابل کې دنجات له ليسې څخه فارغ او دکابل پوهنتون دحقوقو دپوهنځی څخه يې ليسانس اخيستی دی. دشاه محمود خان په وخت کې په لومړۍ ډيموکراسۍ کې فعال کس ؤچې وروسته بندی شو. دپوهنې په وزارت او پلان په وزارت کې يې ماموريتونه کړي دي او په ۱۹۶۵ کال کې له کابل څخه اولسی جرګې ته انتخاب شو. دخلق دډيموکراتيک ګوند مؤسس غړی او دګوند په لومړۍ کنګره کې ددی ګوند دوهم منشي وټاکل شو. وروسته دده او نورمحمد تره کی تر منځ اختلاف پيدا شو او دخلق دډيموکراتيک ګوند دبلې برخې چې ورته پرچم ويل کيده مشر شو. په ۱۹۷۸ کال کی دثور تر کودتا وروسته دجمهور رئيس نورمحمد تره کی مرستيال شو چې وروسته په چکوسلواکيا کې سفير

وټاکل شـو. د ۸۶-۱۹۸۰ کلونو ترمنځ د دولت رئیس او د خلق د دیموکراتیک ګوند عمومي منشي ؤ.

**کاکړ، محمد حسن:**

په ۱۹۳۲ کال کې په لغمان کی زیږیدلی دی. ثانوي زده کړه یې په لغمان کې کړې دی. په ۴۷-۱۹۴۶ کلونو کې لومړی په کندهار کې د احمدشاه بابا په لیسه کی ښوونکی ؤچی وروسته د غازي لیسی ته د ښوونکی په توګه تبدیل شو. وروسته یې د کابل په پوهنتون کې د ادبیاتو پوهنځی وو ایه او د لندن د پوهنتون څخه یې مافوق ماستری او دوکتورا واخیستل. د کابل پوهنتون د تاریخ استاد ؤ او په ۱۹۸۳ کال کې د حکومت او شوروی پوځ پر ضد د فعالیت له کبله بندی شو. تر پنځه کاله بند وروسته خوشی شو او اوس په امریکا کی مهاجر دی.

**کاکړ، محمد هاشم:**

په ۱۸۸۲ کال کې د هند په د هریدون کی زیږیدلی دی. ابتدایی زده کړه یې په دهریدون کې کړې او د حبیبیی لیسې څخه فارغ شو. په ۱۹۰۸ کی یې پوځي زده کړه پای ته ورسوله او په حربي ښوونځي کی قومندان مقرر شو. بیا په دریم شاهي غونډ کی په ۱۹۲۱ کال قوماندان مقرر شو. په ۱۹۲۴ کال کی د غنډ مشر رتبې ته ورسید او یو کال وروسته د ګوډ ملا د پاڅون د قرارولو له پاره خوست ته ولیږل شو. په ۱۹۲۷ کال کی د پارلمان د رئیس مرستیال وټاکل شو. په ۱۹۲۸ کال کی د پولیسو د ښوونځی قوماندان شو او په همدې کال یې حبیب الله

کلکانی ته ماتی ورکړه. دحبیب الله خان کلکانی په مقابل کې یې د سردار شاه ولیخان او شاه محمود خان سره مرسته وکړه او دوزارت دفاع مرستیال وټاکل شو. په ۱۹۸۳ کال کې پاکستان ته ولاړ او، اوس په امریکا کې مهاجر دی.

**کاکړ، محمد یعقوب:**

د عبدالشکور خان کاکړ زوی او په کندهار کې زیږیدلی. زده کړه یې په کندهار کې کړې ده او د عالي تحصیلاتو له پاره لندن ته تللی ؤ. په افغانستان بانک کې مامور ؤ چې په لندن کې د افغانستان بانک مدیر وټاکل شو. اوس د بي بي سي په پښتو څانګه کې کار کوي.

**کتوازی، خیال محمد:**

د عبدالغفار زوی او په ۱۹٤۸ کال کې د پکتیا په ښرنه کې زیږیدلی دی. ثانوي زده کړه یې د رحمان بابا په لیسه کې پوره کړې ده او د کابل پوهنتون څخه یې په ژورنالیزم کې لیسانس اخیستی دی. د خلق د ډیموکراتیک ګوند غړی ؤ او د ثور تر کودتا وروسته د راډیو ټیلویژن دوزارت مرستیال وټاکل شو چې وروسته بیا د اطلاعاتو او کلتور وزیر شو. په ۱۹۸۰ کال کې بندی شو. وروسته د بنده خوشي شو او په لیبا کې سفیر وټاکل شو. اوس په هالنډ کې مهاجر دی.

**کتوازی، عبدالحکیم:**

د حاجي پهلوان زوی او پوځی زده کړه یې په هند او ترکیه کې کړې ده. په قوای مرکز کې پوځی افسر ؤ او په ۱۹٦۵ کال کې د کورنیو چارو په وزارت کې

دژاندارمو او پولیسو عمومي قومندان وټاکل شو. په ۱۹۷۳ کال کې بندي شو. په ۱۹۹۵ کال کې په پېښور کې ووژل شو.

**کرزی، عبدالاحد:**

دخیر محمد کرزي زوی او په ۱۹۲۵ کال کې د کندهار په کرز کې زېږېدلی دی. تر خپل پلار وروسته د پوپلزو دقوم مشر شو. په کندهار کې اولسوالۍ او څه وخت په کندهار کې داطاق تجارت رئیس وټاکل شو. دوې دورې د کندهار څخه اولسي جرګې ته وکیل شوی دی. او په وروستۍ دوره کې داولسي جرګې درئیس مرستیالۍ. د ثور تر کودتا وروسته بندی شو او دبند څخه تر خوشي کېدلو وروسته په پاکستان کې مهاجر شو.

**کشتمند، سلطان علی:**

دحاجي نجف زوی او په ۱۹۳۵ کال کې زېږېدلی دی. په کابل پوهنتون کې يې داقتصاد پوهنځی ویلی دی. دخلق دډیموکراتیک ګوند دمؤسسی کنګرې غړی او په مرکزي کمیټه کې پاتې شوی دی. دکانو او صنایعو په وزارت کې داقتصادي څانګې مدیر ؤ. د ثور ترکودتا وروسته دپلان وزیر شو. وروسته دکودتا په تور بندی شو او په ۱۹۸۰ کال کې چې دحفیظ الله امین حکومت روسانو راوغورځاوه صدراعظم شو. وروسته دصدراعظمی څخه لیرې شو. اوس په برطانیه کې مهاجر دی.

**ګلاب زوی، سیدمحمد:**

د ګلاب شاه زوی او په ۱۹٤٥ کال کې د پکتیا په ولایت کې زیږیدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې په خپل ولایت او نادرشاه کوټ کې سرته رسولې دی. د هوايي ځواکونو د کورسونو له پای ته رسولو وروسته په ۱۹٦٦ کال کې په مزارشریف کې پوځي افسر شو. په ۱۹۷۳ کال کې یې د سردار محمد داؤد په کودتا کې برخه واخیسته. بیا د خلق د یموکراتیک ګوند غړی شو. د ثور تر کودتا وروسته یې د نورمحمد تره کي د یاور او د مخابراتو دوزیر په توګه دندې سرته رسولې. د حفیظ الله امین له خوا لیرې کړل شو. د شوروی ځواکونو تر یرغل وروسته د ببرک کارمل دواکمنۍ او حکومت په دوره کې د کورنیو چارو وزارت ورکړ شو. د ډاکتر نجیب الله په دوره کې له نوموړي وزارت څخه لیری او په مسکو کې د سفیر په توګه مقرر شو.

**ګهیځ، منهاج الدین:**

د قاضی برهان الدین زوی دی. په ۱۹۲۲ کال په کوهدامن کې زیږیدلی دی. کورنۍ یې له خوګیانیو څخه د کندوز ولایت د خان آباد ولسوالۍ ته لیږد یدلې او هلته اوسیږي. د کابل له دارالمعلمین څخه فارغ شوی دی او د کابل په غازی لیسه کې یې د ښوونکي په توګه دنده ترسره کړې ده. نوموړی په کابل کې د اخوان المسلمین له پلویانو نه ؤ. د ګهیځ داوونیزې مسوول مدیر او د کمونستانو پرضد یې فعالیت کاوه. په ۱۹۷۱ کال کې په کابل کې ووژل شو.

**ګیلاني، پیر سید احمد:**

د سید حسن ګیلاني زوی او د بغداد د شیخ عبدالقادر ګیلاني له اولادې څخه دی. په ۱۹۳۲ کال په کابل کې زیږېدلی، لومړنی زده کړې یې د کابل په ابوحنیفه مدرسې کې او لوړې زده کړې یې د کابل پوهنتون د شرعیاتو په پوهنځي کې بشپړې کړې دي. نوموړی ته په افغانستان کې د قادریې طریقې مشري له خپل مشر ورور سیدعلي شیرآغا جان څخه وریاتې شوې ده. نوموړی د افغانستان د مشرانو جرګې غړی ؤ. د ثور د کودتا له کیدو سره سم له افغانستان څخه ووت او پاکستان ته لاړ. هلته یې د ملي محاذ ګوند جوړ کړ چې تراوسه هم د نوموړي ګوند مشر دی.

**لایق، سلیمان:**

د مولوی عبدالغنی زوی او په ۱۹۳۰ کال کی په پکتیا کی زیږیدلی دی. ثانوي زده کړه یې د پغمان په ابوحنیفه لیسه کې کړې ده. په کابل پوهنتون کې د شرعیاتو پوهنځی ته داخل شو چې وروسته وایستل شو. بیا د ادبیاتو پوهنځي ته داخل شو او په ۱۹۵۷ کال کې فارغ شو. په کابل راډیو او د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کې یې ماموریتونه کړي دي. د خلق د دیموکراتیک ګوند د مؤسسي کنګرې غړی او د مرکزي کمیټې او سیاسي بیرو غړی پاتې شوی دی. د خلق او پرچم د جریدو مسؤل مدیر ؤ. د ثور تر کودتا وروسته د اطلاعاتو او کلتور وزیر شو. په ۱۹۷۹ کال کې وروسته بندي شو. په ۱۹۸۰ کال چې ببرک کارمل واک ته ورسید د علومو د اکاډمی مشر او د سرحداتو وزیر و ټاکل شو. د پښتو او دری ژبو ښه شاعر دی او ډیر کتابونه یې چاپ شوي دي. اوس په المان

کې ژوند کوي.

**مبارز، عبدالحميد:**

په ۱۹۲۷ کال کې په کابل کې زېږېدلی دی. لوړه زده کړه يې تر ماسترۍ پورې کړې او د کابل پوهنتون څخه يې په حقوقو کښې ليسانس اخيستی دی. په لومړۍ ډيموکراسۍ کې د محصلانو د اتحاديې فعال غړی و. د ماموريت ډير وخت يې د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کې تير شوی دی. د باختر آژانس رئيس ؤ چې وروسته د پروان والي مقرر شو. په ۱۹۸۵ کال کې د ښوونې او روزنې د وزارت مرستيال ؤ خو د ګوند غړی نه ؤ.

**مجددي، صبغت الله:**

د محمد معصوم مجددي زوی او په ۱۹۲۵ کال کې په کابل کې زيږېدلی دی. د حبيبيې ليسې فارغ التحصيل او لوړه زده کړه يې په شرعي علومو کې د مصر په الازهر پوهنتون کې کړې ده. په حبيبيه، استقلال او نجات ليسو کې د شرعي علومو استاد ؤ. په ۱۹۵۹ کال کې کله چې د شوروي صدراعظم نيکتيا خروسچوف کابل ته راغی د هغه د ترور په تور پنځه کاله بندي شو. امريکا او يورپ ته يې سفر وکړ او په ۷۸-۱۹۷٤ کلونو کې په کوپنهاګن کې د اسلامي مرکز مشر ؤ. د ملي نجات د جبهې مشر او په پاکستان کې د افغانستان د مؤقت حکومت مشر ؤ. په ۱۹۹۳ کال کې چې مجاهدينو د افغانستان حکومت ونيو د افغانستان د اسلامي دولت لومړنی رئيس ؤ.

**مجروح، سید شمس الدین:**

د سید حضرت شاه زوی او په ۱۹۰٤ کال کی په کونړ کی زیږیدلی دی. په ۱۹۳٤-۳۸ کلونو کې د مشرانو جرګې غړی. په ۱۹۳۸-٤۹ کال په افغانستان بانک کې د حکومت نماینده، په ۱۹٤۹-٦۳ کال کې د قبایلو لوی رئیس او په ۱۹٦۳-٦٥ کلونو کی د عدلیې وزیر. په ۱۹٦٥ کال کی د صدراعظم مرستیال شو. په ۱۹٦٦ کال کې په مصر کې دافغانستان سفیر شو. په ۱۹٦۹ کال کی د کونړ څخه سناتور وټاکل شو. کله چې روسان افغانستان ته راغلل پاکستان ته مهاجر شو او د مجاهدینو سره ملګری شو. اوس په امریکا کی مهاجر دی.

**محمد اصغر، پوهاند:**

د محمد افضل برکی زوی او په ۱۹۱٤ کال کی په کابل کی زیږیدلی دی. په کابل کې د حبیبیې لیسې څخه تر فراغت وروسته امریکا ته ولاړ او تر دوکتورا پورې یې تولې شهادتنامې په امریکا کې اخیستې دي. په ۱۹٤٦ کال کې په کابل دارالمعلمین کې ښوونکی مقرر شو او وروسته د کندهار د پوهنی مدیر شو. وروسته پوهنتون ته ولاړ او د حقوقو د پوهنځی رئیس وټاکل شو. په ۱۹٥٤-۱۹٦۰ کلونو کې د کابل پوهنتون رئیس ؤ بیا د کابل ښاروال او وروسته د عدلیې وزیر وټاکل شو. د داکتر نجیب الله د حکومت په وخت کې د ملي ژغورنې د ډلې مشر ؤ چې مرحوم کتوازي ورسره د نژدې همکاری کوله.

**محمد انورخان، داکتر:**

د پیښور په نوتیه کې په ۱۹۳۲ کال کې زیږیدلی دئ، عالي تحصیلات یې

د پېښور په پوهنتون کې سرته رسولې او دوکتورا يې په کاناډا کې اخيستې ده. په پېښور پوهنتون کې د تاريخ استاد او وروسته د دې پوهنتون رئيس وټاکل شو، يو کتاب او تقريباً علمي مقالې يې ليکلې دي.

## محمد داؤد خان، سردار:

د سردار محمد عزيز خان زوی او په ۱۹۰۹ کال کې زېږېدلی دی. ثانوي زده کړه يې په اماني ليسه کې پوره کړې ده او د نورو تحصيلاتو له پاره فرانسې ته ولېږل شو. په ۱۹۳۰ کال کې کابل ته راستون شو او تر يو کال پوځي زده کړې وروسته په مشرقي کې فرقه مشر شو. په ۱۹۳٤ کال کې د مشرقي ولايت رئيس تنظيمه شو چې ملکي او پوځي چارې يې دواړې پر غاړه وې. په ۱۹۳۵ کال کې په کندهار کې چې فراه او هلمند هم د کندهار برخه وه رئيس تنظيمه شو. په ۱۹۳۹-٤۷ کلونو کې د قوای مرکز قومندان ؤ چې وروسته د ملي دفاع د وزارت وزير شـــو. په ۱۹٤۹ او ۱۹۵۰ کلونو کې د کـــورنيـــو چارو وزير ؤ او په ۱۹۵۳-۱۹٦۳ کلونو کې د افغانستان صدر اعظم ؤ. د پښتونستان د مسئلې ملاتړی او د ښځو د نهضت باني ؤ. په ۱۹٦۳ کال کې مستعفي شو او وايي چې د ۱۹٦۳ کال د اساسي قانون د څلورويشتمې مادې سره يې موافقه نه لرله. په ۱۹۷۳ کال کې يې په يوه سپينه کودتا کې شاهي نظام پای ته ورساوه او د جمهوريت اعلان يې وکړ. په ۱۹۷۸ کال کې د اپريل پر اووه ويشتمه نيته د خلقيانو په کودتا کې ووژل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**محمد ظاهر شاه:**

د محمدنادرشاه زوی او په ۱۹۱٤ کال کې د اکتوبر په پنځلسمه نيټه زيږيدلی دی. په کابل کی يې د حبيبيې او استقلال په ليسو کې زده کړه کړې او په ۱۹۲٤ کال کی د خپل پلار سره يوځای فرانسي ته ولاړ، په فرانسه کی تر تحصيل وروسته په ۱۹۳۰ کال کې افغانستان ته راستون شو او يو کال يې په کابل کې پوځي زده کړه وکړه. په ۱۹۳۲ کال کی د دفاعی چارو دوزارت مرستيال وټاکل شو او يو کال وروسته د نورو کارونو تر څنګ د ښوونې او روزنې دوزارت چارې هم ورکړل شوې. د پلار تر مرګ څو ساعته وروسته په ۱۹۳۳ کال کړ د نومبر پر اتمه نيټه دافغانستان پاچا شو او دالمتوکل علی الله محمدظاهر شاه لقب يې غوره کی. کله چې په ۱۹۷۳ کال کی دايطاليې په سفر تللی ؤ د سردار محمد داؤدخان له خوا په يوه کودتاه کی د قدرت څخه ليرې شو.

**محمد فاضل خان، پوهاند:**

په ۱۹۲۲ کال کی د پروان په ده قاضی کی زيږيدلی دی. د جنرال محمد صديق خان زوی چې پلار يې د حبيب الله خان کلکانی د دفاعي چارو وزير ؤ. ليسانس يې په کابل پوهنتون کی دادبياتو له پوهنځی څخه ترلاسه کړی او ماستری يې په امريکا کې اخيستې ده. د بدخشان په ولايت کې د پوهنې عمومی مدير ؤ چې وروسته په کابل پوهنتون کې د ښوونې او روزنې د موسسې رئيس شو. په ۱۹۷۰ کال کې د ښوونې او روزنې په وزارت کې دوهم مرستيال او د کابل پوهنتون استاد ؤ.

**محمدي، مولوي محمد نبي:**

دحاجي عبدالوهاب زوی او په ۱۹۲۱ کال کی په لوگر کی زیږیدلی دی. په لوگر، میمنه او جوزجان کې په دینی مدرسو کې په تدریس لگیا ؤ. په ۱۹۶۳ کال کی دلوگر څخه اولسی جرگې ته وکیل وټاکل شو. دوکالت تر دورې وروسته یې دهلمند په ولایت کې مدرسه جوړه کړه او ددیني علومو په تدریس بوخت شو. دجمهور رئیس محمد داؤد خان په وخت کې په پاکستان کې مهاجر شو. دحرکت انقلاب اسلامي مشر او دمجاهدینو په مؤقت حکومت کې ددفاعي چارو وزیر وټاکل شو.

**معروفي، محمد یحیی:**

په کندهار کی زیږیدلی دی او ثانوي زده کړه یې په کندهار کې کړې ده. دلیسانس درجه یې دکابل پوهنتون دحقوقو دپوهنځي څخه واخیستله او وروسته دبهرنیو چارو په وزارت کې مامور وټاکل شو. د ۱۹۷۸ کال څخه را وروسته په ژنیوا کې ژوند کوي او دملگرو ملتونو مامور دی.

**میثاق، عبدالکریم:**

دصفر علي زوی او په ۱۹۳۷ کال کې دغزني په جغتو کې زیږیدلی دی. دکرنې په وزارت کې مامور او وروسته دکورنیو چارو دوزارت د احصائیی په ریاست کی مامور شو خو لږ وخت وروسته دکار څخه لیری شو. نور ماموریتونه یې هم کړي دي. دخلق دډیموکراتیک گوند دموسسې کنگرې غړی او دمرکزي کمیټې او سیاسي بیرو غړی پاتې شوی دی. دثور تر کودتا وروسته دمالیې وزیر

وټاکل شو او په ۱۹۸۰ کال کې د ببرک کارمل په حکومت کښې بندي شو چې وروسته خوشې شو او د کابل ښاروال وټاکل شو د ناروغۍ په پلمه يورپ ته ولاړ او اوس په لندن کې مهاجر دی.

**نجيب الله، ډاکټر:**

داختر محمد زوی او په ۱۹٤۷ کال کې په کابل کې زيږيدلی دی. په ۱۹٦٤ کال کې د حبيبيې ليسې څخه فارغ شو او د کابل پوهنتون د طب په پوهنځی کې شامل شو. يو کال وروسته د پرچم غړی شو او په ۱۹٦۹ کال کې د سياسي فعاليت له کبله بندي شو. په ۱۹۷۵ کال کې د پوهنتون څخه فارغ شو. د ۱۹۷۷ کال را وروسته د مرکزی کميټې غړی ؤ او د خلقيانو تر کودتا وروسته په تهران کې سفير وټاکل شو. په ۱۹۸۰ کال کې د خاد رئيس ؤ. په ۱۹۸۱ کال کې د خلق د ديموکراتيک ګوند د سياسي بيرو غړی شو. په ۱۹۸٦ کال کې د ببرک کارمل پر ځای د دولت رئيس وټاکل شو. په ۱۹۹۳ کال کړي يې د ملګرو ملتونو په غوښتنه استعفی ورکړه چې قدرت مجاهدينو ته نقل کی. د کابل څخه د وتلو په وخت کی ونيول شو او اوس په کابل کی د ملګرو ملتونو په دفتر کې بند پاتي ؤ او هغه وخت مړ کړی شو چې طالبانو کابل ونيو.

**نګارګر، محمد اسحق:**

په ۱۹٤۰ کال کې په بلخ کی زيږيدلی او ثانوی زده کړيې په مزار شريف کی کړې دی. د کابل پوهنتون د ادبياتو د پوهنځي څخه يې په فارسي ادبياتو کې ليسانس اخيستی دی. تر فراغت وروسته په ادبياتو پوهنځي کې استاد مقرر

شو. کله چې استاد ؤ دژوند طریقه یې ډېره ساده او د وطن په درد دردمن ؤ. په ۱۹۶۸ کال کې بندي شو چې پنځه کاله په زندان کې پاتي شو. په ۱۹۸۰ کال کې د ببرک کارمل دحکومت په وخت کې یوځل بیا بندي شو او تر خوشي کیدلو وروسته پاکستان ته واوښت. اوس په برطانیه کې ژوند کوي.

### ننگ، فاتح الملک یوسفزی:

دافتنوش خان زوی او په ۱۹۳۲ کال کې زیږیدلی دی. ثانوی زده کړې یې سرته رسولی او په افغانستان کې یې ډېر مطبوعاتي خدمتونه کړي دي. دډرامې لیکلو په ډگر کې دلوی نوم خاوندذی. دسرحداتو او دمطبوعاتو په وزارتونو کې یې لوی ماموریتونه په لاس کې وو. دشاهي دورې داولسي جرگې په وروستۍ دوره کې ددشت ارچي وکیل و.

### وردک، عبدالقیوم:

دمحمد ابراهیم زوی او په ۱۹۲۳ کال کې په وردگو کې زیږیدلی دی. په ریاضي او فزیک کې یې دامریکا څخه لیسانس او د ماسترۍ شهادتنامې اخیستې دي. په ۱۹۵۵ کال کې افغانستان ته راستون شو او د کابل په حربي پوهنتون کې دفزیک استاد مقرر شو. په ۱۹۶۰ کال کې د کابل پوهنتون دساینس په پوهنځي کې استاد شو چې وروسته بیا دساینس فاکولتې رئیس ؤ. په ۱۹۷۵-۱۹۷۳ کلونو کې دجمهور رئیس محمد داؤد خان په حکومت کې دمعدن او صنایع وزیر ؤ چې وروسته دښوونې او روزنې او قبایلي چارو وزیر مقرر شو. اوس له خپلې کورنۍ سره په فرانسه کې ژوند کوي.

**وفادار، پاچا ګل:**

په ۱۹٤۳ کال کې د پکتيا په ځدرانو کې زيږېدلی دی. په ۱۹۵۵ کال کې په حربي ښوونځي کې داخل شو او په ۱۹٦۳ کال کې فارغ شو. د شوروی اتحاد څخه يې په ۱۹٦۹ کال کې د انجنيرۍ ليسانس ترلاسه کړ. د دفاعي چارو په وزارت کې په هوايي قواوو کې افسر مقرر شو او په ۱۹۷۳ کال کې يې د داؤد خان په کودتا کې برخه واخيسته او د سرحدونو وزير وټاکل شو. په بلغاريه، ليبيا او هند کې سفير پاتې شوی دی. د ډاکتر نجيب الله په حکومت کې يو ځل بيا وزير شو او س په المان کې مهاجر دی.

**ولس مل، محمد حسن:**

د محمد قاسم زوی او په ۱۹٤۰ کال کې د ننګرهار په کامه کې زيږېدلی دی. په کابل کې يې ثانوی زده کړه د کرنې په ليسه کې کړې ده. په ۱۹٦۲ کال کې د ادبياتو له پوهنځي څخه فارغ او سمدستي په کابل راډيو کې مقرر شو. وروسته د کورنيو چارو وزارت ته تبديل شو او د افغانستان په مختلفو سيمو کې اولسوال پاتې شوی دی. په ۱۹٦۷ کال کې يې استعفی وکړه. په ۱۹۷۲-۱۹٦۹ کلونو کې د افغان جريدې د امتياز خاوند او مسئوول مدير ؤ. په ۱۹۷۸ کال کې بندي شو او په ۱۹۸۰ کال کې په پاکستان کې مهاجر شو. اوس په ناروې کې ژوند کوي او د مجاهد ولس د جريدې د امتياز خاوند او مسؤول مدير دی.

**هاتف، عبدالرحيم:**

په ۱۹۲۶ کـال په کندهار کـې زيږيدلى دى. ثانوي زده کـړه يې د کندهار داحمدشاه بابا په ليسه او د کابل په حبيبيې ليسه کې کړې ده. په کابل پوهنتون کې يې د ادبياتو پوهنځى ويلى دى. په کندهار کې د ميرويس نيکه دليسې معاون ؤ چې تر همدا اوسه پورې په کندهاريانو کـې د معاون صاحب په نوم يادېږي. وروسته يې استعفى ورکړه او په سوداګرۍ بوخت شو. په ۱۳٤۲ کال کې د کندهار دښار څخه داولسي جرګې وکيل وټاکل شو. په ۱۹۸۵ کال کې دلويې جرګې رئيس وټاکل شو چې وروسته د جمهور رئيس لومړى مرستيال شو. اوس په هند کې په مهاجرت کې ژوند کوي.

**ملا يار محمد اخوند:**

د کندهار د دامان په اولسوالى کې زيږيدلى دى. ديني زده کړه يې په خپل کلي کې کړې ده. کله چې د ثور کودتا وشوه او روسان افغانستان ته ننوتل نو په کندهار کې له حکومت او روسانو سره سخت وجنګيده. د ستينګر توغنديو په استعمال کې يې پوره مهارت درلود او وايي څليرويشت الوتکې يې راغورځولي دي. اوس د طالبانو درهبري شورا غړى او دهرات والي دى.

**مالکم هسلټ**

په ۱۹٤۵ کال کې په ايرلنډ کې زيږيدلى دى ، ثانوي زده کړې يې په شمالي ايرلنډاو لوړې زده کړې يې د کيمريج په پوهنتون کې پوره کړې دي .د ۱۹۷۱ څخه راوروسته د بي بي سى د نړيوالو خپرونو په څانګه کې ليکوال او اډيتر دى.

**يوسفزی، رحيم الله:**

د حاجی آدم خان خان زوی او په ١٩٥٤ کال کی د صوبه سرحد په مردان ضلع په شموزو کلي زيږيدلی دی. ثانوی زده کړه يې په خپل کلي او پېښور او جهلم کې کړې او ليسانس او ماستری يې د کراچۍ له پوهنتون څخه ترلاسه کړې ده. د تعليم سره سره يې په ورځپاڼو کې هم کار کاوه. له ١٩٨٣ څخه تر ١٩٨٥ کال پوری په اسلام آباد کې د سيمه ايزو مطالعاتو په مرکز کې د ريسرچ او مطالعاتو آمر ؤ. اوس په پېښور کې د نيوز دورځپاڼې د بيرو مشر او د بي بي سي خبريال دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کال ښود

١٨٩٣ د ډیورنډ معاهده د امیر عبدالرحمن خان او برتانیې تر منځ لاس لیک شوه.

١٩٠١ کې امیر حبیب الله پاچا شو.

١٩٠٤ کې برتانوي هیئت د ډېن په مشرتوب کابل ته راغی.

١٩١٦ کې د المان هیئت کابل ته ورسیدی چې امیر حبیب الله خان تشویق کړي چې د برتانیې پر ضد په لومړۍ نړیواله جګړه کې برخه واخلي.

١٩١٩

٢٠ فبروري: سراج الملة والدین امیر حبیب الله خان په لغمان کې شهید شو.

٢٥ فبروري سردار امان الله خان په کابل کې د پاچهۍ اعلان وکړ.

٣ مۍ: دافغان او انګلیس دریم جنګ پیل شو.

٢١ مۍ: جنرال محمد نادرخان دافغان او هند دسرحد نه تیر شو او پر تل یې یرغل وکړ.

۳۰جون : اوربند اعلان شو.

اګست : دراولپنډۍ د سولې په کنفرانس کې پریکړه لیک لاسلیک شوه.

سپتامبر : د شوروی نماینده کابل ته راغی.

۱۹۲۰

۱۷ اپریل: د میسوری کنفرانس پیل شو. محمود طرزی د افغانستان له خوا نماینده او هنری ډابز د برتانیې د نماینده په حیث ګډون پکې وکړ.

۱۸ اپریل: میسوری کنفرانس پای ته ورسید.

۱۹۲۱

۲۰ جنوری: د کابل کنفرانس د افغانستان او برتانیا ترمنځ پیل شو.

۲۸ فبروری: د افغانستان او روس ترمنځ د دوستۍ تړون لاسلیک شو.

۳ جون: د افغانستان او ایتالیا تر منځ د دوستۍ تړون لاسلیک شو.

۲۲ جون: د افغانستان او ایران ترمنځ د دوستۍ تړون لاسلیک شو.

۲ دسامبر: د کابل کنفرانس پای ته ورسید، برتانیا د افغانستان داخلي او خارجي آزادي په رسمیت وپیژنده او د دواړو مملکتونو ترمنځ سیاسي اړیکې پیل شوې.

۱۹۲۲

۲۸ اپریل: د افغانستان او فرانسې ترمنځ سیاسي او تجارتي پریکړه لیک لاسلیک شو.

۱۹۲۳

۱۰ اپریل: اساسي قانون په عمل کې پلی شو.

۵ جون: له برتانیا سره تجارتي پریکړه لیک لاسلیک شو.

١٩٢٤

جنوري د ښځو او کوچنيانو لومړني روغتون پرانستل شو.
د مي په مياشت کې په خوست کې د گوډ ملا (ملا عبدالله) اړدوړ.

١٩٢٥

جنوري: دخوست شورش پای ته ورسيد.

١٩٢٦

٣مى له المان سره ددوستۍ تړون لاسليک شو.
٣١ داگست: له شوروی سره دبيطرفۍ اونه تيرى تړون لاسليک شو.

١٩٢٧

دسامبر: اعليحضرت امان الله خان دهند، مصر، ايران او اروپا په سفر ووت.

١٩٢٨

٢٥ مى: له ترکيې سره ددوستۍ او ملگرتوب تړون لاسليک شو.
جولای: امان الله خان له سفره راوگرځيدی دبدلون او اصلاح اعلان يې وکړ.
نوامبر: شينوارو بغاوت وکړ.
دسامبر: حبيب الله کلکانی په کوهستان کې قيام وکړ.

١٩٢٩

١٤ جنوري: امان الله خان دسلطنت له مقام نه استعفى ورکړه او وروريې سردار عنايت الله خان ددريو ورځو له پاره پاچا شو.

۱۸ جنوري: حبيب الله خان د پاچهۍ اعلان وکړ.

۱۷ اکتوبر: نادرخان د پاچهۍ اعلان وکړ.

۳ نوامبر: حبيب الله خان او ملګري يې په دار وځړول.

۱۹۳۰

۲۰ سپتامبر: د عالي شورئ غړي وټاکل شول.

۱۹۳۱

۲٤ جون: له شوروي سره د دوستۍ او نه تيرى تړون لاسليک شو.

جولای: د کابل ادبي انجمن تاسيس شو.

جولای: نادرخان د شورى مجلس پرانيست.

۳۱ اکتوبر: اساسي قانون تصويب شو.

۱۹۳۲

۵ مي: له سعودي عربستان سره د دوستۍ تړون لاسليک شو.

۱۸ نوامبر: غلام نبي خان څرخي يې له منځه يووړ.

۱۹۳۳

٦ جون: په برلين کې د افغانستان سفير سردار محمد عزيز خان ووژل شو.

۸ نوامبر: نادرشاه ووژل شو او پرځای يې زوى محمد ظاهر شاه پاچا شو او سردار محمد هاشم خان صدراعظم وټاکل شو.

۱۹۳٤

مي: د افغانستان او ايران ترمنځ سرحدي لانجه د ترکيې په منځګړ توب حل شوه.

۸ جون: د شورئ مجلس پرانستل شو.

۲۵ سپتامبر: افغانستان د ملګرو ملتونو غړی شو.

۱۹۳۶

مارچ: پښتو د رسمي ژبې په توګه اعلان شوه.

مارچ: له شوروی سره د تجارت تړون او نه تیری تړون لاسلیک شو.

۲۶ مارچ: له امریکا سره د دوستۍ تړون لاسلیک شو.

۱۹۳۷

۷ جولای: د افغانستان، ایران او ترکیې ترمنځ د دوستۍ تړون د تهران په سعدآباد کې لاسلیک شو.

۱۹۳۸

د هوایي قوت د پیاوړتیا په خاطر له ایتالیې او برتانیې نه الوتکې واخیستل شوې، دزده کړې له پاره پیلوټان برتانیې، شوروی او ایتالیې ته ولیږل شول.

۳ سپتمامبر: دویم نړیوال جنګ پیل شو. افغانستان خپلو عسکری قوا وو ته د تیار سئ امر ورکړ.

۱۹٤٠

۱۷ اګست: افغانستان په دوهم نړیوال جنګ کې خپله بیطرفي اعلان کړه.

۱۹٤٦

د طب پوهنځی د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي له یو ځای کېدو نه د کابل پوهنتون بنیاد کېښودل شو.

۹ مۍ: محمد هاشم خان له صدارت نه لیري شو.

١٩ نوامبر: عبدالحسین عزیز په ملګرو ملتو کې دافغانستان سفیر او نماینده وټاکل شو.

١٩٤٧

١٣ جون: دسرنوشت دټاکلو دحق په باره کې دسرحدی کرښې دهاخوا خلکو په باب هند ته یو لیک واستول شو.

٢٦ جولای: شاه محمود خان لندن ته راغی.

٣ اګست: شاه محمود خان نیویارک ته ولاړ.

١٨ سپتامبر: ایران دهلمند داوبو خبره رامنځ ته کړه.

٣ سپتامبر: افغانستان په ملګرو ملتو کې دپاکستان دغړی کیدلو پر خلاف رایه ورکړه.

٣٠ جون: دملي شوری اوومه دوره پرانستل شوه.

١٩٥٠

٤ جنوری: له هند سره دسولې او دوستی تړون لاسلیک شو.

١٣ جنوری: افغانستان دچین جمهوریت په رسمیت وپیژاند.

٨ مارچ: محمد ظاهر شاه داروپا په سفر ولاړ.

٢٢ جون: ملګرو ملتونو مرستې پیل شوې.

١٨ جولای: څلور کلن تجارتی تړون له شوروی سره لاسلیک شو.

١٩٥١

٦ سپتامبر: دشاه محمود د استعفی اعلان وشو.

٢٠ سردار محمد داؤد خپله کابینه اعلان کړه.

٢٦ اکتوبر: محمد هاشم خان چې له ١٩٢٩ نه تر ١٩٤٦ پورې

صدر اعظم و، وفات شو.

نوامبر: دامریکا د صادراتو او وارداتو بانک د هلمند پروژې ته اتلس نیم ملیونه ډالره پور ورکړ.

١٩٥٤

شوروی د دوو ژرندو او دووسیلوګانو دجوړولو په خاطر درې نیم ملیونه ډالره پور ورکړ.

١٩٥٥

١٤جولای: افغانستان دنړیوال وجهی صندوق دغړی په توګه ومنل شو.

٢٠نوامبر: دقواوو دانډول او دامریکا له خوا دپاکستان دقواوو قوی کیدل دافغانستان په مجلس کې وغندل شول.

١٥دسامبر: بولګانین او خروسچف کابل ته راغلل.

١٩٥٦

١٨ دفبروری: دتخنیکی مرستو قرار دادونه له امریکا او شوروی سره لاسلیک شول.

٢٧جون: دملکی هوایی پرمختیا له پاره دامریکا سره څوارلس ملیونی قرارداد لاسلیک شو.

٢٥اګست: له شوروی او چکوسلواکیانه دوسلې داخیستو قراردادونه لاسلیک شول.

١٩٥٧

٣٠جون: دنژدې شپږ ملیونو قرض قرارداد دهلمند دوادی له پاره او

دنژدې درې ملېونو قرض دجادو دجوړولو او دکدرونو د روزلو په خاطر له امريکا سره لاسليک شول.

۳۱اگست: شوروی د پنځه ويشت ملېونو ډالرو معادل نظامی کومک وکړ.

۱۹۵۸

۸جون: شوروی دنفت او گاز په څېړنه پيل وکړ.

۲۶جون: له امريکا سره فرهنگی قراردادونه لاس ليک شول.

۳۰جون: سردار محمد داؤد امريکا ته لاړ او امريکا موافقه وکړه چې دکابل سپين بولدک شاهراه به جوړه کړي.

۱۹۵۹

۱۲جنوري: امريکا پنځوس زره ټنه غنم له افغانستان سره مرسته وکړه.

۱۸مې: له شوروی سره دقندهار، هرات دلارې دجوړولو قرارداد وشو.

۹دسامبر: ايزن هاور کابل ته راغی او دمرستې وعده يې وکړه.

۱۹۶۰

۲مارچ: خروسچف کابل ته راغی.

۶مارچ: شوروی دپنځوس زره ټنو غنمو دمرستو وعده منظوره کړه.

۲۶اپريل: اعليحضرت امان الله خان په سويس کې وفات شو.

۱۵جولای: دشوروی دڅېړنو هيئت په شمال کې دنفت او گاز دذخيرو اعلان وکړ.

۱۹٦۱

۱۵ فبروری: له هند سره تجارتي قرارداد لاسلیک شو.

۱۹می: افغانستان داخبره رد کړه چې گنی افغانی عسکر د سرحد په اړدوړکې گډون لري.

٦جون: سردار محمد داؤد پر افغانستان باندې د پاکستان بمبارد وغانده او د یوزرو دوه سوو پښتونستاني بندیانو یادونه یې وکړه.

۸جون: پاچا د شورې مجلس پرانست او عبدالظاهر د شورې رئیس وټاکل شو.

۲٦جون: داود خان په لندن کې د ملکي حضور ته ورغی.

۲۳جولای: محمدهاشم خان له کنیدي سره د ملاقات په ترڅ کې له پاکستان نه گیله وکړه چې د پښتونستانیانو پرضد یې وسله کارولې ده.

۲۳ اگست: دافغانستان دوکیل تجار دفتر او قونسلگری په پاکستان کې وتړل شول، افغانستان د پاکستان له خوا د اړیکو پریکول سخت وغندل.

۳۰اگست: داود خان د بیطرفو هیوادونو په کنفرانس کې د گډون په نیت بلگراد ته لاړ.

۳سپتمبر: افغانستان سرحد ونه له پاکستان سره اوتړل ودمالونو راکړه ورکړه وځنډیده.

٦سپتمبر: افغانستان له پاکستان سره دیپلوماتیکې اړیکې وشلولې.

۲۹سپتمبر: کنیدي دیوه پیام په ترڅ کې ظاهرشاه ته وړاندیز وکړ چې

امریکا حاضره ده ددوو ملکونو داړیکو دښه کولو منځګړتوب وکړي.

١٦اکتوبر: دشوروي او افغانستان تر منځ د تخنیکي او اقتصادي مرستو قرارداد لاسلیک شو.

٢نوامبر: د کنیډي دخاص نماینده مارچینت هلې ځلې دافغانستان او پاکستان په لانجه کې ناکامې شوې.

١٩٦٢

١٤اپریل: سردار محمد داؤد خان دویم پنځه کلن پلان اعلان کړ.

٢٠اپریل: له ایران سره د پنځو کالود تجارت قرارداد وشو.

١جولای: پاکستان په روانه لانجه کې دایران دشاه دمنځګړتوب وړاندیز ومانه.

١٢جولای: افغانستان دایران دپاچا له منځګړتوب سره موافقه وکړه.

١٩٦٣

٥فبروري: دننګرهار دطب پوهنځی پرانستل شو.

١٢فبروري: امریکې دایران له لارې خپلې مرستې راولیږلې.

١٠مارچ: سردار محمد داود استعفی ورکړه.

١٤مارچ: ډاکتر یوسف دکابینې دتشکیل مامور شو.

٢٨مې: دایران دشاه په منځګړتوب له پاکستان سره دیپلوماتیکي اړیکي ټینګی شوې.

٢٥جولای: وروسته له دوه ویشتو میاشتو سرحدونه بیا پرانیستل شول.

١٢اکتوبر: بریژنیف دپولی تخنیک دبنیاد ډبره کېښوده

۱۹٦٤

۳۱ می: د پوهنتون مرکزي ودانۍ د امریکې په مرسته جوړه شوه.

۲۱ جولای: پاچا لویه جرګه پرانیسته.

۱۹ سپتمبر: اساسي قانون تصویب شو.

۱۹٦٥

جنوري: د خلق دموکراتیک ګوند تاسیس شو.

۱۲ جنوري: امریکې له اووه ملیونو ډالرونه زیاتې مرستې د هرات او اسلام کلا د ۱۲۱ کیلو متره لارې د جوړولو له پاره وکړې.

۱۸ اپریل: له انګلستان سره کلتوري قرارداد لاسلیک شو.

۲٤ جولای: شوروی موافقه وکړه چې د شبرغان د ګاز له ساحې نه به د شوروی تر سرحد پورې ۹۷ کیلو متره پایپ لاین وغځوي، او همدارنګه به د بلخ د برېښنا او کیمیاوي سرې تر ځایه ۸۸ کیلو متره پایپ لاین وغځوي.

۱۹٦٦

۱ - ۲ جنوري: د پاکستان جمهور رئیس ایوب خان د تاشکند پر لاره په کابل کې تم شو.

۱ - ۱۰ فبروري: صدراعظم محمد هاشم میوندوال شوروي اتحاد ته سفر وکړ.

۲۰ سپتمبر: په ملګرو ملتونو کې د افغانستان استازی عبدالرحمن پژواک د ملګرو ملتونو د عمومي اسمبلۍ رئیس وټاکل شو.

۱۹۶۷

۲۵ اپریل : صدراعظم محمد هاشم میوندوال امریکاته سفر وکړ.

۳۰ می : دشوروی مشر نیکولای پودګورني افغانستان ته سفر وکړ.

۱۱ اکتوبر : صدراعظم میوندوال استعفی وکړه او عبدالله یفتلی دصدراعظم کفیل مقرر شو .

۱۵ اکتوبر : ظاهر شاه ستره محکمه افتتاح کړه او ډاکټرعبدالحکیم ضیایی قاضی القضات وټاکل شو .

۱نومبر: نوراحمد اعتمادی صدراعظم وټاکل شو .

۱۹۶۸

۳۱ جنوری : دشوروی اتحاد صدراعظم کابل ته ولاړ او پراقتصادی موضوع ګانوېې خبري وکړی .

۲۱ اپریل : دشبرغان دګاز پروژه دشوروی اتحاد دمرستیال صدراعظم له خوا په رسمي توګه پرانیستل شوه .

۱۱۹۶۹

۲۵ می : دامریکادبهرنیو چارو وزیر کابل ته سفروکړ او دحکومتي مشرانو سره یې خبری وکړې .

۱۰ جون : دهنددصدراعظمی میرمن اندراګاندی پنځه ورځنی سفر پای ته ورسید .

۲۵ ډیسمبر : دشوروی اتحاد فوځی هئیت ددفاعي چارو دوزیر ګریچکو په مشرتوب کابل ته ورسید .

۱۹۷۰

۲۱جنوري : افغانستان دشوروی اتحاد سره دطبیعي گازددوه نیم بییونه مترمکعب دصادرولو قرارداد لاسلک کړ.

۲٦جنوری: ددفاعی چارو وزیر خان محمد خان په یوه رسمي سفر امریکا ته وخوځید.

۱۹۷۱

۱۷ می: صدراعظم نور احمد اعتمادي استعفی وکړه .

۸جون: ډاکټرعبد الظاهر صدراعظم وټاکل شو او خپله کابینه یی جوړه کړه .

۲۲ اگست : راپور ورکړل شو چی په افغانستان کی داسي وچ کالي راغلی ده چې په ډیرو کلونو کې نه وه لیدل شوی .

۱۹۷۲

۱۱ جنوری : د پاکستان صدراعظم ذالفقار علی بوټو کابل ته په یوه رسمی سفر لاړ.

۳ اپریل : دهند دبهرنیو چارو وزیر سورن سنگ داقتصادی موضوع په هکله دافغان حکومت سره دری ورځنی خبری پای ته ورسولی .

۱٦ می : کابل راډیو په یوه خپرونه کی د پاکستان څخه د پښتونستان دآزادۍ غوښتنه وکړه.

۲۵ سپتمبر: ډاکټر عبد الظاهر دصدارت څخه استعفی وکړه ولی دپاچاله خواونه منل شوه .

٥ ډیسمبر: دډاکتر ظاهر استعفی ومنل شوه .

٩ ډیسمبر : محمد موسی شفیق صدراعظم وټاکل شو .

١٩٧٣

١٣ مارچ: دافغانستان صدراعظم موسی شفیق او دایران صدراعظم عباس هویدا دهلمند داوبو په هکله رسمی موافقه لاس لیک کړه .

١١ می: دپاکستان سر دوی هفتی سرحد وتړل شو او علت یی اداري مسایل وښودل شول .

٨ جولای : دافغانستان پاچا محمد ظاهرشاه ایتالیې ته په رخصتی ولاړ.

١٧ جولای : سردار محمد داود خان کودتاه وکړه پاچایی لیری کړ او دجمهوریت اعلان یی وکړ.

١٩ جولای : شوروی اتحاد او هند افغانستان په رسمیت وپیژا ند.

٢٤ اگست : ظاهر شان استعفی وکړه .

٢٣ سپتمبر : دیوی توطیی اعلان و شو چی غوښتل یی حکومت راوغورځوی په دی تور ډیر فوځی افسران بندیان شول .

١٩٧٤

١٦ فبروری : دایران سره دسوداگرۍ موافقه لاسلیک شوه .

٧ جولای : دهند سره دسوداگرۍ پروتو کول لاسلیک شو.

٢٤ جولای : ایران دافغانستان سره دهلمند په وادی کې دگډې همکارۍ یو پروتو کول لاسلیک کړ.

١ نومبر: دامریکا دبهرنیو چارو وزیر هنري کیسنجر افغانستان ته سفر وکړ او دجمهوررئیس داود خان سره یې خبرې وکړې.

١٩٧٥

١٣ مارچ: جمهور رئیس محمد داود خان دهند رسمي سفر پای ته ورساوه.

١ مي: حکومت بانکونه ملي کړل.

٢٨ جولای: حکومت په پنجشیر کې تروریستي ډله ونیوله او پرپاکستان یې تورولګاوه چې وسلې یې ورکړې دي.

١٩٧٦

٧-٨ جون: دپاکستان جمهوررئیس ذالفقار علي بوټو کابل ته سفر وکړ او دجمهور رئیس داود خان سره یې خبرې وکړې.

٤ جولای: دهند صدراعظمه میرمن اندراګاندي کابل ته په یوه دري ورځنی سفر ورسیده.

١٨ اګست: دامریکا دبهرنیو چارو وزیر هنري کیسنجر په کابل کې دجمهوررئیس داود خان سره غونډه وکړه.

١٩٧٧

٣٠ جنوري: جمهور رئیس داودخان لویه جرګه جوړه کړه چې پر نوي اساسي قانون غور وکړي.

١٤ فبروري: نوی اساسي قانون دلویې جرګې له خوا تائید شو.

١٥ فبروري: محمد داود خان ته دلویې جرګې له خوا لوړه ورکړل شوه او

لویه جرگه منحل شوه .

۲٤ فبروری: جمهور رئیس داود خان نوی اساسی قانون نافذ کړ.

۱۱ اکتوبر: دپاکستان فوځی مشر جنرال ضیاالحق په جمهوری ارگ کی دجمهور رئیس داود خان سره وکتل .

۱۹۷۸

۱۹ فبروری : سید عبد الالله دجمهور رئیس مرستیال وټاکل شو .

۲۱ فبروری : جمهور رئیس داود خان یوگوسلاویا ته په رسمی سفر وخوځیده .

٤ مارچ : جمهور رئیس داود خان په نوی ډهلی کی دهند د صدراعظم مورارجی ډیسای سره وکتل .

۱۷ اپریل : دخلق د ډیموکراتیک گوند یو موسس میراکبر خیبر په کابل کې ووژل شو .

۲۷ اپریل: دخلق دیموکراتیک گوند دجمهور رئیس داود خان پر ضد کودتاه وکړه اونور محمد تره کی جمهور رئیس شو .

۲۳ اگست: سلطان علی کشمتند او دپرچم دبرخی نور مشران دکودتاه په تور بند یان شول .

۹ سپتمبر : دپاکستان فوځی مشر جنرال ضیاالحق په پغمان کی دجمهور رئیس تره کی سره وکتل .

۳ ډیسمبر : جهمور رئیس تره کی مسکو ته په یوه رسمی سفر وخوځید.

١٩٧٩

٢٨ جنوري : دافغانستان په شرقي سيمو کې چريکي جګړې پيل شوې .

١٤ سپتمبر : دامريکا سفير په کابل کې ووژل شو .

٢٢ فبروري : دامريکا جمهور رئيس جيمي کارتر دافغانتسان سره کومکونه لږ کړل .

١٦ مارچ : په هرات کې دحکومت پرضد پاڅون وشو .

٢٧ مارچ: خفيظ الله امين صدراعظم وټاکل شو .

١٦ سپتمبر : جهموررئيس تره کې ليرې شو او خفيظ الله امين يې ځای ونيو.

٩ اکتوبر: کابل راډيو وويل چې نورمحمد تره کې مړشو .

٢١ ډيسمبر: امريکايي مامورانو وويل چې روسي فوځونه دافغانستان سرحد ته نژدې شوې دی .

٢٧ ډيسمبر : شوروی فوځيانو پرافغانستان يرغل وکړ ، خفيظ الله امين ووژل شو ، ببرک کارمل واک ته ورسيد .

١٩٨٠

٥ جنوري :دامنيت شوری دافغانستان په هکله خبری پيل کړی .

١٤ جنوري : دملګرو ملتونو عمومي اسمبلی د ١٠٤ رايو په اکثريت په افغانستان کې دشوروی مداخله وغندله .

٢٧جنوری : په اسلام اباد کې دافغانستان په هکله د اسلامي هيوادونو دبهرنيو چارو دوزيرانو کنفرانس جوړ شو .

۱۴فبروری : دملگرو ملتونو دبشر دحقوقو کمیسیون په افغانستان کې دشوروی مداخله وغندله.

۲۴ می : په کابل کی دشوروی فوځیانو پرضد مظاهره وشوه .

۸جون : دخفیظ الله امین دکابینی دری وزیران اعدام شول .

۱۴سپتمبر : دداخلی وزیر فیض محمد په پکتیا کی ووژل شو .

۱۵نومبر : جمهور رئیس کارمل له نورو لوړ وتبه ماموړانو سره مسکوته ولاړ.

۱۹۸۱

۱۸ فبروری : جمهور رئیس کارمل دشوروی مشرانو سره دخبرو په غرض مسکوته ورسید.

۹ مارچ : دامریکا جمهور رئیس رونالد ریگن وویل که مجاهدین دامریکا څخه وسله وغواړی نو دی به غور پریوکړی .

۷اپریل :سعودی عربستان له افغانستان سره دیپلوماتیکی اړیکې وشلولی.

۱۱ می : سلطانعلی کشتمند صدراعظم شو .

۲۲ اگست : دافغانستان د مجاهدینو پنځو ډلو اتحاد وکړاو پنځه نفری مشورتی شوری یی جوړه کړه .

۱۸ نومبر : ملگرو ملتونو په ۱۱۶رایو اکثریت دافغانستان څخه دشوروی فوځیانو دوتلو غوښتنه وکړه .

۱۹۸۲

۶جنوری : دامریکا فوځي ځيرونکو وويل چې په افغانستان کې دشوروي فوځيانو شمير يو لک شلوزرو ته جګ شوی دی .

۱۶جون: په ژنيو کې دملګرو ملتو استازی دافغانستان او پاکستان دبهرنيو چارو له وزيرانو سره په جلا جلا توګه وکتل .

۱۹۸۳

۱۹ جنوری : دملګرو ملتونو دعمومي منشي مرستيال سکرتر ډيګو کار دويز ژنيو تهران او اسلام اباد ته سفر پيل کړ چې دافغانستان ستونزی ته دحل لاره پيدا کړي .

۱۶ فبروری : دملګرو ملتونو دبشر دحقوقو کميسيون دافغانستان څخه دشوروی فوځيانو دسمدستي ويستلو غوښتنه وکړه .

۱۵ جون : دافغانستان او پاکستان دبهرنيو چارو وزيران د دريمې دوری خبرو په غرض ژنيو ته ورسيدل .

۲۳نومبر: دملګرو ملتونو عمومي اسمبلې په ۱۱۶رايو دافغانستان څخه دشوروی فوځيانو دسمدستي ويستلو غوښتنه وکړه .

۱۹۸۴

۱۷ مې : دامريکا مرستيال جمهور رئيس جارج بوش دخيبر دری ته ولاړ او پرافغانستان يې دشوروی يرغل وغنده .

۲۷ اګست: دافغانستان او پاکستان دبهرينو چارو وزيرانو په ژنيو کې دملګرو ملتونو دمنځګړي سره جلا جلا وکتل . دری ورځې وروسته

خبري بې نتيجې پای ته ورسيدې .

۳۱ اگست: دکابل په هوايي ډگر کې يو بم وچاود يده .

٤ نومبر: دهوايي ډگر دبم دچاودني په تور نه کسه اعدام شول .

۱۹۸۵

۱۸ جنوري : امريکا اعلان وکړ چې په همدې کال کې به له مجاهد ينو سره مرسته ۲۸۰ مليونو ډالرو ته لوړه کړي.

۲۳ اپريل : جمهوررئيس ببرک کارمل په کابل کې لويه جرگه پرانيستله چې دحکومت له پاره دخلکو ملاتړ ترلاسه کړي.

۱۷ جون : دامريکا او شوروي مامورانو دافغانستان په هکله په واشنگټن کې غونډه وکړه.

۲٤جون : دافغانستان او پاکستان ترمنځ خبري چې مخامخ نه وې بې نتيجې پای ته ورسيدې .

۱۹۸۶

۱۱ جنوري : جمهوررئيس ببرک کارمل دامريکاوړاند يزرد کړ چې دسوله ييز حل تضمين وکړي.

۲اپريل : امريکا موافقه وکړه چې مجاهد ينو ته ستينگر توغندي ورکړي.

٤ مې: ببرک کارمل دخلق دد يموکراتيک گوند دعمومي منشي په توگه دخپلې وظيفې څخه استعفی ورکړه او پر ځای يې ډاکټر نجيب الله و ټاکل شو .

۲۸ می : ډاکټر نجیب الله اعلان وکړ چې په څو میاشتو کې به د آزادو انتخاباتو په ترڅ کې پارلمان جوړ شي .

۱۶ جون جمهور رئیس ریګن په امریکا کې د افغاني مجاهدینو د مشرانو سره وکتل .

۱۹۸۷

۲۳ فبروري: د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر صاحب زاده یعقوب خان د افغانستان په هکله په مسکو کې د شوروی د بهرنیو چارو د وزیر اډوارډ شیورنتزا سره وکتل

۲۵ فبروري: د افغانستان په هکله د ژنیو د خبرو لسمه دوره بې نتیجې پای ته ورسیده .

۲۰ جولای : جمهور رئیس نجیب الله د شوروی اتحاد د جمهور رئیس میخایل ګورباچوف سره وکتل .

۱۸ اکتوبر : مولوی محمد یونس خالص د مجاهدینو د اوو ګوندونو د ياند وتیا کل شو .

۲۹ نومبر : لویه جرګه راوغوښتل شوه چې نوی اساسی قانون تائید کړي.

۱۰ ډیسمبر : د ملګرو ملتونو استازی ډیګو کاردوویز د راپورونو له مخې د پخواني پاچا او مجاهدینو د مشرانو سره د انتقالی حکومت په هکله خبری وکړي.

۱۹۸۸

۴جون : دشوروی اتحاد دبهرنیو چارو وزیر اډوارډ شیورنتزا کابل ته په یوه رسمی سفر ورسید .

۱۲ جون: دپاکستان جمهوررئیس ضیاالحق وویل چې دشوروی فوځیانو تر وتلو وروسته مسکو پلوه خلکو ته باید اجازه ورکړل شي چې په حکومت کی برخه واخلی.

۲۳ فبروری : دمجاهدینو ائتلاف مؤقت حکومت جوړ کړ.

۱۴ اپریل : افغانستان ، پاکستان ، شوروی اتحاد او امریکا په ژنیو کې لوزنامه لاس لیک کړه چې شوروی فوځیان به په نهو میاشتو کی له افغانستان څخه ووځی .

۲۶ می : محمد حسن شرق دسلطانعلی کشتمند پر ځای صدراعظم وټاکل شو .

۲۵ ډیسمبر : دشوروی دبهرنیو چارو مرستیال وزیر یولي وارنسوف په روم کې دپخواني پاچا سره وکتل .

۱۹۸۹

۲۷جنوری: برتانیی ، فرانسې ، جاپان او ایتالیې په کابل کې خپل سفارتونه وتړل .

۱۴ فبروری : دشوروی اتحاد وروستي عسکر دافغانستان څخه ووتل .

۲۰ فبروری : حسن شرق دصدارت څخه استعفی ورکړه او پرځای یې سلطانعلی کشتمند صدراعظم وټاکل شو .

۲۳ فبروری: صبغت الله مجددی د موقت حکومت جمهور رئیس او پوهاند عبدالرب رسول سیاف یې صدراعظم وټاکل شو .

۱۹۹۰

٦ مارچ: شهنواز تني د ډاکټر نجیب الله پر ضد کودتا وکړه .

۲۱ اپریل: فضل الحق خالقیار نوی صدراعظم وټاکل شو او خپله کابینه یې جوړه کړه .

۳ سپتمبر: ډاکټر نجیب الله په پاریس کې د ملګرو ملتونو په کنفرانس کې ګډون وکړ .

۱۹ نومبر: ډاکټر نجیب الله د افغاني اشخاصو سره د خبرو په غرض سویس ته ورسید .

۱۹۹۱

۲۳ جنوری: پوهاند رباني په خرطوم کې د مجاهدینو سفارت پرانیست.

۳۱ مارچ: خوست د قومندان حقاني په مشرتوب مجاهدینو ونیو .

۲۰ اپریل: د کونړ په اسداباد کی د وهابیانو په مرکزي په یوه چاودنه کې د جمیل الرحمان په شمول ډیر کسان مړه شول .

سپتمبر: امریکا او شوروی اتحاد فیصله وکړه چې په افغانستان کې پر دواړه خواوو د نوی کال د پیل څخه وسلې بندی کړی .

۱۹۹۲

۱ جنوری: په افغانستان کې د جګړې پر دواړو خواوو د امریکا او شوروی

وسلې بندی شوی .

مارچ: ډاکتر نجیب الله موافقه وکړه چې یوه موقت حکومت ته واک وسپاری .

۱۰ اپریل : دملګرو ملتونو عمومی منشی اعلان وکړ چې دواک تر سپارلو وړاندی یوه شوری جوړه شی .

۱٤ اپریل: مجاهدینو دبګرام هوایی ډګر ونیو .

۱۵ اپریل : ډاکتر نجیب دقدرت څخه لیری شو او په کابل کې دملګرو ملتونو په دفتر کې یې پناه واخیستله .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تاریخي سندونه

## د امیر امان الله خان لومړنۍ وینا

د لوی خدای په نامه چې بخښونکی او مهربان دی

اې د لوړې روحیې ملته او اې زړه وراردو!

تاسې ته د فرمانونو او اطلاعیو له لارې اوږده معلومات او اطلاع درکړل شوې ده چې څه پیښ شول. اوس د خوښۍ خبرونه دا دي چې زموږ د حکومت زړور پوځ په جلال آباد کې د عزت او زړورتوب د احساس ثرګندونه وکړه چې ټولې خپلې دندې سرته ورسوې.

د ۱۳۳۷ هـ قمری کال د جمادي اول په پنځمه ویشتمه نیټه د پنجشنبې په ورځ ټول هغو افسران او پوځیان چې زما د شهید پلار خدای بخښلی اعلیحضرت سره یو ځای وو د جلال آباد په تعلیمي میدان کې را ټول شول او په سوګند خوړلو یې زما بیعت وکړ. په دې وخت خوشحالي وشوه او د باجه خانې د ږغولو په ترڅ کې د سلامۍ په توګه د توپونو ډزې وشوې، وروسته دوی ټول هغه کسان ونیول او

بندیان یې کړل چې د اعلیحضرت شهید د حفاظت دنده یې پر غاړه وه او د قتل په وخت کې یې په شاهي خوب ځای کې خاصه وظیفه لرله. هغوی وغوښتل چې دې کسانو باید جواب ویلی وای او زما اکا ورته جزا ورکړې وای. هغه بیله کوم مذهبي روایښت او د نړیوالو حقوقو پر خلاف د یوه غاصب په توګه عمل وکړ او ځان یې امیر اعلان کړ څنګه چې هیڅوک نشي کولای چې په غیر قانوني توګه د امارت ادعا وکړي نو زما اکا چې هم هیڅ حق نه درلودی په خپله رضا د امارت څخه استعفی وکړه او زه یې د امیر په توګه وپیژندلم زما د ورونړو هریوه سردار عنایت الله خان او حیات الله خان او د شاهي کورنۍ د نورو غړو د بیعت سندونه ماته را رسیدلي دي، د دې سندونو نقل ستاسي د معلوماتو له پاره دا دی وړاندې کوم.

اې د افغانستان با احساسه ملته! راځئ چې د خدای تعالی شکر ادا کړو کوم ذات چې زوال نه لري او د جنتونو او مځکې خالق دی. زموږ د سوځلي زړه او د اوښکو ډکو سترګو په ترخ کې یې زموږ حکومت د بربادۍ او ګډوډۍ څخه وژغوره او زموږ اسلامي حکومت ته یې د قوت او آزادۍ نور ځواک ورویاخښه.

لطفاً یوه لحظه هم داسي فکر مه کوئ چې ستاسې پاچا د تاج و تخت په ګټلو کې نا شکري کوي، زه د لوی خدای شکر ګزار یم چې تاسې او زما محبوب هیواد ته یې سوله او سوکالي راوستله او زما مسلمان لوی ملت او افغانستان یې په داسي خطرناک وخت کې د ستونزو او بدبختیو څخه وژغورل او موږ ته یې نوی ژوندرا په برخه کړ.

د افغان حکومت زړه ور پوځه! زه د لوی خدای څخه په زرونو ځله شکر ګزار یم چې ستاسي وژونکې ګولۍ او زړه ښیرونکې فولادي برچې چې زموږ د ملت او هیواد د عزت د ساتنې له پاره تیارې وې د لوی خدای په مهرباني زموږ د ځاني

بربادی او یو د بل په مقابل کې د استعمال څخه وژغورل شوې. ښه پوه شئ چې د لوی خدای لویه مهربانی او د هغه د پیغمبر برکت ؤ چې زموږ پر ملت او حکومت را نازل شو. دا د نه بدلیدونکي خالق ازلي رضا وه. د هغه شان دې لوړ وي او ټولې سختۍ او ظلمونه دې ستاسې د ملت د سر څخه لیرې وي افغانستان دي د دین او هیواد د دښمنانو د د سیسو څخه په امن وي.

اې ویاړلی ملته!

او زړ ور پوځه!

په داسې حال کې چې زما ملت شاهي تاج زما پر سر ږدي زه تاسې ته په لوړ آواز اعلان کوم چې زه به تاج و تخت یوازې په دې شرط و منم چې تاسي زما په افکارو او نظریاتو کې زما سره مرسته وکړئ. چې په لاندې ډول دي:

۱ - افغانستان به داخلی او بهرنۍ ازادي لري او هغه دا چې د حکومتونو ټول حقوق چې د نړۍ آزاد هیوادونه لري افغانستان باید هغه ټول ولري.

۲ - تاسې باید په خپل ټول طاقت سره زما سره یو ځای شئ چې زما د پلار د قتل غچ واخلئ چې ستاسې ټولو روحانی پلار ؤ.

۳ - ملت باید ازاد وي! هغه دا چې پر هیڅ انفرادي کس د بل چا له خوا ظلم ونشی. خو د محمدي شرعي، د ملکی او پوځي قانون اطاعت چې په ډېر احترام یې درناوی کیږی، د افغانستان ملت وجیبه ده چې اطاعت یې وکړي او په دې هکله افغان ملت پوره شهرت لري.

زه به ستاسې تاج تر هغه وخت پورې ونه منم تر څو تاسې دا شرطونه نه وي منلي. تاسې ټول چې د دې ملت تکړه غړي یاست په ډېره جذبه مو دا شرطونه ومنل نو زه هم په ډېر درناوي دا ستر تاج پر خپل سر ږدم. او په کلکه اراده د امارت

او امامت درانه بار ته اوږه ورکوم. زه اميدوار يم چې زما ملت به لوی خدای ته دوعا وکړی چې ماته ځواک راکړي چې ستاسې د سوکالی او خير ښيگڼې په لاره کې خدمت وکړم، او تاسې به په مردانگۍ زما سره مرسته وکړئ چې زه خپل افکار او نظريات عملی کړم. ای هيوادوالو همدا اوس زه په هيواد کې د بيگار سيستم لغوه کوم تر دې وروسته په هيچا په زوره کار نشی کيدای چې سړکونه جوړ کړي او يا په عامو ځايونو کې کار وکړي او ياوني پري کړي. د خدای تعالی په مهربانۍ ستاسی حکومت به داسې لارې چارې تر لاس لاندې ونيسي چې هيواد او ملت ته به گټورې وي او په دې توگه به افغانستان په پرمختللې نړۍ کې نوم وکړي او د نړۍ د پرمختللو قدرتونو په منځ کې به ځای ونيسي.

نور نو زه لوی خدای ته درخواست کوم چې ستاسی مسلمانانو او ټولو انسانانو په خير ښيگڼه او سوکالي کې مرسته وکړي.

زما د خواهشاتو په پوره کولو کې زه د لوی خدای څخه د رهنمايۍ غوښتنه کوم.

د امير امان الله لاس ليک

# پادشاهی فرمان

ځرنگه چې دلوی خدای په مهربانۍ او دحضرت محمدصلی الله علیه وسلم ددین په تأیید د دین دمخرب امان الله په خلع کولو چې زموږ او تاسو ټولو هیله وه ، بریالی شوم ، پر تخت باندې دکښېناستو له پیله مې دده نامشروعې کړنې منع کړې چې تاسو دحضرت سید الانام ددین غیرت لرونکو ته یې په لاندې ډول لیکم:

١ - سلام چې مسنونه طریقه ده او دخولې په اشاره یې اړولی و ، دسنت مطابق مې امر ورکړ .

٢ - دستار یې چې دآنحضرت طریقه او سنت دی او دلمانځه ادا پرې ښه پرېږي موقوف کړی ؤ ، حکم مې ورکړ چې دستار دې بیخی دودوی .

٣ - اسلامي لباس چې پرېښودل شوی ؤ بېرته مې برحال کړ او له کافرانو سره ورته لباس مې منع کړ .

٤ - دستر پرېښودلو حکم یې چې کړی ؤ ، بېرته مې مسترد کړ .

٥ - دولې له اجازې پرته مې (له کوره) دښځو او بالغو نجونو راوتل او د مستوراتو ښوونځي موقوف کړل .

٦ - دړيرې او برېتو خرېيل مې موقوف کړل.

٧ - انگريزي، فسرانوي او جرمني ښوونځي مې موقوف کړل.

٨ - ځوني بې چې له هېوادنه بهر لېږلې وې ځرنگه چې د ملت بې ناموسي وه، روامې ونه بلل، هغوی مې بېرته راوغوښتې نو رمې بهر ته لېږل بېخي منع کړل.

٩ - هغه ځه مې چې له ديني ملاحظو پرته يې د دوې ورځنۍ دنيا له پاره هځه کوله او له هغه نه ديني زيان پېښېده، منع کړل.

١٠ - دعلم او علماؤ سپکاوی يې کاوه خو دهغه برخلاف احترام يې شرعاً واجب دی.

١١ - هغه بې اتفاقي يې چې د مذهب په پرېښودلو او دخپلې عقيدې د خرابۍ له امله په اسلام کښې اچولې وه، لری مې کړه نو ځکه مې ټوله رويه دحنفي مذهب له مخې کړه.

١٢ - حساب، هندسه او انگريزي يې چې رواج کړي وو موقوف مې کړل.

١٣ - قمري کال يې چې په شمسي اړولی ؤ، موقوف مې کړ.

١٤ - دجمعې ورځ يې چې په پنجشنبې اړولې وه، تزک مې کړه.

١٥ - دبيت المال حقوق يې دخپلو نفساني غوښتنو له مخې لگولې او دجوماتونو دملا او مؤذن لگښتونه يې قطع کړي وو، بېرته مې جاري کړل.

١٦ - دامر معروف او نهي عن المنکر مخه يې چې نيولې وه، بېرته مې رواج کړه.

١٧ - مجددي حضرات يې چې د مسلمانانو پيشوايان دي، بنديان کړي وو، بېرته مې راخلاص کړل چې ديني لارښوونې وکړي.

١٨ - شراب خوري يې چې رواج کړې وه، بېخي مې بنده کړه.

۱۹ - دجنوبی ملا عبدالله خان مرحوم یې چې د دین د سربښندنې په لاره کښې وژلی ؤ، امر مې ورکړ چې مرقدیې سم او ودان کړای شي.

پورتنی ۱۹ فقرې مې تاسوته ورسولې چې خبر اوسئ او پرپورتنیو فقرو سربېره د دی نورو فقرو مراعات له خلکو نه غواړم:

۱ - دهغو تېولو باقیاتو بخښل چې د ۱۳٤۷ کال تر پایه پورې د مالیې په بنه پر رعیت او ملکانو باندې پاتې وي.

۲ - عسکري ملازمت په خپله خوښه دی چې د میاشتې به شل روپۍ معاش، څلور منه غله او د کال دوه جوړه دریشۍ او یو جوړه بوټ ورکول کېږي.

۳ - د اضافي مالیو لکه د طرقی، سرک پلی او نورو تېولو بخښل.

دا تېول له شرعی خلاف تکلیفونه مې منع کړل، حقه اسلامی مالیه مې چې شارع حکم ورکړی منظوره کړه او د خپل رعیت د حال په هوسایۍ کښې لکه څنګه چې ښایی کوښښ می کړی او کوم یې او تېول هېوادنی اجراآت مې د روښانه شرعی له جواز سره سم کړی او سموم یې. له تاسونه هیله لرم چې دخپلو قومونو بیعتونه واخلئ، له مخورو، سپین ږیرو، ساداتو، علماؤ، خوانینو او ملکانو سره زما لوړ حضورته راحاضر شئ چې علماؤ او ساداتو ته ښه مکافاتونه ورکړل شي او زما حضور له تاسونه خوښ شي. او هم مې د ساداتو او خوانینو وظیفه او مستمري د امیر شهید د سلطنت د بست له مخې منظوره کړه.

مهر

(امیر حبیب الله خادم دین رسول الله)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د افغانستان د جمهوریت اعلام او د جمهور رئیس
# محمد داؤد خان وینا

## د ۱۳۵۲ د چنګاښ ۲۶

## بسم الله الرحمن الرحیم

ګرانو خویندو او ورونو، سلام!

خپل وطن ته په خدمت کښې د بیلو بیلو مسئولیتونو د یوې مودې په اوږدو کښې همیشه د یوه هدف په لټه کې وم چې د افغانستان د خلکو په تیره بیا د محرومو طبقو او زمونږ د مملکت د زلمی نسل د پاره یو مثبت او واقعي محیط مادي او معنوي وده مینځ ته راشي او په هغه کې زمونږ د وطن ټول وګړي بې له توپیر او امتیاز نه د خپل وطن د آبادی او سرلوړی په لاره کې برخه واخلی او مسئوولیت احساس کړی. وختونه تیر شول او زیات کوښښ وشو هغه عوامل چې په بیلو بیلو شکلونو سره د تجربو له مخې د غسې هدف ته د رسیدو خنډ کیدل ورو ورو له مینځ نه یو سو او په تیره بیا په مملکت کی د اعتبار وړ امنیت ټینګ کړو چې

اقتصادی او اجتماعی مثبت تحول ته په سالم ډول اجازه ورکړی، زلمي نسل ته د مسئوولیت احساس روښانه کړی. او د خرافی او ارتجاعی نشو و نما مخه ونیسی د د غو مر حلوله تیرېدونه وروسته بل علت مونه لیدو چې زمونږ په وطن کی د غه مقصد ته د رسېدو له پاره نوي پایه وانوړي. ما د خپل وطن د راتلونکې نیکمرغی له پاره د یوې واقعي او معقولې دیموکراسۍ د ټینګېدونه پرته چې اساس یی د افغانستان د اولس اکثریت ته په خدمت کې ټینګ وي بله لاره نه درلوده او نه یې لرم ،دبنده په نظر د یو د غسې اجتماعي حالت اصلي بنسټ د خلکو د حقوقو پوره تأمین او د ملي حاکمیت په اصل باندې پوره اعتراف دی چې نه باید په دغو دوو اصلو کی ښکاره یا پټ کوم خلل وارد شي.

دامقدسه هیله وه چې زه یې مجبور کړم لس کاله د مخه ما او زما ملګرو د شاه حضورته خپل وروستۍ پیشنهاد وړاندې او د افغانستان د ملت د خیر او نیکمرغۍ د پاره د هغه د تطبیق هیله وکړو ، هغه مقدسه هیله ولې د مملکت د د غسې بی سرو سامانۍ سبب شوه ؟ او ولې هغه ضعیف النفس ملګری له اصلي مقصدنه واوړېدل او غلطه او خطا لاره یې تعقیب کړه.

داستان دی ډیر اوږد چې تفصیل یی په د غه لنډ وخت کې ګنجایش نه لري او په مساعد وخت کی به د ګرانو وطنوالو د خبرتیا د پاره وړاندې شي.

په هر صورت نتیجه دا شوه چه نور هغه پخوانی امیدونه او هغه ښی هیلی په یوه داسی د یموکراسۍ بدلې شی چې له لومړي سرنه د هغی بنسټ په شخصي او طبقاتي عقدو او ګټو، په تقلب او دسیسو ، په دروغو او ریا او د خلکو په غولولو باندې ولاړ وي خو د دغو تیولو تبلیغاتو په همدې لسو کلو کی ونشو کړای هغه ترخه حقایق چې د اقتصادی حالت د مطلقی ورشکستګی او د مملکت د اداري،

اجتماعي او سياسي حالت دانحطاطونو ځخه عبارت دي دافغانستان دملت او د خارجي نړۍ له ستر ګونه پټ کاندې، لنډه داچې ديموکراسي يعني دخلکو حکومت په يوانرشيزم او د مشروطه سلطنت رژيم په يو مطلق العناني رژيم بدل شو او د دغو قدرتونو هر يو، دبل غاړې او دخلکو غاړې ته وروليد او تفرقه واچوه او حکمراني وکړه فورمولونو يې په ټول مملکت کې اوربل کړ ترڅو چې وکړاى شي د دغه ملوثه او ناوړه اوله بدبختۍ، فقر او فلاکت نه ډکې فضا په سيوري کې خپل شوم مادي او ممکن سياسي مقصدونه حاصل کړي.

د مملکت په هر ګوټ کې وطن پالونکي چې وو دخپل وطن دغو سختو او ناوړو حالاتو ته په ډيرې خواشينۍ او غمجنۍ سره کتل او دخپل وطن داحوال څارنه يې کوله په تېره بيا اردو دغه درد تر ټولو زيات احساساوه او په دغه اميد چې نن او سبا به دغه فاسده او ويجاړه دستګاه په پای کی دملت له بدمرغه حالت نه خبر او دخپلی اصلاح لپاره به زيار وباسی زيات صبر او حوصله يې وکړه خو نتيجې ثابته کړه چې دغه اميدونه بيخي بيځايه وو او د دولت رژيم او دستګاه دومره فاسده شوه چه نورنو دهغه داصلاح لپاره اميد او انتظار پاتې نشو همدا وجه وه چې ټولو وطن پالونکو په تيره بيا دافغانستان وطن پرسته اردو تصميم ونيو چې نور دغه فاسد نظام پای ته ورسوی او وطن ددغی بدبختۍ نه خلاص کاندې.

ګرانو وطنوالو!

بايد تاسو ته خبر در کړم چې نور دغه نظام له منځه لاړ او هغه نوي نظام چې دجمهوريت دنظام نه عبارت دی او داسلام دحقيقي روحيې سره موافق دی دهغه ځای ونيو زما ملګري او زه د زړه له کومي تاسو ته دګران افغانستان ددغه لولړي جمهوريت مبارکي وايم او هغه دافغانستان او دافغانستان دملت دسر لوړۍ او

نیکمرغی د پاره غواړو.

دافغانستان فدا کاره اردو هر چیری او د مملکت په هر گوټ کې چې یاست د دغه بري په مناسبت تاسو ټولو ته تبریک وایم یقین لرم چې خپلو وظیفو ته به چې د افغانستان د ملي حاکمیت د ساتنې او دامنیت له تأمین نه عبارت دي همدا شان متوجه اوسئ.

نوي نظام طبعاً د ځان سره بنیادی ریفورمونه لري چې تفصیل یې په دغه لنډ وخت کې امکان نه لري او په راتلونکي نژدې وخت کې به د گرانو وطنوالو د خبرتیا دپاره وړاندې شي.

دافغانستان باندنی سیاست به د بیطرفی، په پوځي ډلو ټپلو کې د برخې نه اخیستو او په خپله دافغانستان د خلکو په آزاد قضاوت ولاړ وي.

دافغانستان بین المللی سیاست زمونږ د خلکو د مادي او معنوي ژوندانه د پاره دهیواد د ملي هیلو په اساس طرحه شویدی.

زمونږ له ملي کوښښ او هیلو څخه په ډاگه ځرگندیږي چه زمونږ دهیلو تر سره کیدل تر ټولو زیات د نړۍ سولې ته اړدي. هیڅ یو هیواد د نړۍ د سولې له رڼا نه پرته نشي کولی چې په خپلو ملي هیلو کې بریالی شي.

څنگه چې مونږ له هر چا نه زیات ځان د خپل هیواد د پرمختیا په لاره کې زیارته اړ بولو تر هر چا زیات د نړۍ سوله او سلامت غواړو نو همدا وجه ده چې دافغانستان د سیاست لومړۍ ستنه د سولې غوښتنه او د نړۍ له ټولو خلکو او ملتونو سره دوستي کول دی.

پدغه هیله کښې له مونږ سره د هیڅ یوه هیواد یا اولس که کوچنی وي که لوی، لیرې وي که نژدی هیڅ ډول توپیر نشته. دغه مستقله اراده دافغانستان د خلکو له هیلو څخه سرچینه اخلی. هغه عنصر چې دافغانستان عنعنوي بیطرفه سیاست ته

امتیاز ورکوي دهغه څرګند صراحت او صمیمیت دی چې دافغانستان دملي ارادې دخپلواکې نمایندګی کوی.

پدی اساس له متحابه دولتونو سره دافغانستان ددوستۍ روابطو خپله تزلزل نه منونکې ستنه ټینګه ساتلې ده او دهغو په زیاته پراختیا کې به دد یپلوماسی، شخصی تماسونو او بین المللی همکارۍ دمینځ ته راتلو او جلبولو له لارې زیار وویستل شي او زمونږ هیله داده چې له هغه نه مثبتې او عملي نتیجې واخیستلې شي.

دغه نظام دملګرو ملتو دمنشور اساسات چې مقصد یې دبشري نړۍ نېکمرغي او آرامي ده ملحوظ او محترم ګڼي.

له پاکستان سره زمونږ په روابطو کې چې یوازنی هېواد دی چه دپښتونستان دقضیې په باب له هغه سره سیاسي اختلاف لرو او تر اوسه پورې دهغه په حل نه یو بریالي شوي، دپښتونستان دقضیې دحل دلارې دپیدا کولو دپاره به زمونږ دائمي کوښښ دوام وکړي.

په پای کی یو ځل بیا له دغه ستر ملي برې نه خپلو ګرانو وطنوالو ته مبارکی وایم او له ټولو وطن پالونکو په تېره بیا دافغانستان له فدا کاره اردونه چې له هېڅ ډول خالصانه سعې او کوښښ نه یې ځان نه دی سپمولی دزړه له کومي تشکر کوم او خپل امتنان وړاندې کوم.

څرنګه چې زمونږ سعی او کوښښ نشی کولی دانجام نقطه ولري دهېواد دټولو افرادو په تېره بیا دزلمی طبقی دهمکارۍ دوام زمونږ دټولو دزړه له کومي هیلی دي او دهغو په لاس ته راوړلو پوره امید لرو.

ژوند دې وي افغانستان

تل دې وي جمهوریت

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دافغانستان او روس ترمنځ تړون

(نیته د ۱۹۲۱ دفبروری ۲۸، د ۱۲۹۹ دکب له نهم سره سم)

دافغانستان او روس ترمنځ د دوستانه اړیکو د ټینګښت او دافغانستان دحقیقی استقلال دساتنی له پاره، دافغانستان لوړ دولت له یوی خوا او دروسیې سوسیالستي فدراتیف شوروي جمهوري دولت له بلې خوا ددې تړون کول و ټاکل او ددې مطلب د ترلاسه کولو له پاره یې خپل واکمن وکیلان په لاندې ډول و ټاکل:

دافغانستان دلوړ دولت له خوا:

محمد ولي خان

میرزا محمد خان

غلام صدیق خان

او دروسیې دسوسیالستی فیدراتیف شوروي جمهوري دولت له خوا:

ګیورکي واسیلوویچ چیچرین

او میخائیلوویچ قاراخان

نومـوړو وکـيلانـو يوبل ته دخـپلو وکـالت نامـو تر وړاندې کـولو او له دواړو خواؤنه ددې تېکي په تصديق کولو سره چې دا وکالت نامې دترتيب له مخې سمې او په قاعده برابرې ليکلې شوې دي، لاندينۍ فقرې يې په اتفاق سره ومنلې.

لومړۍ فقره:

لوړ تړون کوونکي اړخونه يو دبل استقلال مني او ژمنه کوي چې دهغو دِرناوی به کوي او تر خپل مينځ به روغ سياسي اړيکي ټينګوي.

دوهمه فقره:

لوړ تړون کـوونکي اړخـونه ژمنه کـوي چې له دريمګړي دولت سره به داسې نظامي يا سياسي تړون چې يوه تړون کوونکي اړخ ته زيان رسوي، نه کوي.

دريمه فقره:

د دواړو تړون کـوونکو اړخونو سفارتونه او قـونسلګرۍ له نړيوال دود سره سم سره برابر او متبادل سياسي امتيازات لري.

لومړۍ ځرګندونه: په دې ډله کښې:

الف- د دولت بيرغ ځړولو حق.

ب- دسفارتونو او قونسلګريو دفهرست شويو غړيو مصؤنيت.

د - په تليفون، بې سيم، تلګراف او سيم لرونکي تلګراف دسياسي نمايندګانو له حقوقو سره سم دخبرو کولو حق.

هـ- د دواړو تړون کوونکو اړخونو دسفارتونواو قونسلګريو ودانۍ تر هيواد

بهر امتياز لري خو د هغو كسانو له پاره چې محلي حكومتونه يې رسماً د خپل مملكت پر قوانينو باندې تيرى كوونكي وګڼي، د پناه او تېښتې ځاى نشي كېدلاى.

دوهمه څرګندونه:

د دواړو تړون كوونكو اړخونو سفارتونه په متبادل ډول د نظامي آتشه لرونكي دي.

څلورمه فقره:

دواړه تړون كوونكي اړخونه دافغانستان په خاوره كښې د روسيې د سوسياليستي فدراتيف شوروي جمهوريت د پنځو قونسلګريو او د روسيې په خاوره كښې دافغانستان د اوو قونسلګريو چې پنځه قونسلګرى به يې د روسيې په منځنۍ آسيا كښې وي له پرانستلو سره دوه اړخيزه موافقه كوي.

څرګندونه: په يادو شويو قونسلګريو سربېره د روس د دولت او د افغانتسان د دولت له خوا په راتلونكي كښې په هر ځانګړى ځاى كښې د قونسلګريو پرانستل او ځاى ټاكل د دواړو تړون كوونكو اړخونو ترمنځ د ځانګړې موافقې له مخې كېږي.

پنځمه فقره:

د روسيې قونسلګرى د هرات، مزار شريف، كندهار، غزنى او ميمنې په ښارونو كښې پرانستلې كېږي او دافغانستان دلوړ دولت جنرال قونسلګري په تاشكند او قونسلګرى په پترو ګراد، قازان، خوقند، ثمرقند، مرو او كراسناو

د سک کښې جوړېږي.

 څرګندونه: په روسیه کښې دافغانستان د قونسلګريو او په افغانستان کښې د روسیې د قونسلګريو د پرانیستلو حقیقي وخت د ځانګړې موافقې له مخې ټاکل کېږي.

شپږمه فقره:

روسیه مني چې افغانستان که هر څومره مالونه له روسیې نه واخلي یا یې له بهرنه را نیسي د روسیې له خاورې نه یې د آزاد او بې محصول ترانزیت په ډول تېرولای شي.

اوومه فقره:

دواړه تړون کوونکي اړخونه د شرقي ملتونو آزادي د خپلواکۍ او دهغوی د هر ملت له غوښتنی سره سم مني.

اتمه فقره:

ددې تړون داوومې فقرې داثبات له پاره دواړه تړون کوونکي اړخونه دبخارا او خیوې د دولتونو حقیقي خپلواکي او استقلال د هر ډول حکومت په درلودلو سره یې چې غواړي او ددوی د ملتونو له خوښې سره سم وي، مني.

نهمه فقره:

د روسیې د سوسیالستي فدراتیف شوروي جمهوریت دهغې ژمنې د ترسره

کولو له پاره چې د روسيې د رئيس جناب لينن له خوا د افغانستان وزير مختار ته ورکړل شوې ده، قبلوي چې په پوله پرتې هغه ځمکې چې په تيره پېړۍ کښې له افغانستان سره تړلې وې بېرته افغانستان ته وسپاري. په دې شرط چې د عدل او انصاف مراتب او د هغې ځاى د خلکو غوښتنې پر ځاى شي. د هغه ځاى د دايمي اوسېدونکو د رضا څرګندول او د رايو معلومول د دواړو هيوادونو ترمنځ د ځانګړې موافقې له مخې د دواړو خواؤ د وکيلانو په وسيله ترسره کېږي.

لسمه فقره:

د دواړو تړون کوونکو لوړو اړخونو ترمنځ د دوستانه اړيکو د پياوړتيا له پاره د روسيې د سوسياليستي فدراتيف شوروي جمهوريت حکومت منی چې د افغانستان له دولت سره نغده او نوره مادي مرسته وکړي.

يوولسمه فقره:

دا تړون په فارسي او روسي ژبو وليکل شو او دواړه متنونه مساوي ارزښت لري.

دوولسمه فقره:

دا تړون د دواړو اړخونو د حکومتونو تر قبولۍ وروسته قانوني بنه تر لاسه کوي او تصديق ليکونه يې په کابل کښې تبادله کېږي او د دې مطلب د ثابتولو له پاره د دواړو خواوو واکمنو وکيلانو دا تړون لاسليک کړ او خپل مهرونه يې پرې ولګول.

په مسکو کې د نولس سوه يوويشتم کال د فرورۍ د مياشتې په ٢٨ نيټه چې د

۱۲۹۹ هجری شمي کال د کب له لسمي نیټې سره سمه ده، ولیکل شو.

محمد ولی، مختار وزیر
میرزا محمد خان
غلام صدیق خان

گ، و. چیچرن
ل.م. قارا خان

## دبرتانيې او افغانستان ترمنځ د دوستۍ معاهده

سريزه:

دبرتانيې حکومت او دافغانستان حکومت په خپل منځ کې دګاونډيتوب داړيکو دقايمولو په نظر کې نيولو پر لاندې ليکل شوو مادو موافقه کړې ده او په دې مقصد لاندې لاس ليک شوی او ورباندی دواړو خواوو مهر لګولی او په مناسب وخت کی به عملي شي.

۱. دبرتانيې او افغانستان حکومتونه په ګډه د دواړو هيوادونو داخلي او بهرنۍ آزادي تصديقوي او درناوی يې کوي.

۲. دواړې لوړ رتبه خواوی په ګډه دهند او افغانستان سرحدونه مني چی د راولپنډۍ په معاهده کې په پنځمه ماده کی منل شوي دي چې د ۱۹۱۹ کال داګست پر اتمه ورباندی موافقه وشوه. او همدا ډول هغه سرحد چې دخيبر په لويديځ کې دبرتانوی کميسيون لخوا داګست او سپتمبر په مياشتو کی د پورتنۍ مادې په تعقيب وکښل شو او په نقشه کې چی دهمدې معاهدې سره يوځای ده په تورو ټکو سره ښوول شوی دی او دليکی بيا برابرولو ته ضرورت لري چې په لومړۍ ضميمه کی راغلی دی او ورباندې موافقه شوې ده چی د تورخم نومي ځای

دافغـانستـان پـه سرحد کې راوستـل شي. همدا ډول د کابل سیند د شلمان خولې بند او پلوسې دافغـانستـان پـه سرحـد کې راوستـل شي چې پـه ذکر شـوې نقشـه کې دسـروټکو پـه لیکـه ښـودل شـوي دي. دبرتـانیـې حکومت مـوافـقـه کـوي چې دافـغـانسـتـان حکومت کـولای شي چې پـه معـینـه اندازه اوبـه پـه یوه نل کې چې دبرتـانیـې حکومت بـه یې ورتـه ورکـړي دلنډي کـوتل څـخـه تورخم تـه دافـغـانانو دضـرورت لـه پاره وغـزوي او دافـغـانسـتـان حکومت مـوافقـه کـوي چې برتانوي افسـران او قبـایل چې دسـرحـد پـه برتـانوي لـور کـې اوشي بیلـه اجازې او خنډونو کـولای شي چې د کـابل دسیند څخه د کښتـۍ چلولو کـار واخلي او دبرتـانیـې اتبـاع کـولای شي چې د ذکـر شـوی سند ددې برخې څـخـه داویـو لګولو ټول روان موجوده حقوق ولري.

۳. دبرتـانیـې حکومت مـوافـقـه کـوی چی دافغـانسـتـان دجـلالتمـآب امیـر، وزیرمختـار دلندن پـه شاهي دربار کې، دټولو نورو قدرتونو داستازو پـه څېر ومني او پـه لندن کې دافغانستـان دسفارت جوړیدلو تـه اجازه ورکړي.

دافغـانستـان حکومت همدا شان موافـقه کوی چی پـه کابـل کی دبرتـانیې دپاچا او هند دامپـراطور وزیرمختـار ومنی او پـه کـابل کی دبرتـانیـې دسفـارت جوړیدلو تـه اجازه ورکی.

دواړې خواوې بـه حق ولری چې پـه خپلو سفارتونو کی نظامی آتشه مقرر کړي.

٤. دافـغـانسـتـان حکومت مـوافـقـه کـوي چې پـه کندهار او جـلال آبـاد کـې دبرتـانیـې قـونسلګرۍ جـوړی شی او دبرتـانیـې حکـومت دهند دحکومت پـه مـرکز کی دافـغـانسـتـان جنرال قـونسلګرۍ او پـه کلکتـه، کـراچۍ او بمبیی کـې د ددرو قونسلګریو جوړیدلو تـه اجازه ورکړي. هر وخت چی دافـغـانستان حکومت وغواړي

چې دهند نه پرته دبرتانيې په نورو ملکو کې دقونسلګرۍ افسران مقرر کړي جلا موافقه به د دې ډول مقرريو له پاره که چيرې دبرتانيې حکومت يې تائيد کړي، وکړل شي.

٥. لوړ تړون کوونکي اړخونه په خپلو هيوادونو کې يو دبل دا ستازو تحفظ کوي او ورسره احترامانه چلند کوي چې ورکې به وزير مختار، قونسل جنرال او قونسلان شامل وي. دواړې خواوې موافقه کوي چې پورتني استازي دخپلو دندو تر سره کولو تابع وي. د دې دندو مواد به د دې لوزنامې په دوهمه ضميمه کې شوول کېږي. دبرتانيې حکومت نوره موافقه کوي چې دافغانستان وزير مختار، قونسل جنرال او قونسلان په هغو حدودو کې چې ورته داوسيدلو يا کار اجازه ورکړل شوې ده دپورتنۍ ضميمې مطابق دټولو هغو حقوقو او امتيازاتو څخه او يا چې وروسته منظور يږي دنورو هيوادونو او حکومتونو دوزير مختارانو، قونسل جنرالانو او قونسلانو په شان چيرې چې مقيم دي برخوردار ه دي. دافغانستان حکومت همدا ډول موافقه کوي چې دبرتانيې وزير مختار او قونسلان دخپلې هستوګنې او کار په سيمه کې دضميمې دموادو مطابق هم هغسې حقوق او امتيازات لري او يا وروسته منظور شي دنورو هيوادونو او حکومتونو دوزيرمختارانواو قونسلانو په شان چيرې چې دبرتانيې وزير مختار او قونسلان ځای پرځای دي استفاده کولای شي.

څنګه چې دبرتانيې او افغانستان دحکومتونو په ګټه ده چې افغانستان يو قوي او ودان هيواد وي نو دبرتانيې حکومت موافقه کوي چې هر څومره مواد چې دافغانستان دخير ښېګنې او قوي کيدلو له پاره په کار وي، لکه دفابريکو ماشينونه، انجنونه او دټيلګراف او ټيلفون مواد افغانستان کولای شي په برتانوي

قلمرو او یا دنړۍ په نورو هیوادونو کې واخلي او په عادي توګه یې دبرتانیې او برتانوي هند دبندرونو څخه بیله کومو ستونزو افغانستان ته وارد کړي. همدا ډول دافغانستان حکومت موافقه کوی چې هر ډول مالونه، دکومو صادرول چې دافغانستان دداخلي قانون خلاف نه وي او دافغانستان دحکومت په انده دافغانستان تر کورني ضرورت ډېر وي او ورته دبرتانیې حکومت ضرورت ولري رانیولای شي او دافغانستان دحکومت داجازې سره سم هند ته صادریدلای شي.
د وسلو او ګوله باروتو په هکله دبرتانیې حکومت موافقه لري چې دا یقیني شي چې دافغانستان دحکومت نیت دوستانه دی او سمدستي هند ته خطره نشته چې دا ډول وسلې افغانستان وارد کړي، نو بیله کومو خنډونو به ورته د واردولو اجازه ورکړل شي. په هر حال که تردې وروسته دوسلو دوړلو راوړلو په هکله دنړۍ دلویو قدرتونو لخوا کنوانسیون تصویب شي او تراجرا لاندې ونیول ششی نو دافغانستان دحکومت لخوا دوسلو دواردولو حق به ددې کنوانسیون تابع وي او دافغانستان حکومت وړاندې باید دوسلو دوړلو راوړلو کنوانسیون لاس لیک کړی وي او دا ډول واردات به تنها ددې کنوانسیون دمادو مطابق کیدلای شی. که چیرې د وسلو دوړلو راوړلو کنوانسیون تصویب نه شي او یا پای ته ورسیږي، دافغانستان حکومت له پورتني تضمین سره سم وخت په وخت افغانستان ته وشیلي څنګه چې وړاندې ذکر شول دبرتانیې او برتانوي هند دبندرونو څخه واردولای شي.

۷. دبرتانوي هند په بندرونو کې به دشپږمې مادې په اساس پر هغو مالونو چې دافغانستان په نماینده ګۍ سمدستي افغانستان ته وړل کیږي ګمرکي محصول نه لګول کیږي. ددې مالونو سره باید داسې یو تصدیق وي چې دافغانستان حکومت

يا يې استازي لاس ليک کړي وي چې د دواړو حکومتونو لخوا ورباندې وخت په وخت فيصله کيږي. دا سندونه بايد د واردولو په وخت کې په بندر کې د گمرکونو لوی افسرته وښوول شي چې ورکې واضح وي چې دا مالونه دافغانستان د حکومت مال دی او دهغوی دامر له مخې افغانستان ته وړل کيږي. په دې اسنادو کې بايد واضح شوی وي چې دا مالونه څه شی دی؟ څومره دی؟ او قيمت يې څومره دی؟ چې ورکې د محصول د معافی غوښتنه کيږي. دوهم دا چې دامالونه په افغانستان کې د عمومي خيرښېگنې له پاره دي او دا مالونه د دولتي انحصار او دولتي سوداگرۍ له پاره نه دي. دريم دا مالونه بايد په څرگنده سره وپيژندل شي چې دهند دلارې په مهر لاک شوي ډول يوړل شي او دهند په خاوره کې بايد خلاص نشي اوونه ويشل شي.

دبرتانيې حکومت همدا ډول موافقه کوي چې دبرتانوي بندرونو دلارې ټولو مالونوته اجازه ورکوي چې افغانستان ته دوړلو له پاره هندوستان ته وارد شي او دهغو لارو څخه يوړل شي چې د دواړو حکومتونو ترمينځ ورباندې موافقه وشي او ددې مالونو گمرکي محصول به دصادرولو په ځای کې په پوره ډول بيا تاديه سی، په دې شرط چې دامالونه په مهرولاک توگه دهندوستان څخه ووزي او دهندوستان څخه تروتلو وړاندې خلاص نه شي او ونه ويشل شي. همدا ډول دبرتانيې حکومت اوس نيت نه لري چې پر مالونو او څارويو چې دافغانستان وي دمځکې او سندونو دلارې هند ته وارد شي او يا دنړۍ نورو هيوادونو ته دهند دلارې يوړل شي کوم چې دقانون په اساس منع نه وي، گمرکي محصول نه لگوي. که چيری دبرتانيې حکومت په راتلونکي وخت کې فيصله وکې چې پر مالونو او څارويو چې هند ته دوچې يا سيندونو دلارې دگاونډيو هيوادونو څخه وارديږي محصول ولگوي که

ضروري وي نو دافغانستان پر وارداتو به هم محصول ولګوي. ولې په داسې حالت کې به دا محصول دنورو ګاونډيو هيوادونو څخه لوړنه وي. دا ماده به دخيبر د محصول يا دهند دنورو ښارونو چې ورکې بيا محصول لګول کيږي مخه ونه نيشي خو دخيبر موجوده محصول به لوړنه وي.

۸. دبرتانيې حکومت موافقه کوي چې دافغانستان دحکومت دسوداګرۍ نماينده ګی په پيښور، کوټه او پاراچنار کې جوړې شي خو په دې شرط چې ددې نماينده ګيو کارکوونکي او ملکيت دبرتانيې دقانون او حکمونو تر عمليا تو لاندې وي او دبرتانيې دعدالت په ساحه کې داخل وي. دبرتانيې حکومت به هغوی ته دخاص امتياز موقف ورنه کړي.

۹. دسوداګرۍ مالونه به چې داوومې مادې په اساس ديورپ او نورو هيوادونو څخه افغانستان ته وارديږي دجمرود، کورمی او چمن داورګاډو په ستيشن کی پرانيستل شي او بيا به دحيواناتو دتوان په اندازه بارونه تری جوړيږی دا کار به دګمرکی محصولاتو سبب نه کيږي، ددې معاملې په هکله به دسوداګرۍ استازي چی په دوولسمه ماده کې يې ذکر شوی دی خبری وکړي.

۱۰. دواړې لوړ رتبه تړون کوونکې ډلې موافقه کوي چې د دواړو هيوادونو تر منځ هر ډول پوستی اسانتياوې برابرې کړي په دې شرط چې دواړه هيوادونه به نشي کولای چې يو دبل په خاوره کې پوسته خانې جوړې کړي. ددې مادې دعملي کولو له پاره به دپوستې بېل کنوانسيون جوړ شي او دتياری له پاره به دافغانستان حکومت يو شمير ماموران وټاکی او دبرتانوي افسرانو سره به وګوری او ورسره به سلا مشوره وکړي.

۱۱. دواړو لوړ رتبه خواوو په ګډه يو دبل پر ښه نيت قناعت کړی په خاصه بيا

د هغو قبايلو په هکله چې د هرې خوا سرحدونو ته نژدې اوشي او تر دې وروسته لوز کوي چې د مهمو فوځي عملياتو په وخت کې ورته خبر ورکړي. دا ډول عمليات به په هغو سيمو کې کيږي چې د دوی د تأثير علاقه وي چې په سرحدي قبايلو کې نظم راولي.

۱۲. دواړې لوړ رتبه تړون کوونکې ډلې موافقه کوي چې د افغانستان دحکومت او د برتانيې دحکومت استازی به انتخابيږي چې د سوداګرۍ دکنوانسيون د پای ته رسيدلو خبرې وکړي. کنوانسيون به لومړی د هغو چارو له پاره وي چې په نهمه ماده کې خبرې شوې دي. هغوی به د سوداګرۍ د چارو ترتيب ونيسي چې اوس په دې لوز نامه کې وربانديې خبرې نه دي شوې او داسې ښکارې چې د دواړو حکومتونو له پاره به ګټورې وي. د سوداګرۍ اړيکې به د دواړو حکومتونو تر مينځ تر هغه وخته جاري وي تر څو د سوداګرۍ کنوانسيون چې پورته يې خبرې وشوې، عملي شي.

۱۳. دواړې لوړ رتبه تړون کوونکې خواوې موافقه کوي چې لومړۍ او دوهمه ضميمه چې د دې تړون سره يوځای ده بايد همداسې د عملي کولو قوت ولري چې د دې لوزنامې د موادو په شان به وي.

۱٤. د دې لوزنامې محتوا به تر لاس ليک وروسته عملي شي او د همدې تاريخ څخه به دری کاله اعتبار ولري. که چيرې دواړو لوړ رتبه د تړون خواوو د تړون ترختميدلو دوولس مياشتې وړاندې د فسخه کيدلو نيت وکړ نو دا به د هغې ورځې څخه چې يوه لوړ رتبه خوا دا تړون فسخه کړي د يو کال تر پوره کيدلو پورې عملي پاتې شي. دا لوزنامه به د دواړو هيئتونو تر لاس ليک وروسته عملي شي او د تړون دواړه لاس ليک شوي نقلونه به په کابل کې په دوه نيمو مياشتو کې تر لاس ليک

وروسته تبادله شی.

هنری آرسی ډابز
په کابل کی دبرتانوی
هیئت مشر او دبرتانیې
فوق العاده استازی

دمحمود طرزي لاس لیک
دافغانی هیئت مشر
دسه شنبې ورځ د ۱۳۰۰ هجری شمسی کال
دعقرب ۳۰ نیټه
(د ۱۹۲۱ میلادی کال دنومبر ۲۲)

# قوانین:

# د افغانستان دلوړ دولت
# اساسي نظامنامه

(۱۳۰۱ هـ ش - ۱۹۲۳م)

دافغانستان دلوړ دولت اساسي نظامنامه اساساً په ۱۳۰۱ کال په پښتو ژبه جوړه شوې وه چې د دري متن په باب کې دا ټکی یاد شوی هم دی خو پښتو متن یې له دې کبله چې دهغه وخت پښتو نثر روان نه ؤ گډوډي درلودې له دې کبله دامتن له دري ژباړې نه بیرته په پښتو واړول شو.

۱ - دافغانستان لوړ دولت په بشپړه خپلواکۍ سره دخپلو کورنیو او بهرنیو چارو واک لري، دهېواد ټولې سیمې او برخې دیوه واحد وجود په توگه دملوکانه اداري تر او امرو لاندې تشکیلېږي او په هېڅ راز دهېواد په برخو کښې بېلوالی نه کېږي.

۲ - دافغانستان دین داسلام

مقدس دین او رسمي او عمومي مذهب يې حنفي مذهب دی. نور ادیان لکه اهل هنود او يهود چې دلته دي د جزيې په ورکولو او دېلوونکي نخښې په درلودلو سره تابع دي او په دې شرط چې عامه هوسايي او امن اخلال نه کړي تر امن لاندې هم نيول کېږي.

۳- دافغانستان دهېواد پايتخت د کابل ښار دی او دافغانستان دهېواد ټول اوسېدونکي دحکومت په وړاندې مساوي دي چې د کابل ښار ښاريان دافغاني خاورې او هېواد پر نورو ښارونو، کليو او سيمو هېڅ امتياز نه لري.

۴- د اعليحضرت همايوني دهغو لويو او فوق العاده خدمتونو له کبله چې دافغاني ملت د پرمختګ، لوړوالي او خپلواکۍ په لاره کښې يې کړي دافغانستان نجيب ملت ژمنه کوي چې دافغانستان واکمني به د افغانانو ددې ترقي غوښتونکي پاچا اولاد ته داولاديت داصولو له مخې چې داعليحضرت او خلکو له خوا به خوښېږي، ورلېږدي او ملوکانه ذات به دسلطنت پر تخت دکښېناستو پروخت داشرافو او خلکو په وړاندې ژمنه کوي چې له شريفې شرعې او ددې اساسي نظامنامې له حکمونو سره سم به دحکومت چارې اجرا کوي، دافغانستان خپلواکي به ساتي او دخپل هېواد او ملت له پاره به له صداقت څخه کار اخلي.

۵- دپادشاه لوړ ذات داسلام دروښانه دين خدمتګار او ساتندوی او دافغانستان دټولو اوسېدونکو واکمن او پاچا دی.

۶- دهېواد چارې د دولت دوزيرانو په وسيله (چې دپاچا په ټاکنه او خوښونه کېږي) اداره کېږي او هر يو وزير دخپلو ور سپارل شوو چارو مسؤول ګڼل کېږي نو له دې امله همايوني ذات غير مسؤول دی.

٧- په خطبو کښې د پاچا نوم اخيستل او سکه د پاچا په نامه وهل کېږي. د ځانګړو قوانينو له مخې درتبو او منصبونو ټاکل، د نښانونو ورکول، د صدر اعظم او د وزيرانو د هيأت د نورو غړو ټاکل او د هغوی بدلول او عزلول، د عمومي نظامنانو ښکلول او اجرا اعلانول، د شرعي او نظامي احکامو اجرا کول، د عسکري ځواکونو عمومي قومانده لرل، د جګړې او سولې اعلانول او په عامه توګه د معاهدو کول، د عفوې او قانوني جزاګانو کمول په عمومي يا خصوصي توګه له لويو پاچايي حقوقو څخه ګڼل کېږي.

## دافغانستان داوسېدونکو عام حقونه

٨- ټول هغه کسان چې د افغانستان په هېواد کښې استوګن دي بې له ديني او مذهبي توپيره د افغانستان تبعه ګڼل کېږي، د افغاني تابعيت صفت د ځانګړې نظامنامې له مخې ورکول کېږي او يا ترې اخېستل کېږي.

٩- د افغانستان ټول اوسېدونکي د ديني او مذهبي چارو او د خپل دولت د سياسي نظامونو پابند دي او د خپلو شخصي حقوقو په برخه کښې آزادي لري.

١٠- شخصي آزادي له هر ډول تعرض او لاسوهنې نه خوندي ده، هېڅوک بې له شرعي امر او بې له قانوني نظامنامو څخه نه بندي کېږي او جزا نه ورکوله کېږي. په افغانستان کښې د اسارت اصول بيخي موقوف دي او ښځه يا نارينه هېڅوک هم د اسارت په توګه نه شي استخدامولای.

١١- کورني مطبوعات او اخبارونه د ځانګړې نظامنامې له مخې آزاد دي، د اخبار خپرول يوازې او

يوازې دحکومت يا دافغانستان دتبعه ؤ حق دی. دبهرنيو مطبوعاتو په برخه کښې دافغانستان لوړ دولت ځينې شرايط او بنديزونه اېښود لای شي.

۱۲ - دافغانستان تبعه دمنل شويو نظامنامو له مخې د سوداګرۍ، صنعت او کرنې له پاره هر ډول شرکت کولای شي.

۱۳ - دافغانستان تبعه که د دولت له مامورينو يا بل چانه دشريعت يا ددولتي نظامنامو خلاف حرکت يا کړه ووينې په انفرادي يا ډله ايز ډول کولای شي د دولت دايروته عرض وکړي او که دا دايرې يې دعرض باز خواست ونه کړي په ترتيب سره تر هغه لوړې ادارې ته استغاثه کوي، که هيڅا هم پوښتنه ونه کړه مخامخ دپاچا لوړ حضور ته عرض کولای شي.

۱٤ - دتدريس چارې بيخي آزادې دي. دعمومي پوهنې له نصاب سره سم دافغانستان تابع هر فرد عموماً په عمومي او خصوصي توګه دتدريسا تو له پاره اجازه لري خو پردي کسان تر هغو کسانو پرته چې د تدريس له پاره استخدا مېږي، په افغانستان کښې د ننه دښوونځيو د پرانستلو او اداره کولو اجازه نه لري.

۱۵ - دافغانستان ټول ښوونځي دحکومت تر څارنه او پلټنه لاندې دي، حکومت هغه ټول وسايل او تدبيرونه چې دانتظام او اتحاد له مخې دافغانستان دټولو تبعه ؤ دعلمي او ملي روزنې له پاره وي تر دقت لاندې نيسي، خو هغه تعليمي اصول چې داهل ذمه او مستأمنه خلکو له عقيدې سره اړه لري، نه اخلال کېږي.

۱٦ - دافغانستان ټول تبعه دروښانه شريعت او ددولت دنظامنامو په وړاندې دهيواد په حقوقو او وظايفو کښې مساوي حق لري.

۱۷ - دافغانستان ټول تبعه دهغوی دقابليت او اهليت له مخې په

ټولو ماموریتونو کښې د دولت له اړتیا سره سم، نیول کېږي.

۱۸ - مالیې او محصولونه د ځانګړیو نظامنامو له مخې د افغانستان د تبعهؤ له پاره د دوی د شتو او وس په اساس ټاکل کېږي.

۱۹ - په افغانستان کښې د هر چا هغه مال او ملکیت چې په لاس کښې یې وي په امن دی. که یو ملکیت د عمومي ګټې له پاره د دولت په کار شي د هغې د ځانګړې نظامنامې له مخې لومړی یې څښتن ته بیه ورکوله کېږي او بیا ملک ترې تصرف کېږي.

۲۰ - د افغانستان د هر تبعه استوګنځی له هر ډول تېري نه خوندي دی او هېڅوک د حکومت یا بل چا له خوا د نظامنامو تر حکم پرته د چا کور ته په زور او بې اجازې ننوتلای نه شي.

۲۱ - په عدلیه محکمو کښې د ټولو عرض و داد له شریعت او د حقوقیه او جزائیه محکمو له اصولو سره سم فیصله کېږي.

۲۲ - مصادره او بېګار بېخي منع دي خو هغه کار او تکلیف چې د محاربې په وخت کښې پېښ شي د ځانګړې نظامنامې له مخې، له دې قاعدې نه بهر دی.

۲۳ - د دولت له نظامنامو نه بهر له هېچا نه هېڅ څیز نه اخېستل کېږي.

۲٤ - د شکنجې او ځورولو ټول ډولونه موقوف دي او د شرعې او دولت د نظامنامو - چې له شرعي احکامو سره سمې جوړې شوې - له حکم نه پرته هېچا ته جزا نه ورکوله کېږي.

**وزیران**

۲۵ - په افغانستان کښې د حکومت داداري دنده د وزیرانو او ځانګړو ادارو هیأت ته سپارله شوې، د وزیرانو د هیأت د غونډې په وخت کښې د مجلس ریاست ملوکانه ذات کوي او که شاهانه ذات تشریف ونه

لري، صدر اعظم د رياست دنده ترسره کوي که صدر اعظم هم نهٔ د وزيرانو له ډلې نه د لومړي وزارت وزير د رياست وظيفه سرته رسوي.

٢٦ - کوم وکيل چې د کوم وزير په غياب کښې تاکل کېږي کټ مټ د هماغه وزير حقوق او اختيارات لري.

٢٧ - هر کال د خپلواکۍ تر عمومي جشن وړاندې په يوه ټاکلې ورځ چې د شاهانه ذات له خوا ټاکله کېږي، د گران ټولواک ترسيوري لاندې يو لوی دربار جوړېږي، په دې دربار کښې د دولت مامورين، اکابر او اشراف چې د شاهانه ذات له خوا ټاکل شوي برخه اخلي. د هغوی په وړاندې به هر وزير او مستقل مدير خپل يو کلن اجراآت او خدمتونه په علني توگه وايي او توضيح به ور کوي.

٢٨ - صدراعظم او نور وزيران د اعليحضرت پادشاه له خوا غوره کېږي.

٢٩ - د وزيرانو مجلس د دولت د مهمو کورنيو او بهرنيو چارو مرجع دی. د وزيرانو د مجلس پريکړې او هغه تړونونه چې تصديق غواړي د هما يوني اعليحضرت تر لاسليک وروسته د اجرا وړ گرځي.

٣٠ - وزيران له خپل وزارت سره اړوندې چارې تر کومه ځايه چې د ده په صلاحيت کښې دي اجرا کوي او تر هغې لوړې کومې چې مستقيماً د اعليحضرت حضور ته وړاندې کېږي، د اعليحضرت حضور ته وروړي او هغه چې د وزيرانو د مجلس له لايحې سره سم له دې مجلس سره اړه لري د وزيرانو لوړ مجلس ته وړاندې کوي. د وزيرانو مجلس په وړاندې کړو موادو بحث کوي او خپل حل، فصل او رايې لاسليک کوي.

٣١ - هر يو وزير د دولت په عمومي سياست کښې په گډه او د خپل وزارت په چارو کښې په ځانگړي ډول د گران

ټولواک په وړاندې مسؤول ګڼل کیږي.

۳۲- په کومو چارو کښې چې کوم وزیر یا بل مامورته د شاهانه حضور له خوا شفاهي امر وشي لیکلي احکام یې دې د همایوني پاچا په لاسلیک ترلاسه کړي.

۳۳- د دولت کوم وزیر که د ماموریت د وظیفې له مخې تر محاکمې لاندې ونیول شي، محاکمه یې عالي دیوان ته راجع کیږي او د محاکمې اصول یې د مخصوصې نظامنامې له مخې حل او فصل کیږي او د وزیرانو نورې شخصي دعواګانې چې د ماموریت له وظیفې نه یې بهروي، د نورو رعایاؤ غوندې عدلیه محکموته وړاندې کیږي.

۳٤- کوم وزیر چې د عالي دیوان له خوا ترتور لاندې راځي د محاکمې تر نتیجې او برائت پورې یې د وزارت له وظیفې نه ګوښه کیږي.

۳۵. د وزارتونو او د دایرو د تشکیلاتو او د ندو اندازه د اساسي تشکیلاتو په نظامنامه کښې څرګند شوي دي.

## مامورین

۳٦- په عام ډول مامورین له هغو موادو سره سم چې په ځانګړیو نظامنامو کښې راغلي په هغو ماموریتونو چې ورسره وړوي ټاکل کیږي او هیڅ یو مامور تر هغې وخته چې له خپلې وظیفې نه مستعفی نه شي یا د بد چلن له امله عزل نه شي او یا د دولت له خوا د کوم ضروري کار له مخې د تبدیل او موقوفۍ وړ نه وي، اصلاًلرې کېدای او موقوفېدای نه شي او هغه مامورین چې ښه کار او په خدمت کښې استقامت وښیي د رتبې او ماموریت د لوړتیا او د مستمري وړ ګرځي.

۳۷- د مامورینو دندې په ځانګړو نظامنامو کښې ټاکلې او سره بېلې شوې دي. هر مامور له خپلې ځانګړې

نظامنامې سره سم دور سپارل شویو وظیفو مسؤول ګڼل کېږي.

۳۸- ټول مامورین له خپلو رتبو سره سم د دولت د نظامنامو له مخې دخپل لوړ آمر په اطاعت کولو مکلف دي او که دلوړ آمر له خوا د دولت دنظامنامو خلاف ټینګار ورته وشي، تر لاس لاندې مامورین دې د وزارت مرکز ته خبر ورکړي او که دمرکز له خبرتیا پرته یې د قانون خلاف امرونه اجرا کړل هغوی هم ورسره مسؤول ګڼل کېږي.

## دمشورې مجلسونه او ددولت شورى

۳۹- دهېواد په مرکز کښې ددولت دشورى یو هیأت او په نائب الحکومګیو، اعلى حکومتونو او لومړۍ، دوهمه، دریمه درجه حکومتونو او علاقداریو کښې یو-یو دمشورې مجلس موجود دى.

۴۰- دمشورې دمجلسونو او د دولت د شورى غړي له طبعي غړو او منتخبو غړو څخه جوړ شوي دي.

۴۱- د مشورې د مجلسونو طبیعي غړي له هغو مامورینو څخه چې داساسي تشکیلاتو په نظامنامه کښې توضیح شوي، تشکیلیږي او ددولت دشورى طبیعي غړي دشورى دانتخابي غړو له شمېر سره سم داعلیحضرت همایوني له خوا ټاکل کېږي، منتخب غړي یې ټول دخلکو له خوا ټاکل کېږي. ددوى د ټاکنې په برخه کښې داساسي تشکیلاتو په نظامنامه کښې ځانګړې مادې موجودې دي.

۴۲- دمشورې مجلسونه او ددولت شورى سربېره پر هغو دندو چې داساسي تشکیلاتو په نظامنامه کښې ښودلې شوې دا لاندې دندې هم لري:

الف: دصناعت، سوداګرۍ، کرنې او پوهنې په برخه کښې هغه ټولې ربړې

چې لازمي وويني دولت ته وړاندې کوي.

ب: د ماليو، محصولونو او دحکومت د نورو چارو په باب که دنظامنامو د اصولو مخالف ورته ښکاره شي د داسې چارو د سمون په غرض حکومت ته عرض او وړانديز کولای شي.

ج: که په هغو حقوقو کښې چې نظامنامې خلکو ته ورکړي له کومې خوانه اخلال يا تر پښو لاندې کول وليدل شي، دحکومت په وړاندې دعرض او غور غوښتنې حق لری.

٤٣- هغه فقرې چې د ولايتونو او سيمو د مشورې مجلسونه يې د نائب الحکومه گانو او حاکمانو حضور ته عرض او وړاندې کوي، تر کومه چې د نائب الحکومه گانو او حاکمانو په واک کښې وي په خپله يې اجرا کوي او تر هغه لوړيې دهماغه څانگې اړوند وزارت ته راجع کوي، د نومړي وزارت له خوا که دا جرا وړ وي اجرا کوي يې او که نه د (٣٠) مادې له مخې عمل کوي، که مسأله له قانوني موادو سره وي د دې نظامنامې د ٤٦ مادې له مخې دې کړن وکړي.

٤٤- په هغو فقرو کښې چې د مشورې د مجلسونو له خوا نائب الحکومه گانو او حاکمانو ته عرض کېږي که د دوی له خوا تر يوې مياشتې پورې نتيجه او ځواب ورنه کړ شو، د مشورې مجلسونه صلاحيت لري چې د دولت شورى ته خپلې اړتياوې وړاندې کړي.

٤٥- د دولت شورى د هغو فقرو په باب چې د مشورې مجلسونه يې دشکايت په ډول ورته ليکي، خپله رايه ورکوي او اړوند وزارت ته دهمهغې فقرې اطلاع ورکوي، که دهغې په اړه دوزارت له خوا معطلي راشي، د دولت شورى دا فقره همايوني حضور ته وړاندې کولای شي.

٤٦ - د دولت نظامنامــې د دولت دشورى له خوا څېړل کېږي او د وزيرانو دمجلس تر تصويب او دشاهانه حضور تر منظورۍ وروسته داجرا وړ گرځي.

٤٧ - د دولت دشـــورى پر دايمي طبـيـعي غـړو سـربـېره هغـه ملکي مامورين له نائب الحکومه تر حاکمانو او په عسکري منصبدارانو کښې تر لوا مشر پورې چې له ماموريت نه گوښه شوي وي په دې شرط چې تر محاکمه لاندې نه وي، په مـــوقت ډول د دوى دماموريت دپاکلو تر وختـه د دولت د شـورى دطبـيـعي غـړو په توگـه منل کېداى شي.

٤٨ - هغه کلنۍ بودجه چې دماليې په وزارت کـښې ترتيب او تنظيمـېږي دعمومي بودجې له نظامنامې سره سم د دولت په شورى کښې څېرله کېږي.

٤٩ - هغـه مقـاولې او تړونـونه چې له پرديو سره کـېږي، ددولت په شورى کښې خبرې پرې کېږي او څېړل کېږي.

**محکمې**

٥٠ - په عدليه مـحکمو کښې هر ډول محاکمې په علني توگه اجرا کېږي څـينې هغـه فـقـرې چې دمـحکمـو په ځانگړو نظامنامو کښې ښودلې شوې محـاکمـه يې قـاضي په پټه اجرا کولی شي.

٥١ - دمـــحکمـــو پـه وړاندې هر څـوک دخپلو حقـوقـو دسـاتـنې له پاره دټولو مـشـــروعـــو وســايطو وړانـديز کولای شي.

٥٢ - عــدليــه مــحکمــې دهغــو دعواگانو دکتلو او پريکړو په باب چې ددوى ددندې په دايره کـښـې دي، ځنډ او ځنډنه شي پېښولاى.

٥٣ - ټولې مــحـکمـــې له هر راز لاسوهنې نه آزادې دي.

٥٤ - دمحکمو صنفونه، درجې او صـلاحيـتـونه داسـاسـى تشـکيـلاتو په نظامنامه کښې څرگند شوي دي.

٥٥ - هېـڅـوک دځـينـې ځـانگړو

فقرو د پرېکړې له پاره له عدليه محکمونه بهر فوق العاده محکمه نه شي تشکيلولای.

## عالي دېوان

٥٦- عالي ديوان په ځانګړې توګه د دولت د وزيرانو د محاکمې له پاره له غوښتنې سره سم په مؤقت ډول تشکيلېږي او دورسپارل شوي کار ترسرته رسېدو وروسته له منځه ځي.

٥٧- د عالي ديوان د جوړېدو بڼه او په هغې کښې د محاکمې اصول د هغه د ځانګړې نظامنامې له مخې اجرا کېږي.

## د ماليې چارې

٥٨- د دولت ټول محصولونه د هغه د ځانګړي قانون له مخې اخېستل کېږي.

٥٩- هر کال د دولت د وارداتو او لګښتونو له پاره يوه بودجه جوړېږي او دا بودجه د دولت د وارداتو او لګښتونو له پاره اساس دی چې ټول واردات او لګښتونه د هغې له مخې اخيسته او لګول کېږي.

٦٠- د کلنۍ بودجې تر تطبيق او اجراء وروسته يوه قطعي محاسبه کېږي چې دا قطعي محاسبه د دې کال حقيقي واردات او لګښتونه په ګوته کوي.

٦١- د دې خبرې د څېړنې او ځيرنې (تحقيق او تدقيق) له پاره چې: «آيا د دولت واردات او لګښتونه رښتيا هم د بودجې له نظامنامې سره سم شوی که نه» يو د سنجش ديوان تشکيلېږي (د سنجش د ديوان په اړوند ځانګړې نظامنامه موجوده ده).

٦٢- د قطعي محاسبې او د بودجې د تنظيم، تطبيق او د هغې د اجرا له پاره ځانګړې نظامنامه موجوده ده.

**دولایاتو اداره**

٦٣- دولایاتو د اداري اصول په دريو اساسي قاعدو ولاړ دي: لومړی د مأذونيت پراختيا، ۲- د دندو بېلوالی، ۳- د مسؤوليت ټاکل. د يادو شوو قواعدو له مخې دولاياتو د مامورينو ټول وظايف دوضع شويو نظامنامو له مخې ټاکلي او سره بېل شوي دي او د مامورينو اختيارات هم دځانګړيو نظامنامو له مخې محدود دي، او هر مامور په خپله دنده کښې دمرتبو له مخې مسؤول ګڼل کېږي.

٦٤- په ولاياتو کښې دوزارتونو دهرې څانګې مامورين بېل-بېل ټاکل شوي دي، داهاليو کسان دې دخپلو کارونو داجرا او اړتياؤ درفع کولو له پاره لومړی ددی شعبو مامورينو ته ورځي.

٦٥- که دخلکو کار په ماموريتونو کښې تر سره نه شو، يا ددوی په باره کښې مامورين ددولت دنظامنامو خلاف کړن وکړي نو خلک دخپل کار دځنډېدو او ناوړه رويې له امله دهغوی لوړ آمر او داړتيا په وخت کښې نائب الحکومه ګانو او اعلی حاکمانو ته خپل عرض رسولای شي.

٦٦- دښاروالي د دايرو جوړول او دهغوی دندې په ځانګړې نظامنامه کښې څرګندې شوې دي.

٦٧- کله چې دهېواد په يوه برخه کښې دسرغړونې او بغاوت داسې نخښې چې عمومي امنيت ګډوډوي، وليدلې شي، دولت عسکري حکومت اعلانوي او عسکري اداره جوړېږي.

**متفرقه مواد**

٦٨- دافغانستان دتبعهؤ له پاره لومړنۍ زده کړې حتمي او جبري دی چې درجې او جزئيات يې په يوه ځانګړې نظامنامه کښې ټاکل شوي چې دهغې له مخې عملي کېږي.

٦٩- ددې اساسي نظامنامې يوه

مــاده هم په هېڅ ســبب او علت نه ځنډېږي او نه يې د اجــرا كــولو حكم ساقطيږي.

٧٠- كـه د ايجـاب لـه مـخـې د دې اساسي نظامنامې د ځينې موادو بدلول لازم وګـڼل شي نو د دولت د شــورى د دوو ثلثــو رايو لـه مــخـې او د وزيرانو د عــــالي مــــجلس په تصـــويب داعليحـضرت همـايوني حضـورته عــرض كـېـږي او د شـاهانـه حضـورتر منظورۍ وروسـتـه يې تغـيـيـر او بدلون ممكن دى.

٧١- كه د دې اساسي نظامنامې يا د دولت د نورو نظامنامو د كومې مادې تشـريح او تفـسـيـر ته اړه پېښـه شي، د دولت شـورى ته سـپـارلـه كـېږي او د دولت د شورى تر تصحيح او توضيح او د وزيرانو د عـالي مجلس تر تصويب وروسته طبع او خپرېږي.

٧٢- د نظامنامو د جوړولو په وخت د خلكو مـعـاملې، د وخت غـوښـتنې او مـخـصـوصـاً شـرعي احكام په دقت سره تر نظر لاندې نيول كېږي.

٧٣- د ليكونو مصؤونيت د خلكو يو حق دى او د خلكو ټول هغه ليكونه او مـراسلې چې د مـحـصـول په بدل كـښـې پوسـتـې تـه سـپـارل كـېږي، كـه د كـومې مـحـكمې لـه خوا د كـتلو حكم ورنـه كـړل شي پـه هېڅ پـوسـتــه خـانـه يـا بل ځـاى كـښـې نـه پرانسـتـل كـېږي او هـمـداسې سرتړلې مرسل اليه ته سپارل كېږي.

د دې اسـاسي نظـامنامې مـواد چې د دولت د وزيرانو او د مـشـرقي دلويې جــرګــې د ټولو وكــيــلانو لـه خــوا د افغانستان د لوړ دولت د اساس له پاره درايو په اتفـاق منل شوي او د نـومـوړي مــجلس اتـه سـوه دوه اويا تـنو (٨٧٢) اعـيـانو لـه هغې سره په موافـقت كـښـې لاسليكونـه او مــهـرونـه كـړي، منظـور دي، د دولت پـه نظـامنـامـو كـښـې يې د داخليـدو او د مــوادو د احكـامـو د اجـرا كولو امر او اراده كوم!

دا دري ژباړه د پښتو اساسي نظامنامې له اصل سره سمه ده.

مهر:

په دې دې کړن وسي

امیر امان الله

۱۳۰۱

## داساسي نظامنامې ضمیمه

(د ۱۳۰۷ کال دلویې جرګې پریکړې)

۱ - د دولت شورې په ملي شورې بدله شوه، ملي شورې دخپل ځانګړي قانون له مخې خپلې دندې ترسره کوي.

۲ - په افغانستان کښې داستقلال تر حربي نښان پر ته نور ټول نښانونه لغو دي. یوازې هغو کسانو ته چې دافغانستان په جګړو کښې خدمت وکړي دحربي استقلال نښان دهغه دمخصوص قانون له مخې ورکول کیدای شي. لغو شوي نښانونه دیادګار په توګه ساتل کیدای شي خو تر دې وروسته یې ځړولای نه شي.

۳ - څرنګه چې په افغانستان کښې (داستقلال تر حربي نښان پرته) ټول نښانونه لغو دي تر دې وروسته دافغانستان یو تبعه هم دبهرنیو هیوادونو نښانونه نه شي اخیستلای او له پخوا نه چې له چا سره وي دیادګار په توګه یې ساتلی شي.

٤ - افغانستان رسمي لباس نه لري، ملکي مامورین دې په رسمي وخت کښې دشپې فراک او دورځې فراکوټ، واغوندي.

٥ - په افغانستان کښې ملکي رتبې له بېخه لغو دي، په راتلونکي کښې هېچا ته رتبه نه ور کوله کېږي.

٦ - په افغانستان کښې دسردار، جلالتمآب، معظم، صاحب، محترم، عالیشان او نور القاب لغو دي، په رسمي لیکونو کښې ټولو لویو او وړو مامورینو ته یوازې دهغه نوم چې خان

پرې ورزیا تېږي او د ماموریت صفت یې لیکل کېږي او شاهانه حضورته اعلیحضرت گران پاچا لیکل کېږي، په خصوصي لیکونو کښې دې د مخاطب له نامه سره گرانه ولیکل شي.

٧- په افغانستان کښې د سلطنت ولیعهد د پاچا له نارینه اولادنه چې موریې ملکه وي، منل کېږي، ملکه هغه مېرمن ده چې پاچا د خپل سلطنت په پیل کښې رسماً خپله ملکه معرفی کړې وي.

تبصره: د ۱۳۰۷ کال لویې جرگې دوړی په ۹ نیتیه داعلیحضرت غازی امان الله خان په معرفی او دلویې جرگې په منلو سره شهزاده رحمت الله خان د ملکې ثریا زوی په ولیعهدۍ او ملکه ثریا دافغانستان په ملکگۍ ومنل.

٨- دافغانستان بیرغ په لاندې ډول بدل او وټاکل شو:

لومړی- دبیرغ رنگ تور، سور او زرغون.

دوهم- دبیرغ نښان غرونه چې دافغانستان دغرني هېواد نخښه ده او د دې غرونو پرسر د لمر راختل چې دافغانستان ختیځتوب او دافغانانو دبخت راختل ښیي او ستوری، پری دپاسه دالله او محمد پاک نومونه.

دریم- دنښان شا او خوا دغنمو وږی چې داحمدشاه بابا دجغې تاریخي نخښه ده.

(جمعه د تلې شپږم ۱۳۰۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دافغانستان د دولت اساسی اصولنامه

بسم الله الرحمن الرحیم

**اصل:**

۱- دافغانستان دین داسلام مقدس دین او رسمی او عمومی مذهب یې منیف حنفی (رح) مذهب دی. دافغانستان پاچا باید په همدې مذهب وي. نور دینونه لکه اهل هنود او یهودي چې په افغانستان کښې شته، په دې شرط چې عمومي آداب او هوسایي گډوډ نه کړي، هم تر تأمین لاندې نیول کېږي.

۲- دافغانستان لوړ دولت دخپلو کورنیو او بهرنیو چارو اداره په بشپړه خپلواکۍ په لاس کښې لري ، دهېواد ټولې سیمې او برخې ترملوکانه ارادې لاندې دیوه واحد تن په توگه تشکیلېږي او په هېڅ توگه دهېواد په برخو کښې توپیر نه کېږي.

۳- دافغانستان پایتخت کابل ښار دی او دهېواد ټول اوسېدونکي دحکومت په وړاندې برابر دي چې کابل ښاریان دهېواد دنورو ښارونو او کلیو پر اوسېدونکو بروالی نه لري.

۴- دافغانستان رسمی بیرغ تور ، سور او زرغون رنگونه لري او په منځ

کښې یې د غنمو وږی، محراب او منبر دي.

**د پاچا حقوق**

٥ – د هغو سرښندنو او خدمتونو په لمانځنه کښې چې غازي اعلیحضرت (محمد نادرشاه افغان) د افغانستان داستقلال او هېواد د نجات او د ظلم او استبداد د جرړو ایستلو له پاره کړي دافغانستان ټول ملت دده شاهانه ذات دخپل هېواد سم او وړ پاچا ګڼي او په ډېر درناوي او لمانځنه یې منلی او مني یې او همایوني ذات دافغانستان دسلطنت پر خپلو اکه تخت دکښېناستلو پروخت دافغانستان دټولو خلکو دوکیلانو او اشرافو په مخ کښې دژمنه کړې ده چې د نبوی صلعم دشریفي شرعې دمفتی بها او امرو، دحنفي مهذب مذهب او دهېواد داساسي اصولو له مخې به دخپل شاهانه حکومت چارې ترسره کوي، دافغانستان داستقلال ساتنه او پالنه به خپله مهمه دنده ګڼي. ملت او وطن ته به صداقت کوي او د پورتنیو شرایطو له عملي کولو نه به غاړه نه غړوي. نوله دې کبله دافغانستان نجیب ملت ژمنه کوي چې دافغانستان سلطنت د دې ترقي غوښتونکي پاچا کورنۍ ته داعلیحضرت پاچا او دافغانستان دملت دوګړو په ټاکنه، لېږدول کېږي.

**تبصره**

کورنۍ له لوی نارینه اولاد او ورونو څخه عبارت ده.

٦ – دافغانستان پاچا باید پر تخت ترکښېناستو وړاندې لاندې سوګند نامه په ملي شورى کښې دوکیلانو په وړاندې څرګنده او لاسلیک کړي:

«په لوی خدای او قرآن کریم ژمنه کوم چې په خپلو کړو وړو کښې به لوی خدای جل جلاله حاضر او ناظر ګڼم او داسلام دمبین دین او دافغانستان داستقلال په ساتنه، دخلکو دحقوقو په

خوندي کولو او دهېواد دساتنې، ترقۍ او نیکمرغۍ له پاره به دروښانه محمدي (ص) شرعې او دهیواد داساسي اصولوله مقرراتو سره سم سلطنت کوم او دسپېڅلو اولیای کرامو دروحانیت په برکت ځان ته مرسته غواړم! ».

۸- په خطبو کښې دپاچا نوم اخیستل، سکې دپاچا په نامه وهل، درتبو او منصبونو ټاکل، دنښانونو ورکول، دصدراعظم ټاکل او دوزیرانو منل- عزل او تبدیلول، دملي شوراله خوا دتصویب شویو اصولو تصدیقول او دهغو دمنلو او اجرا اعلانول، دشرعیه او اصولیه احکامو اجرا کول، دافغانستان دټولو قوا ؤ عمومي قوماندانی او دحرب اعلانول او دسولې کول او په عامه توگه له شرعې سره سم دعفوې کول او تعزیري مجازاتو سپکول له لویو پاچایی حقوقو څخه گڼل کیږي.

۸- دپاچا یې لگښت پیسې باید دهېواد په بودجه کښې ټاکلې وي.

## دافغانستان دعمومي تبعه ؤ حقوق

۹- ټول هغه کسان چې دافغانستان په هېواد کښې وي بې له دیني او مذهبي توپیره دافغانستان تبعه گڼل کیږي دافغانی تابعیت صفت دتابعیت له اصولنامې سره سم تر لاسه یا اخیستل کیږي.

۱۰- دافغانستان ټول تبعه په خپلو دیني او مذهبي چارو او دخپل متبوعه دولت په سیاسي اصولو مکلف او مقید دي او دخپلو مشروعو حقوقو آزادي لري.

۱۱- شخصي آزادي له هر ډول بلوسې نه په امن ده، هېڅوک بې له شرعي امر او له وضع شویو اصولنامو پرته بندي یا مجازات کېدلای نه شي. په افغانستان کښې داسارت اصول منع دي، ښځه او نارینه یو هم بل څوک

داسارت په توګه استخدامولای نه شي.

١٢ - دافغانستان تبعه دسوداګرۍ، صنعت او کرنې په چارو کښې، دټاکل شویو اصولنامو له مخې آزاد دي.

١٣ - دافغانستان ټول اتباع دغرا شریعت او ددولت دټاکلیو اصولو په وړاندې دهېواد په حقوقو او وظایفو کښې برابر حق لري.

١٤ - دافغانستان ټول اتباع دقابلیت او اهلیت له مخې دحکومت له اړتیا سره سم استخدامېږي.

١٥ - په افغانستان کښې دهر چا مال او ملک خوندی دی که کوم ملکیت دعمومي ګټوله پاره ددولت په کار شی له شریفې شرعې او ځانګړې اصولنامې سره سم يې لومړی بیه مالک ته ورکوله کېږي، بیا ملکیت ترې نیول کېږي.

١٦ - دافغانستان داتباعو دهر فرد کور او استوګنځی له هر ډول تیری نه خوندي دي، هېڅوک دحکومت له خوا یا نور بې له شرعې او ټاکل شویو اصولنامو پرته دچا کورته بې له اجازې نه شي ننوتلای.

١٧ - دخلکو دمالونو او ملکیتونو ضبطول منع دي پرته له هغه کسانو چې له هېوادنه بهر اوسېږي او دافغانستان دحکومت پرضد تحریکونه او خپرونې کوي.

١٨ - مصادره او بېګار منع دی خو هغه کارونه او تکلیفونه چې دجګړې پروخت پېښ شي له دې قاعدې نه بهر دي.

١٩ - شکنجه او دځورولو نور ډولونه ټول موقوف دي او دشرعې شریفې او د دولت د اصولنامو له احکامونه بهر هېچاته جزا نه ورکوله کېږي.

٢٠ - لومړنۍ زده کړې دافغانستان دتبعهٔ ماشومانو له پاره

واجبې او حتمي دي.

۲۱ - په افـغـانسـتـان کـښـې داسـلامـيـه علومـو تدريس آزاد دی، دافغانستان هر تبعه کس په عمومي او خـصـوصي توگـه داسـلامـيـه علـومـو د تدريسـاتو له پاره اجـازه لري خـو بهـرنيـان تر هغـو کـسـانو پرته چې دفنونو، صنايعـو او دپرديو ژبو د زده کـړې له پاره اسـتـخـدامـېږي، په افـغـانسـتـان کـښـې دننه دمـدرسـو دپرانستلو او جوړولو اجازه نه لري.

۲۲ - دافغـانسـتـان ټول ښـوونځي دحکومت تر څـارنه او پلټنه لاندې دي خـو ددوی دښـوونې او روزنې چارې داسلامي عقايدو او مصطلحاتو خلاف نه وي او له علمي، فني او صنعتي گټو سره موافق وي خو هغه تعليمی اصول چې داهل ذمـه له اعـتـقـادي او مـذهبي چارو سره اړه لري، نه اخلالېږي.

۲۳ - کورنی خپرونې او اخبـارونه چې دمـذهب خـلاف نه وي، دهغـه له مـخـصـوصـې اصـولنامې سره آزاد دی، داخـبـار خـپـرول يوازې دحکـومت او افـغـانـي تبعـهؤ حق دی، هغـه خـارجي مطبوعـات او جرايد چې دافغـانسـتـان د لوړ دولت مـذهب او سـيـاست ته اخـلال پېښ نه کړي، افـغـانسـتـان ته يې راتلل آزاد دي.

۲٤ - دشـخـصـي شـخـړو او دهېواد دتبـعـهؤ دنورو چارو پريکړې چې له عدلـيه محکمو او رسمي دايرو سره اړه لري، کـه ددي دايرو پريکړه يې قناعت حاصل نه کړي کولای شي چې تر هغې لوړو مـقـامـونو ته تر اړوند وزارت او دقنـاعت نه کـولـو په صـورت کـښـې دعظمی صـدارت مـقـام او شـاهـانه حضورته عرض او نياو غوښتنه وکړي.

۲٥ - ټـاکـل شـوې مـالـيـې او محصـولونه دځانگړ اصولنامو له مخې اخېستل کېږي.

۲٦ - د دولت له اصولنامونه بهر له هېچانه څه نه اخېستل کېږي.

**ملي شورى**

(د مجلس تشکيلات)

۲۷- د ملي شورى مجلس دهمايوني اعليحضرت په عزم او اراده او د ۱۳۰۹ کال دولويې جرګې چې په کابل کښې جوړه شوې وه، په تصويب داير او تأسيس شوى دى.

۲۸- دا مجلس سر تر پايه له هغو کسانو نه جوړ دى چې دافغانستان په معاشي او سياسي چارو کښې ګډون لري يعني د ټول هېواد دخلکو نماينده دى.

۲۹- د ملي شورى رغاونه او جوړښت له هغو استازو نه شوى چې له کابل او نورو ولاياتو، حکومتونو او علاقداريو څخه ټاکل کېږي او دراټولېدو ځاى يې په پايتخت کښې دى.

۳۰- د ملي شورى دوکيلانو شمېر دانتخاباتو په تصويب شوې اصولنامه کښې درج او ټاکلى دى.

۳۱- د دې مجلس دټاکلو موده په ټولو وختونو کښې درى کاله ده او داعتبار د لومړۍ دورې پيل د ملي شورى دافتتاح له ورځې څخه دى او ټاکل شوې چې دهرو دريو کلونو تر پوره کېدو وروسته وکيلان له سره وټاکل شي، انتخابونکي که وغواړي خپل پخواني وکيلان يوځل بيا وټاکي درضايت په صورت کښې واک او اختيار لري.

۳۲- د ملي شورى درخصتۍ او کارکولو وختونه به د مجلس په داخلي اصولنامه کښې وټاکل شي. درخصتۍ په وخت کښې که حکومت د کومې اصولنامې جوړولو ته اړه پيدا کړي دا اصولنامه په مؤقت ډول د حکومت له خوا تصويب او دپاچاهي فرمان له مخې عملي کېږي، دکار په پيل سره که دا مؤقتي اصول د ملي شورى له خوا ومنل شول د دايمي اصولو په ډله کښې ځاى مومي او که نه د دې مجلس له خوا

تعدیل یاردېږي.

۳۳- دملي شورئ مجلس دمهمو مسألو دخبرنۍ او پرېکړې له پاره درخصتۍ په وخت کښې هم دا یرېدلای شي خو که دبحث وړ موضوع دله لاسه تلو له وېرې دتېولو دراتېولولو فرصت نه وي یوازې دمرکز او لنډو ځایونو دوکیلانو په را رسېدو مجلس جوړېدلای شي.

۳۴- خبرې هغه وخت شروع کېدلای شي چې لږ تر لږه دمجلس نیم غړي موجود وي او دمقرراتو پرېکړې دغړو داکثریت رایو په اتفاق کېږي.

۳۵- دملي شورئ مجلس دخپلې هرې دورې په پیل کښې دپاچا په وړاندې خپله خطابه عرض او بیانوي او دهمایوني اعلیحضرت له خوا ځواب ورکول کېږي.

۳۶- په پیل کښې دمجلس غړي په لاندې ډول سوگند اخلي او سوگند پاڼه لاسلیک کوي:

**سوگندنامه:**

۳۷- مونږ لاندې لاسلیک کوونکي دهغې باور له مخې چې ملت او حکومت پر مونږ کړی په لوی خدای او سپیڅلي قرآن سوگند پورته کوو چې خپل ملت او حکومت ته به رښتیني اوسو.

۳۸- دملي شورئ دمجلس غړي دشورئ په مجلس کښې دوکیلانو په وړاندې دخپل نظر په ورکولو کښې آزاد او له هر راز اعتراض نه مصؤون دي.

۳۹- دملي شورئ دمجلس دغونډو ټولې خبرې له دې امله چې نتیجه یې دعمل ډگر ته راوزي علني دي. دجریدو نمایندگان او کتونکي دمجلس دداخلي اصولنامې تر بندیزونو لاندې یوازې دمذاکرو اورېدلو حق لري.

**دندې:**

۴۰- دملي شورئ مجلس خپلې

داخلي چارې لکه دلومړي او دوهم رئيس، دمذاکرو دليکوالې ډلې او نورو څانګو ټاکل دخپلې داخلي اصولنامې له مخې کوي.

٤١ - ټولې هغه اصولنامې او ضابطې چې دمملکت دچارو او دحکومت دانتظام له پاره يې جوړول لازم وي دملي شورى دمجلس له خوا تصويبيږي.

٤٢ - دمالي چارو برابرول، دعوارضو منل يار دول او هم د دولت له خوا دنوېو ممېزونو رامنځ ته کول دمجلس له تصويب سره اړه لري.

٤٣ - دهېواد دبودجې تدقيق او تصويب، چې دمالېې وزارت له خوا ترتيب او وړاندې کېږي، دملي شورى له دندو څخه دي.

٤٤ - دنوېو اصولنامو جوړول يا دټاکل شويو قوانينو بدلون او فسخ کول دملي شورا په تصويب کېږي.

عام له دې که لزوم يې دمجلس له خوا شوى يا دوزيرانو دمجلس له خوا څرګند شوى وي.

٤٥ - دعمومي شرکتونو او کمپنيو دجوړولو او امتياز تصويب به، هر ډول او په هر نامه چې وي، دملي شورى له خوا کېږي.

٤٦ - دمقاولو او تړونونو کول، دسوداګرى، صنعت، کرنې او نورو امتيازاتو (انحصار) ورکول که د داخله له خوا دي يا خارجه، دملي شورى په تصويب کېږي.

٤٧ - دولتي پورونه که دداخله يا خارجه له خوا په هر نوم او بنه وي د ملي شورا په خبرتيا او تصويب کېږي.

٤٨ - داورګاډي دپټلۍ او سړکونو غځول که د دولت په لګښت يا دکورنيو او بهرنيو شرکتو او کمپنيو په وسيله وي ټول دملي شورى دمجلس له تصويب سره تړلي دي.

٤٩ - دملي شورى مجلس حق لري چې په لازمو وختونو کښې همايوني

حضورته عریضه وړاندې کړي. خو دا عـریضـه به په هر حـال د یوه هیـأت په وسیله وړاندې کېږي یو رئیس او شپږ تنه غړي چې نورو طبقو له خپل منځ نه خوښ کـړي وي، ولري. د حـضـورد شرفـیـابۍ وخت به هم لومړی د دربار دوزارت له لارې غوښتل کېږي.

۵۰ - وزیران د ملي شورې د مجلس په غـونډو کښې د مذاکرو داوریدو له پاره راتلای شي او هم حق لري د لزوم په صـورت کـښې د مـجلس د رئیس په اجازه د چارو د ځیرنې او څېړنې له پاره توضیحات ورکړي. په مجلس کښې د وزیرانو د راتلو له پاره ځانګړې ځای ټاکل شوی دی.

۵۱ - هر راز نوي قـانـونـونه چې جوړولو ته یې اړه ولیده شي د وزیرانو یا صـدراعظم له خـوا د ملي شـورې مجلس ته ښودل کېږي او د مجلس تر تصـویب وروسـتـه د پاچا په لاسلیک ښکلي کېږي او د عمل وړ ګرځي.

۵۲ - د لزوم د یدلـه مـخې د مـجلس رئـیس کـــولای شي چې په خـــپله یا د مجلس د لسو تنو غړو یا کوم وزیر په وړاندیز، د جــریدو له نمایندګـانو او کتونکو پرته سري غونډه جوړه کړي او هم کولای شي یوه جرګګۍ د مجلس له یو شمېر منتخبو غړیو نه چې د مجلس نور غـړي دورتلو حق نه لري، غـونډه جوړه کـړي، خـو د جـرګګۍ یا پټـې غونډې نتیجه به هغه وخت داجرا وړوي چې په دواړو صـورتونو کـښې تر بحث لاندې راغلې مـوضـوع له څلورونه د دریو برخو منتخبو وکیلانو تر خبرو لاندې راغلې او درایو په اکثریت منل شوې وي. که کله مطلب په سري غونډه کښې ونه منل شي، په مجلس کښې نه مطرح کېږي او پټه خوله پاتي کېږي.

۵۳ - کله که پټه غـونډه د رئیس په غـوښتنه جوړه شوې وي که په مناسبه اندازه خبري یې عمومو ته ووایي، وا ک لري خو که د غونډې جوړېدل د کوم وزیر

په غوښتنه وي په هغه صورت کښې به دخبرو ځرګندول هم د نوموړي وزير له اجازې سره تړلي وي.

٥٤ - وزيران خپل وړاندې کړى مطلب ولو که هر څومره بحث پرې شوى وي هم، بېرته له غونډې نه اخيستلاى شي خو که دده ځرګندونې د مجلس په غوښتنه وي نو د مطلب د بېرته اخيستلو له پاره د مجلس موافقت هم شرط دى.

٥٥ - که لايحې ښوده چې کوم وزير دې مجلس ونه مني له خپلو ملاحظاتو سره به يې راوغواړي. دا لايحه به هغه وخت مجلس ته بيا ځرګنده شي چې وزير د مجلس ملاحظات رد يا ومني.

٥٦ - د مجلس دغړو له خوا ديوه مطلب د رد يا منلو له پاره رايه په ځرګند او ښکاره ډول ورکوله کېږي او هېڅوک نه شي کولاى دوى درايې ورکولو ته وهڅوي او يا يې تهديد کړي، د مجلس د غړو رد يا منل په ظاهري نخښو لکه تورو او سپينو پاڼو کېږي چې د جريدو نمايندګان او کتونکي يې وليدلاى شي.

## د مجلس له خوا د طلب وړاندې کول:

٥٧ - هر هغه مطلب چې د مجلس دغړو له خوا وړاندې کېږي هغه وخت به د مذاکرې وړوي چې لږ تر لږه دغړو څلورمه برخه په نوموړي مطلب مذاکره تصويب کړي، په دې ترتيب د نوموړى مطلب عنوان په ليکلي ډول د مجلس رئيس ته ورکول کېږي او که د مجلس رئيس دا لايحه د تحقيق د جرګګۍ دايروته يوسي، کولاى شي.

٥٨ - دملي شورى يو شمېر هغه کسان چې د نورو غړو په خوښونه او دشورى درئيس په تصويب د تحقيق دجرګګۍ په نامه بېل او ټاکل کېږي شوراته دراغلو مسألو لومړنى سنجش

به په دقت کوي له هغي ډلي نه به په مجلس کښې د یادولو وړ مواد له خپلي لیکلې نظر یې سره د مجلس رئیس ته وړاندې کوي او د رئیس په اجازه تر خبرو لاندې نیول کېږي او هغه مواد چې د بشپړېدو اړه لري یا د مجلس بحث ته اړه و نه لري د رئیس له خوا له دلایلو سره یي اړوند وزارت ته ورلېږل کېږي. د تحقیق د جرګګی غړی باید لږ تر لږه لس تنه وي.

۵۹- هغه مطلبونه چې د (۵۷) اصل له مخې مجلس ته وړاندې کېږي که له کوم یوه وزیر سره اړوند وي د نومړي لایحې د تدقیق یا پر هغه د مذاکرې په وخت که د تحقیق په جرګګی کښې وي یا په مجلس کښې، اړوند وزیر ته یې د خبرو کړل شي چې په خپله راشي یا خپل معین را ولېږي او د لایحې یا ضمایمو یو نقل یې باید مجلس د وزیر یا معین تر راغوښتلو لس تر پنځلس ورځو وړاندې د دوی د خبر تیا له پاره ور ولېږي. ضروري مطالب له دې قیده مستثنی دي.

۶۰- که وزیر د کوم مصلحت له مخې د مجلس له خوا له وړاندې شوي مطلب سره موافقه و نه کړای شي لازم دي خپل معذرتونه مخامخ څرګند او مجلس قانع کړي.

۶۱- کوم وزیر چې ملي شورى توضیحات ترې وغواړي د ځواب په ورکولو مکلف او مسؤول دی او له منلو وړ عذر او غوښتنې پرته د ځواب د ځنډولو حق هم نه لري. خو کله که مطالب محرمانه او په یو وخت پټ ساتلو کښې یې د ملت او دولت ګټه وي خو د دې وخت تر تېریدو وروسته د مجلس په وړاندې د نومړي مطلب په څرګندولو مکلف دی.

۶۲- له افغاني تبعهٔ څخه د یوه تن شخصي عرض چې په رسمي ادارو کښې د مربوط وزارت تر مرکز پورې غور پرې و نه شي په شورى کښې د خپل

محلي وکيل له لارې خپل عرض شورى ته رسولای شي چې شورى دا ډول عريضې دغور او تحقيق له پاره دصدارت مقام ته لېږي.

٦٣- دپاچا دمړينې په وخت کښې که دملي شورى مجلس رخصت وي حتماً به راغونډېږي او دمجلس جوړېدل بايد دپاچا تر مړينې وروسته ترشل ورځو زيات ونه ځنډېږي.

٦٤- که دپاچا تر مړينې وړاندې دوکيلانو دوکالت دوره سر ته رسېدلې وي او دمړينې په وخت لانور وکيلان نه وي ټاکل شوي مجلس د پخوانۍ دورې دوکيلانو په راغونښتلو جوړېږي.

٦٥- هغه مواد چې دملي شورا په مجلس کښې تصويبېږي بايد داسلام له سپيڅلي دين او دمملکت له سياست سره مخالفت ونه لري.

٦٦- دشورى دمجلس تصويبونه او پريکړې په عمومي توګه د شاهانه ذات تر لاسليک وروسته داجرا وړ ګرځي.

## داعيانو مجلس

٦٧- داعيانو مجلس له هغو مجربو او ستر ګورو کسانو نه جوړ دى چې مستقيماً دپاچا له خوا ټاکل کېږي، دراغونډېدو ځاى يې کابل دى.

٦٨- دجوړو شويو اصولنامو تصويب د دواړو مجلسونو: ملي شورا او اعيانو له خوا کېږي، کوم وړانديزونه چې دوزيرانو دهيأت له خوا دې مجلس ته کېږي تر غور او خبرو وروسته په اکثريت تصديق او د تصويب له پاره ملي شورى ته استول کېږي او د دې پرعکس دملي شورى له خوا تصويب شوي مواد داعيانو په مجلس کښې کتل او تصويب کېږي.

٦٩- دملي شورى دپرانستلو پروخت که داعيانو مجلس نه وي راغونډ شوى دملي شورى پرېکړې نه ځنډېږي او دهمايوني پاچا په لاسليک

تر اجرا لاندې نیولې کېږي.

۷۰- هغه مطالب چې داعیانو په مجلس کښې تصویب او دملي شورى مجلس ته استول کېږي که دملي شورى په مجلس کښې ونه منل شی د مطلب داهمیت په نظر کښي نیولو سره یو بل مجلس چې د دواړو مجلسونو غړي پکښې وي ورته جوړېږي، ددې مجلس غړي چې سره برابر نیول کېږي لږ تر لږه باید ۲۰ تنه وي. تیاکلی مجلس په اختلافی موضوع څېړنه او ځیرنه کوي او خپله رایه دملي شورى مجلس ته وړاندې کوي که دتیاکلی مجلس له رايې سره دشورى مجلس موافقه ونه کړه ملوکانه حضورته عرض کېږي او دده په اراده فیصله کېږي.

**دولایتونو دمشورې مجلسونه**

۷۱- دنائب الحکومگیو، اعلی او لویو حکومتونو په مرکز کښې د مشورې یو - یو مجلس جوړېږي.

۷۲- د دې مجلس دغړو د شمېر او وظیفو تیاکل دهغه په ځانگړې اصولنامه کښې څرگند او بیان شوي دي.

**دوزیرانو وظیفې او حقوق**

۷۳- دمملکت اجرایي چارې ددولت دوزیرانو په وسیله چې دصدر اعظم له خوا خوښ شوي او دملوکانه حضور له خوا تیاکل شوي دي، اداره کېږي.

۷۴- دوزیرانو دهیأت ریاست دصدر اعظم په غاړه دی او دصدر اعظم د غیاب په صورت کښې لومړی وزیر دریاست چارې پرمخ بیايي.

۷۵- هېڅوک دوزارت څوکۍ نه شي نیولای څو چې مسلمان او دافغانستان تبعه نه وي.

۷۶- هر وزیر ددولت په عمومي سیاست کښې په گډه او دخپل وزارت په چارو کښې په ځانگړي ډول ملي

شوری ته مسؤول دی نو ځکه شاهانه ذات غیر مسؤول دی.

٧٧- دوزیرانو مسؤولیت او هغه سیاست (روش) چې ورسره کېږي اصولنامه ټاکي.

٧٨- وزیران ورسره اړوندې چارې دخپل واک په اندازه اجرا کوي او تر هغه لوړې یې صدراعظم ته وروړي، صدراعظم دخپل واک په اندازه چارې تر سره کوي او تر هغه لوړې یې ملوکانه حضور ته عرضوي او هدایت اخلي.

٧٩- کله که د دولت کوم وزیر دخپلې وظیفې په حدودو کښې دخلاف ورزی په جرم تورن شی دمحاکمې ځای یې عالی دیوان گڼل کېږي، دوزیرانو نورې شخصي دعواوې چې دماموریت له دندې نه یې بهر وي لکه دنورو رعیتی کسانو غوندې عدلیه محکموته راجع کېږي.

٨٠- کوم وزیر چې تورن کېږي دمحکمې تر نتیجې او دبرائت تر وخته له رسمي دندې نه لرې کېږي.

٨١- دوزیر په غیاب کښې دوزارت معین یا وکیل چې له لزوم سره سم مقرر شی دوزیر ټول واکونه لری.

٨٢- دوزیرانو او مامورینو دعمومي احوال د تفتیش له پاره دشاهانه حضور په اجازه دملي شوری له خوا له ځانگړې لایحي سره سم دپلټنې هیأت ټاکل کېږي.

٨٣- دوزارتونو شمېر، د دایرو تشکیل او وظیفې یې داساسي تشکیلاتو په اصولنامه کښې څرگند شوي دي.

## دمامورینو حقوق

٨٤- مامورین په عمومی توگه دهغو موادو له مخې چې په ځانگړو اصولنامو کښې راغلي پر هغو ماموریتونو چې ورسره وړ او مناسب وي ټاکل کېږی او هیڅ یو مامور تر څو

چې له خپلې وظیفې نه مستعفي نه شي یا د دولت له خوا د یوه ضروري کار له مخې د تبدیلۍ یا موقوفۍ ورنه وي په هیڅ ډول نه موقوفېږي او هغه مامورین چې ښه رویه او په خدمت کښې استقامت وښیي د ځانګړو اصولنامو له مخې د رتبې او ماموریت د لوړتیا او مستمري معاش حق لري.

۸۵- ټول مامورین له خپلې رتبې سره سم د ټاکل شویو اصولنامو له مخې د خپل لوړ آمر په اطاعت مکلف دي او لاندې مامورین هیڅ امر دهغې په خلاف نه شي اجرا کولای. کله که دلوړو مامورینو له خوا په لاندنیو مامورینو د اصولو خلاف دکوم کار داجرا کولو امر وشي لاندیني ماموران دې ددې امر تر اجرا کولو وړاندې د مرکز وزارت یا صدارت عظمی ته خبر ورکړي.

۸۶- د مامورینو دندې په ځانګړو اصولنامو کښې ټاکل شوې او سره ببلې شوې دي، هر مامور له ټاکل شویو اصولنامو سره سم د خپلو ورسپارل شویو وظیفو مسؤول دی.

**محکمې**

۸۷- عدلیه محکمې د عمومي شرعي دعواګانو دورتلو ځای دی.

۸۸- په شرعي محکمو کښې د مهذب حنفی (رح) مذهب له مقرراتو سره سم فیصله کېږي.

۸۹- ټولې محکمې له هر ډول لاسوهنې نه خوندی دی.

۹۰- په عدلیه محکمو کښې دعواګانې په څرګند ډول فیصله کېږي تر هغې مسألو پرته چې شارع یې فیصله کول په پټ ډول ښودلي وي.

۹۱- د محکمو په وړاندې هر څوک د خپلو حقوقو د ساتنې له پاره دهر ډول مشروعو وسایطو وړاندیز کولای شی.

۹۲- عدلیه محکمی د دعواګانو

دوړاندې کولو او فیصله کولو په برخه کښې له شرعي امر پر ته ځنډنه شي کولای.

۹۳- هېڅوک له محکمو بهر دځینې خاصو فقرو دفیصلې له پاره فوق العاده محکمه نه شي تشکیلولای.

۹۴- دمحکمو صنفونه، درجې او صلاحیتونه داساسي تشکیلاتو په اصولنامه کښې څرګند شوي دي.

**عالي دیوان**

۹۵- عالي دیوان ددولت دوزیرانو دمحاکمې له پاره له غوښتنې سره سم په مؤقت ډول جوړېږي او دورسپارل شویو چارو تر پای ته رسولو وروسته ړنګېږي.

۹۶- دعالي دیوان دجوړېدو او په هغه کښې د محاکمې ډول دځانګړې اصولنامې له مخې اجرا کېږي.

**دمالیې چارې**

۹۷- د دولت ټول محصولونه دهغه دځانګړې اصولنامې له مخې اخیستل کېږي او لګول کېږي.

۹۸-هر کال د دولت دوارداتو او لګښتونو له پاره د ٤۳ اصل له مخې یوه بودجه جوړېږي. دا بودجه د دولت دوارداتو له پاره موازنه او د لګښتونو له پاره اساس ده. ټول لګښتونه د هغې له مخې اخیستل کیږي او لګول کیږي.

۹۹- دکلنۍ بودجې تر تطبیق او اجرا وروسته یوه قطعي محاسبه تنظیمیږي، دا قطعي محاسبه ددې کال دوارداتو او لګښتونو حقیقي اندازه په ګوته کوي.

۱۰۰- دقطعي محاسبې دتنظیم او دبودجې دتنظیم او دهغې دتطبیق او اجراء د ډول له پاره ځانګړې اصولنامه موجوده ده.

۱۰۱- دمالیو تحقیق یا معافي

دهغه دځانګړې اصولنامې له مخې اجرا کيږي.

**دولاياتو اداره**

۱۰۲ - دولايتونو داداره کولو اصول په دريو اساسي قاعدو ولاړ دي:

دمادونيت توسيع، دوظيفو تفريق او دمسؤوليت ټاکل. دیادو شو قاعدو له مخې دولاياتو دټولو مامورينو وظيفې دټاکل شويو اصولنامو له مخې ټاکل شوې او سره بېل شوي دي او دمامورينو واکونه هم دټاکل شويو اصولو له مخې حدبندي شوي او هر مامور په خپلو چارو کښې رتبه په رتبه خپل لوړ آمر ته مسؤول دی.

۱۰۳ -په ولاياتو کښې له هر وزارت سره اړوند ځانګړي مامورين ټاکل شوي، دخلکو افراد دخپل کار داجرا ءاو دخپلو اړتياؤ دليرې کولو له پاره اړوندو څانګو ته مراجعه کوي.

۱۰٤ - کله هر وخت دهېواد په کومه برخه کښې دسرغړونې او عصيان امنيت ګډوډوونکې نخښې وليدلې شي حکومت دبغاوت ددفع کولو او امنيت دټينګولو له پاره لازم تدبيرونه کولای شي.

۱۰۵ - دښاروالي ددايرو جوړېدل او دهغه وظايف دځانګړې اصولنامې له مخې اجرا کيږي.

**عسکر**

۱۰٦ - دعسکرو دنيولو ډول دځانګړې اصولنامې له مخې اجرا او دعسکري وظايف او حقوق او دمنصبونو لوړېدل داصولو له مخې کيږي.

۱۰۷ - دهېڅ يو عسکري فرد حقوق او منصبونه له اصولو پرته نه سلبيږي.

۱۰۸ - خارجي اتباع په عسکري مسلک کښې تر ډاکټرۍ او حربي معلمۍ پرته، نه منل کيږي.

## متفرق اصول

١٠٩ - دليكونو خوندیتوب دخلکو يو حق دی، دخلکو ټول محصول شوي ليکونه او ليکنې چې پوستې ته سپارل کېږي که د کومې محکمې له خوا يې د پلټلو حکم نه وي ورکړل شوی، په هېڅ پوسته خانه يا بل ځای کښې نه سپړل کېږي او همداسې سر تړلي مرسل اليه ته سپارل کېږي.

١١٠ - په کومو چارو کښې چې دشاهانه حضور يا صدر اعظم له خوا کوم وزير يا کوم بل مامور ته شفاهي امر وشي باید لیکلي احکام يې دهمايوني پاچا يا صدر اعظم په لاسليک ترلاسه کړي.

ددې اصولنامې دموادو او احکامو تعميل او اجرا امر او اراده کوو. دليکلو نيټه د ١٣١٠ دلړم اتمه چې د ١٣٥٠ دجمادی الثانی له ١٩ سره سم ده.

(دپاچا مهر)

(عليحضرت محمد نادرشاه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ۱۳٤۳ کال اساسی قانون

## د افغانستان د باچا ښکلل

موږ المتوکل علی الله محمد ظاهر شاه د افغانستان باچا د افغانستان د نوی اساسی قانون مسوده چې د هغې لویې جرگې له خوا تصویب شوې کومه چې د ۱۳٤۳ هـ ش کال د سنبلې د میاشتې د اتلسمې ورځې څخه یې د دولت په ټولو سیمو کې د افغانستان د اساسي قانون په حیث نافذ اعلاموو.

سر له نن ورځې د افغانستان هغه اساسی قانون چې د ۱۳۰۹ هـ ش کال د لویې جرگې له خوا تصویب شوی او تر ننه پورې په هیواد کې نافذ ؤ د هغه د ټولو ضمایمو سره لغو شوی اعلاموو.

محمد ظاهر شاه

دافغانستان پادشاه

د گلخانی مانۍ

۹ میزان ۱۳٤۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لومړی فصل
## دولت

١ ماده: افغانستان يو مشروطه باچايي، خپلواک، يو موټی او نه بېلېدونکی دولت دی.

ملي حاکميت په افغانستان کې په ملت پورې تعلق لري. د افغانستان ملت ټول هغه افراد دي چې د قانون له حکمه سره سم د افغانستان د دولت تابعيت لري. د دې افرادو په هر يو فرد باندې د افغان د کلمې اطلاق کېږي.

٢ ماده: د افغانستان دين د اسلام سپيڅلی دين دی، ديني شعاير د دولت له خوا د حنفي مذهب د حکمونو سره سم پر ځای کېږي.

د ملت هغه کسان چې مسلمانان نه دي په هغو حدودو کې د ننه چې د چال چلند او عامې هوساينې په باب قوانين يې ښيي، آزاد دي چې خپل مذهبي مراسم په ځای کړي.

٣ ماده: د افغانستان د ژبو له جملې څخه پښتو او دري ژبې رسمي ژبې دي.

٤ماده: د افغانستان بيرغ له دريو ټوټو جوړ دی چې رنګونه يې تور، سور او شين دي او يو هومره ولاړې څنګ په څنګ د کيڼې خوانه په ښي لور تللي دي. د هر رنګ ساره يې د اوږدو د نيمايي هومره دی. په منځ کې يې په سپين رنګ د محراب او منبر نښان لګېدلی دی چې دواړه خوا ؤته يې دوه بيرغونه ولاړ دي او له دواړو غاړو يې د غنمو دوه وږي چاپېر دي.

٥ ماده: د افغانستان پايتخت د کابل ښار دی.

## دوهم فصل
## باچا

٦ماده: په افغانستان کې باچا د ملي حاکميت ښکارندوی دی.

٧ماده: باچا د اسلام د سپيڅلي دين د اساسونو ساتنوال، د افغانستان

د خپلواکی او د سیمي د تمامیت ساتونکی، د اساسي قانون ساتندوی او د ملي یو والي مرکز دئ.

۸ماده: باچا باید د افغانستان له اتباعو، مسلمان او په حنفي مذهب وي.

۹ماده: د باچا وظیفی او حقونه دادی:

۱- د افغانستان د اردو لویه مشري.

۲- د جنگ او اوربند اعلان.

۳- د لویې جرگې دائرول او پرانستل.

٤- د شورا د عادي غونډې پرانستل.

۵- د شورا د فوق العاده غونډي دائرول او پرانستل.

٦- د شورا ړنگول او د نوو انتخاباتو د فرمان ویستل.

۷- د قوانینو ښکولل او د هغو د جاری کولو اعلام.

نوی انتخابات د شورا د انحلال د تاریخ نه په دري میاشتو کې د ننه د ننه سرته رسیږي.

۸- د تقنیني فرمانونو ویستل.

۹- د قانون د حکمونو سره سم د بین الدول معاهدو د تړون د پاره اعتبار لیک ورکول.

۱۰- د بین الدول معاهدو ښکولل.

۱۱- د صدر اعظم ټاکل، د هغه استعفأ منل، د صدر اعظم په پیشنهاد د وزیرانو ټاکل او د وزیرانو استعفأ منل.

۱۲- د مشرانو جرگې د غیر انتخابي غړو ټاکل او د دغی جرگې د غړو له منځ نه د رئیس ټاکل.

۱۳- د قاضي القضات او ستري محکمي د غړو ټاکل.

۱٤- د قانون د حکمونو سره سم د قاضیانو او عالیرتبه مامورینو او منصبدارانو ټاکل او متقاعد کول.

۱۵ - په بهرنیو ملکونو کې د افغانستان د سیاسي نمایندګیو د مشرانو ټاکل، په بین المللي مؤسسو کې د افغانستان د دایمي نمایندګانو ټاکل او د بهرنو ملکونو د سیاسي نمایندګانو باور لیک منل.

۱٦ - د اضطرار د حالت اعلامول او ختمول.

۱۷ - د جزا کمول او بخښل.

۱۰ ماده: سیکه د باچا په نامه وهله کېږي.

۱۱ ماده: په خطبو کې د باچا نوم اخیستل کېږي.

۱۲ ماده: نښان د قانون د حکمونو سره سم د باچا له خوا ورکول کېږي. د نښان په ورکړه پورې هېڅ ډول مادي ښیګړه تړلې نه وي.

۱۳ ماده: د باچایي دربار لګښت د باچایي لګښتونو د قانون سره سم د دولت په بودجه کې ټاکل کېږي.

۱٤ ماده: په دې فصل کې چې هر څومره صلاحیتونه راغلي دي له هغو نه په هغو حدودو کې د ننه استفاده کېږي چې د دې اساسي قانون حکمونو ښودلي دي.

۱۵ ماده: پاچا نه پوښتیدونی دی او لمانځنه یې واجب ده او دی د باچایي کورنۍ او د حکومت او سترې محکمې د غړو په مخکښې د شورا د دواړو جرګو د مشترکې غونډې په وړاندې داسې لوړه کوي:

﴿بسم الله الرحمن الرحیم﴾

د لوی خدای په نامه لوړه کوم چې په خپلو ټولو چارو کې به خدای جل جلاله حاضر ګنم، د اسلام د سپیڅلي دین د اساساتو ساتنه او د اساسي قانون حمایت به کوم، د هېواد خپلواکي او د سیمې تمامیت، د دولت قوانین او د خلکو حقونه به ساتم او د لوی خدای له درباره د مرستې په غوښتو به د افغانستان د اساسي قانون د حکمونو سره سم باچایي کوم

او خپل ټول کوښښ به د افغانستان د ملت د لوړتیا او سوکالی په لاره کې په کار اچوم.

۱۶ ماده: د افغانستان باچايي د دې اساسي قانون د حکمونو سره سمه د اعليحضرت محمد نادرشاه شهيد په کورنۍ کې له يو نه بل ته پاتې کېږي.

۱۷ ماده: که چېرې باچا د استعفا تکل وکاندې نو د اولسي جرګې له مشر، د مشرانو جرګې له مشر، صدر اعظم، قاضي القضات او باچايي دربار له وزير نه جوړ مجلس ته خبر ورکوي. بيا په اوو ورځو کې د ننه د ننه لويه جرګه دايروي او خپله استعفا پخپله يا د دربار د وزير په لاس جرګې ته وړاندې کوي. که لويه جرګه تصديق وکړي چې باچا په خپله خوښه استعفاء کړې ده نو د دغې جرګې د تصديق له تاريخ نه د باچا استعفاء نافذه ګڼل کېږي.

۱۸ ماده: د باچا د استعفاء يا مړينې په وخت کې باچايي د هغه مشر زوی ته پاتې کېږي. که چېرې د باچا په مشر زوی کې هغه شرطونه پوره نه وو چې په دې اساسي قانون کې ښودل شوي دي نو بيا يې د هغه دويم زوی او همداسې ورپسې نورو زامنو ته پاتې کېږي.

۱۹ ماده: که چېرې باچا مړ شي يا استعفاء وکړي او د باچايي په شرطونو برابر زوی ونه لري، نو باچايي د باچا په ورونو کې تر ټولو مشر ورور ته پاتې کېږي.

که چېرې د باچا په مشر ورور کې د باچايي شرطونه پوره نه وي نو ده ته چې کوم يو ورور د عمر په لحاظ زيات نژدې وي باچايي هغه ته پاتې کېږي او همدغسې تر اخره درومي.

که چېرې د باچايي په شرطونو برابر يو ورور هم ونه لري نو پر ځای ناست به يې د اعليحضرت محمد نادر شاه شهيد «رح» د نارينه اولاد له ټيره غوره

کېږي. په داسې حالت کې د باچا انتخاب د لويې جرګې، د سترې محکمې له غړو او د حکومت نه د يو جوړ شوي مجلس له خوا کېږي. که چېرې باچا مړ ؤ نو دا مجلس به د مړينې د ورځې له تاريخه په پنځلسو ورځو کې د ننه او که استعفاء يې کړې وه نو د هغې د نافذ کېدو د تاريخ نه پس په اوو ورځو کې د ننه د صدر اعظم له خوا جوړېږي.

په دې مجلس کې فيصله د حاضرو غړو له خوا د رايو په اکثريت کېږي او فيصله د هغه چا له منښت نه پس چې د باچا په حيث غوره شوی دی، نافذه ګڼل کېږي.

د باچا د مړينې يا د استعفاء د نافذ کېدو له نيتې نه د هغه د پر ځای ناست تر غوره کېدو پورې د دربار وزير د باچا نائب ګڼل کېږي.

۲۰ ماده: کله چې باچا د هيواد نه د باندې د سفر تکل وکړي نو يو يا څو کسه د خپل وکيل په توګه ټاکي.

د غه کس يا کسان د باچا په غياب کې د هغه واک اختيار په حدودو کې د ننه چې باچا ورته ورکړی دی، باچايي چارې د دې اساسي قانون د حکمونو سره سمې د باچا په وکالت پر ځای کوي.

د غه کسان د وکيل په توګه نشي ټاکل کيدی:

۱-صدر اعظم.

۲- د اولسي جرګې مشر.

۳- د مشرانو جرګې مشر

٤- قاضي القضات.

۲۱ ماده: کله چې باچا مړ شي او د هغه پر ځای ناست لا د خپل عمر شل کاله پوره کړي نه وي، نو ترڅو پورې چې د غه عمر ته رسېږي، ملکه د باچايي د چارو نيابت په غاړه اخلي. که چېرې ملکه نه وي نو هغه مجلس چې په نولسمه ماده: کې ياد شوی دی، د اعليحضرت محمد نادرشاه

شهید «رح» د نارینه اولاد له تېره یو کس د باچا د نائب په توګه غوره کوي.

۲۲ ماده: کله چې باچا استعفاء وکړي او د هغه پر ځای ناست د خپل عمر شل کاله نه وي پوره کړي، نو تر ځو پورې چې دی د غه عمر ته رسیږي هغه مجلس چې په نولسمه ماده کې یاد شوی دی، د اعلیحضرت محمد نادرشاه شهید «رح» د نارینه اولاد له تېره یو کس د باچا د نائب په توګه غوره کوي.

۲۳ ماده: د باچا نائب او وکیل باید هغه شرطونه ولري چې په اتمه ماده کې راغلي دي.

د باچا نائب باچایي چارې د دې اساسي قانون د حکمونو سره سمې په ځای کوي.

که د باچا نیابت د ملکې په غاړه وي. ملکه د هغه صلاحیت نه چې د نهمې مادې په دویمه فقره کې یاد شوی دی، د حکومت په مشوره استفاده کوي. د باچا نائب چې څو پورې دا عهده په غاړه لري په بل شغل باندې بوختېدلی نه شي.

هغه ځوک چې د دې اساسي قانون د یوویشتمې او دوه ویشتمې مادې د حکمونو له مخه د باچا د نائب په توګه ټاکل کېږي هیڅکله د افغانستان د باچا په توګه انتخابېدلی نه شي.

د باچایي د نیابت په دوره کې د دې اساسي قانون د باچا د فصل هغه مادې چې پر ځای ناست پورې تعلق لري، تعدیل کیدلی نه شي.

۲۴ ماده: د باچا زوی، لور، ورور، خور او د دوی ښځې او مېړونه او زامن او لونې او د باچا تره او د تره زامن باچایي کورنۍ ده.

د دولت په رسمي تشریفاتو کې باچایي کورنۍ په باچا او ملکې پسې جوخت ځای نیسي.

د باچایي کورنۍ لګښت د باچایي لګښتونو په بودجه کې ټاکل کېږي.

لقبونه یوازې د باچاپي کورنۍ د پاره دي او د قانون د حکمونو سره سم تاکل کېږي.

د باچاپي کورنۍ غړي په سیاسي گوندونو کې گډون نه کوي او دغه وظیفې په غاړه نه اخلي:

۱-صدارت عظمی یا وزارت.

۲- دشورا غړیتوب.

۳- د سترې محکمې غړیتوب.

د باچایي کورنۍ غړي به خپل حیثیت د باچایي کورنۍ د غړو په صفت تر ځو چې ژوندي وي ساتي.

## دریم فصل

## د خلکو اساسي حقونه او وظیفې

۲۵ ماده: د افغانستان ټول خلک بې له هېڅ قسم تبعیض او امتیازه د قانون په وړاندې یو شان حقونه او وظیفې لري.

۲۶ ماده: آزادي د انسان خدای ورکړی حق دی. دا حق بې د نورو له آزادۍ او عمومي ښیگړو نه، چې قانون ښودلې دي، نورې پولې نه لري.

د انسان آزادي او کرامت د بلوسې نه په امن دي او بېلتون نه قبلوي.

دولت مکلف دی چې د انسان آزادي او کرامت ته په درناوي وگوري او حمایت یې وکړي.

هېڅ کړه جرم نه گڼل کېږي، مگر هله چې د یو داسې قانون په موجب جرم وبلل شي چې د دغه کار له کولو نه مخکښې نافذ شوی وي.

هېچا ته سزا نه شي ورکوله کېدای، مگر هله چې یوی واکمنې محکمې پرې د ښکاره او حضوري محاکمې نه پس حکم صادر کړی وي.

هیچا ته جزا نه شي ورکول کیدی، مگر د هغه قانون د حکم سره سم چې د دغه تهمتي کار له کولو نه رومبی نافذ شوی وي.

هېڅوک بې د قانون له حکمه تعقیب کیدلی یا نیول کیدلی نه شي.

هېڅوک توقیف کېدلی نه شي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مگر د واکمنې محکمې د حکم او د قانون د حکمونو سره سم.

د غاړې خلاصون اصلي حالت دی- خو څو پورې چې تورن د محکمې له خوا په قطعي پرېکړه محکوم علیه نه شي بېگناه گڼل کېږي.

جرم د هر چا خپل ځانب شی دی. د تورن تعقیب، نیول، توقیف او سزا ورکول بل هیچا ته نه ورغځېږي.

د انسان کړول جواز نه لري. هېڅوک نه شي کولی چې حتی له چانه د حقایقو د څرگندولو په غرض هم هغه وکړوي او یا یې د کړولو امر ورکړي. که څه هم دغه سړی د تعقیب لاندې وي یا نیول شوی یا توقیف شوی یا پرې د سزا حکم ختلی وي.

له انساني کرامت نه مخالفه سزا ټاکل جواز نه لري. هغه اظهار چې له تورن یا بل سړي نه په اکراه واخیستی شي اتبار نه لري.

په جرم باندی اقرار کول هغه اعتراف ته وایې چې تورن یې په روغ عقل او په خپله خوښه د هغه جرم په کولو باندې چې د قانون له مخه په ده پورې تړل شوی وی د یوی واکمنې محکمې په وړاندې وکړي.

هر څوک حق لري چې د هغه تور د لرې کولو په غرض چې د قانون له مخې پرې تړل شوی وي د ځان د دفاع د پاره وکیل ونیسي.

د یو چا پور وړي کېدل د پوروړي د آزادۍ د سلبېدو یا کمېدو سبب کېدی نه شي. د پور وېستلو لارې چارې د قانون له خوا ښودلې کېږي.

هر افغان حق لري چې د خپل دولت د سیمې هر ځای ته ولاړ شي او هلته استوگنه غوره کړي، مگر بی له هغو ځایو څخه چې قانون منع کړي وي. همدارنگه هر افغان حق لري چی د قانون د حکمونو سره سم د افغانستان نه د باندی سفر وکړي او بېرته افغانستان ته راشي. هېڅ افغان په

افغانستان کې د ننه او د افغانستان د باندې په شړلو محکومولی نه شي.

۲۷ ماده: هيڅ افغان د يو جرم په تور بهرني دولت ته سپارل کېدلی نه شي.

۲۸ ماده: :د هر چا تباتوبی د بلوسې نه په امن دی، هيڅوک حتی دولت هم د او سيدونکي د اجازې يا د يوې واکمنې محکمې له حکمه پرته او بې د هغو حالاتو او لارو چارو نه چې په قانون کې ښکاره ښودل شوې دي، د چا تباتوبي ته ننوتلی او هغه لټولی نه شي.

د ښکاره جرم په وخت کې مسؤول مامور د يو چا تباتوبی ته بی د هغه يا د محکمې له مخکنۍ اجازې څخه په خپل مسؤوليت ننوتی شي او هغه لټولی شي خو دغه مامور په دې مکلف دی چې د ورننوتلو يا لټولو نه پس د قانون د خوا په ښودلې موده کې د ننه د محکمې فيصله لاس ته راوړي.

۲۹ ماده: ملکيت د بلوسی نه په امن دی.

د هېچا ملکيت د قانون د حکم او د يوې واکمنې محکمې د فيصلې نه پرته مصادره کېدی نه شي.

د يو چا د ملکيت استملاک يوازې د عمومي ښېګړو د پاره د عادلانه پيشکي عوض په بدل کې د قانون د حکمونو سره سم جواز لري.

هېڅوک بې له قانون نه د ملکيت له اخيستو او تصرف څخه منع کيدی نه شي. د ملکيت د استعمال لاره د عامو ښېګړو د تأمين د پاره د قانون له پلوه تنظيم او ښودل کېږي.

د چا د شتمنۍ پلټنه او د هغې اعلان يوازې د قانون په حکم کيدی شي.

باندنيو دولتونه او اتباع په افغانستان کې د عقاري مالونو د ملکيت حق نه لري، د بهرنو ملکونو په سياسي نمايندګيو باندې د بالمثل چال

چلند په اساس او په هغو بین المللي مؤسسو باندې چې افغانستان پکې غړیتوب لري، د حکومت په خوښه عقاري مالونه پلورل کېدی شي.

۳۰ماده: د هر چا د مخابرې آزادي او پټوالی د بلوسی نه په امن دي. دا مخابره په لیک وي، که په ټیلفون، که په ټیلګراف او که په کومه بله وسیله.

دولت د چا د مخابرې د لټون حق نه لري، مګر د یوې واکمنې محکمې د فیصلې او د قانون د حکمونو سره سم.

په سملاسي حالاتو کې چې قانون ښودلي دي، مسؤول مامور بې له دې چې لومړی د محکمې نه اجازه واخلي په خپل مسؤلیت کولی شي، چې مخابرې ولټوي. دغه مامور په دې مکلف دی چې د پلټنې څخه وروسته په هغه موده کې چې قانون ښودلې ده د محکمې فیصله حاصله کاندې.

۳۱ماده: د فکر او بیان آزادي د بلوسې نه په امن ده. هر افغان حق لری چې د قانون د حکمونو سره سم په وینا، لیکنه، تصویر او یا داسي نورو وسیلو خپل فکر ثرګند کړي.

هر افغان حق لری چې مطالب د قانون د حکمونو سره سم بې له دې چې لومړی یې دولتي مقامونو ته وښیي، چاپ او نشر کاندې.

د عمومي چاپخانو د تأسیس او د مطبوعاتو خپرولو اجازه او امتیاز د قانون د حکمونو سره سم یوازې د افغانستان اتباعو او دولت ته ورکول کېږي.

د راډیو او تلویزیون د عامو خپروونکو کارځیو تأسیس او چلول یوازې په دولت پورې اړه لري.

۳۲ماده: : د افغانستان اتباع حق لري چې د روا او سوله ناکو مقصدونو پوره کولو د پاره د قانون د حکمونو سره سم د دولت د مخکینی اجازې نه پرته بې وسلې ټولنه وکاندې.

د افغانستان اتباع حق لري چې د

مادي يا معنوي مقصدونو د پوره کولو د پاره د قانون د حکمونو سره سم ټولنې جوړې کړي.

د افغانستان اتباع حق لري چې د قانون په حکمونو برابر سياسي گوندونه جوړ کړي خو په دې شرط چې:

۱ - د گوند هدف، فعاليت او هغه مفکورې چې د گوندونو تشکيلات پرې بنا شوي وي د دې اساسي قانون له ارزښتونو سره تناقض ونه لري.

۲ - د گوند تشکيلات او مالي درکونه په ډاگه وي. هغه گوند چې د قانون په حکم برابر جوړ شوی وي، د قانوني موجباتو او ستري محکمې له حکمه پرته رنگيدلی نه شي.

۳۳ ماده: هر څا ته چې د ادارې له پلوه بې موجبه تاوان واوړي د تاوان د اخيستلو حق لري او کولی شي چې د تاوان اخيستلو د پاره په محکمه کې دعوا راولاړه کړي.

دولت د هغو حالاتو نه پرته چې قانون يې ښکاره ټاکلي وي د واکمني محکمې له حکمه د خپلو حقونو د تحصيل اقدام نه شي کولی.

۳٤ ماده: تعليم د افغانستان د ټولو وگړو حق دی او د افغانستان د دولت او اتباعو له خوا وړيا برابرېږي.

په دې برخه کې د دولت هدف يوې داسې مرحلې ته رسېدل دي چې د افغانستان د ټولو وگړو د پاره پکې د قانون د حکمونو سره سم د ښوونې او روزنې مناسبې اسانتياوې را غونډې شي. دولت مکلف دی چې په ټول افغانستان کې د پوهنې د متوازن تعميم د پاره مؤثر پروگرام وضع او تطبيق کړي.

د ښوونې او روزنې لارښودنه او څارنه د دولت وظيفه ده.

لومړنۍ ښوونې د ټولو ماشومانو د پاره په هغو ځايونو کې چې وسيلې يې د دولت له خوا برابرې شوي وي، حتمي دي.

د لوړو او عمومي تعليم د مؤسسو جوړول او چلول يوازې د دولت حق او وظيفه ده. د دې نه وراخوا د افغانستان اتباع حق لري چې اختصاصي يا د ليک لوست د ښودو د پاره ښوونځي جوړ کړي. د داسې ښوونځيو د جوړونې شرطونه، تعليمي نصاب او پکې د زده کړې شرائط د قانون له پلوه ښودل کېږي.

حکومت کولی شي چې د قانون د حکمونو سره سم خارجي کسانو ته د خصوصي ښوونځيو د جوړولو اجازه ورکړي. د داسې ښوونځيو نه يوازې خارجي کسان فايده اخستی شي.

۳۵ماده: دولت مؤظف دی چې د ملي ژبې پښتو د انکشاف او تقويې د پاره مؤثر پروګرام جوړ او تطبيق کړي.

۳۶ماده: دولت مؤظف دی چې تر خپله وسله د ټولو افغانانو د پاره په متوازن ډول د ناروغيو د مخنيوي او علاج وسيلې برابرې کړي.

په دې برخه کې د دولت هدف يو داسې پړاو ته رسېدل دي چې د روغتيا مناسبې اسانۍ پکې د افغانستان د ټولو وګړو د پاره برابرې شي.

۳۷ماده: کار د هر افغان حق او د غاړې فرض دی چې د کولو وس يې لري.

د کار د تنظيم د پاره چې کوم قوانين جوړ يږي د هغوی لوی هدف يوی داسې مرحلې ته رسيدل دی چې د کاريګرو د بېلو بېلو ډلو حقونه او ښېګړې پکې خوندي شي، د کار مناسب حالات را پيدا شي او د کاريګرو او کار فرمايانو ترمنځ روابط په عادلانه او پرمختللي ډول تنظيم شي. د افغانستان اتباع د اهليت له مخې او د قانون د حکمونو سره سم د دولت د خدمت د پاره منل کېږي د کار او کسب غوره کول په هغو شرطونو کې د ننه چې قانون ټاکلي آزاد دي.

بيګار که د دولت د پاره هم وي

ناروا دي. د بیگار بندیز د هغو قوانینو د عملي کولو په لاره کې چې د عمومي ښېگړو په نیت د یو ځایي کار د سمښت د پاره جوړېږي، کوم خنډ نه را پورته کوي.

۳۸ماده: هر افغان مکلف دی چې دولت ته مالیه او محصول ورکړي.

هېڅ قسم مالیه او محصول بې د قانون له حکمه نه شي ټرل کېدی، د مالیې او محصول اندازه او د ورکولو لارې چارې یې د اجتماعي عدالت سره سم د قانون له خوا ښودلې کېږي. دا حکم په خارجي اشخاصو باندې هم چلېږي.

۳۹ماده: د هیواد ځغنه د فاع د افغانستان د ټولو اتباعو سپېڅلی وظیفه ده. د افغانستان ټول اتباع د قانون د حکمونو سره سم د عسکري خدمت په کولو مکلف دي.

٤۰ماده: د اساسي قانون په حکمونو سم چلېدل، د باچا سره وفاداري او د هغه درناوی کول، قوانینو ته غاړه اېښودل، د عمومي نظم او امن خیال لرل، د هېواد د ښیگړو ساتل او په ملي ژوند کې گډون کول د افغانستان د ټولو خلکو وظیفه ده.

## څلورم فصل
## شورا

٤۱ماده: شورا د افغانستان د خلکو د ارادې څرگندویه ده او د ټول ملت نمایندگي کوي د افغانستان خلک د شورا له لارې د مملکت په سیاسي ژوند کې برخه اخلي.

د شورا هر غړی که څه هم له یوې ټاکلې سیمې څخه غوره شوی، د رایې د څرگندولو په وخت کې د افغانستان عامې ښېگړې په نظر کې نیسي.

٤۲ماده: شورا دوې ټولنې لري: اولسي جرگه او مشرانو جرگه.

٤۳ماده: د اولسي جرگې غړي د آزادو، عامو، پټو او سماسمو انتخاباتو په ذریعه د قانون د حکمونو

سـره سم د افغـانسـتـان د خلکو له خوا غوره کېږي.

د دې مقصد د پاره افغـانسـتـان په انتـخـابـاتي ونډونو وېشل کـېږي. د ونډونو شمار او سیمه د قـانون له مخې ټاکل کېږي.

د هرونډ یو وکیل غوره کېږي.

د وکـالت د پاره هر ملاتړلي چې په ونډ کې د قـانون د حکمونو سره سم تر ټولو زیاتې رایې وګـټـي، وکـیـل بلل کېږي.

٤٤مـاده: د اولسي جرګې غړي د څلورو کلونو د پاره، چې یوه تقنیني دوره ده، غوره کېږي.

که چېرې شورا د دې اساسي قانون د حکمونو سره سمـه ړنګه شي نو نوې اولسي جـرګـه د یوې تقنیني دورې د پاره غـوره کېږي، خو د پای ته رسیدلو نیـتـه به یې په داسي ډول تیـارېږي چې ورپسې اولسي جرګـه جوخـتـه په هغـه نیټه پرانستله شي چې په نهه پنځوسمه ماده کې ټاکل شوې ده.

٤٥ماده: د مشرانو جرګې غړي په دې طریق ټاکل کېږي او غوره کېږي:

١ - دریمـه برخـه غـړي د پوهو او ازمـیـښـتـوالو کسـانو له منځه د باچا له خوا د پنځو کلونو د پاره ټاکل کېږي.

٢ - پاتي دوې برخي غـړي په دې شان غوره کېږي:

الف- د هر ولایت جـرګـه د خـپلو غړو له منځه یو تن د درې کالو د پاره د مشرانو جرګې په غړیتوب غوره کوي.

ب- د هر ولایت استوګني د آزادو، عـامو، پټو او سمـاسمـو انتـخـاباتو په لار یـو کـس د څـلـورو کـلـونـو د پـاره د مشرانو جرګې په غړیتوب غوره کوي.

٤٦مـاده: د انـتـخـاب کـوونکو شـرطونه د انـتـخـابـاتو په قـانون کـې ښودل کېږي.

هغـه کسـان چې د شـورا په غړیتوب ټاکل کـېږي یا غـوره کـېږي په کـار دي چې د انـتـخـاب کـوونکو په شرطونو

سربېره د غه صفتونه هم ولري:

۱- د شورا په غړيتوب باندې د تاکل کېدو او يا غوره کېدو نه لومړی به يې لږ تر لږه لس کاله پخوا د افغانستان د دولت تابعيت حاصل کړی وي.

۲- د دې اساسي قانون د نافذ کېدو نه وروسته به د محکمې له خوا د سياسي حقوقو څخه په محرومی محکوم شوی نه وي.

۳- په ليک لوست به پوهېږي.

٤۷ ماده: د اولسي جرگې غړو به د انتخاب په وخت کې د خپل عمر پنځه ويشتم او د مشرانو جرگې غړو به د تاکل کېدو په وخت کې د خپل عمر دېرشم کال پوره کړی وي.

٤۸ ماده: د حکومت مشر او غړي، قاضيان، د اردو منصبداران او افراد، مامورين او نور اداري کار کوونکي د خپلو وظيفو د چلولو په وخت کې د شورا په غړيتوب تاکل کيدی يا غوره کيدی نه شي.

هيڅوک په يو وخت کې د دواړو جرگو غړی کيدی نه شي.

٤۹ ماده: د دې اساسي قانون د حکمونو له رعايت سره انتخابات د قانون د حکمونو سره سم کېږي.

د اولسي جرگې د تقنيني دورې په وروستيو دوو کلونو کې د انتخاباتو د قانون د تعديل پيشنهاد د هېڅ يوې جرگې د کار په فهرست کې نه شي داخلېدی.

۵۰ ماده: د هرې جرگې د غړيتوب وثيقې په همهغه جرگه کې د کره کتنې لاندې نيولې کېږي.

د وثيقو د کره کتنې لارې چارې د هرې جرگې د داخلي وظيفو په اصولو کې ښودل کېږي.

۵۱ ماده: د شورا هېڅ يو غړی د هغې نظريې له کبله چې د خپلې وظيفې د پر ځای کولو په وخت کې يې د ننه په شورا کې يا د باندې ښکاره

کوي د عدلي تعقیب لاندې نه راځي.

که چېرې د شورا په یو غړي باندې د یو جرم تور پورې شي نو مسؤول مامور د دغې پېښې خبر هغې جرګې ته ورکوي چې دی پکې غړیتوب لري او پس له هغه چې د جرګې دوه برخې غړي اجازه ورکاندې تورن د عدلي تعقیب لاندې راځي.

جرګه کولی شي چې خپله اجازه د دوو برخو غړو په اکثریت بېرته واخلي.

د ثرګندجرم په باب مسؤل مامور کولی شي چې تورن بې د هغې جرګې د اجازې نه چې دی یې غړی دی د تعقیب لاندې راولي او ویې نیسي. که چېرې عدلي تعقیب د قانون له مخې د توقیف غوښتنه کوله نو مسؤول مامور مکلف دی چې سملاسي هغې جرګې ته خبر ورکړي چې دی یې غړی دی او که نوموړي جرګه اجازه وکړي نو تورن توقیف کېدلی شي.

که چېري تور په داسې وخت کې پېښ شي چې جرګه خوره شوې وي نو د توقیف اجازه د جرګې د اداري هیئت نه غوښتل کېږي او د هیئت فیصله د جرګې لومړۍ راتلونکې غونډې ته د پریکړې د پاره وړاندې کېږي.

۵۲ ماده: دشورا غړی په بله چاره بوختېدلای نه شي کرنه او نورې آزادې چارې د دی حکم لاندې نه راځي.

۵۳ ماده: د شورا د غړو د پاره د قانون د حکم سره سم مناسب معاش تاکل کېږي.

۵٤ ماده: د شورا هر یو غړی حق لري چې په خپله جرګه کې د هغې موضوع په باب چې خبرې پرې روانې وي خپله نظریه د داخلي وظایفو په اصولو برابره ثرګنده کړي.

۵۵ ماده: دواړه جرګې په یو وخت کې بیلي بیلي غونډې کوي.

مشرانو جرګه کولی شي چې د دولتي بودجې د پیشنهاد د کتنې د پاره د اولسي جرګې د رخصتۍ په

موده کې خپله فوق العاده غونډه وکاندې.

کله چې تقنیني دوره یا کلنۍ غونډه دپاچا له پلوه پرانستله کېږي، دواړه جرګې شریکه غونډه کوي.

۵٦ ماده: حکومت کولی شي چې د هرې یوې جرګې په غونډه کې شریک شي.

هره جرګه کولی شي چې خپلې غونډې ته صدر اعظم یا د حکومت غړې راوغواړي.

۵۷ ماده: د دواړو جرګو مباحثه به ښکاره وي. مګر هله نه چې دحکومت مشر، د جرګې مشر یا لږ تر لږه د جرګې لس تنه غړي دا غوښتنه وکړي چې جرګه دې په پټه وشي او جرګه دا غوښتنه ومني.

جرګه کولی شي چې د دوه برخو غړو په اکثریت هغه مباحثه چې پټه شروع شوې وي بیرته ښکاره کاندې.

د هرې جرګې د مباحثې جریان به ثبتېږي.

هیڅوک په سرزوري د شورا دېره ځای ته ننوتلای نه شي او که څوک د دی حکم مخالفت وکړي د قانون د حکمونو له مخې سزا ورکوله شي.

۵۸ ماده: بې له هغو حالاتو چې حکم یې په دی اساسي قانون کې څرګند ذکر دی د هرې جرګې فیصله د حاضرو غړو د رایو په اکثریت کېږي.

۵۹ ماده: هره جرګه په هر کال کې یوه عادي غونډه کوي چې د میزان په دوه وېشتمه نیټه شروع کېږي.

د کلنیو غونډو شمار د قانون له پلوه زیاتېدلی شي او په دی صورت کې د غونډې د شروع نیټه او د غونډې موده د قانون له خوا ښودله کېږي.

د هرې جرګې د کار موده په کال کې اووه میاشتې ده.

د کار د غوښتنې په صورت کې هره جرګه کولی شي چې دا موده نوره هم اوږده کړي.

د رخصتی په وخت کې د باچا په امر، د حکومت یا د دواړو جرګو څخه د یوې د مشر یا د یوې جرګې د پنځمې برخې غړو په غوښتنه د شورا فوق العاده غونډه دایریدلی شي.

فوق العاده غونډه د هغه باچایي فرمان په ذریعه ختمیږي چې د دواړو جرګو د مشرانو سره له سلا نه وروسته راووځي.

٦٠ ماده: د مشرانو جرګې مشر د غه جرګې د غړو له منځه د باچا له خوا ټاکل کیږي.

اولسي جرګه د خپلو غړو له منځه یو کس د مشر په توګه غوره کوي. هره جرګه د خپلو غړو له منځه د مشر لومړی نایب، یو دوهم نایب، یو منشي او یو د منشي نایب غوره کوي.

د غه پورتني کسان د جرګې اداري هیئت دی. د اولسي جرګې اداري هیئت د تقنیني دورې په اول سر کې غوره کیږي.

د مشرانو جرګې د مشر نایبان، منشي او نایب منشي د هر کال د غونډو په سر کې د یو کال د پاره غوره کیږي.

د هرې جرګې مشر د جرګې مباحثه اداره کوي او د جرګې په دبره ځای کې د نظم او قلاری ساتلو د پاره ضروري انتظام کوي.

د مشر نورې وظیفې د داخلي وظیفو په اصولو کې ښودل کیږي.

د مشر په غیاب کې اول نایب او که هغه نه وي دوهم نایب د مشر وظیفه چلوي.

د هرې جرګې منشي د جرګې مباحثې ثبتوي او د جرګې د دارالانشاء د چارو انتظام کوي.

د منشي په غیاب کې نایب د هغه وظیفه چلوي.

٦١ ماده: هره جرګه د بحث لاندې موضوعاتو د پراخې او کره کتنې د پاره د داخلي وظیفو د اصول په

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکمونو برابر تولګی جوړوي.

٦٢ماده: هره جرګه د خپلو داخلي وظایفو اصول جوړوي.

٦٣ماده: شورا د باچا په امر ماتېدلی شي.

په یوسل او یوویشتمه ماده کې د بیان شوي حالت له مخه د شورا ماتېدل هرو مرو دي. د شورا په ماتېدو کې د مشرانو جرګې غیر انتخابي غړي هم شامل دي.

٦٤ماده: شورا د افغانستان د حیاتي چارو د تنظیم د پاره د دې اساسي قانون په حکمونو برابر قوانین جوړوي. هېڅ قانون نه شي کولی چې د اسلام د سپېڅلي دین له اساساتو او د نورو هغو ارزښتونو مناقض وي چې په دې اساسي قانون کې راغلي دي.

د بین الدول معاهدو تصدیقول، خارج ته د افغانستان د اردو د تولګیو لېږل، د پیسو خپرولو او پور اخیستلو اجازه ورکول او داسې امتیازونه ورکول چې په ملي اقتصاد کې اهمیت لري او انحصار هم پکې شامل دی، د شورا په واک اختیار کې دي. هغه امتیازات چې ورکول یې د شورا په صلاحیت کې دي د قانون له پلوه ښودل کېږي.

٦٥ماده: حکومت اولسي جرګې ته مسؤل دی.

٦٦ماده: د اولسی جرګې غړي کولی شي چې د حکومت نه ځرګندتیا وغواړي. د حکومت د ورکړې ځرګندتیا په باب مباحثه د جرګې په فیصلې پورې اړه لري.

٦٧ماده: د شورا غړي کولی شي چې د صدراعظم یا وزیرانو څخه په ټاکلو موضوعګانو کې پوښتنې وکړي.

له چا نه چې پوښتنه شوې وي هغوی د خولې یا لیکلي ځواب په ورکولو مکلف دي. دا ځواب د بحث لاندې نه شي راتلای.

۶۸مـاده: اولسي جرګـه واک لري چې د خــپلو دريمــه برخــه غــړو په پېشنهاد د حکومت د چارو او د اداري د اجرا آتو د کـتنې او څـېړنې د پاره د څېړنې ټولګې وټاکي.

د څـېړونکي ټولـګې جوړيدنه او د هغه تګ لاره د داخلي وظيفو په اصولو کې ښودل کېږي.

۶۹ماده: د هغو حالاتو نه پرته چې په دې اساسي قانون کې د هغو د پاره د عمل خاصې لارې چارې ښودلې شوې دي، قانون هغې مصوبې ته وايي چې دواړو جـرګـو په ګـډه منلې وي او باچا ښکوللې وي.

په کومه برخه کې چې داسې مصوبه نه وي هلته قانون د اسلامي شريعت د حنفي فقهې حکمونو ته وايي.

۷۰مـــاده: د قـــانون جـــوړولو پېشنهاد د حکومت يا د شورا د غړو له خوا کېږي او د قضايي چارو د سمون په برخـه کې د ستـري مـحکمې له خـوا کـيدی شي. د بودجې او مـالي چارو په باب د قـانون جوړولو پېشنهاد يوازې حکومت کولی شي؛

۷۱مـــاده: د قـــانون جــوړولو پېشنهاد د حکومت يا ستري محکمې له خوا په دواړو جرګو کې هرې يوې ته وړاندې کېدی شي.

۷۲ماده: که چېرې د قانون د وضع کـولو پيشنهاد د دواړو جرګو نه د يوې جرګې د غړو له خوا وشي او د همدغې جرګې لس تنه غړي يې مرسته وکړي نو پس له هغه د کار په فـهرست کې نيـول کېږي.

کـــه چېــرې د قــانون جــوړولو په پيشنهاد کې د نوې بودجې يا د دولت په عـــايداتو کـــې د کـــمی راوســـتلو سپـارښتنه شوې وي نو په دې شرط د کـار په فـهرست کې راتلای شي چې د پيشنهاد په متن کې د دغه تاوان د پوره کولو لارې چارې ښودل شوې وي.

د ستـرې مـحکمې له خوا د قـانون

جوړولو پیشنهاد د دې حکم لاندې نه راځي.

۷۳ماده: کله چې د قانون جوړولو پیشنهاد د یوې جرګې د کار په فهرست کې واخیستی شي نو لومړی خپلې جرګه ګۍ ته سپارل کیږي او پس له هغه چې جرګه ګۍ خپله نظریه څرګنده کړي دغه پیشنهاد او د جرګه ګۍ نظریه د جرګې په وړاندې لوستل کیږي او مباحثه پرې کیږي وروسته د هرې مادې په باب رایې غوښتلې کیږي او بیا پیشنهاد په دوهم وار لوستلی شي او په یو ځایي ډول د هغه د منلو یا نه منلو په باب رایې اخیستلی شي.

۷۴ماده: که چېرې د یوې جرګې تصویب د بلې جرګې له پلوه ونه منل شي نو د دغه اختلاف د لرې کولو د پاره د قانون په حکمونو سم د دواړو جرګو د غړو نه په برابر شمېر یو ګډ هیأت جوړیږي د هیأت فیصله د باچا له ښکللو وروسته نافذه ګڼل کیږي.

خو که دغه هیأت ونه کولای شو چې اختلاف لرې کړي نو تصویب نا منلی بلل کیږي او که چېرې داسې وي چې تصویب د اولسي جرګې له خوا شوی وي نو د اولسي جرګې نوې تقنیني دوره کولی شي چې هغه د غړو د رایو په اکثریت بیا ومني. دا تصویب بې له دې چې د مشرانو جرګې ته وړاندې شي د باچا په ښکوللو نافذ ګڼل کیږي.

که چېرې د دواړو جرګو ترمنځ اختلاف د مالي قوانینو د پیشنهاد په سروي نو که ګډهیأت د دغه اختلاف په لرې کولو بریالی نه شي، اولسي جرګه کولی شي چې دغه پیشنهاد پخپله راتلونکې غونډه کې د غړو د رایو په اکثریت بیا ومني. پیشنهاد بې له دې چې د مشرانو جرګې ته وښودل شي د باچا په ښکوللو نافذ ګڼل کیږي.

۷۵ماده: د دولت بودجه د مشرانو جرګې له لارې د دغې جرګې د

مـشـورتـي نظريې سره يو ځـاى اولسي جرگې تـه وړاندې کېږي. د جرگې مشر بودجـه او د مـشـرانو جـرگــې نظريات خپلې جرگه گۍ ته سپاري. پس له هغه ور باندې په اولسي جرگه کې غـور او فيصله کېږي.

دا فـيـصـله بې لـه دې چې مـشــرانو جــرگـــې تـه وښــودى شي د باچا پـه ښکوللو نـافـذه کـېـږي. د حکومت د انکشافي پلان په باب د اولسي جرگې خـبــــرې اترې هم د دې حکم لاندې راځي.

کله کـه د ځـينو سـبـبـونو له کبله د بودجې تـصـويب د نوي مــالي کــال د شــروع کـېـدو نـه مـخکې ونـه شـو نو د کـالنۍ بودجې تر تصويب پورې د زاړه کال د بودجې په شان چلند کېږي.

حـکـومت پـه دې مـکلف دى چې د بودجې د پېشنهاد وړاندې کـولو نـه لږ تر لږه يوه مياشت مخکې د تېر کـال د بودجې غـوټ پرېکړى حسـاب اولسي جرگې تـه وړاندې کړي.

۷۶ماده: کـه چېرې د مشرانو جرگه د ولسي جرگې د يوې مصوبې په باب د رسېدو نـه وروسته په شپږو مياشتو کې خپله فـيـصـلـه ونـه کړي نو د غـه مـصـوبـه منل شوې گڼل کېږي، د رخصت دوره د دغې مودې په حساب کې نه راځي.

۷۷مــاده: د شــورا د رخــصـت يا انحلال په وخت کې حکومت کولى شي چې د څلور شـپـېـتـمي مـادې د اولې فـقرې پـه سـاحـه کـې د عـاجلو چارو پـه لارې کـولو د پاره تقنيني فـرمـانونـه وباسي. دا فـرمـانونه د باچا له ښکوللو وروسته د قانون حکم اخلي.

پـه کـار دي چې دغـه فـرمـانونـه د شــورا لومـړنۍ غـونډې له تاريخ نـه پـه دېرشــو ورځـو کـې د ننه د ننه شـورا تـه وړاندې شي او کـه شورا يې ونـه منې نو بـيـــــا اتـبــــــــار نـه لـري.

## پنځم فصل
## لويه جرگه

۷۸ماده: لويه جرگه د شورا له غړو او ولاياتو د جرگو له مشرانو څخه جوړېږي.

د شورا د ماتېدو په حالت کې د هغې غړي د لويې جرگې د غړو په توگه خپل حيثيت د نوې شورا تر دايرېدو پورې ساتي.

۷۹ماده: د نولسمې، يووېشتمې او دوه ويشتمې مادې د حکمونو د رعايت سره لويه جرگه په باچايي فرمان دايرېږي.

۸۰ماده: چې لويه جرگه روانه وي په غړو يې د يو پنځوسمې مادې حکم چليږي.

۸۱ماده: د لويې جرگې مباحثه به ښکاره وي، مگر هله نه چې حکومت يا د جرگې شل تنه غړي وغواړي چې جرگه دې پټه وي او لويه جرگه دا غوښتنه ومني.

۸۲ماده: د اولسي جرگې مشر او د هغه په غياب کې د مشرانو جرگې مشر د لويې جرگې رياست په غاړه لري.

لويه جرگه په لومړۍ غونډه کې د خپلو غړو له منځه يو کس د منشي په توگه ټاکي.

۸۳ماده: د هغه حالت نه پر ته چې په دې اساسي قانون کې څرگند ياد شوی دی د لويې جرگې فيصله د حاضرو غړو د رايو په اکثريت کېږي.

د دې اساسي قانون د حکمونو د رعايت سره سم د لويې جرگې تگ لار د قانون له خوا ښودل کېږي.

۸۴ماده: لويه جرگه هغه واک اختيار لري چې په دې اساسي قانون کې ټاکل شوی دی.

## شپږم فصل
## حکومت

۸۵ماده: د افغانستان حکومت له صدر اعظم او وزيرانو څخه جوړ دی.

صدر اعظم د حکومت مشر او وزيران

يې غړي دي.

د وزيرانو شمېر او د هغوی وظيفې په قانون کې ښودل کېږي.

۸۶ماده: هر هغه څوک چې د دې اساسي قانون د حکمونو له مخې د اولسي جرگې په غړيتوب باندې د غوره کېدو د پاره جوگه وي هغه د حکومت د مشر يا غړي په توگه ټاکل کېدی شي.

د حکومت مشر به افغان زېږېدلی وي. د حکومت مشر او غړي يې د شورا له غړو او له شورا نه بهر ټاکل کېدی شي.

د شورا هر غړی چې د حکومت د مشر يا غړي په توگه وټاکل شي په شورا کې خپله څوکۍ له لاسه ورکوي.

۸۷ماده: صدر اعظم او وزيران د خپلو وظيفو چلولو په موده کې په نورو چارو نه شي بوختېدلی.

۸۸ماده: د حکومت د مشر او غړو د پاره مناسب معاش د قانون له مخې ټاکل کېږي.

۸۹ماده: حکومت د هغه چا له خوا چې د باچا له پلوه د صدر اعظم په توگه موظف شوی وي، جوړېږي.

د حکومت غړي او تگ لاره د صدر اعظم لخوا اولسي جرگې ته وړاندې کېږي او جرگه د مباحثې نه پس په حکومت باندې د باور په باب خپله فيصله کوي.

د باور د رايې د ورکولو په حال کې د حکومت د مشر او غړو د ټاکلو په باب باچايي فرمان راوځي.

ورپسې صدر اعظم د خپل حکومت تگ لاره د مشرانو جرگې ته وړاندې کوي.

۹۰ماده: کله که حکومت د صدر اعظم د مړينې يا استعفا له کبله په داسې وخت کې له منځه لاړ شي چې شورا ماته وي نو په باچايي فرمان نوی حکومت جوړېږي. د نوې تقنيني دورې په لومړي سر کې صدر اعظم د خپل

حکومت تګ لاره او د حکومت غړي اولسي جرګې ته وړاندې کړي او د باور د رایې غوښتنه کوي.

۹۱ ماده: حکومت په دې حالتونو کې له منځه ځي:

۱ - چې صدر اعظم استعفا وکړي یا ومري.

۲ - چې اولسي جرګه د حکومت نه خپل باور بېرته واخلي.

۳ - چې د حکومت په مشر یا د حکومت په اکثرو غړو باندې د درې نوي یمې مادې د حکم سره سم د ملي خیانت تور پورې شي.

٤ - چې شورا ماته شي.

۵ - چې د شورا تقنیني دوره سرته ورسېږي.

په وروستو دوو حالتونو کې حکومت جوخت د نوې اولسي جرګې د لومړۍ غونډې سره سم له منځه ځي.

د استعفا په صورت کې حکومت هلته له منځه ځي چې باچا یې استعفا ومني.

چې صدر اعظم ومري نو د وزیرانو له ډلې یو تن د باچا په امر د صدر اعظم وظیفه د نوي حکومت تر جوړېدو پورې په غاړه اخلي.

په هغه صورت کې چې حکومت د دري نوي یمې مادي د حکم سره سم د ملي خیانت په تور له منځه ولاړ شي نو هر څوک چې د باچا له پلوه د صدر اعظم په توګه وټاکل شي هغه د نوموړي تور په باب د لویې جرګې د فیصلې نه پس د اولسي جرګې تر لومړۍ غونډې پورې د باور د رایې حاصلولو نه مخکې د صدر اعظم وظیفې په ځای کوي. په نورو حالتونو کې له منځه تللی حکومت د نوي حکومت تر جوړېدو پورې خپل کار جاري ساتي.

۹۲ ماده: له حکومت نه د باور د بېرته اخیستلو رایه باید څرګنده او سماسمه وي. دا رایه د هغو حکومتونو

په باب چې د دې اساسي قانون له نافذ کېدو وروسته د لومړيو دوه تقنيني دورو په موده کې منځ ته راځي د رايو د دوه ثلثو په اکثريت او د ورپسې حکومتونو په باب د اولسي جرګې د غړو د رايو په اکثريت صادرېږي.

۹۳ ماده: که چېرې د درېمې برخې نه د اولسي جرګې زيات غړي د ملي خيانت په تور د صدر اعظم يا د حکومت د ټولو يا د زياتو غړو د محاکمه کېدو غوښتنه وکړي او اولسي جرګه دا غوښتنه د دوو برخو غړو د رايو په اکثريت ومني نو حکومت له منځه ځي او لويه جرګه د څېړونکي هيأت د ټاکلو له پاره جوړېږي. که چېرې لويې جرګې د هيأت د راپور له کتنې نه وروسته د دوو ثلثو غړو د رايو په اکثريت د محاکمې اجرا لازمه وګڼله نو د اولسي جرګې يو غړي ته وظيفه ورکوي چې په تورن باندې په ستره محکمه کې د عوه سوره کاندې.

د پورتني فقرې حکم په هغه حالت کې هم چلېږي چې د ملي خيانت تور په يوه يا څو تنو وزيرانو چې شمېر يې د حکومت د غړو له نيمايي څخه زيات نه وي پورې شوی وي. د دې تور په نتيجه کې د تورن لاس له کاره ويستل کېږي مګر حکومت له منځه نه ځي.

۹۴ ماده: د دې اساسي قانون او نورو قوانينو د حکمونو عملي کول، د محکمو د قطعي پريکړو عملي کول، د عمومي نظم او امن ساتلو د پاره ضروري انتظام کول، د دولت د مالي حالت سمون او عامه شتمني ساتل، د خلکو اجتماعي-ثقافتي او اقتصادي حالت ښه کول، د خپلواکۍ حفاظت، د سيمې له تماميت څخه دفاع او په بين المللي ټولنه کې د افغانستان د ښيګړو او حيثيت ساتنه د حکومت وظيفه ده.

حکومت د خپلو وظيفو د سمون د پاره د قانون پر بنياد مقررات جوړوي. دا مقررات بايد چې د هيڅ قانون د

عبارت او روح سره تناقض ونه لري.

۹۵ ماده: د وزیرانو ټولنه د حکومت د سیاست لویې لیکې ټاکي او هغه مقررات تصویبوي چې حکومت یې د جوړولو واک اختیار لري. صدر اعظم د وزیرانو د ټولنې مشرتوب کوي، د حکومت د فعالیت اداره او لار ښودنه کوي او په اجرا آتو کې یې یورنګي راولي.

د باچا او شورا سره د حکومت د رابطې ساتل هم د صدر اعظم وظیفه ده.

وزیران خپلې وظیفې د اداري «یوکونو» د مشرانو او د حکومت د غړو په توګه د صدر اعظم دامر او لارښودنې لاندې په هغه چوکاټ کې د ننه په ځای کوي چې دې اساسي قانون او قوانینو ټاکلي دي.

۹۶ ماده: صدر اعظم او وزیران د حکومت د عمومي سیاست له کبله په شریکه او د خپلو ځانګړو وظیفو له بابته ځانله او لسي جرګې ته مسؤل دي.

صدر اعظم او وزیران د حکومت د هغو چارو په باب هم مسؤول دي چې د هغو د پاره د دې اساسي قانون د حکمونو مطابق باچایي فرمان اخلي.

## اووم فصل

## قضأ

۹۷ ماده: قضائیه قوه د دولت یو خپلواک رکن دی او خپلې وظیفې د تقنینیه او اجرائیه قوو په لړ کې په ځای کوي.

۹۸ ماده: قضائیه قوه د یوې ستری محکمې او نورو محکمو نه جوړیږي چې شمار یې په قانون کې ښودل کیږي.

د قضائیه قوې په واک اختیار کې په هغو دعوو غورسي پرته ده چې پکې حقیقي یا حکمي اشخاص که څه هم دولت وي د مدعي یا مدعي علیه حیثیت لري او د قضا په وړاندې د

قانون د حکمونو سره سم دائري شي.

هيڅ قانون په هيڅ حالت کې دا نه شي کولای چې يوه قضيه يا يوه ساحه د دولت د قضايي قوی د واک اختيار له کرښي څخه په هغه ډول چې په دی فصل کې يې بريدونه معلوم شوي دي وباسي او بل مقام ته يې وسپاری.

دا حکم د عسکري محکمو د جوړيدو مخه نه نيسي. خو دا محکمي به يوازي د هغو جرمونو له پاره وي چې د افغانستان د اردو سره اړه لري. د عسکري محکمو تشکيل او واک اختيار په قانون کې ښودل کېږي.

۹۹ ماده: قاضيان د قاضي القضات په پيشنهاد د باچا له خوا ټاکل کېږي.

که چيري يو قاضي يو جرم وکړي نو ستره محکمه د ده په حال غور کوي او د ده د دفاع له اوريدو نه پس باچا ته د ده د عزل پيشنهاد وړاندی کولی شي.

هر کله چې د باچا له خوا د دغه پيشنهاد ملاتړ وشی نو قاضی د خپلی وظيفی نه معزوليږي. د قاضيانو بدلول، او چتول، پوښتيدل او د تقاعد پيشنهاد يې د قانون د حکمونو سره سم د ستري محکمی په واک اختيار کې دي.

د قاضيانو د پاره د قانون له پلوه مناسب معاش ټاکل کېږي.

قاضيان نه شي کولای چې د خپلو وظيفو په وخت کې په نورو چارو بوخت شي.

۱۰۰ ماده: د افغانستان په محکمو کې محاکمه په ښکاره ډول کېږي او د قانون د حکمونو سره سم هر څوک دورتلو حق لري.

محکمه کولای شي چې په هغه گوښو حالاتو کې چې قانون ښودلي دي پټې غونډی وکړي خو د حکم اورول به هرومرو ښکاره وي. محکمی مکلفي دي چې د خپل ورکړي حکم سره يو ځای به په فيصله کې د حکم

سببونه هم څرګندوي.

۱۰۱ ماده: د محکمو د ټولو قطعي پریکړو عملي کول واجب دي.

خو د چا د مرګ د حکم په حالت کې د تعمیل د پاره د باچا منظورول شرط دي.

۱۰۲ ماده: محکمې چې پر کومو پېښو باندي غور رسي کوي په هغو کې د دې اساسي قانون او د دولت د قوانینو حکمونه پر ځای کوي.

که د غور رسی لاندي پېښو د یوی پېښي په باب په اساسي قانون او د دولت په قوانینو کې کوم حکم نه وي نو محکمې د اسلامي شریعت د حنفي مذهب د کلي اساسونو له مخه په هغه چوکاټ کې د ننه چې دی اساسي قانون ښودلي دي، په دغه باب یو داسي حکم راباسي چې د دوی په نظر کې څومره چې ممکنه وي عدالت تر ټولو په ښه توګه لاس ته راوړي.

۱۰۳ ماده: د جرمونو څېړنه د قانون د حکمونو سره سم د مدعي العموم له خوا چې د دولت په اجرائیه قوه پوري تړلی دی کېږي.

۱۰٤ ماده: د دی اساسي قانون د حکمونو د رعایت سره هغه قاعدې چې د محکمو د اجراآتو او تشکیلاتو او د قاضیانو له چارو سره اړه لری د قانون له پلوه سمیږي.

د دی قوانینو لوی هدف دا دی چې په قضایي مرافقو تشکیلاتو، واک اختیار او د محاکمی د عمل په لارو کې یووالی راشي.

۱۰۵ ماده: ستره محکمه له نهو غړو جوړیږي، چې ټول د باچا له پلوه ټاکل کېږي.

باچا د سترې محکمی غړي د داسي خلکو له منځه غوره کوي چې دغه صفتونه ولري:

۱-د عمر پنځه دېرش کاله یې پوره کړي وي.

۲-د شپږ څلویښتمی مادی په حکم برابر د شورا په غړیتوب باندی د

غوره کیدو جوګه وی.

۳-د حقوقو په علم- ملي هدفونو او د افغانستان په حقوقي نظام باندی په پوره اندازه پوه وي.

باچا د ستري محکمی یو غړی چې عمر یې تر څلویښتو کم او له شپیتو زیات نه وي د قاضي القضات په حیث ټاکي. باچا کولی شي چې د قاضي القضات او ستري محکمی د غړو په مقرری باندي د مقرري له وخته هر لس کاله پس نوی نظر وکړي. د دی حکم او د یوسل او شپږمي مادی د حکم نه پرته په بل هیڅ ډول قاضي القضات او د ستري محکمی غړي له خپلو وظیفو نه ویستل کیدی نه شي.

د هغه حالت نه غیر چې په یو سل او شپږمه ماده کې بیان شوی دی، قاضي القضات او د ستري محکمی غړي د خدمت د دوری له ختمیدو نه وروسته تر عمره پوری د خدمت د دوری د ټولو مالي ښیګړو نه فایده اخلي.

د خدمت د دوری د ختمیدو نه وروسته قاضي القضات او د ستري محکمی غړی د حکومت مشرتوب یا غړیتوب او د دولت ماموریت نه شي کولی.

قاضي القضات او د ستري محکمی غړي نه شي کولی چې د وظیفي د چلولو په موده کې یا تر هغی وروسته په سیاسي ګوندونو کې ګډون وکړی.

۱۰۶ ماده: که چېري د اولسي جرګې د دریمي برخي نه زیات غړي د وظیفي د اجرا نه د راپور ته شوي جرم په تور د قاضی القضات یا ستری محکمی د یوه یا څو تنو غړو د محکمی غوښتنه وکړي او جرګه د دوو ثلثو غړو د رایو په اکثریت دا غوښتنه ومنی نو د تورن لاس له کاره ویستل کېږي او د څیړونکی ډلګی د ټاکلو له پاره لویه جرګه جوړیږي. که چېري لویه جرګه د ډلګی د راپور له کتنی وروسته

د دوو ثلثو غړو د رایو په اکثریت د تورن محاکمه لازمه وبولي نو یو غړی په تورن باندی د دعوا سورولو او د اتو تنو یو ډلګی د محکمی د چلولو د پاره ټاکي.

دا ډلګی د مشرانو جرګې د مشر په مشرتوب د هغی جزایي محکمی د تګ لاری سره سم تورن محاکمه کوي چې په ستره محکمه کې پری عمل کېږي او که چېري په تورن باندي جرم ثابت شي نو دی د وظیفی نه معزولوي او سزا ورکوي.

۱۰۷ ماده: ستره محکمه د افغانستان نهایي قضایي مرجع ده.

ستره محکمه د دی اساسي قانون او قوانینو د حکمونو سره سم د محکمو اجراآت او تشکیلات او د دولت قضایي چاري سموي.

ستره محکمه د محکمو د اداري چارو د سمون د پاره ضروري لاری چاری برابروي.

د قضایي قوی بودجه د قاضي القضات له خوا د حکومت په سلا جوړېږي او د ستری محکمی له منلو وروسته د دولت د بودجی د یوی برخی په څیر د حکومت په لاس شورا ته وړاندی کېږي.

د قضایي قوی د بودجی د لګولو واک اختیار د ستری محکمی په لاس کې دی.

د قضایې قوی د مامورینو او ټولو اداري کار کوونکو په باب د دولت د مامورینو او ټولو اداري کار کوونکو د قوانینو حکمونه نافذ دي، خو د دوی ټاکل، او چتول، عزل، پوښتیدل او تقاعد ورکول د قانون سره سم د ستری محکمی له پلوه کېږي.

## اتم فصل

## اداره

۱۰۸ ماده: د افغانستان اداره د دی فصل د حکمونو سره سم د مرکزیت په اساس ولاړه ده.

مرکزي اداره د قانون له مخې په یو شمیر اداری «یوکونو» باندې ویشله کېږي چې د هر یوه مشري د یو وزیر په لاس کې ده.

د سیمه ایزې ادارې یوک ولایت دی د ولایتونو شمیر، سیمه، برخې او تشکیلات د قانون له مخې ښودل کېږي.

۱۰۹ ماده: په هر ولایت کې یوه د ولایت جرگه جوړېږي. د ولایت جرگې غړي د ازادو او عامو، سماسمو او پټو انتخاباتو له لارې د ولایت د خلکو له خوا غوره کېږي.

ولایت جرگه د خپلو غړو له منځه یو تن د مشر په توگه غوره کوي.

ولایت جرگه لکه چې په قانون کې ښودل کېږي د دولت د انکشافي هدفونو په پوره کولو کې برخه اخلي او هم دا جرگه د ولایت د چارو د ښه کیدو او د ولایت د عمومي اوضاعو د انکشاف د پاره د ولایت حکومت ته سلا ورکوي.

ولایت جرگه خپلې وظیفې د ولایت د حکومت په ملگرتیا سرته رسوي.

د ولایت جرگې د غړو د پاره د قانون له پلوه مناسب معاش تاکل کېږي.

۱۱۰ ماده: د سیمه ایزې ادارې د سمون د پاره داسې قوانین جوړېږي چې په هغو کې د دې فصل د حکمونو رعایت کېږي.

د دې قوانینو په مقصدونو کې یو دا هم دی چې دا قسم جرگې تر کلیو پورې وغځېږي او په سیمه ایزه اداره کې د دوی د ورځ په ورځ زیاتیدونکې گډون مطلب پوره شي.

۱۱۱ ماده: د ښاري چارو د ادارې د پاره ښاروالي جوړېږي.

د ښاروالیو ټولنې دازادو، عامو، پټو او سماسمو انتخاباتو له لارې جوړېږي.

د دې فصل د حکمونو د رعایت

سره په ښاروالیو پوری تړلی چاری د قانون له پلوه سمیږي.

۱۱۲ ماده: اداري وظیفی د اداري مامورینو او نورو کار کوونکو په لاس په ځای کیږي.

د مامورینو او نورو اداري کار کوونکو د پاره د قانون له مخه مناسب معاش ټاکل کیږي.

د مامور ینو او نورو اداري کار کوونکو حقونه او وظیفی په قانون کې ښودل کیږي.

## نهم فصل

## د اضطرار حالت

۱۱۳ ماده: که چېري د جنګ، د جنګ دخطر، د سختی الي ګولي یا بل دغسی حالت له کبله چې مملکت ته خطره راپورته کړي او د خپلواک او ملي ژوند ساتنه په هغه لار چې دی اساسي قانون ښودلی ده ناممکنه شی نو د باچا له خوا د اضطرار حالت اعلامیږي.

که د اضطرار حالت له دری میاشتو نه اوږد شي نو د هغه د جاري ساتلو له پاره د لویی جرګې منته شرط ده.

۱۱٤ ماده: د اضطرار په حالت کې باچا اختیار لري چې د شورا ټول یا ځیني واکونه د حکومت په لاس کې ورکړي.

۱۱۵ ماده: داضطرار په حالت کې حکومت کولی شي چې دستري محکمی د موافقی اخستلو نه وروسته داساسي قانون د لاندنیو حکمونو چلند د تقنیني فرمانونو له مخه یا وځندوي او یا پری قیدونه ولګوي:

۱ - داته ویشمی مادی دلومړی فقری حکم.

۲ - دنهه ویشمي مادی ددریمی فقری حکم.

۳ - ددیرشمی مادی ددوهمی فقری حکم.

٤ - ددیرشمي مادی د دوهمی فقری حکم.

۵ - ددري ديرشمي مادې دلومړۍ فقرې حکم .

۱۱۶ ماده: داضطرار په حالت کې ياچا پايتخت د کابل دښار نه بل ځاى ته موقتاً ليږدولى شي .

۱۱۷ ماده: که چيرې داولسي جرګې تقنيني دوره ياد مشرانو جرګې دځينو غړو د خدمت دوره داضطرار دحالت په موده کې ختمه شي باچا کولى شي چې نوي انتخابات وځنډوي او داولسي جرګې تقنيني دوره يا دمشرانو جرګې دنوموړو غړو دخدمت دوره داضطرار دحالت ترپايه اوږده کاندي .

نوي انتخابات داضطرار دحالت په ختم پسې سملاسي اجرا کيږي .

۱۱۸ ماده: داضطرار په حالت کې اساسي قانون نه تعديليږي .

۱۱۹ : داضطرار دحالت دختميدو سره جوخت ټول هغه اقدامات چې ديوسل پنځلسمې مادې له مخه شوي وي له اعتباره پريوځي.

هغه اقدامات چې ديوسل څورلسمې مادې له مخه شوي وي داضطرار دحالت دختميدو وروسته دشورا دلومړۍ غونډې دنيټې نه په يوه مياشت کې دننه دننه شورا ته وړاندې کيږي .

او که چيرې شورا هغه ونه مني نو له اعتباره غورځيږي.

که چيرې داضطرار په حالت کې داسي يو حکومت جوړشوى وي چې ديوسل څلولسمې مادې له مخې ئې داولسي جرګې دباور رايه نه وي اخستې نو د اضطرار دحالت په ختميدو پسې سملاسي په حکومت باندې دباور درايې موضوع په اولسى جرګه کې تر بحث لاندې راځي او فيصله ورباندې کيږي.

## لسم فصل

## تعديل

۱۲۰ ماده: د دې اساسي قانون د

حکمونو سره سم د اسلام د پیروی اصل او د مشروطه باچایي اساس او په اتمه ماده کې راغلي ارزښتونه تعدیل کیدلی نه شي.

د اساسي قانون نوری برخی د وزیرانو د ټولنی یا د اولسي جرگې یا د مشرانو جرگې د دریمی برخی غړو په پیشنهاد د دی فصل د حکمونو سره سم تعدیل کیدی شي.

۱۲۱ ماده: د تعدیل پیشنهاد لویه جرگه گوري او که چېری د لویی جرگې د غړو اکثریت د تعدیل ضرورت ومني نو د خپلو غړو له منځه یوه ډلگی د تعدیل د طرحي د تیارولو د پاره ټاکي. دا ډلگی د وزیرانو د ټولنی او ستری محکمی په سلا طرح جوړوي او لویي جرگې ته یې وړاندې کوي.

که چېری لویه جرگه د غړو په اکثریت د تعدیل طرحی ومني نو طرح باچا ته وړاندی کېږي، باچا شورا ماتوي، د تعدیل د طرحی نه ټول اولس خبروي او د نوو انتخاباتو تاریخ اعلانوی. د شورا د ماتیدو نه وروسته د ځلورو میاشتو په موده کې د ننه د نوي انتخابات کېږي.

۱۲۲ ماده: د شورا په پرانستلو او د حکومت جوړیدو پسی سم باچا لویه جرگه راغواړي. لویه جرگه د تعدیل طرح گوري او متن یې مني یا نه مني.

د لویی جرگې تصویب په دی باب د غړو د دوو برخو په اکثریت کېږي او د باچا په ښکوللو نافذ کېږي.

## یوولسم فصل
## انتقالي حکمونه

۱۲۳ ماده: د دی فصل د محتویاتو له رعایت سره د دی اساسي قانون حکمونه له هغی تاریخ نه نافذ کېږي چې د باچا له پلوه ښکوللي او اعلام شي.

۱۲٤ ماده: د باچا له پلوه د دی اساسي قانون د اعلامیدو نه وروسته د ملي شورا او د اعیانو مجلسونه

ړنگیدلي گڼل کېږي.

۱۲۵ ماده: نوی شورا د ۱۳۴۴ هجري شمسي کال د میزان په دوه ویشتمه ورځ پرانستله کېږي.

د دی اساسي قانون د اعلامیدو او د نوی شورا د پرانستلو تر منځ دوره دانتقال دوره گڼل کېږي.

د انتقال په دوره کې د شورا واک اختیار حکومت ته سپارل کېږي.

هغه تقنیني فرمانونه چې د انتقال په دوره کې د دی فصل په حکمونو برابر راوځي داووه او یا یمي مادی د حکم سره سم شورا ته ښودل کېږي.

که چېری د انتقالي دوری په موده کې یو داسی حالت پیداشي چې د دی اساسي قانون د حکمونو سره سم د لويي جرگې دائریدل غواړي نو د شورا او اعیانو ړنگ شوي مجلسونه را بلل کېږي او د اته او یا یمی مادی سره سم لویه جرگه جوړیږي. څرنگه چې د نوموړي حالت د راپیدا کیدو په وخت کې لا د ولایتو جرگې نه دي جوړی شوی نو ځکه لویه جرگه بی د ولایتو د جرگو له مشرانو څخه جوړېږي.

۱۲۶ ماده: په انتقالي دوره کې د حکومت په وظایفو کې دا چارې شاملې دی:

۱ - چې دانتخاباتو، اساسی تشکیلاتو، مطبوعاتو او د قضایی واک اختیار او تشکیلاتو په باب تقنیني فرمانونه جوړ او د ښکوللو له پاره یې باچا ته وړاندې کړی.

۲ - چې د سیاسي گوندونو او ولایتی جرگو د قوانینو مسودې تیارې او هغې شورا ته یې وړاندې کړی چې د انتقالي دورې نه وروسته جوړېږی.

۳ - چې د دې اساسي قانون د حکمونو د عملی کولو له پاره ضروری اقدامات وکړي.

۱۲۷ ماده: ستره محکمه د ۱۳۴۶ هجرې شمسې کال د میزان په دوه وېشتمه نېټه جوړ یږي.

که چېرې د انتقالي دورې په موده کې د دې اساسي قانون د پنځلسمي، اووه لسمي، نولسمي، يووېشتمې، دوه وېشتمې او يوسل پنځلسمې مادې د عملي کولو ضرورت پېښ شي نو د دغو مادو حکمونه د سترې محکمې يا قاضي القضات د ګډون نه پرته عملي کېږي.

د دې اساسي قانون د نافذ کېدو او د سترې محکمې د جوړېدو تر منځ موده کې باچا صلاحيت لري چې د سترې محکمې د وظيفې د اجرا د تأمين د پاره ضروري تدبيرونه برابر کړي.

۱۲۸ ماده: ټول هغه قوانين چې د دې اساسي قانون د نافذ کېدو نه مخکې منځ ته راوتلي دي په دې شرط نافذ ګڼل کېږي چې د دې اساسي قانون له حکمونو سره تناقض ونه لري او نويو قوانينو لغوه کړي نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دافغانستان دجمهوري دولت اساسي قانون

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**دافغانستان دجمهور رئیس ښکولل**

دلوی خدای په نامه او دافغانستان دنجیبو خلکو دنیکمرغی په هیله زه محمد داؤد دافغانستان لومړنی جمهور رئیس دهغې وظیفې په اساس چې دجمهوری دولت د لومړنۍ لویې جرگې نماینده گانو د ۱۳۵۵ هجري لمریز کال دسلواغې دمیاشتې دپنځه ویشتمې نیټې دمصوبې په استناد درایو په اتفاق ماته راسپارلې ده نن دپنجشنبی په ورځ د ۱۳۵۵ هجری لمریز کال دکب دمیاشتی په پنځمه نیټه د افغانستان په مرکز کابل کې دا اساسي قانون توشیح کوم او انفاذ یې اعلاموم.

دافغانستان دجمهوری دولت لومړنی جمهور رئیس محمد داؤد

۱۳۵۵ کال دکب پنځمه

**سریزه**

له هغه ځایه څخه چې ملتونه او ټولنې د تاریخ په اوږدو کې تل د تحول او تکامل په حال کې دي او له هغه ځایه چې دا واقعیت زموږ په تاریخي ژوند کې د یو ملت او د بشري ټولنې د یو جز په حیث ښکاره شویدی، له دی کبله:

دیو داسې پتمن ژوند د تأمینولو دپاره چې د عدالت او کفایت په متینو بنسټونو ولاړ وي او د نیکمرغۍ او هوسایۍ او اطمینان څخه ډک وي.

د ۱۳۵۲ کال د چنګاښ دشپږویشتمې نیتې د ملي، اجتماعي، اقتصادي، سیاسي او فرهنګي سپیڅلو ارمانونو د تامینولو دپاره، د ملي یووالي دورځ په ورځ زیاتیدونکي ټینګښت او پیاوړتیا تضامن او تساند او د اجتماعي عدالت د تأمینولو او زمونږ په ټولنه باندې د حاکمو عیني او ذهني شرایطو، ملي فرهنګ او تاریخي واقعیتونو سره سم په مترقي او مثبته توګه د تضادونو د محوه کولو دپاره، زموږ د هیواد د خلکو د پرتمینې ماضي او برمیال تاریخ ته د ژورې درناوۍ او د هیواد د خپلواکۍ او ملي هویت د ساتنې په لاره کې د دوی پرله پسې مبارزې او د دوی د تاریخي او انساني رسالت د پرځای کولو دپاره.

په لوی خدای (جل جلاله) باندې د ایمان درلودلو او د اسلام د سپیڅلي دین د اساسونو په پیروی او په پای کې د دی ټولو هدفونو او مقصدونو د تحقق دپاره.

مونږ د افغانستان خلکو د عصر د غوښتنو او شرایطو په درک کولو سره تصمیم نیولی دی چې خپل ملي ژوند د آزادۍ، ترقۍ، حق، عدالت او سولې پر بنسټ دورور ګلوۍ او سمسمی د اصولو سره سم او د ژوند فلسفه او

دهیواد د نن او سبا ورځې د نسلونو سرنوشت دافغانستان د ۱۳۵۲ کال دچنگاښ د شپږو یشتمې نیټې د ملي او مترقي انقلاب داساسي او اقتصادي هدفونو پربنا ټینګ کړو.

ددې حقایقو په درک کولو سره مو دغه ملي وثیقه دجمهوري دولت داساسي قانون په حیث دافغانستان دنجیبو خلکو دمادي اومعنوي نیکمرغۍ هوساینې او پرمختګ دپاره دخپل ځان او راتلونکو نسلونو دلار ښودنې دپاره وضع کړه.

## لومړی فصل

## اساسی هدفونه

لومړۍ ماده:

دخپلواکۍ، ملي حاکمیت او د خاوري دتمامیت څخه دفاع کول.

دوهمه ماده:

دقدرت اجرا کول دخلکو له خوا چې اکثریې بزګران، کارګران، منورین او ځوانان دي.

دریمه ماده:

دفکر او عمل تر منځ دیوالې ټینګښت دخلکو د پوره ونډې اخیستلو په تکل دهیواد دمادي او معنوي جوړښت او پراختیا دپاره.

څلورمه ماده:

دیوې داسې دموکراسۍ تأمین چې په اجتماعي عدالت او دخلکو په ګټو ولاړه وي.

پنځمه ماده:

د آزادۍ او انساني کرامت درناوی او دهر رنګه کړاو او توپیر دمنځه وړل.

شپږمه ماده:

دجمهوري نظام ورځ په ورځ زیاتیدونکی ټینګښت او پیاوړتوب.

اوومه ماده:

دافغانستان دخلکو داکثریت په ګټه ددې اساسي قانون دارزښتونو اوبنسټونو سره سم دژورو، بنیادي او پرله پسې اقتصادي او اجتماعي

او ښتونونو منځ ته راوستل.

اتمه ماده:

د هر ډول استثمار له منځه وړل.

نهمه ماده:

د کار د حق تضمینول

لسمه ماده:

د خلکو د خدمت د پاره په اجباري توګه د لومړنیو ښوونو تأمین او تعمیم او د علمي او فني کادرونو د روزنې او بشپړتیا په منظور په وړیا ډول د ثانوي عمومي، مسلکي او عالي زده کړو پراختیا او پرمختیا.

یوولسمه ماده:

د عامې روغتیا د ښه والي او ساتنې د پاره د وقایوی او معالجوي طب پراختیا.

دوولسمه ماده:

د ملګرو ملتونو د منشور د اساسونو او د بشر د حقوقو د جهاني اعلامیې د رناوی او د عادلانه سولې ملاتړ.

په نتیجه کې د یوې هوسا او پرمختللې ټولنې جوړول چې د وروری، سمسمي، مرستې او د انساني کرامت د ساتنې په بنست ولاړه وي.

## دوهم فصل

## اقتصادی بنستونه

دیارلسمه ماده:

منابع لکه کانونه، ځنګلونه او انرژی، لوی صنایع، مخابرات، د هوایي او ځمکني ترانسپورت مهم تأسیسات، بندرونه، بیمې، بانکونه، د خوراکي موادو د برابرولو مهم تأسیسات، لرغوني او تاریخي آثار د قانون د حکمونو سره سم د ملت شتمني ده او اداره یې په دولت پورې اړه لري.

څوارلسمه ماده:

د زراعتي ملکیت لوړه اندازه د ځمکو د اصلاحاتو د قانون له پلوه تثبیت او ټاکل کیږي.

پنځلسمه ماده:

ځانګړي ملکیتونه او تشبثات داستثمار دمنځه وړلو داصل په ملاتړ دقانون په وسیله تنظیمیږي.

شپاړسمه ماده:

حکومت دلګښت او پیدا ینبت تعاوني شرکتونه او کوپراتیفونه دخلکو په ګډون او دخلکو داکثریت په ګټه دقانون دحکمونو سره سم تشویقوي، ملاتړ یې کوي او لار ښوونه ورته کوي.

اوولسمه ماده:

د منځنیو، وړو او لاسي صنایعو په ساحه کې ځانګړي تشبثونه او پانګې اچول دقانون دحکمونو سره سم تشویق کیږي، ملاتړ یې کیږي او لارښوونه ورته کیږي.

اتلسمه ماده:

دهېواد سوداګري دلارښود ل شوې سوداګرۍ په اساس چې د خلکو داکثریت په ګټو ولاړه ده دقانون دحکمونو سره سم تنظیمیږي.

نولسمه ماده:

مالیه داجتماعي عدالت په بنسټ دقانون دحکمونو سره سمه اخیستل کیږي.

## دریم فصل

## دولت

شلمه ماده:

افغانستان یو جمهوري، دموکراتیک، خپلواک، یو موټی او نه بیلیدونکی دولت دی.

یوویشتمه ماده:

ملي حاکمیت په افغانستان کې په خلکو پورې اړه لري.

دافغانستان ملت ټول هغه افراد دي چې دقانون له حکمونو سره سم دافغانستان ددولت تابعیت لري.

دافغانستان دملت دافرادو په هر یو فرد باندې دافغان دکلمې اطلاق کیږي.

دوه ویشتمه ماده:

دافغانستان دین داسلام مقدس دین دی.

دملت هغه کسان چې مسلمانان نه دي په هغو حدودو کې دننه چې دآدابو او عامې هوساینې په هکله یې قوانین ټاکي آزاد دي چې خپل مذهبي مراسم په ځای کړي.

درویشتمه ماده:

دافغانستان دژبو له جملې څخه پښتو او دري رسمي ژبې دي.

څلیرویشتمه ماده:

دافغانستان دبیرغ رنګ تور، سور او زرغون دی، چې دارنګونه په افقي ډول په ټاکل شوو اندازو له پورته مخ په ښکته واقع دي او دکیڼې خوا په پاسنۍ برخه کې یې ددولت ملي نښان لګیدلی دی. دبیرغ او ملي نښان تعریف او اندازه دقانون له خوا ښودل کیږي.

پنځه ویشتمه ماده:

دافغانستان دجمهوري دولت وسله والې قواوې چې دملي انقلاب هدفونو ته وفا دارې او په خپلو ملي عنعناتو ټینګې ولاړې دي دخلکو دخدمت له پاره دحکومت داوامرو تابع دي.

دافغانستان دقلمرو نه دفاع دوسله والو قواوو په غاړه ده او دوسله والو قواوو دعالي شورا دلارې په ملي فعالیتونو کې برخه اخلي.

شپږویشتمه ماده:

دافغانستان اداره دقانون د حکمونو سره سم دمرکزیت په اصل ولاړه ده.

دافغانستان مرکز دکابل ښار دی.

## څلورم فصل

## دخلکو حقونه اووجیبې

اووه ویشتمه ماده:

دافغانستان ټول خلک ښځې وي که نر بې له تبعیض او امتیاز دقانون په وړاندې یو شان حقونه او وجیبې لري.

اته ویشتمه ماده:

آزادي دانسان طبیعي حق دی پرته له هغو حالاتو چې دنورو آزادي، شرافت یا عمومي ښیګړو امنیت او ملي مصلحتونو ته ډکه یازیان ورسوي. داحق دقانون له خوا ښودل کېږي.

نهه ویشتمه ماده:

هر افغان چه دعمر اتلس کاله یې پوره کړي وي دقانون دحکمونو سره سم درای ورکولو حق لري.

دېرشمه ماده:

دذمې برائت اصلي حالت دی. تر څو پورې چې تورن دواکمنې محکمې له خوا په قطعي حکم سره په جزا محکوم نه شي بې ګناه ګڼل کېږي.

هېڅ عمل بې دقانون له حکمه جرم نه ګڼل کېږي. هیچاته جزا نه شي ورکول کیدای مګر د واکمنې محکمې دحکمه سره سم.

هېچاته جزا نه شي ورکول کیدی مګر د یو داسې قانون دحکمه سره سم چې ددغه تهمتی کارله کولو نه ړومبی نافذ شوی وی.

هېڅوک تعقیب کیدلی، نیول کیدلی یا توقیف کیدلی نه شي مګر دقانون دحکمونو سره سم.

یو دېرشمه ماده:

جرم دهرچا خپل ځاني شی دی. دتورن تعقیبول، نیول، توقیفول او سزاورکول بل هیچاته نه ورغځېږي.

کړول او له انساني کرامت نه مخالفه سزا تیاکل نا روا دي.

هرڅوک حق لري چې دهغه تور دلرې کولو په غرض چې دقانون له مخې پرې لګول شوی وي دځان ددفاع دپاره وکیل ونیسي.

دوه دېرشمه ماده:

دچا پوروړي کېدل دپوروړي دآزادۍ دسلبیدو یا کمیدو سبب کیدای نه شي.

دپور ویستلو لاری، چارې د قانون

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خوا ښودلې کېږي.

درې دېرشمه ماده:

هر افغان حق لري چې دخپل هېواد د سيمې هر ځای ته ولاړ شي او هلته استوګنه غوره کړي پرته له هغو ځايو څخه چې قانون منع کړې وي.

همدا رنګه هر افغان حق لري چې دقانون دحکمونو سره سم د افغانستان نه دباندې سفر وکړي او بېرته افغانستان ته راشي.

څلوردېرشمه ماده:

هېڅ افغان په افغانستان کې د ننه او يا دافغانستان نه دباندې په شړلو محکوميدلی نه شي.

هېڅوک په يوه ځای کې له ميشته کېدلو او يا دهغه ځای نه بل ځای ته دليږديدلو څخه منع کيدای نه شي مګر په داسې حالاتو کې چې قانون دامنيت او عامه ګټو دتأمين په منظور اجازه ورکړې وي.

هېڅ افغان ديو جرم په توربهرني دولت ته سپارل کېدای نه شي.

پنځه دېرشمه ماده:

دهر چا کور دبلوسې نه په امن دی، هېڅوک حتی دولت هم داوسيدونکي داجازې ياد يوې واکمنې محکمې له حکمه پرته اوبې دهغو حالاتو او لارو چارو چې په قانون کې څرګندې ښودل شوې دي دچا کورته ننوتلی او هغه لټولی نه شي.

دمشهود جرم په وخت کې مسؤول مامور ديو چا کور ته بې دهغه داجازې يادمحکمې دمخکينۍ اجازې څخه په خپل مسؤوليت ننوتلی شي او هغه لټولی شي خو دغه مامور په دې مکلف دی چې د ننوتلو او لټولو نه وروسته دقانون دخوا په ښودل شوې مودې کې دننه دمحکمې حکم ترلاسه کړي.

شپږ دېرشمه ماده:

ملکيت دبلوسې نه په امن دی.

دهيچا ملکيت دقانون دحکم او ديوې واکمنې محکمې دفيصلې نه پرته

مصادره کیدلای نه شی، د خصوصي ملکیت استملاک یوازې د عمومي ښیګړو د پاره د عادلانه عوض په بدل کې د قانون د حکمونو سره سم جواز لري.

هېڅوک د ملکیت له لاس ته راوړلو او تصرف څخه منع کیدای نه شي مګر د قانون په پولو کې.

د ملکیت د استعمال لارې چارې د عامو ښیګړو د پاره د قانون د پلوه تنظیم او ښودل کېږي.

اووه دېرشمه ماده:

د هر چا د مخابرې آزادي او پټوالی په لیک سره وي که په تیلفون که په تیلګراف او یا په کومه بله وسیله د بلوسې نه په امن دی.

دولت د چا د مخابرې د پلټنې حق نه لري مګر د قانون د حکمونو سره سم. په سملاسي حالاتو کې چې قانون ښودلي دي مسوول مامور بې له دې چې لومړی له محکمې څخه اجازه واخلي په خپل مسؤولیت سره کولی شي چې مخابرې وپلټي.

دغه مامور په دې مکلف دی چې د پلټنې څخه وروسته په هغه موده کې چې قانون ښودلې ده د محکمې حکم ترلاسه کړي.

اته دېرشمه ماده:

د فکر او بیان آزادي د بلوسې نه په امن ده.

هر افغان حق لري چې د قانون د حکمونو سره سم په وینا، لیکنه، تصویر او یا داسې نورو وسیلو سره خپل فکر ښرګند کړي.

د چاپخانو د تأسیس او د مطبوعاتو د خپرولو اجازه او امتیاز د قانون د حکمونو سره سم یوازې د افغانستان اتباعو ته ورکول کېږي. د لویو چاپخانو، د رادیو او تلویزیون، د عامو خپروونکو کارځیو تأسیس او چلول یوازې په دولت پورې اړه لري.

نهه دېرشمه ماده:

دافغانستان اتباع حق لري چې دروا او سوله ناکو مقصدونو د پوره کولو د پاره د قانون د حکمونو سره سم بې وسلې ټولنه وکاندې.

ځلوېښتمه ماده:

دافغانستان د خلکو د سياسي روزنې او اجتماعي غوښتنو د خرګندولو په منظور تر هغه وخته چې دا آرزو ترسره کېږي او طبيعي ودې ته رسېږي په هيواد کې د ملي انقلاب د ګوند په لارښود نه کوم چې دافغانستان د خلکو د ۱۳۵۲ - کال د چنګاښ د شپږويشتمې نيټې د مترقي او اولسي انقلاب بنسټ ايښودونکی او مخکښی ګوندی يوازی يو ګوند يز سيستم ټينګ وی.

يو ځلوېښتمه ماده:

کار د هر افغان چې د کولو وس يې ولري حق، شرف او د غاړې فرض دی.

د کار د تنظيم د پاره چې کوم قوانين جوړېږي د هغوی لوی هدف يوې داسې مرحلې ته رسېدل دي چې په هغې کې د ټولو زيار کښانو، کروند ګرو، کاريګرو او اصنافو حقونه او ښېګڼې وساتلې شي، د کار مناسب حالات راپيدا شي او د کاريګرو او کارفرمايانو تر مينځ روابط په عادلانه او پر مختللي ډول تنظيم شي.

د کسب او کار غوره کول په هغو شرايطو کې د ننه چې قانون ټاکلي دي آزاد دي.

دوه ځلوېښتمه ماده:

دافغانستان اتباع د اهليت له مخې او د قانون د حکمونو سره سم د دولت د خدمت د پاره منل کېږي.

دری ځلوېښتمه ماده:

بيګار که د دولت له پاره هم وي ناروا دی.

د بيګار بنديز د هغو قوا نينو د عملي کولو په لاره کې چې د عمومي ښېګڼو په نيت د يو ځايي کار د سمبښت د پاره جوړېږي کوم خنډ نه راپورته

کوي.

څلورڅلوېښتمه ماده:

هر افغان مکلف دی چې دولت ته مالیه او محصول ورکړي.

هېڅ راز مالیه او محصول بې دقانون له حکمه نه شي ترل کیدای.

دمالیې او محصول اندازه او دهغو ډول کولو لارې چارې یې داجتماعي عدالت سره سم دقانون له خوا ښودلې کېږي.

داحکم په خارجي اشخاصو باندې هم چلېږي.

پنځه څلوېښتمه ماده:

دهیواد څخه دفاع دافغانستان دټولو اتباعو سپیڅلې وظیفه ده.

دافغانستان ټول اتباع دقانون دحکمونو سره سم دعسکري خدمت په کولو مکلف دي.

شپږڅلوېښتمه ماده:

داساسي قانون له حکمونو سره سم چلېدل، دجمهوري نظام او د ۱۳۵۲ کال دچنګاښ دشپږویشتمې نیتې دانقلاب دهدفونو سره وفاداري، دجمهور رئیس درناوی کول، قوانینو ته غاړه ایښودل، عمومي نظم او امن ته پاملرنه، دهیواد دښیګړو ساتل او په ملي ژوندکې ګډون کول دافغانستان دټولو خلکو وظیفه ده.

اووه څلوېښتمه ماده:

هېڅوک نه شي کولی چې ددې اساسي قانون دمندرجه حقونو او آزادیو څخه په استفادې سره ملي خپلواکي، دخاورې تمامیت، ملي وحدت او هغو غوښتنو ته چې دخلکو داکثریت په ښیګړو ولاړې وي او یا د ۱۳۵۲ کال دچنګاښ دشپږویشتمې نیتې دانقلاب نورو هدفونو ته ډکه او زیان ورسوی.

## پنځم فصل

## ملي جرګه

اته څلوېښتمه ماده:

ملي جرګه دافغانستان دخلکو دارادې څرګندویه ده او دټول ملت

شخه نمایندګي کوي.

نهه څلوېښتمه ماده:

د ملي جرګې غړي چې پنځوس په سلوکې يې کروندګر او کاريګر تشکيلوي د ګوند له پلوه پيشنهاد او د آزادو، عامو، پټو او سماسمو انتخاباتو د لارې د قانون د حکمونو سره سم د يوې څلور کلنۍ مودې د پاره د خلکو له خوا غوره کېږي.

د دې مقصد د پاره افغانستان په انتخابي و نهونو ويشل کېږي.

د ونهونو شمير او سيمه د قانون له مخې ټاکل کېږي.

پنځوسمه ماده:

د ملي جرګې د وکيلانو د غوره کيدو لارې چارې، شرطونه او د دوی وظيفې به د قانون د حکمونو سره سمې تنظيمېږي.

د يوو کيل د انتخاب په قانوني والې باندې د اعتراض او د ده د غړيتوب د وثيقې کره کتنه د ملي جرګې د داخلي وظايفو د اصولو سره سم تر اجرا لاندې نيوله کېږي.

يو پنځوسمه ماده:

د وکيل شخه د وکالت د امتياز سلبول د ملي جرګې د غړو د رې برخو شخه د دوو برخو په موافقې سره کيدی شي.

دوه پنځوسمه ماده:

د انتخاب کوونکو شرطونه د انتخاباتو په قانون کې ښودل کېږي.

هغه څوک چې د ملي جرګې د غړيتوب د پاره غوره کيږي په کار دي چې د انتخاب کوونکو په شرطونو سربيره د غه صفتونه هم ولري:

۱ - بايد د ملي جرګې په غړيتوب باندې د غوره کيدونه لومړی يې لږ تر لږه لس کاله پخوا د افغانستان د دولت تابعيت حاصل کړی وي.

۲ - د محکمې له خوا د سياسي حقونو شخه په محرومې محکوم شوی نه وي.

۳- د انتخاب په وخت کې يې د خپل عمر پنځه ويشتم کال پوره کړی وي.

دری پنځوسمه ماده:

د ملي جرګې هر يو غړی حق لري چې د جرګې د ننه د هغه موضوع په باب چې خبرې پرې روانې وي خپله نظريه د داخلي وظايفو په اصولو، برابره څرګنده کړي.

څلور پنځوسمه ماده:

د ملي جرګې هيڅ يو غړی د هغې نظريې له کبله چې د خپلې وظيفې د پرځای کولو په وخت کې يې ښکاره کوي د عدلي تعقيب لاندې نه راځي.

که چيرې د ملي جرګې په يو غړي باندې تور پورې شي نو مسؤول مامور د دغې پيښې خبر ملي جرګې ته ورکوي او پس له هغه چې د جرګې غړي په اکثريت سره اجازه ورکاندې تورن د عدلي تعقيب لاندې راځي.

د څرګند جرم په باب مسؤول مامور کولی شي چې تورن بې د جرګې د اجازې نه د عدلي تعقيب لاندې راولي او ويې نيسي.

که چيرې عدلي تعقيب د قانون له مخې د توقيف غوښتنه کوله نو مسؤول مامور مکلف دی چې سملاسي جرګې ته خبر ورکړي.

که چيرې تور په داسې وخت کې پيښ شوی وي چې جرګه تعطيل وي نو د توقيف خبر د جرګې اداري هيات ته ورکول کيږي.

اداري هيأت مکلف دی چې ملي جرګه د راتلونکي اجلاس په لومړۍ غونډه کې د موضوع څخه خبره کړي.

پنځه پنځوسمه ماده:

حکومت کولی شي چې د ملي جرګې په غونډو کې ګډون وکړي.

ملي جرګه کولی شي چې د حکومت غړي خپلې غونډې ته وغواړی او د هغوی نه څرګندتيا وغواړي.

په غونډو کې به د ملي جرګې

مباحثې ښکاره وي مګر کله چې جمهور رئیس د غونډې پټوالی اعلام کړي، همدارنګه کله چې د ملي جرګې مشر او یا د حکومت هر غړی او یا لږ تر لږه د ملي جرګې لس تنه غړي داغوښتنه وکړي چې جرګه دې پټه وشي او جرګه داغوښتنه ومني.

هېڅوک په سر زوري سره د ملي جرګې دیره ځای ته ننوتلای نه شي او که څوک د دې حکم نه مخالفت وکړي د قانون د حکمونو له مخې به سزاور کول کیږي.

شپږ پنځوسمه ماده:

بې له هغو حالاتو چې حکم یې په دې اساسي قانون کې په صراحت ښودل شوی دی د ملي جرګې فیصله د حاضرو غړو د رایو په اکثریت کیږي.

اووه پنځوسمه ماده:

ملي جرګه په هر کال کې څلور میاشتې پر له پسې عادي غونډه چې د لیندی په اوله نیټه پیل کیږي دایروي.

اته پنځوسمه ماده:

ملي جرګه د تقنیني دورې په اول وخت کې د خپلو غړو له منځه یو کس د مشر په توګه غوره کوي.

جرګه د خپلو غړو له منځه دوه تنه د لومړي نایب او دوهم نایب په حیث او دوه تنه نور د منشي او د منشي د نایب په حیث د کلنۍ غونډې په اول سر کې د یو کال د پاره غوره کوي.

د غه پورتني کسان، د جرګې اداري هیأت تشکیلوي او په اعظمي ډول د غونډې د پیل کیدو نه وروسته د پنځلس ورځو په موده کې غوره کیږي.

نهه پنځوسمه ماده:

ملي جرګه د بحث لاندې موضوعاتو باندې د کره او پراخې کتنې د پاره د داخلي وظیفو د اصولو د حکمونو سره سمې جرګګۍ جوړوي.

شپږمه ماده:

ملي جرګه دخپلو داخلي وظايفو اصول جوړوي.

يو شپږمه ماده:

دملي جرګې دغړو دپاره دقانون دحکم سره سم مناسب معاش ټاکل کېږي.

دوه شپږمه ماده:

ملي جرګه دافغانستان دحياتي چارو دسمون دپاره ددې اساسي قانون په حکمونو برابر د قوانينو په هغو مسودو باندې چې دحکومت او يا قضاييه قوې له خواور ته پيشنهاد شوي وي وروسته دمطالعې او غورنه لازم تصميم نيسي.

په بودجې باندې تصميم نيول، دبين الدول معاهدو تصديقول، خارج ته دافغانستان دجمهوري دولت دوسله والو قواوو دټولګيو ليږل دملي جرګې په واک کې دي.

دملي جرګې دتعطيل يا انحلال په وخت کې حکومت کولی شي د عاجلو چارو دسمون دپاره تقنيني فرمانونه تسويد او ترتيب کړي. دا فرمانونه دجمهور رئيس دښکللو او اعلامولو څخه وروسته نافذ ګڼل کېږي.

دغه فرمانونه دملي جرګې د لومړنۍ غونډې له نيټې نه تر ديرشو ورځو پورې ملي جرګې ته دتصميم نيولو دپاره وړاندې کېږي.

دري شپږمه ماده:

قانون هغې مصوبې ته وايي چې ملي جرګې منلی او جمهور رئيس ښکللی وي.

څلورشپږمه ماده:

هيڅ قانون نه شي کولی چې داسلام دسپيڅلي دين له اساسونو، جمهوري نظام او نورو هغو ارزښتونو څخه مناقض وي چې په دې اساسي قانون کې راغلي دي.

## شپږم فصل

## لويه جرګه

پنځه شپېتمه ماده:

په افغانستان کی لویه جرگه دافغانستان دخلکو دستر قدرت، واک، او ارادې ښکارندویه ده.

لویه جرگه ددې لاندې کسانو شخه جوړه ده:

- دملي جرگې غړي.
- دگوند دمرکزی شورا غړی.
- دحکومت او وسله والو قواوو دعالي شورا غړي.
- دسترې محکمې غړي.
- دهر ولایت دپنځوتنو شخه تر اتو تنو پوری نماینده گان.
- دېرش تنه غړي چې دفرمان په وسیله دجمهور رئیس له خوا ټاکل کېږي.

شپږ شپېتمه ماده:

لویه جرگه ددې اساسي قانون دحکمونو سره سم په جمهوري فرمان دایرېږی.

جمهور رئیس دلویې جرگې رئیس دی.

دجمهور رئیس دمړینې یا استعفی په صورت کې لویه جرگه دمړینې یا استعفا دورځې له تاریخ نه په شلو ورځو کې دننه دجمهوري ریاست دمقام له خوا دایرېږی.

اووه شپېتمه ماده:

لویه جرگه دلاندی مقصدونو او حالاتو دپاره دجمهور رئیس او یا دلویې جرگې دنایب رئیس په مشری دایرېږي:

۱- داساسي قانون تعدیل.

۲- دجمهور رئیس انتخابول او یا دهغه داستعفی منل.

۳- دجنگ او اوربند داعلان تصویبول.

٤- دبلې هرې مهمې پیښی په مقصد چې دلویې جرگې دتصویب غوښتنه وکړي.

اته شپېتمه ماده:

په داسی حالت کې چې لویه جرگه

دايره وی دهغې دغــړو په هکله ددې اساسي قـانون دڅلور پنځوسمې مادې حکم عملي کېږي.

نهه شپېتمه ماده:

دلويې جرګې مباحثې به ښکاره وي مګر کله چې دحکومت د دوو برخو نه زيات غړي يا دګوند مرکزي شورا او يا جـرګې د يرش تنه غـړي وغـواړي چې غـونډه دې پټـه وي او لويـه جـرګـه دا غوښتنه ومني.

اويا ومه ماده:

لويه جرګه د پرانيستلو وروسته په لومړنۍ غونډه کې دخپلو غړوله مينځه يو تن درئيس دنايب په توګه او دوه تنه دمنشيانو په توګه دخپلو غړو درايو په اکثريت سره غوره کوي.

يو اوياومه ماده:

پرته له هغو حالاتو څخه چې احکام يې په دې اساسي قانون کې په څرګند ډول راغلي دي دلويې جرګې تصـميم دهغـې دحاضرو غړو په اکثريت سره نيول کېږي.

دوه اوياومه ماده:

ددې اساسي قانون دحکمونو سره سم دلو يې جرګې تګلاره د قانون له خوا ښودل کېږي.

دری اوياومه ماده:

لويه جرګه هغه واکونه لري چې په دې اساسي قانون کې تاکل شوي دي.

څلور اوياومه ماده:

د ملي جرګې دړنګيدو په حالت کې دهغې غړي دلويې جرګې دغړو په توګه خـپل حـيـثـيت دنوې ملي جـرګـې تر دايريدو پورې ساتي.

په داسـې حـالت کـې چې دلويې جرګـې غـونډې رواني وي دهغـې ټول غـړي پرته له دې چې مـقـام، رتبـه او وظيـفـه يې په نظر کـې ونيـول شي مساوي حقونه لري.

## اووم فصل

## جمهور رئیس

پنځه اویاومه ماده:

جمهور رئیس د افغانستان د دولت مشر دی او د اجراییه قوې او ګوند وظیفې د دې اساسي قانون او د ګوند د اساسنامې له حکمونو سره سم په مستقیمه توګه په غاړه لري او د مربوطو اورګانونو د لارې یې اداره او لارښودنه کوي.

شپږ اویاومه ماده:

جمهور رئیس لومړی د ګوند له خوا نوموړ کېږي او د یوې شپږ کلنې مودې له پاره د لویې جرګې له خوا د هغې د غړو د دریو برخو څخه د دوو برخو د رایو په اکثریت انتخابېږي.

اووه اویاومه ماده:

جمهور رئیس باید د افغانستان د اتباعو څخه وي، مسلمان وي او هغه او همسریې د افغاني مور او افغان پلاره زیږیدلي وي او د مدني او سیاسي حقونو څخه ګټه من او عمر یې د څلوېښتو کالو څخه کم نه وي.

اته اویاومه ماده:

د جمهور رئیس صلاحیتونه او وظیفې دا دي:

۱- د افغانستان د وسله والو قواوو لوی مشري.

۲- د لویې جرګې په سلا د جنګ او اوربند اعلان.

جمهور رئیس کولی شي چې د سملاسي او څرګند خطر په حالت کې چې خپلواکي او د خاورې تمامیت تهدید کړي او یا په نورو سملاسي حالاتو کې استثنایي تصمیم ونیسي او لویه جرګه دایره کړي.

۳- د اضطرار د حالت اعلامول او ختمول.

٤- د لویې جرګې دایرول او پرانیستل.

۵- د ملي جرګې د عادي غونډې پرانیستل او د هغې د فوق العاده

غونډی دایرول او پرانیستل.

٦-دملي جرګې ړنګول او د نوو انتخاباتو دفرمان ایستل. نوي انتخابات دملي جرګې دړنګولو دنیټې نه په دریو میاشتو کې دننه سرته رسېږي.

٧- دملي یووالي ټینګښت او دافغانستان دخلکو دښېګړو ملاتړ.

٨- ددې اساسي قانون دحکمونو سره سم دهیواد دکورني او بهرني سیاست لارښود نه او یو شان کول.

٩-دجزا کمول او بخښل.

١٠- دقانون دحکمونو سره سم دنښان ورکول.

١١- دګوند دغړو شخه دجمهوری ریاست دمرستیال یا مرستیالانو او دګوند دغړو اوله ګونده بهر کسانو څخه دوزیرانو ټاکل، معزولول او دهغوی داستعفا منل.

١٢- دسترې محکمې دغړو او د قاضي القضات ټاکل.

١٣- دقانون دحکمونو سره سم دقاضیانو، دوسله والو قواوو دمنصبدارانو او عالیرتبه مامورینو ټاکل، متقاعد کول، معزولول او دهغوی داستعفا منل.

١٤- په بهرنیو ملکونو کې د افغانستان دسیاسي نماینده ګیو دمشرانو او په بین المللي مؤسسو کې دافغانستان د دایمي نماینده ګانو ټاکل او دبهرنیو ملکونو سیاسی نماینده ګانو باورلیک منل.

١٥- دقوانینو او تقنیني فرمانونو ښکولل او دهغو دجاری کولو اعلام. دبین الدول معاهدو ښکولل او دقانون دحکمونو سره سم دبین الدول معاهدو دتړون دپاره داعتبار لیک ورکول.

نه اویاومه ماده:

جمهور رئیس کولای شي چې په مهمو ملي مسایلو کې دافغانستان دخلکو عمومي رایو ته مراجعه وکړي.

اتیاومه ماده:

جمهور رئيس په وظیفې د بوختیدو نه د مخه د لویې جرگې په وړاندې داسې لوړه په ځای کوي:

ستاسې د افغانستان د ملت د نماینده گانو په وړاندې زه .... د لوی خدای په نامه لوړه کوم چې د اسلام د سپیڅلي دین د اساسونو ملاتړ به کوم د اساسي قانون او د افغانستان نورو قوانینو ته به په درنه سترگه گورم، او هغوی ته به غاړه ږدم، د ملي خپلواکۍ او د سیمې د تمامیت ساتنه به کوم او خپل ټول قوت او طاقت به د افغانستان د خلکو د حقوقو او ښیگړو د، ١٣٥٢ کال د چنگاښ د شپږویشتمې نیتې د انقلاب د هدفونو او جمهوریت د ملاتړ په لار کې وقفوم.

یو اتیاومه ماده:

پرته له هغو حالاتو چې د دې اساسي قانون په شپږ دیرشمه ماده کې څرگند شوي دي جمهور رئیس د خپلې وظیفې د چلولو په موده کې د دولت سره د هیڅ راز گټې وتې معامله نه شي کولی.

دوه اتیاومه ماده:

جمهور رئیس د ناروغۍ او د سفر په وخت کې د جمهوري ریاست مرستیال او یا مرستیالانو ته وظیفه ورکوي چې د هغو لارښود نو سره سم چې دوی ته یې صادرې کړې دده په عوض کار وکاندی.

دری اتیاومه ماده:

د جمهور رئیس معاش او لگښت د قانون له خوا ټاکل کیږي.

څلور اتیاومه ماده:

د جمهور رئیس د انتخابولو د پاره د جمهوري ریاست د دورې د پای ته رسیدو نه پنځه څلویښت ورځې وړاندې باید د دې اساسي قانون او د گوند د اساسنامې د حکمونو سره سم لازم چلند وکړی شي.

پنځه اتیاومه ماده:

که چېرې جمهور رئیس د استعفا

تکل وکړي لویه جرگه دا یروي او خپل استعفا لیک مستقیماً هغې ته وړاندې کوي.

په داسې حالت کې چې لویه جرگه دا استعفا قبوله کړي دنوي جمهور رئیس انتخاب ددې اساسي قانون دشپږ اتیاومې مادې سره سم صورت نیسي.

شپږ اتیاومه ماده:

که چېرې جمهور رئیس مړشي اویا استعفا وکړي دجمهوري ریاست وظیفه په مؤقتي ډول دملي جرگې رئیس ته سپارله کېږي په دې حالت کې دملي جرگې رئیس په انتخاباتو کې دجمهوري ریاست دنوموولي په توگه ټاکل کیدای نه شي.

په دغه موده کې چې دملي جرگې رئیس دجمهوري ریاست وظیفه په مؤقتي ډول چلوي دا اساسی قانون تعدیلیدی نه شي.

نوی جمهور رئیس دجمهوري ریاست دکرسۍ دتشیدنې له ورځې څخه په دیرشو ورځو کې دننه د قانون دحکمونو سره سم انتخابېږي.

دهغو عاجلو او ملي مهمو پېښو درابر سېره کیدو په حالت کې چې مؤقتي جمهور رئیس دی ته اړ کړي چې ددی اساسي قانون په اته اویاومه ماده کې دراغلو صلاحیتونو څخه کار واخلي مؤقتي جمهور رئیس کولای شي چې ددغی مادې دحکمونو په رعایت دحکومت او دگوند دمرکزی شورا دغړو دموافقې سره سم ددې اساسي قانون دا ته اویاومې مادې دمندرجو صلاحیتونو څخه استفاده وکړي.

اووه اتیاومه ماده:

په جمهور رئیس باندې دملي خیانت تور دملي جرگې د دریو برخو څخه د دوو برخو غړو درایو په اکثریت لگول کیدی شي دا غوښتنه دگوند دمرکزي شورا د دریو برخو څخه د دوو

برخو غړو درايو د اکثريت د منلو وروسته لويې جرگې ته وړاندې کېږي.

په دې حالت کې جمهور رئيس مکلف دی چې لويه جرگه دايره کړي.

د ملي جرگې رئيس د لويې جرگې د غونډو مشري کوي، کله چې لويه جرگه لگول شوی تور دوړاندی شوو دلايلو سره سره د دريو برخو څخه د خپلو دوو برخو غړو درايو په اکثريت تصويب کړي د جمهور رئيس لاس د کاره ايستل کېږي.

د محکمې جوړښت او د محاکمې لارې چارې په بيل ډول د خاص قانون له پلوه ښودل کېږي.

په دې حالت کې د جمهوري رياست چارې په مؤقتي توگه د ملي جرگې رئيس ته سپارلې کېږي.

مؤقت جمهور رئيس د دې اساسي قانون د شپږاتياومې مادې د حکمونو تابع دی.

## اتم فصل

## حکومت

اته اتياومه ماده:

حکومت د دولت ستر اداري او اجرائيوی اورگان دی چې د جمهوري رياست د مرستيال يا مرستيالانو او وزيرانو څخه جوړ دی او د جمهور رئيس تر مشرۍ لاندې خپله وظيفه سرته رسوي.

نه اتياومه ماده:

د جمهوري رياست مرستيال يا مرستيالان او وزيران بايد د افغانستان له اتباعو څخه وي هغوی او همسران يې دافغاني مور او افغاني پلاره زيږيدلي وي، ټول مدني او سياسي حقونه يې په ځای وي.

نوي يمه ماده:

د جمهوري رياست مرستيال يا مرستيالان او وزيران په وظيفو د بوختيدو نه مخکې د جمهور رئيس په وړاندې داسې لوړه کوي:

دلوی خدای (ج) په نامه لوړه کوم

چې د افغانستان اساسي قانون او نورو قوانینو ته به په درنه سترګه ګورم او هغوی ته به غاړهږدم او خپل ټول قوت او طاقت به د ملي ښېګڼو او حقونو د ملاتړ په لار کې وقفوم، او د ۱۳۵۲ کال د چنګاښ د شپږویشتمې نېټې دانقلاب د هدفونو او د افغانستان د جمهوریت ساتنه به کوم.

یو نوي یمه ماده:

حکومت دا لاندې واکونه او وظیفې لري:

۱- د قانون د حکمونو او د ګوند د اساسونو سره سم د هیواد د کورني او بهرني سیاست په ځای کول.

۲- د مربوطه وزارتونو د دایرو او په هغوی پورې د متعلقو مؤسسو د چارو اداره او څارنه او د هغوی د اجراآتو یو شانته کول.

۳- په اجرائیوي او اداري چارو کې د قوانینو او جمهوري فرمانونو سره سم تصمیم نیول او د هغو د عملي کیدو څارنه.

٤- د قوانینو د مسودو جوړول او د مقرراتو وضع کول.

٥- د دولت د بودجې د سمښت او جوړښت او د اقتصادي، مالي او پولي سیستم د ټینګښت د پاره د لارو چارو پیدا کول.

٦- د دولت د پرمختیا یي پلانونو طرح او د هغو د عملي کیدو او اجراآتو د پاره د لارو چارو سنجول.

۷- د بهرنیو او کورنیو پورونو دراکړې ورکړې په هکله مفاهمه او خبرې.

۸- د عمومي نظم او امن د ساتلو د پاره د لارو چارو سنجول.

۹- د هر ډول اداري فساد د منځه وړلو د پاره د قانون د حکمونو سره سم لازم او اغیزه ناکه تدبیرونه غوره کول.

۱۰- د بهرنیو هیوادو او مؤسسو سره د قانون د حکمونو سره سم د قراردادونو تړون.

۱۱ - د تېولو هغو وظیفو په ځای کړه چې دی اساسي قانون او نورو قوانینو حکومت ته سپارلې وي.

دوه نوي یمه ماده:

حکومت د خپلو وظیفو د سمون د پاره د قانون پر بنیاد مقررات جوړوي.

دا مقررات باید چې د هېڅ قانون د عبارت او روح سره تناقض ونه لري.

دری نوي یمه ماده:

د هغو حالاتو پرته چې د دې اساسي قانون په شپږ د یرشمه ماده کې څرګند شوي دي د جمهوری ریاست مرستیال یا مرستیالان او وزیران د وظیفو د اجرا کولو په وخت کې د ګتې وټې هېڅ ډول معامله د دولت سره نه شي کولی.

څلور نوي یمه ماده:

د جمهوري ریاست د مرستیال یا مرستیالان او وزیران د خپلو اجراآتو له بابته جمهور رئیس، د ګوند مرکزي شورا او ملي جرګې ته مسؤول دي.

پنځه نوي یمه ماده:

د جمهوري ریاست مرستیال یا مرستیالانو او د حکومت د هر یو غړي په هکله د ګناه تړلو تور د ملي جرګې د غړو د دریمې برخې په غوښتنه کېدی شي.

ملي جرګه دا غوښتنه د خپلو دوو برخو غړو د رایو په اکثریت تصویبوی.

تورن غړی د ملي جرګې د پریکړی وروسته سملاسي د خپلې وظیفې څخه لیرې کېږي.

د تورن غړي محاکمه د یوې خاصې محکمې په وړاندې دایرېږي.

د محکمې جوړښت او د کار لارې چارې یې او همدا رنګه د حکومت د تورنو غړو سزاګانې په ځانګړي ډول د یو خاص قانون له پلوه څرګندېږي.

## نهم فصل

## قضا

شپږ نوي یمه ماده:

قضاییه قوه د دولت یو رکن دی چې د یوې ستری محکمې او نورو محکمو

څخه جوړېږي چې شميرېې په قانون کې ښودل کېږي.

ددې قوانينو لوی هدف د قضايي مرافقو يووالی د محاکمو د تشکيلاتو واک او د محاکمې د تگلارې تنظيمول دي.

اووه نوي يمه ماده:

د قضاء واک او اختيار د ټولو هغو دعوو غور او پريکړې ته غځېږي چې په هغې کی حقيقي يا حکمي اشخاص که څه هم دولت وي د مدعي يا مدعي عليه حيثيت لري او د قضا په وړاندی د قانون د حکمونو سره سم دايرې شي.

اته نوي يمه ماده:

پرته د جنگ له حالته بل هيڅ يو حالت نه شی کولی چې يوه قضيه يا يوه ساحه د دولت د قضايي قوې د واک او اختيار له دايرې څخه په هغه ډول چې په دې فصل کی يی بريدونه ښودل شوی دي و باسي او بل مقام ته يی وسپاري.

دا حکم د عسکري محکمو د جوړيدو مخه نه نيسي خو دا محکمې په يوازې د هغو جرمونو په ساحه کې وی چې د افغانستان د وسله والو قواوو پورې اړه لري.

د عسکری محکمو د تشکيل واک او اختيسار په قانون کې ښودل کېږي.

نه نوي يمه ماده:

محکمې چې په کومو پېښو باندې غور کوي په هغوی کې د دې اساسي قانون او د دولت د نورو قوانينو حکمونه پر ځای کوي.

که د غور لاندې پېښو څخه ديوې پېښې په باب په اساسي قانون او د دولت په قوانينو کې کوم حکم نه وي نو محکمې د اسلامي شريعت د حنفي مذهب د کلي اساسونو له مخه په هغه چوکاټ کې د ننه چې دې اساسي قانون ښودلی دی په دې حالاتو کې يو داسې حکم راباسي چې د دوی په نظر کې خومره چې ممکنه وي عدالت تر ټولو په

ښه توگه ترسره کړي.

سلمه ماده:

قاضيان د قاضی القضات په غوښتنه د جمهور رئيس په منظوري تاکل کېږي.

يوسلو يوومه ماده:

د قاضيانو عزل د قاضی د جرم د کولو په حالت کې د سترې محکمې په غوښتنه او د جمهور رئيس په منظوري صورت نيسي.

که چيرې په قاضي باندې د جرم کولو تور ولگول شي ستره محکمه د قانون د حکمونو سره سم دده په حال غور کوي او د تورن د دفاع د اوريدو څخه وروسته که ستره محکمه په قاضي باندې لگول شوی تور وارد وگڼي د تورن قاضي د عزل پيشنهاد جمهور رئيس ته وړاندې کوي

هر کله چې د جمهور رئيس له خوا د غه غوښتنه ومنل شي قاضي د وظيفې څخه معزولېږي او د قانون د حکمونو سره سم په سزا رسېږي.

يوسلو دويمه ماده:

د قاضيانو ترفيع، بدلول، تقاعد، استعفاء او دهغوی مؤاخذه د قانون د حکمونو سره سم د سترې محکمې له پلوه سرته رسېږي.

يوسلو دريمه ماده:

د قاضيانو د پاره د قانون له پلوه مناسب معاش تاکل کېږي.

يوسلو څلورمه ماده:

پرته له هغو حالاتو چې د دې اساسي قانون په شپږد پرشمه ماده کې څرگند شوي دي د سترې محکمې غړی او قاضي القضات د خپلو وظيفو د ټولو په موده کې د گټې وټې هېڅ ډول معامله د دولت سره نه شي کولی.

يوسلو پنځمه ماده:

د افغانستان په محکمو کې محاکمه په ښکاره ډول کېږي او د قانون د حکمونو سره سم هر څوک د ورتلو حق لري.

د محکمو د ټولو قطعي پريکړو عملي کول واجب دي خو د چا د مرګ د حکم په حالت کې د آخرنۍ محکمې د پريکړې د عملي کولو د پاره د جمهور رئيس منظورول شرط دی.

محکمه کولی شي چې په هغه ګوښو حالاتو کې چې قانون څرګند کړي دي پټه غونډه وکړي ولې د حکم اورول به هرو مرو ښکاره وي.

محکمې مکلفې دي چې دوز کړي حکم سره يو ځای په خپلو پريکړو کې د حکم سببونه څرګند کړي.

يو سلو شپږمه ماده:

د جرمونو کشف د پوليسو له خوا او د جرمونو تحقيق، تعقيب او د دعوی سورول د قانون د حکمونو سره سم د څارنوال له خوا چې د دولت په اجراييه قوې پورې تړلی دی کېږي.

د هغو جرمونو کشف او تحقيق چې د افغانستان په وسله والو قواوو پورې اړه لري د خاص قانون له خوا تنظيمېږي.

يو سلو اوومه ماده:

ستره محکمه نهه غړي لري چې د جمهور رئيس له خوا ټاکل کېږي.

د سترې محکمې غړي بايد د لاندې صفتونه ولري:

١ - د عمر پنځه ديرش کاله يې پوره کړي وي.

٢ - د ټاکل کېدو د نېټې څخه مخکې يې بايد لږ تر لږه لس کاله پخوا د افغانستان د دولت تابعيت حاصل کړی وي.

٣ - د محکمې له خوا د سياسي حقونو څخه په محرومۍ محکوم شوي نه وي.

٤ - د حقوقو په علم، ملي هدفونو او د افغانستان په حقوقي نظام باندې په پوره اندازه پوه وي.

جمهور رئيس د سترې محکمې د غړو له جملې څخه يو غړی چې عمر يې له څلويښتو کالو څخه کم نه وي

دقاضی القضات په توګه ټاکي.

جمهوررئیس کولی شي چې دسترې محکمې په غړو او دقاضي القضات په مقررۍ باندې د ټاکنی له وخته هر پنځه کاله وروسته نوې کتنه وکړي.

ددې حکم او ددې اساسي قانون دیوسلو یوولسمې مادې د حکم څخه پرته په بل هیڅ ډول دسترې محکمې غړي او قاضي القضات د خپلو وظیفو څخه لرې کیدلی نه شي.

یوسلو اتمه ماده:

دسترې محکمې غړي او قاضي القضات په وظیفو دبوختیدو څخه مخکې دجمهور رئیس په وړاندې داسې لوړه په ځای کوي:

«دلوی خدای (جل جلاله) په نامه لوړه کوم چې دقضا وظیفه به په پوره امانت او شرافت سره په ځای کوم، حق او عدالت به داسلام دسپیڅلي دین داساساتو او د اساسي قانون دنورو حکمونو، ارزښتونو او دافغانستان د جمهوري دولت دقوانینو په نظر کې نیولو سره سم تأمینوم او په خپلو ټولو اجرا آتو کې به خدای جل جلاله حاضر ګنیم او دعدالت په ګټه به دهیواد او دخلکو دحقونو ساتنه کوم».

یوسلو نهمه ماده:

دهغه حالت نه پرته چې ددې اساسي قانون په یو سلو یوولسمه ماده کې ښودل شوی دی دسترې محکمې غړي او قاضي القضات په قانوني ډول دخدمت د دورې له ختمیدو نه وروسته دپاتې عمر ټوله موده دخدمت د دورې له ټولو مالي ښیګڼو نه ګټه اخلي.

دخدمت د دورې له ختمیدو نه وروسته دسترې محکمې غړي او قاضي القضات دملي جرګې او حکومت، غړیتوب او د دولت ماموریت نه شي کولای.

یوسلو لسمه ماده:

دسترې محکمې هر غړی او قاضي

القضات کولی شي دقانون دحکمونو سره سم دخپلې وظيفې څخه استعفا وکړي.

دسترې محکمې دغړو او دقاضي القضات استعفأ دجمهور رئيس د منني له نيټې وروسته نافذېږي.

مستعفي غړي او قاضي القضات دهغو مالي ښيګړو څخه چې په يو سلو نهمه ماده کې راغلي دي استفاده نه شي کولای.

ټول هغه قيود چې د يوسلو نهمې مادې په آخري فقرو کې راغلي دي په مستعفي غړي او قاضي القضات باندې تطبيقېږي.

يوسلو يوولسمه ماده:

که چيرې دملي جرګې دريمه برخه غړي دوظيفي له اجرانه د راپورته شوي جرم په تور دقاضي القضات يا دسترې محکمي ديوه يا څو تنو غړو دمحاکمې غوښتنه وکړي او ملي جرګه له دريو برخو څخه د دوو برخو غړو درايو په اکثريت دا غوښتنه ومني نو د تورن لاس دکاره ايستل کېږي.

ملي جرګه دغړو له منځه يو غړی ددعوی دسوررولو او داتوغړو څخه جوړه يوه ډلګۍ دمحاکمې چلولو دپاره ټاکي.

دا ډلګۍ دملي جرګې درئيس په مشرۍ دجزايي محکمې دتګ لارې سره سم تورن محاکمه کوي او که چيرې په تورن باندې جرم ثابت شي نو دی دوظيفې نه معزولېږي او سزا ورکوي.

يوسلو دوولسمه ماده:

ستره محکمه ددې اساسي قانون او نورو قوانينو دحکمونو سره سم دمحکمو اجراآت، تشکيلات او د دولت قضايي چارې سموي.

پرته له هغو مواردو څخه چې په دې اساسي قانون کې څرګند شوي دي دسترې محکمې اداري او قضايي صلاحيتونه دقانون له پلوه ښودل

کېږي.

ستره محکمه د محکمو د اداري چارو د سمون د پاره ضروري لارې چارې برابروي.

د قضايي قوې بودجه د قاضي - القضات له خوا د حکومت په سلا جوړېږي او د دولت د بودجې د يوې برخې په ځېر د حکومت له خوا ملي جرګې ته وړاندې کېږي.

د قضاء د بودجې د لګولو واک د سترې محکمې په لاس کې دی.

ستره محکمه کولی شي د قضايي چارو د سمون په برخه کې د قوانينو مسودې جوړې او د دې اساسي قانون د دوه شپېتمې مادې د حکم سره سم يې ملي جرګې ته وړاندې کړي.

يو سلو دیارلسمه ماده:

د قضايي قوې د مامورينو او ټولو اداري کار کوونکو په هکله د دولت د مامورينو او ټولو اداري کار کوونکو د قوانينو حکمونه نافذ دي خو د دوی تاکل، ترفيع، استعفاء منل، مواخذه او هغوی ته تقاعد ورکول د قانون سره سم د سترې محکمې له پلوه سرته رسېږي.

## لسم فصل
## اضطرار

يو سلو څوارلسمه ماده:

که چېرې د جنګ، د جنګ د خطر، دالي ګولې يا بل د غسې حالت له کبله چې هيواد د خطره سره مخامخ کړي او د خپلواکۍ، امنيت او ملي ژوند ساتنه په هغه لار چې د دې اساسي قانون ښودلې ده ناممکنه شي، نو د جمهور رئيس له خوا د اضطرار حالت اعلامېږي.

که د اضطرار حالت د څلورو مياشتو نه زيات دوام وکړي، نو د هغې داوږدوالي د پاره د ملي جرګې منته شرط ده.

يو سلو پنځلسمه ماده:

د اضطرار په حالت کې جمهور

رئیس کولی شي چې د ملي جرگې ټول یا ځیني واکونه د حکومت په لاس کې ورکړي.

یوسلو شپاړلسمه ماده:

داضطرار په حالت کې جمهور رئیس کولی شي چې د دې اساسي قانون داته نوي یمې مادی دحکم په نظر کې نیولو سره دقضاء ځینې واکونه عسکري محاکموته په لاس کې ورکړي.

یوسلو اووه لسمه ماده:

د اضطرار په حالت کی حکومت کولی شي چې د ستري محکمې په موافقې داساسي قانون دلاندنیو حکمونو چلند دجمهوري فرمانونو له مخی وځنډوي او یا پری بندیزونه ولگوي:

۱ - د دیرشمې مادی د پنځمې فقرې حکم.

۲ - د پنځه دیرشمې مادې دلومړۍ فقرې حکم.

۳ - د شپږ دیرشمې مادې د دریمې او څلورمې فقرې حکم.

٤ - د اووه دیرشمې مادې د دوهمې فقرې حکم.

۵ - د نهه دیرشمې مادې حکم.

یو سلو اتلسمه ماده:

داضطرار په حالت کې جمهور رئیس کولی شي دافغانستان مرکز د کابل دښارنه بل ځای ته ولیږ دوي.

یوسلونو لسمه ماده:

که چیرې د ملي جرگې دغړو د وکالت دوره داضطرار دحالت په موده کې سرته ورسیږي جمهور رئیس کولی شي چې نوي انتخابات وځنډوي او دملي جرگې دغړو دوکالت دوره داضطرار د حالت تر پایه پورې اوږده کاندې.

نوي انتخابات د اضطرار دحالت په ختم پسې سملاسي اجرا کیږي.

یوسلو شلمه ماده:

داضطرار په حالت کې اساسي

قانون نه تعديليږي.

## يوولسم فصل
## تعديل

يوسلو يوويشتمه ماده:

ددې اساسي قانون دحكمونو سره سم داسلام داساسونو د پيروی اصل او جمهوري نظام تعديل كيدلی نه شي.

داساسي قانون نورې برخې دتجربو او دعصر داېجاباتو په اساس دحكومت يا دگوند دمركزي شورا يا دملي جرگې د دريمې برخې غړو په پشنهاد ددې فصل دحكمونو سره سم تعديل كيدای شي.

يوسلو دوه ويشتمه ماده:

دتعديل پر پيشنهاد لويه جرگه غور كوي او كه چيرې دلويې جرگې دغړو اكثريت دتعديل ضرورت ومني نو دخپلو غړو له منځه يوه ډلگۍ دتعديل دطرحې دتيارولو دپاره ټاكي.

دا ډلگۍ دحكومت او سترې محكمې په سلا دتعديل طرحه جوړوي او لويې جرگې ته يې وړاندې كوي.

كه چيرې لويه جرگه دغړو په اكثريت دتعديل طرحه ومني نو دجمهور رئيس دښكللو او اعلامولو وروسته نافذه گڼل كېږي.

## دوولسم فصل
## انتقالي حكمونه

يوسلو دروويشتمه ماده:

ددې اساسي قانون دنفاذ سره سم جمهور رئيس دحكومت دړنگولو فرمان صادروي او نوي حكومت دجمهوري دولت ددې اساسي قانون دروحيې سره سم تشكيلوي.

يوسلو څليرويشتمه ماد:

ددی اساسی قانون دحكمونو سره سم ملي جرگه د ۱۳۵۸ هجري لمريز كال دليندۍ دمياشتې په لومړۍ ورځ دجمهور رئيس له خوا پرانستله كېږي.

ددې اساسي قانون دنفاذ او ملي جرگې دپرانستلو تر مينځ موده

دانتقال دوره ګډل کېږي.

دانتـقـال په دوره کې دملي جرګې واک اخـتـيـار په حکومت پوري اړه نيسي.

يوسلو پنځه ويشتمه ماده:

که چيرې دانتـقـالي دورې په موده کې يو داسې حالت را برسېره شې چې ددې اسـاسـي قـانـون د اووه شپـيـتـمې مادې دحکمونو سره سم د لويې جرګې دايرېدل وغواړي جمهور رئيس دلويې جرګې د دايريدو اعلاميه صادروي.

په دې حـالاتو کې جـمـهـور رئيس دلويې جرګې د دايريدو تر وختـه پورې دلويې جـرګـې دټولو واکـونو څـخـه استـفـاده کوي. جـمـهـور رئيس دلويې جرګې دپرانستلو وروستـه بې له ځنډه هغه اجراآت چې ددې مـادې دحکم سره سم يې په ځـای کړي وي دلويې جرګې په استـحـضـار رسـوي او لويـه جرګـه دهغې په هکله تصميم نيسي.

که دنوموړو حالاتو دراپيدا کيدو په وخت کې لادګـونـد مـرکـزي شـورا يا دوسله والو قـواوو عـالي شورا يا سـتـره مـحـکـمـه ددې اساسي قـانون دحکمونو سره سم نـه وي جوړې شوې لويه جـرګـه دهغوی د جوړيدو پرته په عنعنوي ډول دايرېږي.

يوسلو شپږويشتمه ماده:

ددې اسـاسـي قـانـون ديوسلو اوومې مـادې دحکم سـره سم سـتـره مـحـکـمـه د ۱۳۵۷ هـجـري لمريز کـال دچنګاښ دمـيـاشـتـې په لومړۍ ورځ دجـمـهـور رئيس له خوا اعلامېږي.

ددې اسـاسـې قـانـون دنافذ کـيـدو او سترې مـحـکـمـې دجوړيدو تر منځ مـوده کې جمهور رئيس صلاحيت لري چې د سـتـرې مـحـکـمـې دوظـيـفـو داجـراء دتامـيـن دپـاره لازم تدبيـرونـه غـوره کړي.

يوسلو اووه ويشتمه ماده:

هغـه تقنيني فـرمـانونـه چې دانـتـقـال په دوره کې نافذ شوي وي دملي جرګې

د پرانستلو نه وروسته د هغې په لومړنی اجلاس کې د دیرشو ورځو په موده کې د ننه ملي جرگې ته د تصمیم نیولو د پاره وړاندې کېږي.

یوسلو اته ویشتمه ماده:

په انتقالي دوره کې حکومت موظف دی چې:

د ملي جرگې د انتخاباتو، مطبوعاتو، اجتماعاتو او د دولت د اساسي تشکیلاتو تقنیني فرمانونه جوړ او د جمهور رئیس په ښکللو یې ورسوي.

یوسلو نهه ویشتمه ماده:

په انتقالي دوره کې حکومت د اجراآتو د یو شانته والي او د دولت د کړنلارو د عملي کېدو او تطبیق په منظور د دې اساسي قانون د حکمونو سره سم لازمې لارې چارې غوره کوي.

یوسلو د یرشمه ماده:

په انتقالي دوره کې د دې اساسي قانون د ځلویښتمې مادې د حکمه سره سم د ملي انقلاب د گوند اساسنامه چې د افغانستان د خلکو د ۱۳۵۲ کال د چنگاښ د شپږویشتمې نیټې د مترقي او اولسي انقلاب بنسټ ایښودونکی او مخکښ گوند دی د لومړني گوند په توگه د جمهور رئیس له خوا نافذ او علامیږي.

یوسلو یو د یرشمه ماده:

په انتقالي دوره کې د وسله والو قواؤ عالي شوری د جمهور رئیس له خوا تأسیس او علامیږي.

یوسلو دوه د یرشمه ماده:

د انتقال په دوره کې جمهور رئیس وا ک لري چې د ده د وفات په حالت کې د جمهوري ریاست د وظایفو د په ځای کولو د پاره د جمهوري ریاست یوه مؤقته شورا د فرمان په وسیله په نظر کې ونیسي.

د جمهوري ریاست مؤقته شورا مکلفه ده چې د وفات د نیټې څخه د لسو ورځو په موده کې د نوي جمهور

رئیس دانتخابولو دپاره لویه جرګه په عنعنوي توګه دایره کړي.

## دیارلسم فصل
## عمومي حکمونه

یوسلو دری دیرشمه ماده:

دجمهوری نظام لومړنۍ لویه جرګه به چی د ۱۳۵۵ هجري لمریز کال دسلواغې دمیاشتې په لسمه نیټه دکابل په ښار کې چې دافغانستان مرکز دی دایریږي دافغانستان دجمهوري دولت لومړنی جمهور رئیس به دخپلو غړو د دوو ثلثو درایو په اکثریت سره دیوې شپږ کلنې مودې دپاره انتخابوي.

یوسلو څلور دیرشمه ماده:

دوسله والو قواوو صاحب منصبان، پولیس او دبهرنیو چارو دوزارت مامورین خپله او همسران یې باید د افغانی مور او افغاني پلاره زیږیدلي وي.

یوسلو پنځه دیرشمه ماده:

ددې اساسي قانون دتفسیر واکداره مرجع ستره محکمه ده.

یوسلو شپږ دیرشمه ماده:

ددې اساسي قانون دنافذ کیدو سره سم پخوانی اساسي قانون او د ۱۳۵۲ هجري لمریز کال دزمري د میاشتې دڅلورمې نیټې، لومړۍ ګڼه، دوهمه ګڼه او دریمه ګڼه جمهوري فرمانونه لغو ګڼل کیږي.

دټولو هغو قوانینو احکام چې ددې اساسي قانون دنافذ کیدو نه مخکې صادر شوي دي په دې شرط نافذ ګڼل کیږي چې ددې اساسي قانون دحکمونو او ارزښتونو سره تناقض ونه لري

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د افغانستان د جمهوریت اساسي قانون

کابل
د ۱۳۶٦ کال د لیندۍ نهمه نیټه
د افغانستان د جمهوریت
د جمهور رئیس فرمان
لومړۍ ګڼه د کابل ښار
د ۱۳۶٦ کال د لیندۍ نهمه نیټه

## د افغانستان د جمهوریت د اساسي قانون
## د توشیح او اعلام په باب

د قوس د میاشتې د اتمې او نهمې نیټې تاریخي لویه جرګه چې د کابل په ښار کې جوړه شوه، د افغانستان د جمهوریت اساسي قانون یې په دیارلسو فصلو نو او یو سلو نهه شلو یښتو مادو کې د تر ټولو مهمې ملي وثیقې په توګه تصویب کړ.

د هغه واک سره سم چې اساسي قانون را ته راسپارلی دی. د ا. ج اساسي قانون چې د تصویب له نیټې څخه نافذ شوی دی، د سولې او هوساینې د تأمین، د ملي روغې جوړې د پوره تحقق، د خلکو د نیکمرغۍ او د ګران افغانستان د پرمختګ په خاطر توشیح او اعلاموم.

دوکتور نجیب الله د افغانستان جمهور رئیس

**بسم الله الرحمن الرحيم**

زمـوږ گـرانـه يواد افـغـانسـتـان د آزادۍ، خـپلواکـۍ، ملي حـاکـمـيت، دموکراسـۍ او ټولنيزې ترقـۍ په خاطر زمـوږ د زړه ورو خلکو له اتلو الومبـارزو څخه ډک او وياړلی تاريخ لري.

هغه بدلونه چې دورو ستيو کلو نو په ترڅ کې زموږ په هيواد کې را منځته شويدي، د وطن د پرمختګ او د خلکو د نيکمرغـۍ لوړو هدفونو ته درسيدو له پاره يې غوره شرايط برابر کړل.

په اوسني پړاو کې د افـغـانسـتـان د خلک دموکـراتيک ګوند د ملي روغـې جوړې د ټکلارې د طرح کوونکي او سازمان ورکوونکي په تـوګـه لهنورو ملي او دموکـراتيک سيـاسي ځـواکـونو سره يو ځـای دغـه انسان دوسـتـانـه تګ لاره په فعاله توګه پرمخ بيايي، نو له همدغه امله:

د خپلواکۍ او ملي حـاکـميت د ټينګښت او د هيـواد د ځـمکنۍ بشپړتيا د دفـاع، د عـيني واقـعـيتونو او د خلکو دغـوره عنعنا تو او دودونو په پام کې نيولو سـره ملي روغـې جوړې او يووالي ته د رسيـدو او ټينـګښت د ټولنيـز عـدالت او برابرۍ د تامين، د ملي اقـتصاد دودې او د خلکو د ژوندانه د سطحې د لوړ تيا، په بين المللی ډګر کې زموږ د ګران هيواد افغانستان د نقش او اعتبار د لوړتيا په منظور.

موږ په لويه جرګه کې د افـغـانسـتـان د خلکو استازو د هغـو تاريخي بدلونونو په درک سره چې زمـوږ په هيواد او معـاصره نړۍ کې پېښيږي او د اسلام د مبين دين د اسـاسـاتو په پيـروۍ، د هيـواد د مشـروطيت د غـورځنګ د مـيـراثونو د سـاتنې او شـتـمن کولو په خاطر، د ملکرو ملتونو د سـازمان د مشـور او د بشـر د حقـوقو نړيوالې اعـلاميې ته د درناوي په څرګندولو سره، دغـه اسـاسي قـانون د ډيرې مهمې ملي وثيقې په توګه د (۱۳٦٦) کال د ليندۍ په (۹) نيټه په (۱۳) فصلو نو او (۱٤۹) مادو کې تصويب کړ.

## لومړی فصل

## د سياسی نظام اساسونه

لومړۍ ماده:

دافغانسان جمهوريت خپلواک، واحد اونه تجزيه کيدونکی دولت او پر خپل ټول قلمرو باندې د حاکميت لرونکی دی.

د افغانستان په جمهوريت کې ملي حاکميت په خلکو پورې اړه لري.

خلک ملي حاکميت د لويې جرگې، ملي شورا او سيمه ييزو شوراگانو په واسطه تعميلوي.

دويمه ماده:

دافغانستان دين د اسلام سپيڅلی دين دی.

د افغانستان په جمهوريت کې هيڅ قانون نه شي کولای چې د اسلام د سپيڅلي دين د اساسونو او د دغه اساسي قانون د نورو مندرجو ارزښتونو مناقض وي.

دريمه ماده:

د افغانستان جمهوريت نا پيېيلی هيواد دی، په پوځي ډلو ټپلو کې نه شامليږي او په خپل قلمرو کې د بهرنيو پوځي اډو جوړيدو ته اجازه نه ورکوي.

څلورمه ماده:

له خپلواکۍ، ملي حاکميت او ځمکنۍ بشپړ تيا څخه دفاع د دولت د اساسي دندو له جملې څخه ده.

دولت د هيواد امنيت او دفاعي قابليت تامينوي او وسله وال پوځ سمبالوي.

پنځمه ماده:

د افغانستان په جمهوريت کې د سياسي گوندونو جوړيدل مجاز دي، پدې شرط چې مرامنامه، اساسنامه او فعاليت يې د هيواد داساسي قانون او نورو قوانينو د مندرجو حکمونو مغاير نه وي.

هغه گوند چې د قانون د حکمونو سره سم جوړيږي، له قانوني موجبه

پر ته رنګبدلای نه شي.

شپږمه ماده:

د افغانستان د جمهوریت ملي جبهه د تر ټولو پراخ ټولنیز-سیاسي سازمان په توګه په خپلو لیکو کې شامل سیاسي ګوندونه، ټولنیز سازمانونه او منفرد غړي په ټولنیزو، سیاسي او دولتي برخو کې د هغو د فعالې برخې اخیستنې په خاطر د ګډې کړنلارې پر اساس سره یو کوي.

اوومه ماده:

د افغانستان په جمهوریت کې د صنفي اتحادیو او ټولنیزو سازمانونو جوړول د قانون سره سم مجاز دي.

دولت د هیواد د ټولنیز، سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ژوندانه په ټولو برخو کې د صنفي اتحادیو، بزګري کوپراتیفونو، د ځوانانو او ښځو د سازمانونو او نورو ټولنیزو سازمانونو د نقش په لوړ تیا کې مرسته کوي او له هغوی سره د دولتي او ګانونو همکارۍ او متقابلې اړیکې تأمینوي.

اتمه ماده:

د هېواد د ملي ژبو له جملې څخه پښتو او دري رسمي ژبې دي.

نهمه ماده:

د افغانستان د جمهوریت دولتي نښان د غنمو دوږو په منځ کې پرزرغون متن باندې د راختونکي لمر، د محراب او منبر د تصویر، ګراری او درې رنګه تورې، سرې او زرغونې پټۍ لرونکی دی.

لسمه ماده:

د افغانستان د جمهوریت دولتي بیرغ درې رنګه لرې چې د تورو، سرو او زرغونو ټوټو په بڼه له پورته نه ښکته ته په افقي توګه په برابره اندازه واقع شوي دي.

د بیرغ ددوا ړو مخونو د پورتنۍ برخې په ربع کې د هغه د لرګي خواته د افغانستان د جمهوریت دولتي نښان ته ځای ورکړی شوی دی.

د بیرغ اوږدوالی د هغه د سور په نسبت دوه برابره دی.

یوولسمه ماده:

د افغانستان د جمهوریت پایتخت د کابل ښار دی.

دوولسمه ماده:

د افغانستان د جمهوریت ملي سرود داولسي جرگې له خوا تصویبیږي.

## دویم فصل

## د ټولنیز-اقتصادي نظام اساسونه

دیارلسمه ماده:

د افغانستان جمهوریت کثیر الملیت هیواد دی.

دولت د سیاسي، اقتصادي، ټولنیزې او فرهنگي برابرۍ او له ټولنیز، اقتصادي او فرهنگي پلوه د وروسته پاتو سیمو د گړندۍ ودې او پرمختگ د تأمین په منظور د هیواد د ټولو ملیتونو، قومونو او قبایلو تر مینځ د تفاهم، دوستۍ او همکارۍ د هراړخیزې ودې سیاست تعقیبوي.

دولت په تدریج سره د ملي ځانگړ تیاوو پر بنسټ د اداري واحدونو د جوړولو زمینه برابروي.

څوارلسمه ماده:

دولت د خلکو د فرهنگ، ژبې او ادبیاتو د ودې په منظور لازم تدبیرونه نیسي. د ټولو ملیتونو، قومونو او قبایلو د فرهنگ، د ودونو، ژبې، ادبیاتو او فولکور غوره میراث ساتي او پراختیا ورکوي.

پنځلسمه ماده:

د افغانستان په جمهوریت کې کورنۍ د ټولنې اساسي رکن جوړوي.

دولت د مور او ماشوم د روغتیا د ساتنې او د ماشومانو د روزنې د پاره لازم تدبیرونه نیسي.

شپاړسمه ماده:

دولت ځوان نسل ته دایمي پاملرنه کوي، د هغوی د ښوونې او روزنې، د کار، تفریح، استراحت او د معنوي او

جـسـمي روزنې د تأمـين لازم شـرايط برابر وي او د نويو ځوانانو او ځوانا نو د استـعـداد دودې په لاره کې مرستـه کوي.

اوولسمه ماده:

دولت د اســتــوګنې د دولتي او کوپراتيفي کورونو د جوړولو په مقصد د ودانولو چارو ته پراختيا ورکوي او د شخصي کورونو د جوړو لو په کار کې مرسته کوي.

اتلسمه ماده:

دولت داسې اقتصادي سياست چې هدف يې د بيـرتـه پاتيـوالی د لـيـرې کـولو، د خلکو د ژوندانـه د سطحـې د لوړ تيا او د ټولنې د ټولنيز - اقتصادي جوړ ښت د بشپړ تيا په خاطر د هيواد د ټولو منابعو تنظيمول او په کـار اچول دي، عـملي کـوي او په دغـه مـقـصـد د ټولنيـزې او اقـتـصـادي پرمـخـتـيـا پلانونه تنظيموي او تطبيقوي.

نولسمه ماده:

د افـغـانسـتـان په جـمـهوريت کـې ملکيت د دولتي، مختلط کوپراتيفي، او قـافـو، خـصـوصـي، شـخـصي او د سـيـاسي او ټولنيـزو سـازمـانونو د ملکيت په بڼو شته دی.

دولت د قـــانوني ملکيت د ټولو ډولونو حمايت کوي.

شلمه ماده:

ترځـمکي لاندې منابع، ځنګلونه، څړځايو نه او نورې طبيعي شتمنۍ، د انرژۍ اســـاسي زيرمــې، تاريخي آبدات، بانکونه، د بيمې مؤسسې، د مخابراتو وسايل، دراډيو او تلويزيون تأسيسات، سـتـربندونه، بندرونه، په درندو صنايعو کـې د توليـد عـمـده وسـايـل، مـواصـلاتي کـرښـې او هوايي ترانسپورت د دولت ملکيت دی.

دولت د اقـتـصـاد دولتي سکتـور ته پراختيا او ټينګښت ورکوي.

يوويشتمه ماده:

دولت د کوپراتيفونو د پياوړ تيا او

پراختیا په کار کې مرسته کوي او په هغو کې د خلکو د خپلې خوښې برخه اخیستنه هڅوي.

دوه ویشتمه ماده:

دولت د کسبګرو انفرادي فعالیتونه او په صنفي اتحادیو او کوپراتیفونو کې د هغوی د خپلې خوښې برخه اخیستنه هڅوي او حمایت یې کوي، د کسبګرو د حرفوي مهارت د سطحې دلوړتیا، د کار د وسایلو، د اومو موادو د تأمین او د هغوی د محصولاتو د خرڅلاو په کار کې هراړخیزې مرستې کوي.

درویشتمه ماده:

دولت پر ځمکه باندې د کروندګرو او ځمکه والو د مالکیت حق د قانون سره سم تضمینوي.

دولت په کرنه کې د دموکراتیکو بدلونونو د را مینځ ته کولو په مقصد د کروندګرو او ځمکه والو د ګټو په پام کې نیولو سره لازم تدبیرونه نیسي.

دولت د کرنې د سترو او میکانیزه دولتی، مختلطو او خصوصي فارمونو جوړول هڅوي او د نویو او شاړو ځمکو د آبادۍ په چاره کې مرسته کوي.

څلیرویشتمه ماده:

دولت د کوچیانو او مالدارانو د پاره له څړ ځایونو څخه د استفادې امکان د قانون سره سم تضمینوي، د مال دارۍ دودې، د محصولاتو د خرڅلاو او د هغوی د اقتصادي، ټولنیزو او معیشتي شرایطو د ښه کولو د پاره د مساعدو شرایطو د برابرولو په مقصد مرسته کوي.

پنځه ویشتمه ماده:

دولت د ملي اقتصاد د پرمختیا په مقصد د خصوصي پانګې اچونې مصوونیت تضمینوي، د صنایعو، سوداګرۍ، ودانۍ، ترانسپورت، کرنې او د خدمتونو د برخو په پرمختیا کې د ملي پانګه والو برخه اخیستنه د قانون سره سم هڅوي او حمایت یې

کوي.

دولت د خصوصي متشبثانو سره گټور او هراړخيز اړيکي پراخوي او د بهرنۍ پانگې سره په سيالۍ کې د خصوصي سکتور ملاتړ کوي او د مالي، کريدتي، گمرکي او د بيو د سياست د تنظيم په وخت کې د خصوصي سکتور گټې د قانون سره سمې په پام کې نيسي.

شپږو يشتمه ماده:

د افغانستان په جمهوريت کې کورنۍ او بهرنۍ تجارت د خلکو د گټو په پام کې نيولو سره د دولت له خوا تنظيمېږي.

دولت په دغه مقصد د مالونو دواردا تو او صادراتو د پراختيا او د عمده او پرچون تجارت د پرمختيا په کار کې د ملي پانگه والو فعاليت هڅوي. د بيو تاکل او کنترول په غاړه اخلي.

دولت د توليداتو زياتوالی او د صادراتي مالونو د کيفيت لوړتيا هڅوي او د بهرنۍ پانگې او انحصاراتو د سيالۍ په وړاندې د هغوی ملاتړ کوي.

اووه ويشتمه ماده:

دولت د ملي اقتصاد د ودې په مقصد د افغانستان په جمهوريت کې بهرنۍ پانگې اچونې ته اجازه ورکوي او د قانون سره سم يې تنظيموي.

اته ويشتمه ماده:

د افغانستان په جمهوريت کې بهرني اشخاص د عقاري ملکيت حق نه لري.

پر سياسي نمايندگيو او بهرنيو دولتونو باندې د عقار پلورل د بالمثل چلند پر اساس او پر هغو بين المللی مؤسسو باندې چې د افغانستان جمهوريت د هغو غړی وي، د حکومت له موافقې وروسته مجاز دي.

نه ويشتمه ماده:

د ملکيت د وراثت حق د اسلام د

شريعت سره سم د قانون په واسطه تضمينيږي.

ديرشمه ماده:

استملاک يوازې د عامه گټو د تأمين په مقصد د عادلانه او مخکيني عوض په بدل کې د قانون سره سم کيږي.

د ملکيت مصادره د قانون له حکمه او د محکمې له پريکړې پرته جايزه نه ده.

يوديرشمه ماده:

د افغانستان په جمهوريت کې د قانون او ټولنيز عدالت پر اساس د ماليې او محصول معيارونه، اندازه او ډولونه ټاکل کيږي.

دوه ديرشمه ماده:

دولت د طبعيت، طبيعي شتمنيو د ساتنې او له طبيعي زيرمو څخه د معقولې استفادې، د ژوندانه د چاپيريال د ښه کولو، د اوبو او هوا د ککړيدو د مخنيوي او د ځارويو او بوټو د نرۍ د ساتنې او پاينبت په مقصد لازم تدبيرونه نيسي او عملي کوي يې.

## دريم فصل

## د اتباعو تابعيت، اساسي حقوق، آزادي او مکلفيتونه

دري ديرشمه ماده:

د افغانستان د جمهوريت تابعيت د ټولو اتباعو د پاره برابر او يو شان دی.

د تابعيت تر لاسه کول او له لاسه ورکول او د هغه نورې مربوطې مسألې د قانون سره سمې تنظيميږي.

هر شخص چې د قانون سره سم د افغانستان د جمهوريت تابعيت لري، افغان بلل کيږي.

څلور ديرشمه ماده:

د افغانستان د جمهوريت له اتباعو څخه هيڅوک په هيواد کې د ننه او يا له هيواده بهر ته نه تبعيديږي.

پنځه ديرشمه ماده:

د افغانستان د جمهوريت له اتباعو څـخـه هيـڅـوک بهـرني دولت تـه نه ورتسليمول کيږي.

شپږ د يرشمه ماده:

د افغـانستـان د جمهوريت اتباع له هېواده بهـر د دولت تر حـمـايت لاندې دي.

دولت د هغـوی له قـانوني حقـونو او گـټـو څـخـه دفـاع کـوي. په بهـر کـې د ميشتـه افغـانانو اړيکي د هېواد سره ټينگـوي او هېــواد تـه د هغــوی د راستنيدو په مقصد مرسته کوي.

اووه د يرشمه ماده:

د افغـانستـان جمهـوريت په هيـواد کـې د ميـشتـو بهـرنيـو اتبـاعـو او بې تابعيـتـه اشـخـاصـو حـقـوق او آزادي د قـانون سـره سم تضـمـينوي. هغـوی مـکلف دي چې د افـغــانســتــان د جـمـهـوريت اسـاسي قـانون او قـوانين رعايت کړي.

اته د يرشمه ماده:

د افغـانستـان د جمهـوريت اتبـاع، بـې لـه دې چـې نر د مليت، نژاد، ژبې، قبيلې، دين، مذهب، سياسي عقيدې، زده کړې، شغل، نسب، ټولنيز دريځ، د اوسيدو او اقـامت د ځاى له تعلقاتو پرته د قـانون په وړاندې برابر حقـوق او مکلفيتونه لري.

د اتباعو د حقوقو او مکلفيتو نو په نسبت د هر ډول غـيـر قـانوني امـتـيـاز ټاکل او يا توپير ممنوع دی.

نهه د يرشمه ماده:

ژوند د انســان طبـيــعـي حق دی. هيڅوک له قانوني مجوزه پرته له دغه حق څخه نه بې برخې کيږي.

څلويښتمه ماده:

د افـغـانسـتـان په جـمـهـوريت کـې د ټـولو مــسلمـــانانو د پاره د ديني او مـذهبي مناسکو د ترسره کـولو آزادي تضمينيږي.

د نورو اديانو پيـــروان د خـــپلو مذهبي مراسمو په ترسره کولو کې آزاد

دي.

هیڅوک نه شي کولای چې د ملي ضد او وګړنیز ضد تبلیغاتو، د ښمنۍ د رامنځ ته کولو او د افغانستان د جمهوریت د ګټو پر خلاف د نورو اعمالو د ارتکاب په مقصد د دین څخه ناوړه استفاده وکړي.

یو ځلو یښتمه ماده:

آزادي د انسان طبیعي حق دی. دغه حق د نورو له آزادۍ او له عامه ګټو پر ته چې د قانون په وسیله تنظیمیږي، حدود نه لري.

آزادي او انساني کرامت له تعرض څخه مصئوون دی دولت د هغو درناوی او ملاتړ کوي.

د ذمې برائت اصلي حالت دی. تورن تر هغه وخته پورې چې د محکمې په قطعي حکم محکوم شوی نه وي، بې ګناه ګڼل کیږي.

هیڅ عمل جرم نه شي بلل کېدای مګر د قانون د حکمونو سره سم.

هېڅوک د جرم په کولو نه شي تورن کېدلای، مګر د قانون د حکمونو سره سم.

هېڅوک نیول کېدای او توقیفیدای نه شي، مګر د قانون د حکمونو سره سم.

هېڅوک مجازات کېدلای نه شي، مګر د محکمې په حکم، د قانون د حکمونو سره سم او د هغه جرم په تناسب چې کړی یې دی.

جرم یو شخصي عمل دی او په کولو سره یې بل څوک نه مجازات کیږي.

تورن حق لري چې په خپله او یا د مدافع وکیل په واسطه له ځانه دفاع وکړي.

دوه ځلو ښتمه ماده:

د افغانستان په جمهوریت کې له انساني کرامت څخه مخالفه جزا، شکنجه او تعذیب جواز نه لري.

د اکراه او ګواښ په وسیله له تورن

او يا بل چا څخه د اقرار، شهادت او يا ثرگندونې اخيستل منع دي.

هغه ثرگندونه يا شهادت چې له تورن يا بل چا څخه د اکراه په وسيله واخيستل شي اعتبار نه لري.

که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف، تورن يا بل څوک د شهادت، ثرگندونې او يا اقرار د اخيستلو په مقصد شکنجه کړي او يا د شکنجې په تعميل امر وکړي، د قانون سره سم مجازات کېږي.

د لوړو مقاماتو په امر باندې استناد، مرتکب ته د قانون نه د مخالفو اعمالو له ارتکاب څخه برائت نه ورکوي.

دري څلويښتمه ماده:

د شخص پوروړتوب د هغه د آزادۍ د سلبېدو موجب کېدلای نه شي.

د پور د تحصيل لارې او وسايل د قانون په واسطه تنظيمېږي.

څلور څلويښتمه ماده:

د افغانستان په جمهوريت کې د کور مصؤونيت تضمينېږي هيڅوک د دولت د استازي په شمول نه شي کولای چې د اوسيدونکي له اجازې او له هغو حالاتو او طرز څخه پرته چې په قانون کې تصريح شوي وي، د چا کور ته ورننوزي او يا هغه وپلټي.

پنځه څلويښتمه ماده:

د افغانستان په جمهوريت کې د مراسلاتو، د تيلفوني خبرو، تيلګرافي مخابراتو او د مخابراتو د نورو ډولونو محرميت تضمينېږي.

هېڅوک د دولت د استازي په شمول نه شي کولای چې د قانون له حکمه پرته د تيلفوني خبرو، مراسلاتو او مخابراتو پلټنه وکړي.

شپږ څلويښتمه ماده:

د افغانستان د جمهوريت اتباع چې د دولتي ارګانونو ټولنيزو سازمانونو او د چارو د مسؤولينو له خوا د دندې د

ترسره کولو په وخت کې په غیر قانوني توگه زیانمن کېږي، د زیان د جبران حق لري. د زیان د جبران شرایط او څرنگوالی د قانون په واسطه تنظیمېږي.

اووه څلوېښتمه ماده:

د افغانستان د جمهوریت اتباع حق لري چې د دولت په ټولنیز - سیاسي ژوند او د چارو په اداره کې په مستقیمه توگه او یا د خپلو استازیو له لارې برخه واخلي.

اته څلوېښتمه ماده:

د افغانستان د جمهوریت اتباع د انتخابولو او انتخابیدلو حق لري. له دغه حق څخه د استفادې شرایط او طرز د قانون په واسطه تنظیمېږي.

نهه څلوېښتمه ماده:

د افغانستان د جمهوریت اتباع د فکر او بیان د آزادۍ حق لري.

اتباع کولای شي چې له دغه حق څخه په ښکاره، شفاهي او لیکلې توگه د قانون سره سمه استفاده وکړي.

له خپرېدو څخه مخکې د مطبوعاتو سانسور جواز نه لري.

پنځوسمه ماده:

د افغانستان د جمهوریت اتباع د قانون سره سم د سوله ییزو غونډو، تظاهراتو او اعتصاب حق لري.

یو پنځوسمه ماده:

د افغانستان د جمهوریت اتباع د انفرادي او ډله ییز شکایت، انتقاد او غوښتنې حق لري.

دولتي ارگانونه، ټولنیز سازمانونه او د چارو مسؤولین موظف دي چې شکایتونه، غوښتنې او انتقادونه په هغه موده کې چې قانون ټاکلې ده وڅېړي او لازم اجراآت وکړي.

د انتقاد په خاطر تعقیب ممنوع دی.

دوه پنځوسمه ماده:

د افغانستان د جمهوریت اتباع د کار او د برابر کار په وړاندې د برابر مزد د لاس ته ور وړلو حق لري.

دولت د کار د عادلانه او پر مختللو قوانينو دوضع کولو او تطبيق له لارې له دغه حق څخه د اتباعو د استفادې د پاره لازم شرايط برابروي.

دري پنځوسمه ماده:

د اجباري کار تحميل منع دی. د جنګ، طبيعي آفتونو په حالت او په نورو هغو حالاتو کې چې عامه ژوند او هوساينه تهديد کړي، د اجباري کار سرته رسول له دغه امر څخه مستثنی دي.

څلور پنځوسمه ماده:

د افغانستان د جمهوريت اتباع د تولنې داړ تيا په پام کې نيولو سره د تخصصي څانګې له مخې د دولتي دندو د ترلاسه کولو او د شغل د انتخاب حق لري.

پنځه پنځوسمه ماده:

د افغانستان د جمهوريت اتباع د استراحت حق لري.

دولت دکار د ساعتونو او له مزد سره دنوبتي رخصتۍ ټاکل او د رخصتيو، جشنونو او اخترونو په ورځو کې د کار د شرايطو څرنګوالی تنظيموي او د استراحت، د فرهنګي، هنري موسسو د شبکو د پراختيا او د بدني روزنې، ورزش او سالمو تفريحاتو د پاره شرايط برابروي.

شپږ پنځوسمه ماده:

د افغانستان د جمهوريت اتباع دوړيازده کړې حق لري. دولت د بيسوادۍ له منځه وړلو، په مورنۍ ژبې د زده کړې، د متوازنې ښوونې او روزنې د تعميم، د اجباري لومړنيو زده کړو د تأمين، د تخنيکي، حرفوي او مسلکي عمومي زده کړو د تدريجي پراختيا او د ملي کادرونو د روزنې د پاره د لوړو زده کړو د سيستم د ودې په مقصد لازم تدبيرونه نيسي.

د افغانستان په جمهوريت کې بهرنيو اشخاصو ته د ښوونځيو د جوړولو اجازه د قانون سره سمه ورکول

کیدای شي، له دغو ښوونځیو څخه یوازې بهرني اشخاص استفاده کولای شي.

اووه پنځوسمه ماده:

د افغانستان د جمهوریت اتباع د روغتیا او ټولنیزو تأميناتو حق لري.

دولت د ملي سرا سري طبي خدمتونو د سیستم د هراړخیزې او متوازنې پراختیا دروغتیایي مرکزونو او روغتونونو د پراختیا د طب د دکتورانو او طبي خدمتونو د کارمندانو د روزنې، د عمومي ناروغیو د مخنیوي، دوړ یا روغتیایي خدمتونو د پراختیا، د خصوصي طبي خدمتونو د تنظیم او هڅونې اود زړو کسانو، د جګړې او کار د معلولینو او د شهیدا نو د پاتې کسانو د پاره د مادي تامینأتو د ښه کولو له لارې لازم تدبیرو نه نیسي.

اته پنځوسمه ماده:

د افغانستان د جمهوریت اتباع د علمي، تخنیکي او هنري فعالیتونو د آزادۍ حق لري.

دولت د علم او د علمي کادرونو د روزنې منظم پرمختګ تأمینوي، د مؤلفانو او مخترعانو حقوق ساتي، په ټولو برخو کې د علمي څېړنو هڅونه او ملاتړ کوي او د علمي څېړنو له نتایجو څخه اغیزمنه استفاده تعمیموی.

نهه پنځوسمه ماده:

د افغانستان د جمهوریت اتباع په هیواد کې د مسافرت او داوسیدنې او اقامت د ځای د آزاد انتخاب حق لري.

دولت کولای شي چې د عامه امنیت او نظم د ساتنې، د ناروغیو د خپریدو د مخنیوي او د اشخاصو د حقوقو او آزادیو د ساتنې په مقصد د هېواد په ځینو سیمو کې مسافرت، اوسېدنه او اقامت په موقتي توګه منع کړي.

شپېتمه ماده:

د افغانستان د جمهوریت اتباع حق

لري چې د قانون سره سم له هیواد څخه بهر ته مسافرت وکړي او وطن ته راستانه شي.

یو شپېتمه ماده:

د افغانستان د جمهوریت هر تبعه مکلف دی چې د افغانستان د جمهوریت اساسي قانون او قوانین رعایت کړي.

د قانون له حکمونو څخه بې خبري عذر نه ګڼل کیږي.

دوه شپیتمه ماده:

د افغانستان د جمهوریت اتباع او بهرني وګړي مکلف دي چې دولت ته د قانون سره سمه مالیه او محصول ورکړي.

دري شپیتمه ماده:

له هېواد، خپلواکۍ، ملي حاکمیت او د هېواد له ځمکنۍ بشپړ تیا څخه دفاع د افغانستان د جمهوریت د اتباعو له ویاړه ډک مکلفیت دی.

په وسله وال پوځ کې د خدمت شرایط د قانون د حکمونو سره سم تنظیمیږي.

څلورشپېتمه ماده:

دولت د اتباعو له اساسي حقوقو او آزادیو څخه د استفادې او د مکلفیتونو د ترسره کولو د پاره لازم شرایط برابروي.

هېڅوک حق نه لري چې په قانون کې له مندرجو حقوقو او آزادیو څخه د عامه ګټو پر خلاف او د نورو اتباعو د حقوقو او آزادیو په زیان استفاده وکړي.

## څلورم فصل

## لویه جرګه

پنځه شپېتمه ماده:

لویه جرګه د ملي او تاریخي دودونو له مخې، د افغانستان د خلکو دارادې تر ټولو لوړه ښکارندویه ده.

شپږ شپېتمه ماده:

لویه جرګه له دغو کسانو څخه جوړه ده:

۱ - د ملي شورا غړي.

۲ - له هر ولایت او د هغه له معادل واحد څخه د خلکو په انتخاب لس تنه.

۳ - والیان او کابل ښاروال.

٤ - صدر اعظم، د صدر اعظم مرستیالان او د وزیرانو د شورا غړي.

۵ - قاضي القضات، د سترې محکمې مرستیالان او غړي.

٦ - لوی څارنوال او د هغه مرستیالان.

۷ - د اساسي قانون د شورا رئیس او غړي.

۸ - د ملي جبهې د اجرائیه هیأت غړي.

۱۰ - د سیاسي، علمي، ټولنیزو او روحاني غوره شخصیتونو له جملې څخه حداکثر (۵۰) تنه چې د ملي جبهې د دارا لانشاء د پېشنهاد پر اساس د جمهور رئیس په واسطه ټاکل کېږي.

اووه شپېتمه ماده:

لویه جرګه دغه واکونه لري:

۱ - د اساسي قانون تصویب او تعدیل.

۲ - د جمهور رئیس انتخاب او د هغه د استعفاء منل.

۳ - د جګړې او متارکې له اعلان سره موافقت.

٤ - د هغو خورا مهمو مسألو په باره کې د تصمیم نیول چې د هېواد په برخلیک پورې اړه لري.

اته شپېتمه ماده:

له هغو حالاتو پرته چې په دغه اساسي قانون کې بل ډول اټکل شوي وي، لویه جرګه د جمهور رئیس په واسطه را بلل کېږي. پرانیستل کېږي او د هغې غونډې د جمهور رئیس او یا بل هغه چا تر ریاست لاندې چې جمهور رئیس یې د خپل نایب په توګه وټاکي، جوړېږي.

د لویې جرګې نصاب د هغې د ټولو غړیو د دوو ثلثو په حضور بشپړېږي.

د لويې جرګې تصميمونه د هغې د ټولو غړيو د رايو په اکثريت نيول کيږي.

نهه شپيتمه ماده:

د اولسي جرګې د ړنګيدو په حالت کې د هغې غړي د نوې اولسي جرګې تر انتخابه پورې خپل غړيتوب د لويې جرګې د غړيو په توګه ساتي.

اويايمه ماده:

د لويې جرګې انتخاب د قانون او کړنلاره يې په خپله د لويې جرګې په واسطه تنظيميږي.

## پنځم فصل

## جمهور رئيس

يو اويايمه ماده:

جمهور رئيس د دولت مشر دی، خپل واکونه په تقنينيه، اجرائيه او قضائيه برخو کې د دغه اساسي قانون او د افغانستان د جمهوريت د قوانينو له حکمونو سره سم تعميل وي.

دوه اويايمه ماده:

جمهور رئيس د لويې جرګې د غړيو د رايو په اکثريت د اوو کلونو د مودې د پاره انتخابيږي.

يو شخص نه شي کيدلای له دوو ځلو نه زيات د جمهوررئيس په توګه انتخاب شي.

جمهور رئيس لويې جرګې ته مسؤول او په راپور ورکولو مکلف دی.

دنوي جمهور رئيس د انتخاب په مقصد لويه جرګه د جمهور رئيس د واک د دورې له پای ته رسيدو څخه مخکې د دېرشو ورځو په موده کې را بلل کيږي.

دری اويايمه ماده:

د افغانستان د جمهوريت هر مسلمان تبعه چې د څلوېښت کلنۍ عمر يې بشپړ کړی وي، په خپله او همسريې له افغان مور او پلار څخه زيږيدلي او له مدني او سياسي حقوقو څخه برخمن وي. د جمهور رئيس په توګه انتخابيدلای شي.

څلور اویایمه ماده:

جمهور رئیس په لویه جرگه کې له انتخابیدلو وروسته په لاندې ډول لوړه کوي:

«د لوی خدای په نامه لوړه کوم چې د اسلام د سپیڅلي دین د اساسونو حمایت، د اساسي قانون رعایت او دهغه د تطبیق څارنه او د افغانستان د خپلواکۍ، ملي حاکمیت او ځمکنۍ بشپړ تیا ساتنه وکړم. د اتباعو اساسي حقوق او آزادۍ وساتم او خپلې ټولې هلې ځلې د ټولنیز عدالت، د خلکو د نیکمرغۍ، د سولې د ټینگښت او د هیواد د پرمختگ د تأمین په خاطر په کار واچوم.»

پنځه اویایمه ماده:

جمهور رئیس د دغه اساسي قانون پر نورو مندرجو واکونو برسیره دغه واکونه لري:

۱- د وسله وال پوځ لوړ قیادت.

۲- د قوانینو او د ملي شورا د مصوبو توشیح.

۳- د حکومت په جوړولو باندې د موظف صدر اعظم ټاکل.

٤- داولسي جرگې له خواد باور دراېې له لاس ته وروړلو وروسته د حکومت د رئیس او غړیو منظوری او د هغوی د استعفا منل.

۵- د لزوم په وخت کې د وزیرانو د شورا دغونډو تدویر او مشري.

٦- د قانون د حکمونو سره سم د قاضیانو، د لوړ رتبه کار مندانو او د وسله وال پوځ دافسرانو د تقرر، ترفیع او تقاعد منظوري.

۷- د سیاسي، ټولنیزو او اقتصادي سترو مسألو په باب د عمومي نظر غوښتنې یا عامه رایې ته د مراجعې (ریفراندم) په باره کې د تصمیم نیول.

۸- د مجازاتو بخښل او کمول.

۹- په بهرنیو دولتونو او بین المللی سازمانونو کې د افغانستان

دجمهوریت د دیپلوماتیکو نماینده گیو د رئیسانو ټاکل.

۱۰- د افغانستان په جمهوریت کې دبهرنیو دولتونو د دیپلوماتیکو نماینده گیو درئیسانو د باورلیکو نو منل.

۱۱- د اضطرار د حالت، د عمومي او قسمي سفر برۍ اعلان او پای ته رسول یې.

۱۲- د لویې جرگې په موافقه د جگړې او متارکې اعلان.

۱۳- د پیسو د خپرولو اجازه.

۱٤- د قانون سره سم د تابعیت او پناه ورکړه.

۱۵- د قانون سره سم د نښانونو، مډالونو او افتخاري لقبونو ورکړه.

۱٦- د قانون سره سم د نورو واکونو عملي کول.

شپږ اویایمه ماده:

جمهوررئیس د صعب العلاجې او اوږدې ناروغۍ او یا استعفأ له حالاتو پر ته دواک د دورې تر پایه خپلو دندو ته دوام ورکوي. په ټولو هغو حالاتو کې چې جمهور رئیس ونه شي کړای خپلې دندې سرته ورسوي دغه دندې د جمهوررئیس د لومړي مرستیال له خوا تر سره کیږي.

د جمهور رئیس په دایمي توگه د کار دوړ تیا له لاسه ورکولو، مړینې او یااستعفأ په صورت کې جرگه د هغه د لومړي مرستیال په واسطه د نوي جمهور رئیس دانتخاب په مقصد د یوې میاشتې د مودې په ترڅ کې رابلل کیږي.

د استعفأ په حالت کې جمهور رئیس خپله استعفا په مستقیمه توگه لویې جرگې ته وړاندې کوي.

## شپږم فصل

## ملي شورا

اووه اویایمه ماده:

ملي شورا د افغانستان د

جمهوریت تر ټولو لوړ تقنیني ارګان دی.

اته اویایمه ماده:

ملي شورا د ولسي جرګې او سنا له دوو مجلسونو څخه جوړه ده.

نهه اویایمه ماده:

دولسي جرګې وکیلان د انتخاباتي حوزو له لارې د نفوسو د برابر شمیر په اساس د یوې پنځه کلنې تقنینیه دورې د پاره انتخابیږي.

د سنا د مجلس غړي (سناتوران) په لاندې توګه انتخاب او ټاکل کیږي:

۱- له هر ولایت او دهغه له معادلو واحدونو څخه دوه تنه د پنځو کلونو د پاره.

۲- د هر ولایت او د هغه معادل د شورا د غړیو له جملې څخه دوه تنه د دریو کلونو د پاره د مربوطې شورا په انتخاب.

۳- پاتې دریمه برخه دخبیرو، پوهو او باوري افرادو او ملي شخصیتونو له ډلې څخه د څلورو کلونو د پاره د جمهور رئیس له خوا ټاکل کیږي.

اتیایمه ماده:

د ملي شورا د غړیو شمیر، شرایط، د انتخاب او انتصاب طرز د قانون سره سم تنظیمیږي.

یو اتیایمه ماده:

ملي شورا د دغه اساسي قانون پر نورو مندرجو واکونو برسیره دغه واکونه لري:

۱- د قوانینو او تقنیني فرمانونو تصویب، تعدیل او لغوه کول او جمهور رئیس ته یې د توشیح په غرض وړاندې کول.

۲- د قوانینو تفسیر.

۳- د بین المللی تړونو نو تصویب او فسخ.

٤- د اقتصادي- ټولنیزې پرمختیا د پلانونو تصویب او د هغو د ترسره کولو په باب د حکومت د راپور

تأیید.

۵- د دولتي بودجې تصویب او د هغې د اجرا په باب د راپور څیړنه.

٦- د اداري واحدونو جوړول او تعدیل یې.

۷- د وزارتونو او د هغو د معادلو مرکزي ارګانونو جوړول او لغوه کول.

۸- د جمهور رئیس د وړیږندنې او غوښتنې له مخې د جمهور رئیس د مرستیالانو د ټاکلو او عزل په باب د تصمیم نیول.

۹- دولت ته د پور اخیستلو اجازه او د انحصار دور کړې په شمول په ملي اقتصاد کې د اساسي اهمیت لرونکي امتیاز ورکړه.

څلور اتیایمه ماده:

اولسي جرګه د خپلو غړیو له جملې څخه د اولې تقنینیه دورې د پاره په لومړني اجلاس کې د رئیس، د دوو مرستیالانو او دوو منشیانو په ترکیب اداري هیأت انتخابوي.

سنا د خپلو غړیو څخه د پنځو کلونو د پاره د رئیس او د یوه کال د پاره د دوو مرستیالانو او دوو منشیانو په ترکیب اداري هیأت انتخابوي.

د ملي شورا د مجلسونو رئیسان د مربوطو غونډو لاربښوونه او د نظم تامین په غاړه لري. د رئیسانو په غیاب کې یو تن مرستیال د هغوی دندې سرته رسوي.

پنځه اتیایمه ماده:

د ملي شورا عادي اجلاس په کال کې دوه ځله د سنبلې د میاشتې په لومړۍ اوونۍ او د حوت د میاشتې په لومړۍ اوونۍ کې جوړ یږي.

د ملي شورا د هر عادي اجلاس موده د رې میاشتې ده. که چیري د ملي شورا په اجلاس کې کلنۍ بودجه او یا پرمختیایي پلان مطرح وي د ملي شورا د اجلاس موده د هغو له تصویب څخه پخوا پای ته رسیدلای شي.

که چیرې بودجه د مالي کال له پیل

څخه پخوا، تصويب نه شي، د تېر كال بودجه د نوي كال د بودجې د تصويب تر وخته پورې تطبيقېږي.

د ملي شورا فوق العاده اجلاس د جمهور رئيس د تصميم، د مجلسونو د هريوه رئيس د غوښتنې او يا د هر يوه مجلس د غړيو د پنځمې برخې د غوښتنې له مخې جوړيدلای شي.

شپږ اتيايمه ماده:

د ملي شورا مجلسونه په ځانګړې يا ګډه توګه غونډې كوي.

د ملي شورا د مجلسونو د ګډو غونډو لارښوونه په وار سره د هغو د رئيسانو له خوا كيږي.

د ملي شورا اجلاس د جمهور رئيس له خوا پرانيستل كيږي او پای ته رسول كيږي.

د ملي شورا د تقنينيه دوری لومړنی اجلاس د جمهور رئيس په وسيله داولسي جرګې د انتخاباتو له پای ته رسيدو وروسته د يرشو ورځو د مودې په ترڅ كې رابلل كيږي.

اووه اتيايمه ماده:

د ملي شورا د هر مجلس نصاب د هغه د غړيو د دوو دريمو برخو په حضور بشپړيږي.

د هر مجلس تصميم د هغه د ټولو غړيو د رايو په اكثريت نيول كيږي.

اته اتيايمه ماده:

د ملي شورا د مجلسونو جلاو ګډې غونډې علني دي، مګر دا چې مجلس د هغو د سري والي په باب تصميم ونيسي.

د دواړو مجلسونو د بحثونو جريان ثبتيږي.

نهه اتيايمه ماده:

د ملي شورا هر مجلس له خپلو غړيو څخه د هر مجلس په واک كې د ننه مسألو د لومړنۍ څېړنې او چمتو كولو، د قوانينو او د هر مجلس د تصميمونو د عملي كولو څخه د څارنې په مقصد دايمي كميسيونونه

انتخابوي.

نوي يمه ماده:

د ملي شـورا هر مـجلس وا ک لري چې د لزوم پـه صورت کـې د څـیـړنې او پلټنې کـمـیـسـیـونونه او نور مـوقـتـي کمیسیونونه جوړ کړي.

د څـیـړنې او پلټنې د کـمیسـیـونونو دندې او کـړنلاره د ملي شـورا د هر یوه مجلس له خوا تنظیمیږي.

یو نوي یمه ماده:

دولسي جرګـې غړي حق لري چې د استیـضاح په غـونډه کې صدر اعظم او یا د حکومت هر یو غړی تر استـیـضـاح لاندې ونیسي. د استـیـضـاح ځـواب په لیکلي یا شفاهي توګه وړاندې کیږي.

اولسي جرګـه کـولای شي چې دور کړ شـوي ځـواب له مـخې له حکومت څخـه د باور د سلب موضوع وڅیړي. کـه چیـرې حکومت د باور د سلب سره مـخامخ شي د وزیرانو د نوی شـورا تر جـوړیدو پورې خــپلو دندو تـه دوام ورکوي

دوه نوي يمه ماده:

د وزیرانو د شورا غـړي کولای شي چې په مشورتي رایې سره د ملي شورا په غونډو کې برخه واخلي.

درې نوي يمه ماده:

د ملي شـورا غـړي په جـلا او ګـډ اجـلاس کې د رایې او نـظر د څرګندولو حق لري.

د ملي شورا هېڅ غړی د ملي شـورا په د ننه او یا بهـر کـې د رایې یا نـظر د څرګندولو په خـاطر تر عـدلي تعـقـیب لاندې نه نیول کیږي.

د ملي شـورا غړی د مربوط مـجلس له مـوافـقـي پرته او د ملي شـورا د دوو اجـلاسـونو تر مـینځـه د هغـې د اداري هیئت له موافقې پرته د څرګند جرم د حـالاتو په استـثـنـأ نیـول کـیـدلای او توقیفیدلای نه شي او تر عدلي تعقیب لاندې نه نیول کیږي.

کــه چیـرې د ملي شــورا غــړی د

څرګند جرم په حالت کې ونیول شي باید د مربوط مجلس اداري هیأت ته خبر ورکړ شي.

څلورنوي یمه ماده:

د غه مقامات د ملي شورا هر یوه مجلس ته د قانون د وضع کولو، تعدیلولو او لغوه کولو د پیشنهاد حق لري:

١ – جمهور رئیس.

٢ – د ملي شورا دد واړو مجلسونو دایمي کمیسیونو نه.

٣ – د هر مجلس د غړیو لږ تر لږه لسمه برخه.

٤ –د وزیرانو شورا.

٥ – ستره محکمه.

٦ – لویه څارنوالي.

٧ – د ملي جبهې اجرائیه هیأت.

٨ – د عالمانو او روحانیونو شورا.

پنځه نوي یمه ماده:

له هغوی حالاتو پرته چې په دغه اساسي قانون کې په بل ډول اټکل شوي دي د دغه اساسي قانون د (٨١) مادې د مندرجو واکونو په باب د یوه مجلس تصمیمونه، بل مجلس ته استول کېږي.

که چېرې د یوه مجلس تصویب د بل مجلس له خوا رد شي، توافق ته درسېدو په مقصد د دواړو مجلسونو له غړیو څخه په برابر شمیر ګډ هیئت جوړیږي.

د ګډ هیئت موافق تصمیم د جمهور رئیس له توشیح وروسته نافذګڼل کېږي.

که چیرې ګډ هیأت د نظر د اختلاف په لیرې کولو بریالی نه شي، موضوع د ملي شورا په ګډه غونډه کې څېړل کېږي او د هغې په باب تصمیم د ګډې غونډې د غړیو درایو په اکثریت نیول کېږي.

شپږ نوي یمه ماده:

د ملي شورا تصمیمونه د جمهور رئیس له توشیح وروسته نافذ یږي.

کـه چېرې جـمهـور رئیس د ملي شورا د تصمیم سره موافقه ونه لري، کولای شي چې هغه دوراندې کیدو له نیټې څخه د دیرشو ورځو په ترڅ کې د دلایلو په څرګندولو سره ملي شورا ته مسترد کړي، د دیرشو ورځو د مودې په تیرویدو سره او همدغه شان کـه چېرې ملي شورا په راتلونکي اجلاس کې هغه بیا د غړیو دراییو په دوو دریمو برخو تصویب کړي، تصمیم نافذ ګڼل کیږي او جمهور رئیس هغه توشیح کوي.

اووه نوی یمه ماده:

جـمهـور رئیس کولای شي چې دولسي جرګې او سنا له رئیسانو، د وزیرانو د شـورا له رئیس او قاضي القضات سره له سلا وروسته د موجبه دلایلو په څرګندلو سره دولسې جرګې رنګیدل اعلان کړي.

نوي انتخابات د ولسي جرګې له رنګیدو وروسته د دیرشو ورځو په موده کې کیږي.

نوې ولسي جرګه له نویو انتخاباتو وروسته تر یوه کاله پورې رنګیدلای نشي. ولسي جرګه د جمهور رئیس دواک د دورې د وروستیو شپږو میاشتو په موده کې رنګیدونکې نه ده.

اته نوي یمه ماده:

قوانین او د ملي شورا مصوبې په پښتو او دري ژبو خپریږي او کیدای شي چې هغه د هیواد د نورو ملیتونو په ژبو هم خپرې شی.

نهه نوي یمه ماده:

د ملي شورا د هر مجلس او د هغه د دایمي کمیسونونو د فعالیت طرز د ملي شورا په وسیله تنظیمیږي.

## اووم فصل

## د وزیرانو شورا

سلمه ماده:

د وزیرا نو شـورا (حکومت) د

افغانستان د جمهوریت د دولتي قدرت ډیر لوړ اجرائیوي او اداري ارگان دی.

د وزیرانو شورا له دغو کسانو څخه جوړه ده:

- صدر اعظم.
- د صدراعظم مرستیالان.
- وزیران او د وزارت د معادلو مرکزي ارگانونو رئیسان.

یوسلو یوه یمه ماده:

موظف صدر عظم د تقنینیه دورې په لومړني اجلاس کې د کورني او بهرني سیاست تگ لاره او د حکرمت ترکیب د باور درایې د اخیستلو په مقصد ولسي جرگې ته وړاندې او معرفي کوي.

صدر اعظم د باور د رایې او د جمهور رئیس د منظورۍ له اخیستلو وروسته د کورني او بهرني سیاست تگلاره او د حکومت غړي سنا ته وړاندې او معرفي کوي.

یوسلو دویمه ماده:

د وزیرانو شورا ولسي جرگې او جمهور رئیس ته مسووله او د راپور په ورکولو مکلفه ده.

یوسلو دریمه ماده:

دو زیرانو شورا دغه دندې او واکونه لري:

۱- د کورني او بهرني سیاست د تگ لارې طرح او تطبیق.

۲- د ملي اقتصاد د چارو د اجرا کولو تأمین، د اقتصادي او ټولنیزې پرمختیا د پلانونو طرح کول، د دولتي بودجې ترتیب، د پلانونو او بودجې تطبیق او ملي شورا ته د هغو د اجرا کولو په باب د راپور وړاندې کول.

۳- د دولت د گټو د قانوني ملکیت د ټولو ډولونو د حمایت، د عامه نظم او امنیت د تأمین او د اتباعو د حقوقو او آزاد یو د ساتنې په مقصد د تدبیرونو نیول.

۴- د قانون د حکمونو سره سم د

بهرنیو اړیکو عمومي لاربنوونه، د بهرنیو دولتونو او بین المللي موسسو سره د دیپلوماتیکو اړیکو ټینګول او د موافقت لیکونو لاسلیک کول.

٥ – د وزیرانو په شورا پورې د تړلیو ادارو او ارګانونو جوړول.

٦ – د قانون د حکمونو سره سم نور واکونه.

د افغانستان د جمهوریت د وزیرانو شورا د خپلوواکونو په حدودو کې مقرره او اساسنامه تصویبوي.

یو سلو ځلورمه ماده:

د ملي شورا د تعطیل او یا دولسي جرګې د ړنګیدو په وخت کې د وزیرانو شورا د عاجلې اړتیا په صورت کې کولای شي چې په بودجې او مالي چارو پورې له مربوطو مسألو پرته د ملي شورا په واک کې د شاملو مسئلو په باب تقنیني فرمانونه وضع کړي، تقنیني فرمانونه د جمهور رئیس له توشیح وروسته نافذ ګڼل کیږي.

دوزیرانو شورا هغه تقنیني فرمانونه چې د اساسي قانون د دغې مادې د حکم سره سم وضع شوي دي د ملي شورا لومړني اجلاس ته د منظورۍ په غرض وړاندې کوي. که چیرې تقنیني فرمانونه د ملی شورا له خوا ردشي، د ملي شورا د تصمیم له نیتې څخه له اعتباره لویږي.

جمهور رئیس کولای شي چې د ملي شورا د دوو اجلاسو تر مینځ موده او یا دولسي جرګې د ړنګیدو په جریان کې د صدر اعظم د پیشنهاد له مخې د حکومت ځینې غړي ګوښه او یا نوی غړي وټاکي.

دغه موضوع دولسي جرګې لومړني اجلاس ته د تصمیم نیولو په مقصد وړاندې کیږي.

یو سلو پنځمه ماده:

د وزیرانو د شورا دواک دوره د تقنینه دورې په پای ته رسیدو سره پای ته رسیږي. هغه حکومت چې دواک

دوره یې پای ته رسیدلې ده دوزیرا نو د نوې شورا تر جوړیدو پورې خپلې دندې سرته رسوي.

یو سلو شپږمه ماده:

د وزیرانو د شورا تشکیل، ترکیب او د فعالیت څرنګوالی د قانون په واسطه تنظیمیږي.

## اتم فصل

## قضا

یوسلو اوومه ماده:

قضا د دولت یو خپلواک رکن دی.

یو سلو اتمه ماده:

قضاوت د افغانستان په جمهوریت کې یوازې د محکمې له خوا د قانون د حکمونو سره سم کیږي محکمې د افغانستان په جمهوریت کې له:

سترې محکمې، دولایتونو، لویو ولسوالیو، ولسوالیو، علاقداریو، ښارونو او ناحیو له محکمو او د وسله وال پوځ له محکمو څخه عبارت دي.

یو سلو نهمه ماده:

ستره محکمه د ترټولو لوړ قضایي ارګان په توګه د هیواد د قضایي واحد سیستم په سرکې ده او د قاضي القضات، د قاضي القضات له مرستیالانو او غړیو څخه مرکبه ده.

ستره محکمه د قانون د حکمونو سره سم د محکمو فعالیتونه څاري او د محکمو په فعالیتونو کې د قانون یو شان تطبیق تامینوي.

یو سلو لسمه ماده:

قاضي القضات، د سترې محکمې مرستیالان او غړي د شپږو کلونو د پاره د جمهور رئیس له خوا ټاکل کیږي.

ستره محکمه جمهور رئیس ته مسؤوله او په راپور ورکولو مکلفه ده.

یوسلو یوو لسمه ماده:

محکمې په خپل قضاوت کې خپلواکې او یوازې د قانون تابع دي.

د محکمو له خوا غور او د حکم صادرول د قانون او محکمې په

وړاندې د دواړو خــــواوو د برابرۍ د اصل پر اساس کېږي.

يوسلو دوولسمه ماده:

قاضيان د قضيو د څېړنې په وخت کې د افغانستان د جمهوريت اساسي قانون او قوانين تطبيقوي.

په هغــو حــالاتو کـــې چې قــانون صراحت ونه لري محکمه قضيې د اسلام د شريعت د حکمونو له مخې په داسې توګه حل او فـصل کـوي چې عـدالت په ډېره ښــه ممکنه وجـه تامـين کړي.

يوسلو ديارلسمه ماده:

د افـغـانسـتـان د جـمـهوريت په محکمو کې محاکمه په علني توګه کېږي هغه حالات چې پر قضيو باندې په سري غونډو کې غور کېږي د قانون په واسطه ټاکل کېږي.

د مـحکمـې د حکم ابلاغ په ټولو حالاتو کې علني دی.

يوسلو څوار لسمه ماده:

په محکمو کې د قضيو غور او حل او فـصل په پښتــو او دري ژبو او يا د سيمې د اوسيدو نکو د اکثريت په ژبه کېږي.

که چيرې د دعوې لورى په هغه ژبه باندې چې محاکمه پرې کـېږي ونه پوهيږي، د ترجمان په مرسته د قضيې د موادو او اسناد وسره د اشنايى حق او په مورنۍ ژبه باندې په محکمه کې د خبرو حق ورته تضمينيږي.

يوسلو پنځلسمه ماده:

د محکمو پريکړي بايد مدللې وي او د حکم سببونه پکې ذکر شي.

د محــکمـو قطعي پريکړې واجب التعميل دي، د اعدام له حکمه پرته چې د جـمــهــور رئيس له منظورۍ وروسته عملي کېږي.

يوسلو شپاړسمه ماده:

د محکمو تشکيل، ترکيب، واک او د فـعـاليت څرنګوالى د قـانون په واسطه تنظيميږي.

## نهم فصل

## ښارنوالي

یوسلو اوولسمه ماده:

د افغانستان د جمهوریت ښارنوالي د مرکزیت د اصل پر بنسټ واحد سیستم دی او له لویې ښارنوالۍ، د ولایتونو، لویوولسوالیو، ولسوالیو، علاقه داریو، ښارونو او ناحیو له ښارنوالیو او د وسله وال پوځ له ښارنوالۍ څخه جوړ دی.

یو سلو اتلسمه ماده:

لوی ښارنوال د هیواد د ښارنوالۍ د ارګانونو د فعالیت لارښوونه کوي.

د ښارنوالۍ ارګانونه په خپلو اجرا آتو کې خپلواک دي. یوازې د قانون او لوی ښارنوال تابع دي.

یوسلو نولسمه ماده:

لوی ښارنوال او د هغه مرستیالان د جمهوررئیس له خوا د شپږو کلونو د پاره ټاکل کیږي.

لوی ښارنوال جمهور رئیس ته مسوول او د راپور په ورکولو مکلف دی.

یوسلو شلمه ماده:

د ټولو وزارتونو او د دولتي اداري دنورو مرکزي ارګانونو، د سیمه ییز وشورا ګانو د اجرائیوي کمیټو، د دولتي، مختلطو او خصوصي موسسو، ادارو، کوپراتیفونو، سیاسي ګوندونو او ټولنیزو سازمانونو، د چارو د مسوولینو او اتباعو له خوا د قوانینو پریو شان تطبیق او رعایت باندې لوړه څارنه دلوی ښارنوال او د هغه تر لاس لاندې ښارنوالانو په غاړه ده.

یوسلو یو ویشتمه ماده:

د ښارنوالۍ تشکیل، ترکیب، واک او د فعالیت څرنګوالی د قانون په واسطه تنظیمیږي.

## لسم فصل

## د اساسی قانون شورا

یو سلو دوه ویشتمه ماده:

د افغانستان د جمهوریت د اساسي قانون شورا د اساسي قانون سره د قوانینو، نورو تقنیني اسنادو او بین المللي تړونونو د سمون لرلو د څارنې په مقصد جوړیږي.

یوسلو درویشتمه ماده:

د اساسي قانون شورا دغه واکونه لري:

۱ - د اساسي قانون سره د قوانینو، تقنیني فرمانونو او د بین المللي تړنونو د سمون لرلو څیړل.

۲ - جمهور رئیس ته له اساسي قانون څخه د راولاړ و شویو مسئلو په باب د حقوقي او قضايي مشورو ورکول.

یوسلو څلیرویشتمه ماده:

د اساسي قانون شورا د خپلو واکونو د تعمیل په مقصد حق لري:

۱ - هغه تقنیني اسناد چې د توشیح په غرض جمهوررئیس ته وړاندې کیږي، مطالعه او د اساسي قانون سره د هغو د سمون لرلو په باب نظر څرګند کړي.

۲ - جمهور رئیس ته د قانون جوړولو د چارو د پرمختیا په مقصد د تدبیرونو د نیولو په برخه کې چې اساسي قانون حکم کوي، مشخص پیشنهادونه وړاندې کوي.

یوسلو پنځمه ویشتمه ماده:

د اساسي قانون شورا له رئیس او (۸) غړیو څخه جوړه ده چې د جمهور رئیس له خوا د (۶) کلونو د پاره ټاکل کیږي.

یوسلو شپږ ویشتمه ماده:

د اساسي قانون شورا جمهور رئیس ته مسئوله او د راپور په ورکولو مکلفه ده.

یوسلو اووه ویشتمه ماده:

د اساسي قانون د شورا تشکیل او د فعالیت څرنګوالی د قانون په واسطه تنظیمیږي.

## یو ولسم فصل
## سیمه ییزې شوراګانې

یوسلو اته ویشتمه ماده:

د افغانستان جمهوریت د سیمه ییزې ادارې له پلوه د ولایتونو، لویو ولسوالیو، ولسوالو، علاقداریو، کلیو، ښارونو او ناحیو په اداري واحدونو باندې ویشل کیږي. په اداري واحدونو کې د دولتي قدرت ارګانونه د هغو سیمه ییزې شورا ګانې دي.

د سیمه ییزو شورا ګانو اجرایوي ارګانونه له اجرائیوي کمیټو څخه عبارت دي چې د خلکو د وکیلانو د سیمه ییزو شورا ګانو د اجرائیوي کمیټو په سرکې په ترتیب سره والیان، لوی ولسوالان، ولسوالان، علاقداران، د کلیو ملکان، ښاروالان او د ناحیو آمران واقع دي.

یوسلو نهه ویشتمه ماد:

د دولتي قدرت او اداري سیمه ییز ارګانونه د سیمې په اداري پورې تړلې مربوطې چارې د هیواد د عامه ګټو په پام کې نیولو سره سرته رسوي.

تولې مربوطې سیمه ییزې موسسې، سازمانونه او اداري د سیمه ییزو شوراګانو او د هغو د اجرائیوي کمیټو د تصمیمونو په عملي کولو مکلفې دي.

یوسلو دیرشمه ماده:

دسیمه ییزو شوراګانو د واک دوره درې کاله ده.

یوسلو یو دیرشمه ماده:

د سیمه ییزو شوراګانو تشکیل، دندې، واکونه او د انتخاب او فعالیت څرنګوالی د قانون په واسطه تنظیمیږي.

## دوولسم فصل
## بهرنی سیاست

یوسلو دوه دیرشمه ماده:

دافغانستان د جمهوریت بهرنی سیاست د ملي ګټو د تامین، د خپلواکی، ملي حاکمیت او ځمکنۍ

بشپړتیا تینګښت، د نړیوالی سولی او امنیت او د سوله ییز ګډ ژوند د ساتلو، د حقوقو د برابرۍ او د بین المللی همکارۍ د هراړخیزې پرمختیا پر بنسټ ولاړ دي.

یوسلو دري دیرشمه ماده:

د افغانستان جمهوریت د ملګرو ملتونو د سازمان د منشور، د بشر د حقوقو د نړیوالې اعلامیې او د بین المللی حقوقو د نورو منل شویو اصولو او موازینو درناوی او رعایت کوي.

یوسلو څلور دیرشمه ماده:

د افغانستان جمهوریت د نا پییلتوب سیاست د دولت د بهرني سیاست د مهم اصل په توګه تعقیبوي او د ناپییلتوب د غورځنګ د یوه بنسټ ایښودونکي په توګه د هغه هدفونو ته د رسیدلو په لاره کې هلې ځلې کوي.

یو سلو پنځه دیرشمه ماده:

د افغانستان جمهوریت د ټولو هیوادونو، په تیره بیا د ګاونډیو او اسلامي هیوادونو سره د هغو د سیاسي، ټولنیز او اقتصادي نظام په پام کې له نیولو پرته، د حقوقو د برابرۍ، خپلواکۍ، ملی حاکمیت او ځمکنۍ بشپړتیا ته د متقابل درناوي، د یو بل په کورنیو چارو کې د لاس نه وهلو، زور، ګواښ او یا قوې ته د لاس نه اچولو، د لاس وهنې او تیري د ټولو ډولونو دغندلو او د بین المللی حقوقو د منل شویو اصولو او موازینو سره سم د بین المللي ژمنو درښتیاني ترسره کولو د اصولو پر بنسټ د دوستانه اړیکو د رامنځ ته کولو او ټینګښت غوښتونکی دي.

یو سلو شپږ دیرشمه ماده:

د افغانستان جموریت د سولي، ملي خپلواکۍ، دموکراسۍ، ټولنیزې ترقۍ او د برخلیک په ټاکلو کې د ملتونو د حق په خاطر د خلکو او ملتونو د مبارزې ملاتړ کوي، د

استعمار، نوي استعمار، امپریالیزم، صهیونیزم، ، راسیزم، اپارتاید او فاشیزم پر ضد مبارزه کوي.

یو سلو اووه دیرشمه ماده:

د افغانستان جمهوریت د پوره بې وسلې کولو، په ځمکه او فضا کې دوسله ییزو سیالیو د بندولو، د هسته یي، کیمیاوي او د ډله ییزې وژنې دوسلې د نورو ډولونو د نه پراختیا او له منځه وړلو، د بهرنیو پوځي اډو له منځه وړلو، د بین المللي کړکیچونو د لیری کولو او د بین المللي اقتصادي او اطلاعاتي نوي او عادلانه نظم د ټینګولو په خاطر د مبارزې ملاتړ کوي.

یو سلو اته دیرشمه ماده:

د افغانستان په جمهوریت کې د جګړې تبلیغ منعه دی.

## دیارلسم فصل

## متفرقه حکمونه

یوسلو نهه دیرشمه ماده:

د افغانستان د جمهوریت اساسی قانون تر ټولو لوړ حقوقي اعتبار لري، قوانین او نور تقنیني اسناد له هغه سره سم وضعه کیږي.

یو سلو څلویښتمه ماده:

دولت او د هغه ټول ارګانونه د افغانستان د جمهوریت د اساسي قانون او قوانینو پر اساس فعالیت کوي، حقوقي نظم، د ټولنې ګټې او د اتباعو قانوني حقوق او ګټې تأمینوي.

دولتي، کوپراتیفي، مختلطې او خصوصي موسسې، سیاسي ګوندونه، ټولنیز سازمانونه، د چارو مسوولین او اتباع د افغانستان د جمهوریت د اساسي قانون او قوانینو په رعایت مکلف دي.

یوسلو یو څلویښتمه ماده:

د اساسي قانون تعدیل په مستقیمه توګه د لویې جرګې په واسطه کیږي.

همدغه شان د اساسي قانون د

تعدیل په باب تصمیم د جمهور رئیس په پیشنهاد او یا د ملي شورا د غړیو د یوه ثلث په پیشنهاد او د دوو ثلثو په تأیید هم نیول کیږي. په دې حالت کې جمهور رئیس لویه جرگه جوړوي، که چیرې لویه جرگه د تعدیل پیشنهاد په ځای وبولي، اساسي قانون تعدیلوي او که نه، د تعدیل پیشنهاد ردوي. د اضطرار په حالت کې د اساسي قانون تعدیل جواز نه لري.

یو سلو دوه ځلویښتمه ماده:

د جمهور رئیس، د جمهور رئیس د مرستیالانو، د ملي شورا د غړیو، صدر اعظم، د حکومت د غړیو، قاضي القضات، د سترې محکمې د قاضیانو، د اساسي قانون د شورا د غړیو، لوی څارنوال او د هغه د مرستیالانو د پاره د قانون سره سم معاش ټاکل کیږي.

یوسلو درې ځلویښتمه ماده:

که چیرې د جگړې، د جگړې د خطر، بحران او یا ورته حالاتو په علت له هغو لارو څخه چې د قانون په واسطه ټاکل شوي دي د خپلواکۍ، ملي حاکمیت او ځمکنۍ بشپړتیا او یا د کورني امنیت ساتل نا ممکن شي، جمهور رئیس کولای شي چې د اضطرار حالت اعلان کړي.

که چیرې د اضطرار حالت له دریو میاشتو څخه زیات دوام وکړي، د هغه د اوږدولو د پاره د لویې جرگې موافقه شرط ده.

یوسلو څلور ځلویښتمه ماده:

د اضطرار د حالت په موده کې جمهور رئیس دغه واکونه لري:

۱ - د ملي شورا د واک د دورې اوږدول.

۲ - د وزیرانو شورا ته د ملي شورا د ځینو واکونو ورسپارل.

۳ - اختصاصي محکمو او دوسله وال پوځ محکمو ته د محکمو د ځینو واکونو ورکول.

٤- د اساسي قانون د (۳۰-٤٤-٤۵-٤۹-۵۰ مادو، د ۵۱ مادې د دوروستنۍ فقرې، د ۵۳ او ٦۰ مادو) د اعتبار تطبیق او یا تحدید.

۵- د قانون سره سم د نورو واکونو عملي کول.

یو سلو پنځه څلویښتمه ماده:

که چیرې هغه بین امللي تړونو نه یا میثاقونه چې دافغانستان جمهوریت هغه لاسلیک کړي او یا ورسره یو ځای شوی وی د افغانستان د جمهوریت د قوانینو د حکمونو مغایر وي نو بین المللي تړون او میثاق ته رحجان ورکول کیږي.

یوسلو شپږ څلویښتمه ماده:

د دغه اساسي قانون په انفاذ او د جمهور رئیس په انتخاب سره د انقلابي شورا رئیسه هیأت ړنګیږی او انقلابي شورا د ملی شورا تر جوړیدو پورې د اساسي قانون د (٦) فصل د مندرجو واکونو په لرلو سره خپلي دندې ته دوام ورکوي.

ملی شورا د اساسي قانون د تصویب له نیتی څخه د شپږو میاشتو په ترڅ کې جوړیږي.

د وزیرانو شورا د اساسي قانون د (۷) فصل د مندرجو واکونو په لرلو سره د نوي حکومت تر جوړیدو پورې چې د اساسي قانون د حکمونو سره سم دولسي جرګې له خوا د باور رایه اخلي، خپلې دندې ته دوام ورکوي.

جمهور رئیس د اساسي قانون د تصویب له نیتی څخه د شپږو میاشتو د مودې په ترڅ کې د قضا او څارنوالۍ اورګانونو ته د دغه اساسي قانون د حکمونو سره سم د واحد سیستم پر اساس نوی سازمان ورکوي او د اساسي قانون شورا جوړوي.

یو سلو اووه څلویښتمه ماده:

لومړنی جمهور رئیس د هغې لویې جرګې له خوا چې د دغه اساسي قانون

تصویبوي، انتخابیږي.

یوسلو اته څلویښتمه ماده:

د دغه اساسي قانون په انفاذ سره د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت اساسی اصول له اعتباره لویږی. هغه قوانین او نور تقنیني اسناد چې د دغه اساسي قانون د انفاذ له نیټی څخه پخوا صادر شوي دي، په دې شرط نافذ ګڼل کیږي چې د دغه اساسي قانون د حکمونو سره متناقض نه وي.

یوسلو نهه څلویښتمه ماده:

دغه اساسي قانون د لویې جرګې د تصویب له نیټې څخه نافذ او د جمهور رئیس له خوا توشیح او اعلامیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د متن نوم ښود


ابن سینا ،لیسه ۱٦۸
ابوبکر ، پیر ۲۷۹
ابو حنیفه ،لیسه ۱۵۵
اتحادیه محصلین ۱۵٤
احسان الله ، سردار ۲۵، ۳۳
احمد شاه بابا ۲٤۰
ازبک ۱۵۸، ۱۸٦
اسلامی حرکتونه ۱۵٤
اصلاحات اراضی:
۲۰۹، ۲۱۱، ۲۷۰، ۲۷۲
عجله وشوه ۲۷۲
مطالعه نه وه شوې ۲۷٦
اعتمادي ،نور احمد ۱۷٦
افغانستان :
آلماني او ایتالیي متخصصان ترکیې
ته ورسول شول ۷۹
دوهمه نړیواله جګړه کي بیطرفي ۷۳
دسفربرۍ اعلان ۱٦
افغان ملت جریده ۱۷۳
اکسرپاورز ( محوري قدرتونه ) ۷٦
دالله اکبر ناري ۳۲۲، ۳۲۳
المان:
۷، ۷۳، ۷٤، ۷۵، ۷٦
الماني متخصصین ۷۸
امان الله خان :
دپاچهي اعلان ۱۳
داستقلال جګړه ۱۲، ۱٦

دهندوایسرای ته لیک ۱٤
ورته دوایسرای لیک ۱۵
لویه جرگه ۲۲، ۲۳
دجنبش جوانان تاثیر ۲٦
ریفورمونه ۲۷، ۲۸
امین، اسد الله ۲۸٦، ۲۸۷، ۲۸۸، ۲۹۰
امین، حفیظ الله:
دکودتا امر ۲۵٤
بندي کیدل ۲۵۳، ۲۵۸، ۲۹۰
وزیر خارجه ۲٦٤
دتره کي سره اختلاف اوورباندی
ډزی ۲۹۱
سیاسی بیروته دحالاتو بیان ۲۹۱
قدرت نیول ۲۹٤
دقانونیت او عدالت شعار ۲۹۵
دپاکستان سره خبري ۳۰۱
پرضدمقاومت ۲۹۷، ۳۰٤
ورباندي دروسانو حمله او وژل ۳۰۹
انتقالی دوره ۱۲۱، ۱۲۳، ۱۲٤
اندروپوف ۳۱۹
انگار، جریده ۸۳
انگار، فیض محمد ۸۳
انگلیس:
تاړاکونه ۳
په تیل او وانه کې عقب نیشنی ۱۷
معاهدې ۵
دامان الله خان هرکلی ۳۱
افغانانو ته خپله خاوره ورکړ ۲۳۲
اولسی جرگه:
داعمتاد رایه ۱۲۷
انتخابات ۱۳۸
بی نظمي ۱٤۳
دعسکرو داخلیدل ۱۲٦
اهل تشیع ۱۸۱، ۱۸۲، ۱۸٤، ۱۸۵
ایپي، فقیر ۷۵، ۷٦، ۷۷
ایران ۱۸٦، ۱۸۳، ۲۱٦، ۲٤٦
بابر، نصیر الله ۳۳۵
برتانوي حکومت:
دالوتکو بمباري ۱۸
دافغانستان سره اړیکي ۵٦

د پاچالیک ۵۷
ستونزی ۵، ۷
برتانوی هند ۷۷
بغر ،انهر ۲۱۶
بلديې ( ښاراوالی ) انتخابات
۸۴، ۸۵، ۸۷
بینن سیوان ۳۶۹
پاکستان :
دافغانستان سره قطع مناسبات
۱۱۳، ۲٤٦
دافغانستان سره دمسایلو حل ته
تیار نه ؤ ۲۱۸
دافغانستان سره سره جګړه ۱۱٤
پرچم :
جریده ۱۶۱، ۱۶۶
غړي دحساسو چوکیو څخه لیری
شول ۲۶۶
په کابل کی فعال و ۲۶۶
پژواک ، عبدالرحمن :
دعمومې اسمبلې رئیس ۲٤٦
په ملګرو ملتونو کې د پښتونستان
مسئله راپورته کړه ۲۳۸
پښتو انجمن ۱۸۶
پښتون نخواه ملی عوامی پارتی ۲۶۲
پښتونستان مسئله :
عبدالغفارخان لومړی آواز اوچت
کړ ۲۳۲
افغانستان په ملګرو ملتونو کې
پورته کړه ۲۳۸
برتانوی امپراتورۍ د توسعه طلبۍ
نتیجه ۲۳۱
دداود خان ملاتړ ۲۳۷
نورمحمد تره کي دضیاالحق سره په
اجنډا کې و نه نیول ۳۰۰
پنجشری ، مولوی عبدالحمید ۲۲
پوپل . علی احمد ۱۱۵
پوزانوف ۲۹۱
پوهنتون ، تاسیس ۵۷
تاجک ۱۸۵
تره کی ، ډاکټراحسان روستامل :

پوهنتون نه اخراج ۲۲۰
متحدی جبهې ته لومړی وینا ۲۲۰
تره کی، نورمحمد :
دخلق د تأسیس په لومړۍ کنکره
کی عمومی منشی و ټاکل شو ۱٤٦
دکارمل سره اختلاف
۲۸۵،۱٤۸
بندی کیدل ۲٥٤
ددولت داساسی خطوطو اعلان ۲٦٤
دپاچاخان سره خبری ۲٦۷
دکیوبا سفر ۲۸٦
په هوانا کې دضیاالق سره خبری
۲۹۹
دحفیظ الله امین سره اختلاف ۲۸٥
دواک نه لیری کیدل ۲۹۲
مړینه ۲۹٥
تنی، شهنواز ۳٥۸
ثورانقلاب :
دحفیظ الله امین له خوا دپاڅون
هدایت ۲٥٤
دحکومت پر جوړیدو اختلاف ۲٦۳
سلیمان لایق وایی چې دایو فوځی
قیام و ۲٦۱
دمندوخیل په قول عام بدلون ۲٦۲
اجمل ختک دافغانستان خلک
تیارنه وو ۲٦۸
جاپان ۷٦
جلاوطن حکومت ۳۳۳
جمهوری انقلاب ۱۹٥
جمیعت اسلامی ۳۲۷
جهاد :
اعلان ۲۷۹
فتوا ۲۷۹
حامد، داکتر عبد الصمد ۱۲٤
حبیب الله امیر :
پاچاکیدل ۳، ٤، ٥، ٦
دحبیبیی دمکتب تاسیس ٤، ۲۱
دهلمند دپروژی شروع ۲۱٤
دمشروطه خواهانو اخطار ۷
دهندوایسرای لیک ۷

د ترکيې د سلطان پيغام ۸
ترکيې سلطان ته ليک ۸
وژل کيدل ۹ ، ۲۱
جنازه ۱۵، ۳۱
جبيب الله ، کلکانی :
بغاوت ۲۹
قدرت ۳۷
په پکتيا کی پرضد لښکر ٤۷
دارگ د شمالي دروازې ځخه
تيښته ٤۸
اعدام ۵۲
حبيبی . عبدالحی ۸۳، ۱۷۷
حبيبی ، محمود ۱۰٦، ۱۵۲
حزب التوبين ۱۵٤
حزب انقلاب ملی :
هدف ۲۲۹
شموليت ۲۲۹
حزب وحدت ۱۸٦
حکمتيار ، انجنير گلبدين :
کابل پوهنتون ۱٦۰
د تحريک پيل ۱٦۰
مسلحا نه فعاليت ۳۰۲
پرغير متنازع فيه کسانو
ترنجيب وروسته موافقه ۳٦٦
حوت دريمه ۳۲۳
حيات الله ، سردار ۱۵، ۳۰
خاد ۲۸۲
خالص ، مولوی محمد يونس
۱۹۸، ۲٦۷
ختيک ، اجمل ۱۹۸، ۲٤٤، ۲٦۷
خروسچوف ۱۰۹
خسته ،خال محمد ۸۳
خلق ، جريده ۱۷۳
خلق ،ديموکراتيک گوند :
مؤسسه کنگره ۱٤۵
نورمحمد تره کی عمومی منشی
ببرک کارمل دوهم منشی وتاکل
شو ۱٤۷
مرام ۱٤٦
ايديالوجی ۱٤۸

پالیسی ۱۵۱
دخلق او پرچم انشعاب ۱۵۸
دخلق او پرچم اتحاد ۲۵۱
درهبر انو بندی کیدل ۲۵۲
واک نیول ۲۵۶
دپرچم اوخلق اختلاف ۳۴۰
خلقی انقلاب ۲۷۸
خلقی دولت ۲۷۸
خلیلی ، استاد خلیل الله ۶۹
خیبر ، میراکبر :
وژل کیدل ۲۵۱
جنازه ۲۵۲
چرخی ، غلام نبی ۶۰، ۶۱
چریکي جګړې ۳۲۷
چکنور ،ملا ۶، ۱۶، ۱۷، ۲۴
چکنوری ، غلام نبی ۶، ۱۷، ۲۴
دارالامان ۲۳
داودخان ( سردار محمد داود )
۲۲، ۹۴
دصدرات هڅه ۹۴
شاه محمود خان ته ستونزی ۹۹
صدار اعظم شو ۹۹
دامریکا څخه دمرستي غوښتنه
۱۰۱
دپلان ګزارۍ دسیستم پیل
۱۰۱، ۱۰۳، ۱۰۴
دصدارت څخه استعفی ۱۱۱، ۱۱۷
په کور کی غونډې
۱۱۵، ۱۲۱، ۱۲۲
کودتا ۱۹۱
لومړۍ وینا او دجهموریت اعلان
۱۹۳
چپي حزبونه
۱۹۸، ۲۰۰، ۲۰۱، ۲۰۳
لویه جرګه کې دپرمختګ وینا ۲۰۶
دپاکستان سره ښې اړیکی ۲۰۸
دایران سره داړیکو خبری ۲۲۲
دکابینې وروستۍ غونډه ۲۵۶
وژل کیدل ۲۵۹
دیکتاتوری ۶۸

دوهمه نړیواله جګړه :
دافغانستان بیطرفی ۷۷،۷۳
دالمانی اتباعو تضمین ۷۸
دیموکرات مترقی ګوند ۱۷٤
دیموکراسی ۸۳
دیموکراسۍ له پاره په کابل کې
مظاهره ۹٤
ډین لویس ډبلیو ٤، ۵
ډیورنډ کرښه ۲۳۶
ډیورنډ معاهده ۳، ٤
رباني ، پوهاند برهان الدین :
ابوحنیفه لیسه کې زده کړه
۳۶۷،۱۵۵
پرکور دپولیسو حمله ۲۰۳
پر جلاوطن حکومت نیوکه ۳۳۳
رشاد ، پوهاند عبدالشکور ۸۸
رشتیا ، سید قاسم :
دنادرشاه سره ملاقات ۵۸
دمطبوعات د آزادۍ پیشنهاد ۸٤
رضاشاه ۲۶
روسان :
تاړاکونه ۱۰
پرجمهوری قصر یرغل ۳۰۶
دامین وژل ۳۰۹
د ثور انقلاب ملاتړ ۳۱٤
هدف دبخارا په شان
حکومت ۳۱٤
دهند سمندر ۳۱۸
پر جهاد فشار ۳۲۶
زابلي ، عبدالمجید ۲۱۵
ژنیو ، لوزنامه ۳۵۰، ۳۵۱، ۳۵۲
سالنګ ۲۰۷
ستینګر توغندی ۲۳۰، ۳۳۱
سراج الاخبار ۸
سربستان ۷
سرطان شپږ ویشتمه ۱۹۱
سقاوی انقلاب ٤۱
سوړجنګ ۲٤۶
سیاسی بیرو مسمومیدل ۳۰۶
سید احمد خان ، مشاور ۶۸

شاه محمود خان :
صدراعظم شو ۸۱
بندیان خوشی شول ۸۲
دامریکا سفر ۸۲، ۸٤، ۸٦
دیموکراسی ۸۲، ۸۸، ۹٤
په حکومت کې بحران ۲۱٦
استعفی ۹٦، ۱۰۰
شرق ، محمد حسن ۹۳، ۱۹۳
شعله جاوید ۱٦٦
شورای نظار ۳۲۷
شوروی اتحاد :
په افغانستان کې نفوذ ۱۰۷
ورسره د خطره ډکی اړیکي ۲٤۲
پر افغانستان حمله د کارمل راوستل ۳۰٦
د فوځیانو د وتلو تقسیم اوقات ۳۵۱
د فوځیانو د وتلو په هکله په ژنیو کې د لوزنامی لاس لیک ۳۵۲
د ښځو حقونه:
ښځو آزادي ۲۲
مکتبونه ۵۹
حق درایو ۷۱
چادریو لیری کیدل ۷۱، ۱۱۰
ښځو شورا ۳۳۳
صافیانو جنگ ٦۹
صالح محمد ، سپه سالار ۱٦، ۱۷
ضیاء الحق ،جنرال ۲۲۹، ۳۰۱، ۳۳۵، ۳۳۳
طرزي ، محمود ۸، ۹
ظاهر شاه (محمدطاهرشاه ) :
په مخ کې مي پلار ووژل سو ٦۱
پاچاسو ٦٦
په لومړی سرکې دواک کمی ۷۰
دنفوذ ډیریدل ۹۸

ديموکراسی سره علاقه ۱۱۲
دمطبوعاتو آزادي ۱۷۳
وروستی وخت ۱۹۰
دحالاتو په هکله پیش بین ۱۹۱
پرداود خان باور ۱۹۱
عبدالخالق ۶۱
عبدالرحمن (امیر) ۳، ۴، ۵، ۱۳
عبدالرحیمزی، عبدالملک ۸۶، ۱۰۴، ۱۰۵
عبدالغفار خان:
دنور محمد تره کي سره خبری ۲۶۷
وزیرانو او جنرالانو ته خبري ۲۶۸
عبدالوکیل، جنرال ۳۳
عبدالقدوس خان ۱۶
عبدالولی، جنرال، ۱۶۱، ۱۹۳
عبدالولی خان ۲۳۴
عزیز نعیم، سردار ۱۲
عقرب دریمه ۱۲۷، ۱۲۸
عنایت الله خان، سردار ۱۳، ۳۷
غبار، میرغلام محمد
۸۳، ۸۵، ۸۷، ۹۱، ۹۲، ۹۳، ۹۴
فاضل، آیت الله ۱۸۶
فاضل خان ۵۳
فرانسه ۷
فرمانونه:
دښځو او نارینه وحقونه ۲۶۹
دسود منع ۲۷۰
دځمکو اصلاحات
فرهاد، غلام محمد ۸۵
فضل الرحمن، مولوي ۳۳۶
قانون اساسی (ظاهر شاه):

دسیدشمس الدین مجروح په
مشرتوب کمیټه ١١٦
تصویب ١٢٤
دافغانی ثقافت مطابق ١٢٤
په لویه جرگه کي په اکثریت
تائید ١٢٥
دډیموکراسی تضمین ١٢٩
دسردار داود خان دفعالیت
مخنیوی ١٣٣
دپاچا صلاحیت ١٣٥
یوڅو نقیصی ١٤٣
قانون اساسي (نجیب الله):
دعبدالرحیم هاتف په مشرتوب
جوړشو ٣٤٢
قوی توازن ٧٧، ٧٨
کابل پوهنتون:
(ددیموکراسی لسیزه)
دسیاسی فعالیت ډگر ١٦٥
سختی ورځي ١٦٥
دمحصلینو اتحادیه ١٦٦
داستادانو انجمن ١٧٠
په پوهنتون دپولیسو حمله ١٦٩
مظاهرې ١٦٨
(دخلق دوره)
استادان ووژل سول ٢٨١
دحکومت پرضد مخالفت
٢٨١، ٣٢٣
دروس پر ضد داستادانو اتحادیه
٣٢٤
شبنامی ٣٢٤

کارمل ،ببرک:
دخلق د دیموکراتیک گوند
دوهم منشی ١٤٧
دصدراعظم مرستیال ٢٦٤
لیری کیدل ٢٦٥
دطرفدارانو فعالیت ٣٠٤
په راډیو کې وینا ٣١٠
دحفیظ الله امین دمرگ اعلان ٣١١
دبندیانو خوشی کول ٣٢٤
مسکوته سفر ٣٤٨
دروسی فوځیانو دوتلو سره مخالفت
٣٤٩
استعفی ٣٤١
کاکړ ، پوهاند محمد حسن:
٢٤ ، ٣٠ ، ٣١٢

داستادانو په اتحادیه کي فعالیت
٣٢٤
بندي کیدل ٣٢٤
کاکړ ، جنرال محمد هاشم ٣٢
کتوازی ، خیال محمد
٢٨١ ، ٢٨٨ ، ٢٨٩ ، ٣٦١
کتوازی ، عبدالحکیم ، ١٧٠ ، ١٩٤
کشتمند ، سلطانعلي ٢٦٥ ، ٣١٢
کله گوش ٩
کندهار:
دعبدالقدوس په مشري دانگریزانو
فوځ مقابله ١٦
دسقاویانو پرضدجنگ ٤١ ، ١١٠
کونړ:
دمیرزمان خان په مشري دانگریز

مقابله ۱۸
کوهدامن ٤۱
گلاب زوی، سید محمد ۲۸۷، ۲۹۰، ۳۳۸
گوربه چوف:
دافغانستان څخه دروسي فوځیانو
موضوع پورته کړه ۳٤۹
دکارمل سره خبري ۳٤۸
گوریلایي جگړې ۱۹۰
گیلاني، پیر سید احمد ۱۹۰
لایق سیلمان:
په گوند کې داختلاف خبرې ۳٤۰
دډاکتر نجیب الله ملاتړ ۳٤۱
لنډي کوتل ۱٦
مبارز، عبدالحمید ۸۵
متحده جبهه:
دهلمند دلوزنامې ردول ۲۱۹
مظاهرې ۲۱۹
دمیوند وال وینا ۲۱۹
دکارمل موقف ۲۲۰
دجلسو دوام ۲۲۱
مجاهدین ۳۲۹
مجددي، صبغت الله:
بندي کیدل ۱۰۹
دلیبیا سفر ۱۵۹
دملایانو مظاهره ۱٦۱
دجلاوطن حکومت جمهور رئیس
۳۳٤
مجروح، سید شمس الدین
۳، ۹، ۲۰، ۲۹، ۷۱، ۱۷۷
محمد اصغر، پوهاند ۳۵۵

محمد صديق خان ۲۹
محمد عزيزخان ٦١
محمد يوسف ،ډاکتر:
صدراعظم ۱۲۲ ، ۱۲۳
داعتماد رايه يې وګټله ۱۲٦
دکمونيستانوپرضد فعاليت ۱۲٦
دحکومت سقوط ۱۲۷
محمدی ،مولوي محمد نبي ۳۲٦
محمودي ،عبدالرحمن
۸۳، ۸۵، ۸۷، ۹۱، ۹۳، ٤
مستوفی ، سيد حبيب ٥۸
مشروطه خواهان ٦، ۷
مشروطه شاهي ۸۳ ، ۱۷٦
مطبوعات ۱۷۲ ، ۱۷۸
ملګري ملتونه:
پژواک دعمومی اسملبې رئيس
۲٤٦
دانتقالی حکومت دجوړيدو هڅې
۳٦٦
دنجيب ښخه دواک انتقال ۳٦٦
دسولي پروسه ۳٦۹
ملی روغه جوړه ۳٤۳
موسولوني ٥۸
ميکناکي ٥۷
ميوندوال ، محمد هاشم ۲۰۲، ۲۰۳
ناپيلتوب غورځنګ :
افغانستان مؤسس غړی ۲٤۷
په کابل کي دغونډې پروګرام ۲٤۸
نادرخان:
په پکتيا کې ٤٦ ، ٤۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



دامان الله خان په نوم فعالیت
۵۰
د اداري تېنګېدل ۵٤
په خارچي او داخلي چاروکې
اقدامات ۵٤
د پوهنتون تاسیس ۵۷
د برطانوي حکومت لیک ۵٦
برطانوي حکومت ته لیک ۵۷
د ښځو مکتبونه ۵۹
وژل کیدل ٦۱، ٦٤
ناهید ۳۲۳
نجیب الله ډاکتر:
د ملي روغي جوړي پالیسي
۳٤۱، ۳٤۳، ۳٤٤
د روسي فوځیانو د وتلو ملاتړ
۳۵۰
مخالفانو ته د فعالیت اجازه
۳۵۵
په حکومت کې مخالفت ۳۵٦
د جنرال تني سره خبري ۳۵۷
د تني کودتا ۳۵٦
پرضد د دوستم پاڅون ۳٦۵
انتقالي حکومت ته واک سپارل
۳٦۹
د ملګرو ملتونو په دفتر کې
پناهندګي ۳۷۱
ندای خلق ،جریده ۸۳، ۸۵، ۹۱
نصرالله خان ،سردار:
۵، ۹، ۱۲
ورته بیعت ورکول ۱۳

(c) ketabton.com: The Digital Library




و امان الله خان ته بیعت

او استعفی ١٤

واصف ، محمد سرور ٦

واصفي ،عزیز الله :

دهلمند داوبو دلوزنامې

مخالفت ٢١٨

د داود خان دلویې جرگې ریاست

٢٣٣

وطن ، جریده ٨٣

وطن ،گوند ٣٤٠

وطنجار ،محمد اسلم ٢٠١، ٢٥٦، ٣١٠

ویښ زلمیان ٨٨، ٨٩، ٩٠، ٩١

هاتف ، عبدالرحیم ١٣٧، ٣٤٢

هاشم خان، سردار:

په ننگرهارکی لویه جرگه ٤٣

دصدراعظمی اورده دوره ٦٧، ٦٨

دیکتاتوري حکومت ٦

استعفی ٨٠

هزاره ١٨٦

هلمند اوبه ١٩٩

هلمند پروژه ٢١٤، ٢١٥

هلمند پروژې مخالفت ٢١٧


PROPERTY OF ACKU 7139

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندی خاطرې د بي بي سي د پښتو
څانګې د شفاهي تاريخ د درې څلويښت
پروګرامونو مجموعه ده چې په ۱۹۹٤ او
۱۹۹٥ کلونوکې د پښتو څانګې له خوا
خپاره شول . د راډيويي پروګرام د متن
ترڅنګ نور ارزښتناک تاريخي اسناد او
قوانين هم د کتاب په پای کې چاپ شوی
دي چې دافغانستان د معاصر تاريخ په
روښانه کولو کې ډير ګټور دي .
د لوستونکو د آسانتيا له پاره تروسه
پورې هڅه شوې ده چې
د څيرو او اشخاصو پيژندګلوي او کال
ښود نه هم روښانه شي .

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**